حیات المسلمین

مجدد مدت حکیم الامت

مولانا اشرف علی تھانویؒ



پښتو ترجمه

سید تسنیم الحق کاکاخیل (فاضل دیوبند)

Scanned with CamScanner

حیات المسلمین


مجدد ملت حکیم الامت

مولانا اشرف علی تھانوی

○

پیشکش ترجمہ

سید تسنیم الحق کاکاخیل (مرحوم) فاضل دیوبند



ناشر اوقاف کوونکی

حاجی محمد طاہر پراچہ

خادم، خانقاہ امدادیہ اشرفیہ، لنڈی ارباب پیشور

Scanned with CamScanner

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

عرضِ ناشر

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ اَجْمَعِیْنَ ط

دا د اللہ پاک ډیر لوئے کرم دے چه مونږ ته ئے دا توفیق راکړهٔ چه دیو دینی کتاب "حَیَاتُ الْمُسْلِمِیْنَ" په پښتو ژبه کښے د دے سیمے مسلمانانو ته پیش کړو - د مجدد ملت حکیم الامة مولانا محمد اشرف علی تهانوی رحمة اللہ علیه دا تالیف یو مثالي شان لری.

د قرآنِ حکیم د احکاماتو او د صحیح احادیثو په رڼا کښے د مسلمانانو دپاره په اسلامی اصولو د ژوند تیرولو او د آخرت د فلاح او نجات دپاره یوه اعلیٰ نسخه ده. حضرت تهانوی رح پخپله د دے کتاب په صفت کښے فرمایلی دی چه:

"ماته دَخپل یو تصنیف په حقله داخیال نهٔ راځی چه کنی دا به زما دپاره د نجات پنځه جوړه شی، البته د حیات المسلمین په باره کښے زما دا غالب خیال دے چه دے به په برکت به انشاء اللہ زما نجات نصیب شی. دا زما د ټول عمر کتهه او پنځه ده"

اللہ پاک دِ د موصوف دا دینی خدمات اوکړ حُوی او دوئی ته دِ په جنت فردوس کښے لوړے درجے او اعلیٰ مقامات نصیب کړی.

د دے کتاب پښتو ترجمه د صوبه سرحد د سیمے یو مجاهد یادګارِ سلف صالحین عالم باعمل او یو صاحبِ نسبت صوفی بزرګ مولانا سید تسنیم الحق کاکاخیل (فاضل دیوبند) مرحوم کړے ده. اللہ پاک دِ دوئی له اجر عظیم ورکړی.

د دوئی کشر ورور جناب سید تنظیم الحق حلیمی صاحب د دین د تبلیغ سره سره د حضرت تهانوی ؒ صاحب د تصانیفو په نشر و اشاعت کښے ډیره دلچسپی اخلی او هم دغه وجه ده چه د دے کتاب په شایع کولو کښے موښ سره ښه مرسته کړے ده۔ الله پاک دِ د دوئی دا دینی جذبه قائمه لری او دوئی ته دِ دَدے بے لوث خدمت صِلّه په دواړو جهانو کښے ورکړی۔

د سید تسنیم الحق صاحب ډیر زیات مذهبی او علمی کتابونه او خصوصاً د حضرت تهانوی ؒ تصانیف او مواعظ پښتو ژبه کښے دا سے ترجمه کړی دی چه مِثال نه لری۔ د هر یو دینی کتاب باندے کار کوول ته علم او فن دواړه پکار وی۔ الله تعالیٰ دوئی ته دا دواړه ورکړی وو۔ او دوئی دخپل احنافو په شان هُمان دین ته وقف کړے وو۔ تر آخر وخت پورے په رنځور بدن هم دوئی د دین کار نه ځ نه اړو۔ د دوئی علمی صلاحیت او فن صفت زما د وَس کار نه دے۔ دا یو عظیم انسان وو۔ الله تعالیٰ دِ د دوئی درجات بلند کړی۔

د دوئی ترجمه کړے شوی کتابونو تفصیل څه دا سے دے :

(۱) تفسیر : تفسیر عثمانی

(۲) حدیث : ریاض الصالحین

(۳) فقه : بهشتی زیور "جنتی کالے"

(۴) سلوک : (ا) تعلیم الدین

(ب) تسهیل قصد السبیل

(ج) نشر الطیب فی ذکر النبی الحبیب صلی الله علیه وسلم

(د) حیات المسلمین

(ه) مواعظ اشرفیه (نهه جلدونه)

(و) القول الجمیل (مؤلف شاه ولی الله صاحب)

(ه) مواعظ : مواعظ هفت اختر (اووَه جلدونه)

زه دا کتاب د خدائے پاک په نامه وقف کوم۔ او دے ثوابونه د سردارِ دوجهان حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وآله وسلم په حضور کښے

پیش کوم او د هغوئ په طفیل ټولو پیغمبرانو ته ،جمله ازواج مطهرات ،اهلِ بیت ، خلفائے راشدین ، صحابه کرام ، تابعین تبع تابعین ،جمله شهداء ،مشائخ عظام د خپل سلسلے چشتیۂ صابریۂ مشائخ عظام حضرت جناب حاجی امداد الله صاحب مهاجر مکی ، رحمة الله علیه ، حکیم الامّة مجدد ملت مولوی اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه خپل مرشد الحاج فقیر محمد صاحب رحمة الله علیه ،مترجم سید تسنیم الحق کاکاخیل مرحوم اوخپل والد بن کوارمحترم غلام قادر پراچه مرحوم ته ودبخښم - الله پاک دِ خپل دربار کښے قبول کړی . او زمونږ ټولو دپاره دِ دَ نجات وسیله اوګرځوی .

امین

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۚ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

بنده

حاجی محمد طاهر پراچه

پراچه کالونی ،فقیرآباد پیښور بنار

۱۵ ذیقعد ۱۴۱۶ھ ،مطابق ۴ اپریل ۱۹۹۶ء

فهرست

(۱) سریزه

(۲) اول روح : اسلام و ایمان

(۳) دویم روح : علم دین زده کول او ښیول

(۴) دریم روح : قرآن شریف لوستل او لولول

(۵) څلورم روح : الله او د الله رسول سره مینه

(۶) پنځم روح : په تقدیر عقیده او په توکل عمل

(۷) شپږم روح : دعا غوښتل

(۸) اووم روح : د نیکانو سره کناسنه

(۹) اتم روح : د حضور پاک خویونه

(۱۰) نهم روح : د مسلمان رور د حقونو ادا کولو خیال ساتل

(۱۱) لسم روح : د خپل ځان حقونه ادا کول

(۱۲) یوولسم روح : د مانځه پابندی

(۱۳) دولسم روح : جمات جوړول او د هغې حقونه ادا کول

(۱۴) دیارلسم روح : د الله تعالیٰ ذکر ډیر ډیر کول

(۱۵) څوارلسم روح : مالدار وته د زکوٰة پابندی کول

(۱۶) پنځلسم روح : د زکوٰة نه علاوه نورو ښو کارونو کښې خرچ کول او همدردی کول

(۱۷) شپارلسم روح : روژې نیول

Scanned with CamScanner

(۱۸) اوولسمه روح : حج کول

(۱۹) اتلسمه روح : د قربانئ په باره کښ

(۲۰) نولسمه روح : د آمد و خرچ انتظام کول

(۲۱) شلمه روح : نکاح کول او نسل زیاتول

(۲۲) یوویشتم روح : دنیا پورے زړه نه تړل او د آخرت غم کول

(۲۳) دوه ویشتم روح : ګناهونونه بچ کیدل

(۲۴) دریشتم روح : صبر او شکر کول

(۲۵) څلیریشتم روح : خپل کارونه په مشوره کول

(۲۶) پنځویشتم روح : قومی امتیاز

سریزه

چه مولانا عبدالله ملتانی د مصنفؒ د اوږدے او کړانے مقدمے نه آسانه اومختصر کړیده

الحمدُ لِلّٰہِ رَبِّ العٰلَمِین وَالصَّلٰوۃُ والسَّلام علی سیّد المرسلین وَعلیٰ آلِہٖ واصحابہٖ اجمعین ط **امابعد** - دا څرګنده ده چه دحضرت حکیم الامت مجدد الملة مولانا شاه اشرف علی صاحب تهانویؒ وعظونو او ملفوظاتو او تصنیفاتو نه عامو خلقوته ډیره فائده رسیدلی او الله تعالیٰ دحضرتؒ د اخلاص په برکت دهغوئی کتابونه لکه بهشتی زیور وغیره ډیر مقبول کړی او خلق ترے ډیره فائده اخلی - د هغوئی په مقبولو کتابونو کښے یو دا حیات المسلمین هم دے - د دے اصل مقدمه کومه چه مصنف لیکلی وه ډیره مشکله وه - نوما (مولانا ملتانی) د هغے خلاصه په آسانه ژبه کښے د دے کتاب سره ملګری کړه - چه خلق ترے فائده واخیستے شی -

کامیابی او فلاح د خدائے د فرمانبردارو بندیانو خاصه ده

د قرآن کریم په آیتونو او د رسول اکرمؐ په حدیثونو کښے دا مضمون ډیر په وضاحت سره ثابت شوے دے چه د دین او دنیا کامیابی او فلاح په هغے خلقو پورے خاص دے - څوک چه د الله تعالیٰ او د هغهٗ د رسولؐ تابعدار او فرمانبردار دی - لیکن نن صبا زمونږ مسلمانان رونړه د دے حقیقت نه ډیر ناخبره او بے پرواه دی او په ناپوهئی او بے وقوفئی کښے بوخت دی نو په موجوده وخت کښے د دنیا په عامو مسلمانانو عام طور سره او د هندوستان او پاکستان په مسلمانانو خاص طور سره چه کوم آفتونه او مصیبتونه ، سختئی او تکلیفونه راځی د دے اصل وجه هم دا ده - چه مونږ کښے د الله تعالیٰ د احکامو نه غځ اړول او نافرمانی عامه شویده - د دے

Scanned with CamScanner

سره سره ډیره د سم او افسوس خبره داده چه د تکلیفونو دے اصل سبب طرف ته زمونږ هډو توجه نشته او نه ئے څهٔ علاج کوو۔ په دے وجه چه مونږ د خپلو مصیبتونو لرے کولو دپاره کوم خود ساخته تدبیرونه سوچ کوو۔ او کوهے لارے ورته لټوو هغه اپوټه خیژی او دکمی په ځائے زمونږ تکلیفونه ورځ په ورځ زیاتیږی۔

زمونږ په علاج اود علاج په طریقه د مولانا رومیؒ دا شعر پوره پوره صادق دے۔

گفت پیر دارو که ایشاں کردہ اند ۔۔۔ آں عمارت نیست ویراں کردہ اند

حکیم ورته اووے هرځومره دارو درمل چه دوئی کړی هغه د جوړه ولو دپاره نهٔ ووهغه خو نورهم ورانے کړیدے (یعنی غلط دارو ئے تجویز کړی دی۔)

د عمل اصلاح په صحیح علم موقوف دہ

دا څرنګه؟ ده چه عمل کښے کهه اوغلطی د صحیح علم د دښت په سبب راځی۔ عمل هله صحیح کیږی چه د نیت د صحت سره سره علم هم صحیح وی۔ څهٔ خرابے او کږ لیچ پکښے نهٔ وی۔

نوځکه د ذهن اصلاح د عمل په اصلاح پرومبئی دہ ۔ نو ددے خبرے سخت ضرورت دے چه خلق ددے ناپوهئی او غفلت د خوبه را بیدار کړے شی ۔ چه د مرض اصلی سبب معلوم کړے شی ۔ او بیا د صحیح علاج یقینی طریقه په صحیح علم معلومه کړے شی چه دهغے علتونو د لرے کولو کوشش اوشی کوم چه د مسلمانانو د تکلیف او خوارئی سبب ګرځیدلے دے۔

د مسلمانانو د ټولو مصیبتونو علاج او د ټولو مشکلاتو حل د رسولِ اکرمؐ د تعلیم په تابعداری کښے دے

د هر قسم عقلی او نقلی دلیلونو او تجربو نه داخبره یقین ته رسیدلے دہ ۔ چه تر قیامته پورے د ټولو بنیاد مو دنیوی او اخروی کامیابی ، فلاح د حضرت خاتم المرسلینؐ په کامله تابعداری موقوف دہ۔ لکه عارفِ شیرازیؒ چه وئیلی دی۔

ذات پاک کاملے پُرمایۂ ۔۔۔ آفتابے درمیانِ سایۂ

حاذقش گو کو حکیم حاذق است ۔۔۔ صادقش گو کو امین وصادق است

ترجمه:۔ د حضور اکرمؐ ذات کامل دے ۔ او داسے روښانه دے لکه په سوری کښے چه نمر

وی. هغه ماهر اومنه چه هغه ماهر حکیم دے او هغه رشتونے اومنه چه هغه رشتونے او امین دے۔

څوک چه د حضور صلی اللہ علیه وسلم په وینا عمل اوکړی - هغه به بے اختیاره دا اووائی۔

ے مطلق نورِ حق و دفعِ حرج — معنی الصّبر مفتاح الفرج
اے لقائے تو جواب ہر سوال — مشکل از تو حل شود بے قیل و قال
ترجمانِ ہر چہ مارا در دل است — دستگیر ہر کہ پائش در گلِ است
مرحبا یا مجتبےٰ یا مرتضےٰ — اِنْ تُغب جاء القضا ضاق القضا
انت مولی القوم من لایشتہی — قدر دی کَلَّا لَئِنْ لَمْ یَنْتَہِ

ترجمه :- (۱) د حق نور ستا په تندی کښے جلوه کړ دے هم ته دَ ټولو تکلیفونو لرے کوونکے یے دغه شان د الصّبر مفتاح الفرج مصداق هم ته یے۔

(۲) ستا په دیدار هر سوال حل کیږی او هر مشکل بے تیوسه لرے کیږی۔

(۳) ته دَ زمونږ د زړونو ترجمان او هر مصیبت کښے دگرفتاربند ہ مدد کار یے۔

(۴) ته دَ هغے قوم خیرخواه یے چاچه ته نه منے او دچا حق کښے چه دا

(۵) آیت نازل شوید ے چه که دوئ د مخالفت نه منع نه شو نو ټول به دَ سر دَ وینښتو نه نیولی په رابنسکو رابنسکو دوزخ ته واچولے شی۔

کوم سړے چه د حضور اکرم صلی اللہ علیه وسلم په وینا عمل اوکړی (هغه دهغے په راز او حکمت پوهیږی اوکه نه پوهیږی خو چه تابعدار وی) هغه به دَ حال یا قال په ژبه داسے اووائی : ے

(۱) آنکہ از حق یابد او وحی خطاب — ہر چہ فرماید بود عین صواب
(۲) آنکہ جان بخشد اگر بکشد رواست — نائب است و دستِ او دستِ خداست
(۳) ہمچو اسماعیلؑ پیش سر بنہہ — شاد و خنداں پیش تیغش جان بدہ
(۴) تا بماند جانب خنداں تا ابد — ہمچو جان پاک احمد با احد
(۵) عاشقانِ جام فرح آنگہ کشند — کہ بدست خویش خوبان آں کشند
(۶) آں کے راکشی چنین شاہے کشند — سوئے تخت و بہترین جاہے دہد

ترجمه : (۱) په کوم ذات چه د خدائے تعالیٰ وحی نازلیږی او خطاب ورته کیږی هغه چه څه

فرمائی هغه بالکل حق اوصحیح دی۔

(۲) څوک چه روح بخښی هغه ئے د آخستو هم حقدار دے۔ پیغمبرؐ د خدائے تعالیٰ نائب دے۔ د هغهٔ لاس د خدائے لاس دے۔

(۳) د اسماعیل علیه السلام په شان د هغهٔ مخکښے خپل سر کیښی ده۔ په خندا خوشحالئ د هغه په توره خپل ځان قربان کړه۔

(۴) په دے قربانئ به ستا روح همیشه دپاره داسے خوشحاله وه۔ لکه د احمد مجتبیٰ صلی اللہ علیه وسلم روح چه د خپل خدائے نه رضا اوخوشحاله دے۔

(۵) د خدائے د عاشقانو د خوشحالئ جام هله نصیب کیږی۔ کله چه ئے محبوب حقیقی ورته په خپلو لاسو ورکړی۔ (یعنی د مرګ نه پس)

(۶) داسے سړے چه د حقیقی بادشاه د لاسه ئے مرګ نصیب شی۔ هغه مرګ نهٔ دے بلکه حقیقت کښ تاج و تخت او بهترین عزت دے۔

خلق په درے قسمه دی

حقیقت دادے چه رسول اکرم صلی اللہ علیه وسلم په ډیره مینه۔ اوپوره رحمت سره د دنیا او آخرت د کامیابئ توله مسئلے اود توله پریشانو دلرے کولو چلونه بنیاد موته بے دریغه بښیلی دی۔ مخکښے بیا د خلقو د نیک بختئ او بد بختئ په وجه معامله داسے جوړیږی۔

(۱) کوم خلق چه د پوخ ایمان په برکت د هغوئ ؐ په بنودلو خبرو پوره پوره عمل کوی۔ هغوئ کامیاب اوکامران دی۔

(۲) اوکوم خلق چه په عمل کښے مستی اوکړی نوکهٔ څهٔ قدرے عقیده او محبت ئے ورسره وی۔ نو اللہ تعالیٰ هغوئ د هغوئ د فائدے او اصلاح دپاره څهٔ مودے دپاره د کامیابو محرومه کړی۔ چه دوئ بیدارشی اود خپل عمل اصلاح اوکړی۔

(۳) دریم قسم هغه بد بخته دی۔ چه زړونه ئے د حضور اکرم صلی اللہ علیه وسلم سره عقیدت اومحبت نه خالی وی۔ داسے خلقو ته په دنیا کښے کله کله په ظاهره څنه کامیابئ ورکړے شی۔ لیکن هغه په حقیقت کښے محرومی او ناکامی وی۔ چه پوره پته به ئے په آخرت کښے لګی۔ او په آخرت کښے هم کهٔ څوک د داسے خلقو په حالاتو پوره پوره غور اوکړی نو ورته به معلومه شی چه په دنیا کښے هم سره د دے ظاهری کامیابئ د دوئ

زړونه د اطمینان او سکون نه خالی دی. اصلی خوشحالی خو دا ده چه زړهٔ مطمئن او په سکون وی. خو داد هغوئ په نصیب کښے چرته ده؟ دغه مضمون په قرآن کریم کښے ډیر ځایه بیان شوے دے۔

نو زما خوږو مسلمانانو رونړو! هرکله چه په هر قسم عقلی او نقلی دلیلونونه دا ثابته شوه۔ چه د کامیابئ دار مدار د حضور اکرم صلی اللہ علیه وسلم په تابعداری دے۔ او د هر مرض علاج او د هر مشکل حل د حضور اکرم صلی اللہ علیه وسلم په ښیلی نسخو باندے موقوف دے۔ نو په دے حالاتو کښے په موږ فرض دی چه په عمل کښے سستی او په علم کښے غفلت نه ځانونه رابیدار کړو۔ او د هغے ضروری او یقینی فائده منونسخو استعمال شروع کړو۔ په کومو چه د دنیا او آخرت ظاهری او معنوی هر قسم فلاح او کامیابی حاصلیدل یقینی دی۔

د عمل تاثیر

یاد لرئ څنګه چه الله تعالیٰ په دارو کانو کښے خپل خپل دا سے تاثیر اینښے دے۔ چه د بنیادم جسمانی رنځونه لرے کوی۔ دغه شان الله تعالیٰ په عملونو کښے هم دا سے تاثیر ونه اینښی دی۔ چه بنیادم پرے د روحانی رنځونونه رغیږی۔

حضرت تهانوی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی چه په دے وخت کښے د مسلمانانو د تکلیفونو او پریشانو زرلرے کولو دپاره ما دا فیصله کړے ده۔ چه د الله تعالیٰ په احکامو کښے هغه احکام په کومو چه عمل هم آسان دے۔ او پوهیدل پرے هم آسان دی۔ خپلو مسلمانانو رونړو ته پیش کړم۔ او د زیاتی آسانئ دپاره په لږ لږ یو یو دوه دوه خبرے شائع کوم۔ چه ټولے یو ځائے شی۔ نو یو کتاب به ترے جوړ شی۔ هغه خبرے به دوے مضامینو متعلق وی۔ اسلام[1]، علم دین[2]، مونځ[3]، روژه[4]، زکوٰة[5]، قرآن[6]، د معاملو صفائی[7]، حلال کسب[8]، اسراف[9] نه ځان ساتل د ولیانو قصے وغیره۔ په دے خبرو کښه مسلمانان عمل اوکړی نو پاکیزه ژوند به ئے نصیب شی۔ نو ځکه دے مجموعے نوم "حیات المسلمین" کیدم۔ او هر یو جزو ته مې روح نوم ورکړے دے۔ ځکه چه په بنیادم کښے هم مختلف روحونه موجود دی۔ لکه روح طبعی، روح حیوانی، روح انسانی۔ دغه شان د عملونو هم مختلف تاثیرونه دی۔ په دے لحاظ دوئ ته هم د ارواحو لقب ورکیدے شی۔

په شروع کښے مضامین یویو په "النّشور" رساله کښے چاپ کیدل۔ بیا ټول د یو مجموعے په شکل کښے په یو ځائے چاپ شو۔ ددے مجموعے نوم "حیات المسلمین" دے۔ اللہ تعالیٰ ددے ورباندے مسلمانانو ته فائده اورسوی۔ چه هر قسم روحانی او جسمانی مرضونو نه شفا بیا موسی۔

دا مضمون حضرت تهانویؒ لیکلے وو۔ ما ترے مشکل الفاظ اوویستل۔ د اشعار ترجمه ترم ورسره دیاته کړه۔ په دے طریقه لږ آسان شو۔

مولانا عبداللہ

مفتی خیرالمدارس ملتان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اول روح

اسلام وَ ایمان

(د دواړو لفظونو مطلب سره نزدے نزدے دے)

(۱) اِنَّ الدِّیۡنَ عِنۡدَ اللّٰہِ الۡاِسۡلَامُ

الله تعالیٰ فرمایلی دی چه: بیشکه ربتونے دین د الله تعالیٰ په نزد هم دغه اسلام دے۔

(۲) وَ مَنۡ یَّبۡتَغِ غَیۡرَ الۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا فَلَنۡ یُّقۡبَلَ مِنۡہُ وَ ھُوَ فِی الۡاٰخِرَۃِ مِنَ الۡخٰسِرِیۡنَ

الله تعالیٰ فرمائی چه، څوک چه د اسلام نه غیر بل دین اولټوی او اختیار ئے کړی۔ نو هغه دین به دده سره نه هرگز قبول (او منظور) نکړے شی۔ او دے به په آخرت کښے تاوانی (تباه) وی۔

(۳) وَ مَنۡ یَّرۡتَدَّ مِنۡکُمۡ عَنۡ دِیۡنِہٖ فَیَمُتۡ وَ ھُوَ کَافِرٌ فَاُولٰٓئِکَ حَبِطَتۡ اَعۡمَالُھُمۡ فِی الدُّنۡیَا وَالۡاٰخِرَۃِ وَ اُولٰٓئِکَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ھُمۡ فِیۡھَا خٰلِدُوۡنَ

الله تعالیٰ فرمائی: په تاسو کښے چه څوک دخپل دین نه اوګرځی او بیا هم دکفر په حالت کښے مرشی۔ نو دداسے سړی ټول نیک عملونه په دنیا او آخرت دواړو کښے تباه شو۔ او داسے خلق دوزخیان دی۔ همیشه به په دوزخ کښے وی۔

ف: په دنیا کښے دنیک عمل تباهی دادہ چه د ښځے نکاح به ئے ماته شی۔ اوکه د چا مسلمان مړی نه دمیراث حقدار وو۔ نو د هغے حق نه به محروم شی۔ د مړک نه پس به ئے دجنازے مونځ نه شی کولے۔ او د آخرت تباهی داچه همیشه به په دوزخ کښے پروت وی۔

مسئله: کهٔ دا سړے بیا دوباره مسلمان شی دکفر نه توبه اوباسی نو کهٔ د ښځے

بل چا سره نکاح شوے نهٔ وی نو دهغے په رضا ورسره دے بیا دوباره نکاح کولے شی اوکهٔ د بنځے خوښه نهٔ وه نو جبر پرے نشته اوس آزاده ده ۔

(۴) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ۝ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ۝

الله تعالیٰ فرمایلی دی: اے ایمانداروا (د ضروری عقیدو تفصیل واورئ ۔ هغه دادی چه:) ایمان راوړئ په الله او د هغهٔ په رسول محمد صلی الله علیه وسلم او په هغه کتاب چه الله په دے رسولؐ نازل کړے (یعنی قرآن) او په هغه کتابونو هم کوم چه په هغښینو رسولانو نازل شوی دی (یعنی تورات، انجیل او زبور) او چاچه انکار اوکړو د الله نه او د هغهٔ د فرشتونه او د هغهٔ د کتابونونه او د هغهٔ د رسولانونه او د قیامت د ورځے نه نو هغه په ګمراهئ کښے ډیر لرے اووتو. بیشکه کوم خلق چه اول مسلمانان شو. بیا کافر شو بیا (دوباره) مسلمان شو (او اوس هم په اسلام قائم پاتے نهٔ شو ګنې په دے کفر به ورته معاف شوے وو) بلکه بیا کافر شو. (او بیائے هدو ایمان رانهٔ وړو ګنې بیا به ئے هم ایمان قبول شوے وو) بلکه په کفر کښے ئے په وراندے تلل (تردے چه د کفر په حالت کښے مړ شو) نو الله تعالیٰ داسے خلق نهٔ معاف کوی او نهٔ ورته د جنت لار بنسئ ۔

(۵) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ

الله تعالیٰ فرمائی: بیشکه چاچه زمادَ آیتونونه انکار اوکړو (یعنی ایمان ئے پرې رانهٔ وړو) مونږ

نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا اَبَدًا لَهُمْ فِيْهَا اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّ نُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ۝

به هغوئی ډیر په سخت اور کښے واچو و (اوهلته به ئے دا حالت وی) چه کله ئے څرمن په اور کښے اوسوزی نو مونږ به ورته دهغے سوی څرمن په ځائے بله تازه څرمن ورکړو چه هیشه دغه شان سخت عذاب وی۔ بیشکه الله زبردست (او) د حکمت خاوند دے۔ او چاچه ایمان راوړو او نیک کارونه ئے اوکړه ۔ مونږ به ئے ډیر زر داسے باغونو ته ننه باسو چه دهغے (دمانړو) د لاندے به نهرونه جاری وی (او) هیشه به اوسیږی په دے کښے، دوئ دپاره به په دے کښے بیبیانے وی پاکے او مونږ به ننه باسو دوئ گورو گورو سورو ته۔

ف: په دے آیتونو کښے مسلمانانو دپاره دجنت د نعمتونو اود اسلام نه انکار کونکو ته د دوزخ د تکلیفونو لږ غوندے حال دے۔ په نورو آیتونو او حدیثونو کښے دجنت د نورو قسم قسم نعمتونو او د دوزخ د نورو قسم قسم عذابونو حال ډیر په تفصیل سره بیان شوے دے۔

اے مسلمانانو د دنیا ژوند ډیر لږ دے۔ کهٔ په اسلام باندِ قائم پاتے کیدو کښے څهٔ لږ غوندے تکلیف هم درباندے راشی نو د مړک نه پس به موهغه هیشه ژوند داسے په آرام او راحت وی چه دا تکلیف به مو بالکل هیر شی۔

اوکهٔ دځهٔ لالچ دپاره یاځهٔ معمولی تکلیف نه ښ کیدو په غرض (خدائے دِ منکړی) کهٔ کوم مسلمان د اسلام د لارے نه واوړیدو نو یادلرئ چه مړک نه پس به دائمی او نهٔ ختمیدونکے ژوند داسے سخت په مصیبت اوپه تکلیف وی۔ چه د دنیا دا خوشحالی به ورنه هیره شی۔ اوبیا به مو د هغے تکلیف نه هیچرے په هیڅ شان خلاص نهٔ وی۔ نو په چا کښے چه څهٔ لږ غوندے عقل وی۔ هغه به دټولے دنیا د بادشاهئ په لالچ کښے هم داسلام نه وانهٔ وړی۔ الله تعالیٰ دِ مونږ ټولو مسلمانانو ته د نیکئ هدایت اوکړی اوزمونږ عقلونه دے صحیح کړی۔ آمین

دویمه روح

علمِ دین زده کول اوښئیل

(یعنی خپله د دین علم زده کول او بل ته ښښل)

۱۱ عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم طلب العلم فریضة علی کل مسلم (ترغیب مطبوعه فاروقی)

د انسؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه دعلمِ دین طلب (یعنی دعلم دین حاصلولو کوشش) په هر مسلمان فرض دے۔ (ابن ماجه)

ف: دا دے حدیث نه ثابته شوه چه په هر مسلمان نر وی که ښځه شهری وی که د بانډے، امیر وی که غریب د دین علم حاصلول فرض دی۔ دعلم مطلب دا نهٔ دے چه خامخا دِے په عربی کښے زده کړی۔ بلکه مطلب دا دے چه د دین خبرے زده کړی د عربی په کتاب کښے وی (که د بلے ژبے په معتبر کتاب کښے وی۔) که د پوهه عالمانو نه په پوښتنه وی که د پوهه واعظانو په وعظ آوریدو وی۔

کوم ښځے چه نه خپله لوستے شی اونهٔ د پردے په وجه د چا عالمانو نه تپوس کولے شی۔ هغوئ دِ د خپلو سړو په ذریعه د عالمانو نه په پوښتنه زده کړی۔

۱۲ وعن ابی ذر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یا ابا ذر لان تغدو فتعلم آیة من کتاب الله خیر لك من ان تصلی مائة رکعة و لان تغدو فتعلم باباً من من العلم عمل اولم یعمل به خیر لك من ان تصلی الف رکعة (ترغیب ص۲۲)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه: اے ابو ذرؓ (دا دیو صحابی نوم دے) چه تهٔ چرته لاړشے دچا نه یو آیت زده کړے دا ستا دپاره د سل رکعته نفلونه ډیر بهتر دے۔ او چه تهٔ چرته لاړ شے۔ د علم دین یو مضمون زده کړے عمل دِ پرے وی او که نه۔ دا ستا دپاره د زرو رکعتونو نفلونو نه بهتر دے۔ (ابن ماجه)

Scanned with CamScanner

ف: ددے حدیث نه د دین د علم زده کولو غټ فضیلت ثابتیږی - او دا هم ترے معلومه شوه چه څنه خلق چه دا وائی چه "عمل پرے نه وی نود زده کولو او تپوس کولو څه خیر دے؟" دا خبره غلطه ده - کوږی په حدیث کښے واضحه ویُلے شویدی چه عمل پرے وی او که نه د زده کولو ثواب ځے شته -

ددے درے وجهے دی - (۱) یو دا چه د دین خبره ورته معلومه شوه - او د کمراهئی نه بچ شو - دا هم غټ دولت دے - (۲) دویم دا چه د دین خبره ورته معلومه شوه - نو انشاء الله کله خو به پرے عمل هم اوکړی - (۳) دریم دا چه بل ته به ځے اوښائی او دا هم یو ضروری کار او د ثواب خبره ده -

(۳) عن ابی هریرة ان النبی صلی الله علیه وسلم قال افضل الصدقة ان یتعلم المرء المسلم علمًا ثُمَّ یعلمه اخاه المسلم - (رواه ابن ماجه ترغیب ص۳۳)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: د ټولو نه بهتره صدقه (خیرات) دا ده چه یو مسلمان بنده د علم دین څه خبره زده کړی - او بیا ځے بل مسلمان ورور ته اوښئی -

(ابن ماجه)

ف: ددے حدیث نه ثابته شوه چه څوک د دین څه خبره زده کړی - هغه د بل مسلمان ورور ته بنائی - ددے ثواب د ټولو خیراتونو نه زیات دے - سبحان الله - د الله تعالیٰ څومره لوئے رحمت دے چه هیله خوندے ثبه خوزولو باندے د زرګونو روپو د خیرات نه هم زیات ثواب ورکوی -

(۴) قال الله تعالیٰ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا ط (الآیة)
و عن علی رضی الله عنه فی قوله تعالیٰ قوا اَنْفُسَكُمْ و اهلیکم نارًا ط قال علموا اهلیکم الخیر ۱۲
(ترغیب ص۴)

الله تعالیٰ فرمائیلی دی: اے ایماندارو خپل ځانونه او د خپل کور خلق د دوزخ نه بچ کړئ -

ددے په تفسیر کښے حضرت علیؓ فرمائیلی دی چه د خپل کور خلقو ته د دین خبرے اوښایئ په دے طریقه به هغوئی د دوزخ نه بچ کړے شئی -

(حاکم)

د دے حدیث نه معلومه شوه چه خپل بال بچے ته د دین خبرے ښودل فرض دی
کنی انجام ئے دوزخ دے۔

(دا قول حدیثونه د حادیه د کتاب "ترغیب" نه اخستے شویدی)

(۵) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان مما یلحق المؤمن من عمله وحسناته بعد موته علما علمه و نشره و ولدًا صالحاً ترکه او مصحفا ورثه الی آخره

(مشکوٰة ص۳۶ مجتبائی دهلی)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه: د ایماندارو په عملونو او نیکیو کښے چه د کوموخیزونو ثواب د مړک نه پس هم ښکته ته ورسی۔ په هغو کښے یو هغه علم دین هم دے چه بل ته ښیئلے شوے وی۔ (یعنی چاته ئے لولولے وی۔ یا ئے چاته یو مسئله ښودلے وی) او خورکړے ئے وی (یعنی دینی کتابونه ئے لیکلی وی یا ئے داسے کتابونه اخستی وی۔ او دینی ادارو ته ئے وقف کړی وی یا ئے د دین طالبانو ته ورکړے وی یا ئے د طالبانو سره د چا مے، خوراک امداد کړے وی چه دین خورکړی۔ نو په دے طریقه دے هم ورسره په دین خورولو کښے شریک شو۔) بل نیک اولاد چه د چانه پاتے شی۔ او نورئے هم څو څیزونه ښیئلی وی۔

(ابن ماجه و بیهقی)

(۶) عن ایوب بن موسی عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما نحل والد ولده من نحل افضل من ادب حسن

(مشکوٰة ص۴۲۳ مجتبائی)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ هیڅ یو د اولاد خاوند خپل اولاد ته داسے ښه شے نه دے ورکړے کوم چه د علم دین نه بهتر وی۔

(ترمذی بیهقی)

(۷) عن ابن عباس رضی الله عنهما فی حدیث طویل ومن عال ثلث بنات او مثلهن من

رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ څوک چه د دریو لونړو یا دریو خوینده و د پرورش ذمه واری واخلی او د هغوئ سره ښه

الاخوات فاد بهن و رحمهن حتی یغنیهن الله او حب الله له الجنته فقال رجل یا رسول الله او اثنتین قال او اثنتین حتی لو قالو او واحدة لقال واحدة (مشکوٰة) کذا فی القاموس والصرح ۱۲ صنه

سلوک اوکړی او دډین خبرے ورته اوښئ تر دے چه الله تعالیٰ ئے بے غمه کړی (یعنی لوئے شی وادهٔ شی دخپلو کورونو د سنبال شی او دے ئے د پرورش د فکر نه بے غمه شی) الله تعالیٰ به دے سړی دپاره جنت مقرر کړی - یو سړی د دوُو جینکو متعلق تپوس اوکړو - چه که دچا په ذمه د دوُو لونړو یا دوُو خویندو تربیت وی نو حضورؐ او فرمائیل دیوے هم دغه شان ثواب دے (شرح السنة)

دا حدیثونه د مشکوٰة نه آخستے شوی دی۔

ف: ددے حدیثونو او دغه شان نورو ډیرو حدیثونونه دَعلم دین زده کولو او بښیلو ثواب او ددے په هر مسلمان فرض کیدل ثابتیږی - پوره زده کول یا بښیل خو دا دی چه بنده دَدین پوره عالم شی - لیکن دهرچا نهٔ دومره همّت شته او نهٔ ورته دومره فرصت شته چه پوره عالم شی - نو زهٔ درته دَدین کولو او بلد ته بښیلو آسانے طریقے بنایم چه طریقه عام خلق هم دا فرض ادا کولے شی او دا ثوابونه گټلے شی - هغه طریقه دادی:

(۱) څوک چه په اردو (یا پښتو) پوهیږی یا ئے په آسانه زده کولے شی نو هغوئ دِ په اردو (یا پښتو) ژبه کښے لیکلے شوی د دین معتبر کتابونه لکه بهشتی زیور، تعلیم الدین، قصد السبیل او تبلیغ دین او د تسهیل المواعظ دسلسلے وعظونه څومره چه مونږ شی دَچا بنهٔ عالم نه دِ سبق سبق اووائی (چه بنهٔ پرے پوهه شی او ورته یاد شی) یا ئے دَ حُان سره اوګوری چه په کوم حُائے پوهه نهٔ شی - په هغے دِ نخښه اولګوی او دچا بنهٔ عالم نه دے پرے حُان پوهه کړی - بیا دے په خپله دیره کښے د محلے چوپال کښے یا د محلے جمات کښے نورو خلقو ته آورَوی - او په خپل کور کښے بنځو ته او وړو ته دِ هم آورَوی - دغه شان څوک چه ئے په چوپال یا جمات کښے واوری هغه دِ بیا په خپل کور کښے بنځو او وړو ته اورَوی - په دے طریقه به د زدکړے او بښیلو دواړه ثوابونه اوګټی - او د فرضونه به ئے غاړه خلاصه شی -

(۲) څوک چه پخپله اردو یا پښتو هم نهٔ شی لوستے او نهٔ ئے په آسانه زده کولے شی هغه

Scanned with CamScanner

څوک بنهٔ پوهه سړے خپل ځانځ ته رابلی اود هغهٔ نه د اسے کتابونه اوری اود دین خبرے ترے نه پوښتی ۔

که داسے یو سړے مستقل مقرر کړے شی چه همیشه د محلے خلقو ته د دین کتاب اودروی او دین خبرے ورته بنئی نو دا به ډیره بهتره وی ۔ ټول خلق چه لږ لږ چنده راجمع کړی نو یو بنهٔ تنخواه دار سړے ساتلے شی ۔ د دنیا په کارونو دپاره ہے ضرورت په سوونو زرګونو روپئی لګوی ۔ نوکه د دین د کار دپاره څهٔ معمولی رقم اولګوئی نو څهٔ دومره ګران کار نهٔ دے ۔ لیکن داسے سړے کوم چه د دین کار دپاره مقرر کوئی او کوم د دین کتابونه چه تر نه آوری ۔ دا انتخاب په خپله خوښه مهٔ کوئ بلکه دیو بنهٔ نیک پرهیزګار عالم په صلاح مشوره ځ خوښ کړئ ۔

(۳) یو داخبره یاده لرئ چه د دنیا یا د دین کوم داسے کار چه کول غواړئ د کوم بنهٔ والے یا بد والے چه درته د څنګ نه معلوم نهٔ وی ۔ نو دا خیال ساتئ چه د یو نیک پرهیزګار عالم نه تپوس کوئ ۔ او هغه چه درته څهٔ اوښئ په هغے څان بنهٔ پوهه کړئ ۔ خپله پرے عمل اوکړئ او نورو نو ښځوته ځ اوښایئ ۔ که د داسے عالم سره د تلو موقع درسره نهٔ وی ۔ نو په خط ترے تپوس اوکړئ اود واپسی جواب دپاره په خط کښے خپله پته لیکلی جوابی لفافه ضرور کیږدئ ۔ دے کښے هغهٔ ته جواب ورکولو آسانی وی ۔ جواب به ځ زر راځی ۔

(۴) یو داخبره هم یاده لرئ چه د الله والا عالمانو په مجلس کښے څنه وخت ضرور تیره وئ ۔ که په دے نیت ور روان شئ خو ډیره بنهٔ ده ۔ که دومره فرصت نه وی یا داسے عالم نه دے نهٔ وی لکه د باندنی وخلق چه لرے لرے پراتهٔ دی نو هغه که چرے په خپل څهٔ کار پسے داسے کلی ته لاړ شی چه هلته الله والا عالم موجود وی ۔ نو څهٔ وخت دپاره د هغهٔ مجلس ته ضرور ورتلهٔ پکار دی ۔ چه د دین خبرے ترے معلومے کړئ ۔

(۵) بل ضروری کار داسے چه کله کله په میاشت دوه پنځ دچا بنهٔ عالم په صلاح یو بنهٔ واعظ خپل کلی یا محلے ته د وعظ دپاره راغواړئ ۔ چه د الله سره مینه اوو الله تعالیٰ ډیره په زړهٔ کښے پیدا شی ۔ او په دین باندے عمل کول آسان شی ۔ که داطریقه مو پابندئ سره جاری اوساتله ۔ نو دین ضروری خبرے به درته بے محنته معلومے شی ۔

اوو دے سره د پرهیز په طور دوه خبرے نورے هم یاد ے ساتئ ۔

(۱) یو خو داچه د کافرانو اوکمراهانو جلسو ته مهٔ ځئ ۔ یو خو د کفر اوکمراهئ خبرے اوریدل

Scanned with CamScanner

خپله په زړهٔ تیارهٔ راولی او بل کله کله په غلطه خبره بنده قهر ورځی نو که صبر او نکړے شی خو جنګ جګړه او فساد تر جوړ شی. بلکه کله کله وهلو ټکولو او مقدمه بازیو ته خبره اوړی. وخت هم خراب شی. او پیسه هم برباده شی. او که صبر او کړی هم زړهٔ ځفه او تنګ شی. نو خا لخا ځان ته غم جوړولو کښے څهٔ خیر دے؟

(۳) دویمه ضروری خبره دا ده چه د چا سره په څهٔ خبره کښے بحث مباحثه او مناظره مه جوړوئ. ددے نه هم غټ خراب جوړیږی. د ټولو نه غټ خرابے خو ځ دا دے. چه په دا سے جلسو کښے یا بحثونو کښے د کفر یا د کمراهئ دا سے کړ ے خبرے غوږدونو ته اوږی چه بنده خپله هم په شک کښے پریوزی. دومره علم خو ځ وی نه چه شک د زړهٔ نه اوویستے شی. نو بنده دا سے کار ولے او کړی چه د دومره غټ نقصان خطره وی په کښے. (نو جلسے ته تلهٔ خو د خپل اختیار کار دے مهٔ ځئ) او که سړے د سره په څهٔ خبره کښے بحث جوړول غواړی نو په کلکه ورته اووایئ چه ما سره بحث مهٔ کوه لاړ شه چا عالم سره بحث او کړه. په دے ترے ځان خلاص ولے شی. که د دے ټولو خیال مو او ساتلو. د دارو سره مو پرهیز هم او کړو. نو انشاءالله دینی صحت به مو هیڅرے نه خرابیږی. عاقبت به مو په خیر وی. او د دین مرض به درباندے نه لګی. الله تعالیٰ دِ مونږ ټولو ته د نیکئ توفیق راکړئ.

درئیم روح

د قرآن شریف لوستل او لولول

(۱) عن عثمان رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خیرکم من تعلم القرآن وعلمهٔ (مشکوٰة ص۱۸۳)

د عثمان رضی الله عنه نه روایت دے چه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. په تاسو کښے د ټولونه بنهٔ سړے هغه دے څوک چه قرآن زده کړی او بل ته ځ ے اوښائی. (بخاری)

Scanned with CamScanner

(۲) و عن عقبة بن عامر في الحديث الطويل قال افلا يغدو احدكم الى المسجد فيعلم او يقرأ آيتين من كتاب الله خير له من ناقتين و ثلث خير له من ثلث و اربع خير له من اربع و من اعدادهن من الابل (مشكوٰة ص۱۸۳)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. په تاسو کښے چه څوک جمات ته لاړ شی. د قرآن شریف دوه آیتونه زده کړی دا د هغهٔ دپاره د دوو اوښو (حاصلولو) نه ډیر ښهٔ دی. او درے آیتونه د دریو اوښو نه او څلور د څلورو اوښو نه ډیر ښهٔ دی. او په شمار هرڅومره اوښے چه وی د قرآن پاک آیتونه د هغے نه ډیر ښهٔ دی.

ف :- دا بهترئ وجه ئے څرګنده ده. اوښه د دنیا کار شے دے او آیتونه دنیا او آخرت دواړو کښے د فائدے شے دے. د اوښے نوم هسے د مثال په طور آخستے شوے دے. چه په هغه زمانه کښے په عربو کښے د اوښانو ډیر قدر وو او ډیر قیمتی شے ګڼلے شو. ګنی دیو آیت په مقابله کښے د ټولے دنیا هم هیڅ حقیقت نشته. (مرقات) او دوے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه که چا پوره قرآن شریف نهٔ وی لوستے نو لږ ئے لوستے وی. نو هغهٔ هم غټ نعمت حاصل کړے دے.

(۳) عن عائشة رض قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة والذي يقرأ القرآن و يتتعتع فيه وهو عليه شاق له اجران (مشكوٰة ص۱۸۴)

د حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. څوک چه قرآن شریف کښے ښهٔ روان وی هغه به په درجه کښے د فرشتو برابر وی کوے چه د بندیانو عمل نامے لیکی پاکے اوعزتمنے دی. او څوک چه قرآن شریف کښے نبلی "روان نهٔ شی ویلے" و هغهٔ دوه ثوابونه دی. (دوچند ثواب به ورکولے شی) (بخاری ومسلم)

ف :- دوه ثوابونه دا دے چه یو خو د قرآن د تلاوت ثواب دے. او بل ئے د محنت او تکلیف ثواب دے. چه په آسانه ئے روان نهٔ شی ویلے. په خواړئ خواړئ ئے وائی. په دے

Scanned with CamScanner

حدیث کښے څومره غټه تسلی ده هغه چاته چه قرآن روان نه شی ویښلے چه چرته دنا امیدی په وجه ترِ تلاوت پاتے نشی . هسے نه چه اووائی یا دیږی یاته نه نو دا ده وبنا څه خیر دے نو حضور صلی الله علیه وسلم خوشخبری درکړه . چه دا ده بنده دو چند ثواب دے .

(۴) عن ابن عباسؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الذی لیس فی جوفه شیٔ من القرآن کالبیت الخرب (مشکوٰة ص۱۸۶)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی . ډ چا سینه چه د قرآن نه خالی وی . هغه دا ده دے لکه ورانه کور . (ترمذی و دارمی)

ف :- په دے کښے تاکید دے چه هر مسلمان ته څه نه څه قرآن ضرور یاد ساتل پکار دی (یو آیت یا یو ډوکے سورت ولے نه وی) .

(۵) عن ابن مسعودؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قرأ حرفاً من کتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشر امثالها لا اقول الٓمٓ حرف الف حرف و لام حرف میم حرف (مشکوٰة ص۱۸۶)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چاچه د کلام الله یو حرف ولوستو هغه ته یوه نیکی ورکولے شی او هره نیکی دلسو نیکو برابره ده . او زه دا نه وایم چه الٓمٓ یو حرف دے ، بلکه الف یو حرف دے ، لام بل حرف دے او میم بل حرف دے . (ترمذی و دارمی)

(۶) عن معاذ الجهنی قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قرأ القرآن و عمل ما فیه البس والداه تاجا یوم القیٰمة ضوءه احسن من ضوء الشمس فی بیوت الدنیا لو کانت فیکم فما ظنکم بالذی عمل بهذا (مشکوٰة ص۱۸۶)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی . چاچه قرآن شریف اولوستو او د هغه په احکامو عمل اوکړو د هغه مور پلار ته به د قیامت په ورځ داسے تاج پسرولے شی چه د هغے رنړا به د نمر رنړا نه زیاته اوبنائسته وی لکه نمر د تاسو کورونو ته راکوز شی . (یعنی که نمر دومره نزدے وے چه د تاسو په کورونو کښے راکوز شوے وی نو هغه وخت کښے چه ئے څومره زیاته رنړا او تیږ شعلے وی دغه تاج به د دے نه زیاته روښانه اوبنائسته وی) چه د مور پلار ئے (دچا په تربیت چه قرآن شریف زده کړیدے) دومره قدر ئے نو د هغے بنده څپله مرتبه به څومره اوچته او د قدر وی ؟ (احمد و ابو داؤد)

ف :- دے حدیث نه اولاد باندے د قرآن شریف لوستو څومره فضیلت بیان شوے دے.
نو تولو مسلمانانو ته پکار دی چه خپل اولاد باندے قرآن شریف لوستو کښے ډیر کوشش اوکړی
که پوره ختم او نکړے شی نو څومره حصه چه په آسانه کیدے شی ضرور پکار ده. لکه چه
د حدیث (۲) نه معلومه شوے ده.
که اولاد باندے قرآن شریف یادولے شی خو دے ډیر ثواب دے. لکه دے پسے
حدیث کښے چه راځی - او که دیادولو طاقت یا فرصت ورته نه وی. نو ناظره لوستل خو ډیر
ضروری دی.

(۷) و عن علیؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قرأ القرآن فاستظهره فاحل حلاله وحرم حرامه ادخله الله الجنة و شفعه فی عشرة من اهل بیته کلهم قد وجبت له النار.

(مشکوة ـ ۱۸۴)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه قرآن زده کړی او یاد ئے کړی بیا د هغے حلال حلال اوګڼی او حرام حرام اوګڼی (یعنی دے خلاف عقیده ئے نه وی. په ډومبی حدیث کښے وربانډ د عمل ذکر شوے وو - او دے کښے د عقیدے ذکر دے) نو الله تعالی به هغه سړے جنت ته واستوی. او د هغهٔ سفارش به د هغهٔ د خاندان د لسو کسانو په حق کښے قبول کړی دا سے کسان چه دوزخ ورته مقرر شوے وی.

(احمد، ترمذی، ابن ماجه، دارمی)

ف :- په دے حدیث کښے د قرآن حفظ فضیلت د هغے حدیث نه زیات واضح بیان شوے دے ظاهره ده چه په خاندان کښے زیات نر دے مور پلار دی. نو د هغوئی په حق کښے خو ئے سفارش یقینی شو. دے نه معلومه شوه چه خپل اولاد باندے قرآن شریف حفظ کولو څومره غټ فضیلت دے.

(۸) و عن ابن عمرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان هذه القلوب تصداء کما یصداء الحدید اذا

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی زړونه هم زنګ نیسی لکه اوسپنه چه زنګ نیسی. تپوس ترے اوشو چه یا رسول الله بیا د زنګ نیولو زړونه په څه صفا

اصابه الماء قيل يا رسول الله وما جلاؤها كثرة ذكر الموت وتلاوة القرآن .

(مشكوٰة ص ۱۸۹)

کیږی - حضور اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایئل مړک ویر یادول او د قرآن شریف تلاوت (د زړه زنګ لرے کوی .)

(بیهقی شعب الایمان)

۹ وعن جابرؓ قال خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نقرأ القرآن وفينا الاعرابي والعجمي فقال اقرؤا فكل حسن .

(مشكوٰة ص ۱۹۱)

د حضرت جابرؓ نه روایت دے - چه یوه ورځ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زمونږ خواته راغلو مونږ د قرآن پاک تلاوت کولو مونږ کښے څه د باندے خلق وو - اوڅه غیر عرب وو (مطلب داچه څنه کسانو قرآن شریف بنه نه شو لوستے - د باندے خلق بے تعلیمه وی - اوچه عرب نه وی نو عربی صفا نه شی ویلے) حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمایئل لولئ لولئ ټول بنه یئ .

(ابو داؤد ، بیهقی)

(یعنی که څوک ویر صفا نه شی ویلے نو زړه د نه تنګوی - اوصفا لوستونکے ورته سپک نه ګوری - ځکه چه الله پاک زړونو ته ګوری)

ف :- ددے نه معلومه شوه چه څوک د افکس نه کوی چه زما ژبه صفا نه ده - بنه نه شم لوستے یا مے عمر ویر دے اوس نه شم زده کولے نو ثواب به مے کم وی یا به مے خاړه نیولے شی اوګورئ رسول پاک صلی الله علیه وسلم ټولو ته څنګه تسلی ورکړه او ټولو ته ئے د تلاوت جاری ساتلو حکم اوکړو .

(د اټول حدیثونه مشکوٰة کښے دی)

۱۰ وعن ابی هريرة رضی الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من استمع الى اية من كتاب الله كتبت حسنة مضاعفة ومن تلاها كانت له نوراً يوم القيمة . (ترغیب ص ۲۵۱)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی څوک چه د قرآن شریف یو آیت اوریدو ته غوږ کیږدی - د هغه د پاره دا سے نیکی لیکلے شی کومه چه (په ځنه) زیاتیږی (د زیاتی څه حد نه دے بنیلے شوے او د الله تعالیٰ د بے پایانه رحمت نه امید دے چه دانیاتے به بے انتهاوی څه حد به ئے نه وی) اوڅوک چه یو آیت اولولی دا آیت به د قیامت په ورځ د هغه د پاره یو نور وی کوم چه د هغے نیکئ نه هم زیات وی .

(احمد)

ف :- الله اکبر - قرآن پاک څومره لوئے شے دے - څوک چه خپله نه شی لوستے هغه د بل نه په اوریدو هم بے حسابه ثواب نه گټلے شی - دخدائے بنده یا نو دا خوشحه دومره گران کار نه دے -

(۱۱) عن ابی امامة الباهلی رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول قرأ القرآن فانه یاتی یوم القیٰمة شفیعا لاصحابه

(ترغیب ص۱۸)

دحضرت ابی امامه رض نه روایت دے - وائی چه ما اوریدلی دی د رسول پاک صلی الله علیه وسلم نه. هغوئی فرمائیل چه د قرآن پاک تلاوت کوئی څکه چه قرآن شریف به د قیامت په ورځ دخپلو لوستونکو سفارش کوی (او هغوئی به په تعالیٰ بخښی)

(مسلم)

(۱۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال یجیئ صاحب القرآن یوم القیٰمة فیقول القرآن یا رب حله فیلبس تاج الکرامة ثم یقول یا رب زده فیلبس حلة الکرامة ثم یا رب ارض عنه فیرضی عنه فیقال له اقرأ و ارق و یزداد بکل آیة حسنة .

(ترغیب ص۲۸۲)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. د قرآن تلاوت کوونکے به د قیامت په ورځ راشی نو قرآن به سوال اوکړی خدائے ته - اے پروردگاره دۀ ته یو جوړه واغوندے وه - نو هغۀ ته به د عزت تاج په سر کړے شی - بیا به اووائی اے الله دده نه زیات څۀ ورکړه - نو الله پاک به ورته د عزت جوړه واغوندئ وی. قرآن به بیا سوال اوکړی اے الله تۀ ترینه راضی شه نو الله پاک به ترینه راضی شی او ورته به اووائی د قرآن تلاوت کوه او په درجو اوچت خیژه د هر آیت په بدل کښے به ورته یو یو نیکی زیاتیږی.

(ابن خزیمه وحاکم)

ف :- دے تلاوت او په درجو ختو تفصیل پدے حدیث کښے راغلے دے . چه به ورته اوو ئیلے شی . څنگه په مزه مزه چه د دنیا کښے تلاوت کولو دغه شان تلاوت کوه . او په بره خیژه . په کومه پوړئ چه ستا تلاوت ختم شو. هم هغه ځائے به ستا دۀ اوسیدو کور وی . (ترمذی ، ابوداؤد ، ابن ماجه ، ابن حبان ، داحدیثونه د ترغیب نه اخستے شویدی)

ف :- مسلمانانو! په دے حدیث غور اوکړئ اود قرآن شریف په خپله زده کولو او اولاد باندے زده کولو کښے پوره پوره کوشش اوکړئ کهٔ د ټول قرآن شریف یادولو همت یا فرصت نهٔ وی نو څومره چه کیدے شی هغه هومره همت پکار دے. کهٔ نهٔ نهٔ یادیږی یا صفا او صحیح تلفظ نه شئ کولے نو وارخطا کیږئ مه. او لګیا اوسئ خپل کوشش کوئ څومره چه کیدے شی. په دے کښے هم ثواب دے. کهٔ یادول درته ګران وی نو په کتلو لوستلو (ناظره) خو ځے زده کړئ. او په اولاد ځے هم زده کړئ. کهٔ د قرآن پوره ختم کولو همت یا فرصت مونهٔ وی. نوچاته چه پوره ورځئ د هغهٔ نه اورئ. د اوریدو ثواب په څنګښے حدیثونو کښے تیر شوے دے.

دا څرګنده خبره ده. کوم کار چه د ثواب وی یا ضروری وی د هغے بندوبست او انتظام کول هم ضروری اود ثواب کار وی. نو په دے قاعده د قرآن شریف د لوستو او لولو انتظام کول هم ضروری اود ثواب کار دے.

او دوے طریقے دغه دی. چه هرځائے کښے مسلمانان په جمع دوا سے مدرسو او مکتبونو انتظام اوکړی چرته چه ماشومانو ته د قرآن شریف بنیلو بندوبست وی. او لوئے ډ هم دَخپلو کارونو نه لږ لږ وخت بچت کوی. او لږ لږ قرآن ډ زده کوی. چرته چه بے تنخواه مدرس نهٔ پیدا کیږی. هلته ډ ټول مسلمانان په شریکه دومره چنده راجمع کوی چه یو مدرس ته د ګذارے مناسب تنخواه ورکولے شی. او کوم ماشومان چه غریبان وی په دے وجه نور قرآن نهٔ شی ویلے چه د هغوی د جامے خوراک انتظام هم اوشی او په آسانه قرآن مجید ختم کړے شی. کوم هلکان چه دلته سبق اووائی هغوئی ډ بیا کور کښے ښځو ته اوجینکو ته هغه سبق ښئ. په دے طریقه به د کورونو ښځے ټول قرآن اولوستے شی. که چاته سیپاره کښے لوستل ګران وی. هغه ډ په یادو څو سورتونه یاد کړی.

د قرآن شریف یوځوحقونه نور هم دی:

(۱) یوځو داچه څومره قرآن شریف چا زده کړے وی هغه ډ همیشه لولی چه هیر ترنشی.

(۲) که دچا د قرآن شریف ترجمے زده کولو شوق وی نو هُمان سره ډ ترجمه نهٔ کوری په دے طریقه د غلط پوهیدو خطره ده د چا عالم نه دے سبق زده کړی.

(۳) د قرآن شریف پیر ادب پکار دے. قرآن ته شا کوئ مه. قرآن طرفته خپه مهٔ

غږه وئ - د قرآن نه اوچت مه کیږئ - قرآن په زمکه یا فرش مه کیږدئ په رحیل یا تکیه باندے کیږدئ -

(۴) قرآن شریف که زور شی اوشلیږی نو په څه پاک زړوکی کښے ځ اونغاړئ او داسے ځائے کښے غرق بنخ کړئ چه څوک پرے ګرځئ نه -

(۵) کله چه د قرآن تلاوت کوئ نو په دے سوچ ځ کوئ چه مونږ د الله تعالیٰ سره خبرے کوو - بیا اوګورئ چه زړه کښے څنګه نور پیدا کیږی -

---

څلورم روح

الله تعالیٰ اود الله تعالیٰ رسول صلے الله علیه وسلم سره مینه

---

(۱) عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ثلث من کن فیه وجد بهن حلاوة الایمان من کان الله و رسوله احب الیه مما سواهما ومن احب عبداً لایحبه الا لله و من یکره یعود فی الکفر بعد ما انقذه الله منه کما یکره ان یلقی فی النار۔ (مشکوٰة ص۱۲)

حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی درے کاره داسے دی چه دا په کوم سړی کښے وی د هغهٔ به د ایمان خوږوالی نصیب شی - (۱) چا ته چه الله اود هغهٔ رسول د ماسوا (یعنی دے دواړو نه علاوه) هرڅه نه زیات محبوب وی (یعنی څومره محبت چه ځ د الله اود الله رسول سره وی دومره ځ د بل هیڅ شی سره نهٔ وی)

(۲) دویم هغه سړے چه دیو بنده سره خالص د الله دپاره مینه وی (یعنی څه دنیاوی غرض ځ پکښے نهٔ وی خالص دے دپاره ځ ورسره محبت وی چه دا الله والا دے)

(۳) دریم هغه سړے چه الله تعالیٰ دکفر نه بچ کړے وی (د دوخته بچ وی یا ځ دکفر نه توبه

ویستی وی په اخلاص ځ ایمان راوړے وی) او دده بې کیدو نه پس دے بیا کفر ته راوپیدل دومره بد کښې لکه څوک چه ځ اور ته غورزوی۔ (بخاری ومسلم)

(۲) عن قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده و ولده والناس اجمعین۔

(مشکوٰة ص۱۲)

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ په تاسو کښې هیڅوک (پوره) ایماندار کیدے نه شی تر څوچه ځ زما سره دومره مینه نه وی چه دخپل پلار نه هم اود اولاد نه هم او د ټولو خلقونه هم زیاته۔

(بخاری و مسلم)

(۳) عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یؤمن حتی اکون احب الیه من اهله و ماله والناس اجمعین

(مسلم مجتبائی ص۴۹ ج۱)

حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه یو بنده هم ایماندار کیدے نه شی تر څوچه ځ زما سره دومره محبت نه وی۔ چه دخپل ټول بال بچی نه د مال دولت نه اود ټول مخلوق نه زیات وی۔

(مسلم)

او بخاری کښې په روایت د عبد الله بن هشام رض درسره دا هم شته چه حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړو۔ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم، زما ستا سره دخپل ځان نه علاوه د ټولو څیزونو نه زیات محبت دے۔ حضور اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زما د قسم وی په هغه ذات دچا په اختیار کښې چه زما روح دے، ایماندار کیدے نه شی تر څو چه د زما سره دخپل ځان نه هم زیاته مینه نه وی۔ حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړو۔ اوس خو ستا محبت راته دخپل ځان سره محبت نه زیات ښکاری۔ حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اوس پوره ایماندار شوے۔

ف:- په دے خبره اسانئ دپاره داسے ځان پوهه کړئ چه اول حضرت عمر رض پوره غور نه وو کړے۔ داسے ورته ښکاریده چه دخپل ځان تکلیف چه په بنده څومره اثر کوی۔ ځکه ورته خپل ځان خوښ معلوم شو۔ بیا چه ځ سوچ اوکړو نو ورته معلومه شوه چه که د سر ورکولو موقعه راشی نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته د معمولی تکلیف رسیدو په

خائے هر مسلمان خپل سر ورکولو او خان قربانولو ته تیار دے۔ دغه شان د دین د حفاظت
دپاره د سر ورکولونه هیڅ شے نه آړوی نو معلومه شوه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره
د مسلمان مینه د خپل خان نه زیاته ده۔ (چه د هغهٔ په حکم خان قربانوی)

(۴) د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی
دی چه د الله تعالیٰ سره مینه لرئ ځکه چه هغه تاسو ته رزق او ډیر نعمتونه درکوی۔ او
زما سره مینه لرئ ځکه چه زهٔ د الله تعالیٰ محبوب یم۔ (ترمذی)

ف:- دوے مطلب ما نهٔ دے چه صرف د رزق او نعمتونو په غرض د الله پاک سره مینه
کوئ۔ بلکه مطلب ځه داوے چه د الله تعالیٰ کمالونه او احسانونه خوبے شمیره دی لیکن
کهٔ په دے څوک نهٔ پوهیږی نو دا د رزق احسان خو ځه دومره څرګند دے چه هیڅوک
ترے انکار نهٔ شی کولے۔ نو ددے احسان په بدل کښے ورسره محبت کوئ۔ (د حسن سره
محبت فطری شے دے۔)

(۵) عن انسؓ انه جاء اعرابی الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال یا رسول الله متی الساعة قال ما اعددت لها فقال ما اعددت لها کثیر صلوٰة ولا صیام الا انی احب الله و رسوله فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم المرء مع من احب قال انس فما رأیت المسلمین فرحوا بشئ بعد الاسلام فرحهم بذلك

(حیاء ص۱۸۲ ج۴)

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے د بانډے یو سړے حاضر شو او عرض ځه اوکړو یا رسول الله قیامت به کله وی؟ حضورؐ ورته او فرمایئل تا ورته څهٔ سامان تیار کړے دے (چه دلته ورته شوق کښے ځے) هغه عرض اوکړو ما نهٔ ډیر مونځونه کړی او نهٔ مے ډیر روژے نیولی خو دومره خبره ده چه زما د الله او د هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم سره ډیره مینه ده۔ حضورؐ اوفرمایئل د قیامت په ورځ به هر سړے په هغه ډله کښے وی د چا سره چه ځے مینه وی (نو ته به زما سره ځے او څوک چه د رسول الله سره شو نو هغه د الله سره شو)۔ حضرت انسؓ فرمائی د اسلام راوړونه پس ما مسلمانان په یوه خبره دومره په خوشحالئ نهٔ وو لیدلی لکه په دے خبره چه ډیر خوشحاله شوه۔ (بخاری و مسلم)

(ځکه چه ټولو اصحابوؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیره مینه لرله)۔

ف :- په دے حدیث پاک کښے څومره غټه خوشخبری ده - که دچا سره د عبادت ذخیره وی نه وی خو د الله او د الله د رسول سره ویره مینه لری - نو هغه ته دومره غټه کامیابی حاصلیدے شی - (الاحیاء للعراقی)

(۲) عن ابی ذرؓ قال قام رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی اصبح بآیة والآیة اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَ اِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (مشکوٰة ص۱۰۱)

د حضرت ابو ذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دے چه یو ځل رسول اکرم صلی الله علیه وسلم (د تهجد وپه ما نځه) تولـه شپه ترسحره په دے یو آیت (بیا بیا ویلو) تیره کړه - هغه آیت دادے : اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (ترجمه) اے الله که ته دوئی (یعنی زما امت) ته سزا ورکوے نو ستا بندیان دی (تا ته پوره پوره اختیار دے څه چه ورسره کوے) او که ته ئے او بخښے (نو درته هیڅ کرانه نه ده) ځکه چه ته زبردست ئے (غټ غټ کار ونه کولے شے) او د حکمت خاوند ئے (د گنهگار بخښش به هم په حکمت وی) دا روایت په نسائی او ابن ماجه کښے دے -

ف :- شیخ عبد الحق محدث دهلوی د مشکوٰة په حاشیه کښے لیکلی دی چه دے آیت مضمون د حضرت عیسیٰ علیه السلام قول دے - د خپل امت په حق کښے او غالباً رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خپل امت په حالت د الله تعالیٰ په دربار کښے د مغفرت د درخواست په طور پیش کړیدے - شیخؒ لفظ د "غالباً" د احتیاط په طور استعمال کړے دے - ورنه بل احتمال پکښے هډو شته نه - او گوری رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل امت څومره مهربانه دے - چه تولـه شپه ئے د خپل امت د پاره د بخښش په سفارش او دعا دیبـه تیره کړه - څوک بد بخته به دا سے بے حسه وی چه د دومره شفقت او مهربانئ نه پس به په دا سے رسول نه عاشق کیږی -

(۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مثلی کمثل رجل استوقد ناراً فلما اضاءت ما حولها جعل

حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی زما او ستا سو د حالت مثال دا سے دے لکه یو سړے چه اور بل کړی او هغے ته پتنگان راغونډ شی - هغه

الفراش و هذه الدواب التی تقع فی النار یقعن فیها و جعل یحجزهن ویغلبنه فیتحممن فیها فانا اخذ بحجزکم عن النار و انتم تقحمون فیها هذه

(روایة البخاری مشکوٰة ص۲۸)

ځ ترینه شړی اوهغوئی په اور ورننوزی ځان پرې ستی کوی- دغه شان زه هم تاسو د ملا نه نیسم- د اورنه مو لرے غورځوم (دوزخ ته بوتلونکو کارونو نه مو منع کوم) اوتاسو یئ چه بیا بیا ورمنډے کوئ (یعنی هغه کارونه کوی چه دوزخ ته موبوزی)

(بخاری)

ف :- اوګورئ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څومره کوشش کوی چه خپل امت د دوزخ د اورنه بچ کړی. دا مینه نه ده نو نور څه دی؟ که مونږ دا ځے مینه ناک رسول سره هم مینه نه لرو - نو ویره د افسوس خبره ده -

رہ و عن عباس بن مرداس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم دعالامة عشیة عرفة بالمغفرة فاجیب انی قد غفرت لهم ما خلا المظالم فانی آخذ للمظلوم منه قال اے رب ان شئت اعطیت المظلوم من الجنه و غفرت المظالم فلم یجب عشیته فلما اصبح بالمزدلفة اعاد الدعاء فاجیب الی ما سأل قال فضحك رسول الله صلی الله علیه وسلم او قال تبسم فقال له ابوبکر و عمر بابی انت وامی ان هذه لساعة ماکنت تضحك

دحضرت عباس بن مرداس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د عرفے په مابنام دخپل امت د مغفرت دپاره دعا اوغوښته - جواب ورکړے شو چه ما ورته ټول ګناهونه معاف کړل ځ د بندیانو د حقونو نه چه د ظالم نه به د مظلوم بدله ضرور اخلم او ځ سزا به ځ نه پریږدم حضور اکرم صلی الله علیه وسلم عرض اوکړو اے پروردګاره که ته اوغواړے نو مظلوم ته ډیر ے حق په بدله کښے د جنت نعمتونه ورکولے شے او په دے پرے ظالم معاف کولے شے لیکن په هغه مابنام دا دعا قبوله نه شو. بیا په مزدلفه کښے چه سحر شو نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم (څان سره) اوخندل د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه په ټپوس ځ اوفرمایل

فیها فما الذی اضحک اضحک الله سنک قال ان عدوا الله ابلیس لما علم ان الله عزوجل قد استجاب دعائی وغفر لامتی اخذ التواب فجعل یحثره علی رأسه ویدعو بالویل و الثبور فاضحکنی ما رأیت من جزعه۔

(مشکوٰۃ ص ۲۲۹)

چه شیطان چه خبر شو چه الله تعالیٰ زما سوال قبول کړو او زما امت ئے او بخښلو نو غاوړے ئے په سر نوستے او په شور غوغا شو۔ ما ته دَ هغهٔ په دے پریشانئ خندا راغله۔

(ابن ماجه و بیهقی)

ف:- ددے حدیث مطلب دا نهٔ دے چه د بنده یانو حقونه به ټول بے سزا معاف کیږی۔ او نه ئے دا مطلب دے چه په هر کولو به بے سزا معاف شی۔ بلکه ددے دعا د قبلیدو نه اول دوه احتماله وو۔ یو خو داچه د حقوق العباد په سزا کښے به همیشه په جهنم کښے وی بل داچه همیشه خو به جهنم کښے نهٔ وی لیکن څه سزا به خامخا خوری۔ اوس ددے دعا قبلیدو سره دوه وعدے شوے۔ یو خو داچه په سزا کښے به همیشه جهنم نهٔ خوری د سزا پوره کیدو نه پس به ترے خلاص شی۔ بله داچه کله کله به بے سزا معاف شی په دے طریقه چه مظلوم به الله تعالیٰ د جنت په نعمتونو راضی کړی او دا ظالم به معاف کړی۔

ف:- سوچ اوکړئ ددے قانون منظوری رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څومره په محنت او تکلیف حاصله کړیده۔ او څومره پوے خوشحاله شوے دے۔ آیا اوس هم ستاسو په زړونو کښے دداسے مینه ناک رسول مینه جوش نهٔ وهی؟

وعن عبد الله بن عمرو بن العاص ان النبی صلی الله علیه وسلم تلا قول الله فی ابراهیم رب انهن اضللن کثیراً من الناس فمن تبعنی فانه منی الآیة و قال عیسٰی ابن مریم ان تعذبهم فانهم

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه روایت دے۔ دهغے خلاصه داده۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه آیتونه تلاوت کړل کومو کښے چه د ابراهیم علیه السلام او عیسٰی علیه السلام دخپل امت په حق کښے دعا ذکر دی۔ او ددعا دپاره ئے لاس پورته کړل او خدائے تعالیٰ ته ئے سوال

عبادك الخ فرفع يديه فقال اللّٰهم امتي امتي و بكى فقال اللّٰه يا جبريل اذهب الى محمد فقل انا سنرضيك في امتك ولا نسوءك (۱۲ منثور ج ۲ ص ۲۵۰)

اوکړو چه اے اللّٰه زما امت ، زما امت ، اللّٰه ﷻ جبریل علیه السلام ته اوفرمائیل چه ته د محمد صلی اللّٰه علیه وسلم ته لاړشه ستا رب خو د هرڅهٔ نه خبر دے خو ته د هغه راغلو د رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم نه ځ تپوس اوکړو - بیا لاړو اللّٰه تعالیٰ ته ځ هغه قول حال اووے - څهٔ چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ورته ویلی وو - اللّٰه تعالیٰ ورته اوفرمائیل چه بیا ورته زما محبوب ته اووایه چه زهٔ به تا د خپل امت په حق کښے خوشحاله کړم - خفه کیږے به نه - (مسلم)

ف :- د ابن عباسؓ قول دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم به هیڅرے خوشحاله نهٔ شی که یو امتی ځ هم په دوزخ کښے پاتے شی (در منثور عن الخطیب) او اللّٰه تعالیٰ ورسره د خوشحالولو وعده کړی - نو انشاء اللّٰه د حضور صلی اللّٰه علیه وسلم یو امتی به هم په دوزخ کښے نهٔ پاتے کیږی.

اے مسلمانانو! دا خوشحالئ او نعمتونه چه دکوم پاک ذات په برکت زمونږ نصیب کیږی چه دهغهٔ سره محبت نهٔ کوئ نو دچا سره به ځ کوئ.

(۱۰) عن عمرؓ بن الخطاب ان رجلا اسمه عبد اللّٰه يلقب حمارا كان يضحك النبي صلى اللّٰه عليه وسلم وكان النبي صلى اللّٰه عليه وسلم قد جلده في الشراب فاتي به يوما فامر به فجلد فقال رجل من القوم اللّٰهم العنه ما اكثر ما يؤتى به فقال النبي صلى اللّٰه عليه وسلم لا تلعنوه فواللّٰه ما علمت انه يحب اللّٰه ورسوله (۱۲ مشکوٰة ص ۲۱۶)

د حضرت عمر رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه یو سړے چه نوم ځ عبد اللّٰه او لقب ځ حمار وو. رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ورته د شرابو په جرم کښے سزا ورکړے وه - یوځل بیا په دغه جرم کښے راوستے شو - د سزا حکم پرے اوشو او سزا ورکړے شوه یو سړی اووے اے اللّٰه په دهٔ دِ لعنت وی څومره ډیر ځله راوستے شو - رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اوفرمائیل په دهٔ لعنت مهٔ وایئ و اللّٰه ماته علم دے چه د اللّٰه او د اللّٰه رسولؐ سره محبت لری - (ابو داؤد)

ف :- د خدائ ﷻ او رسول ﷺ د محبت څومره قدر اوشو چه په دومره غټه گناه هم ورباندې د لعنت اجازت ورنکړے شو.

اے مسلمانانو! دا ستاسے د مفتو دولت چه نه پکښے څه محنت شته او نه څه خرچ کوم کوم ځائے مونځ شی - دا دولت دلاسه مه اوباسئ - خپل رګ رګ د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د محبت نه ډک کړئ او ربښتونی عاشقان شئ - (دا ټول حدیثونه د مشکوٰة نه اخستے شوی دی یو پکښے د درمنثور دے ف۹)

پنځم روح

په تقدیر عقیده اوپه توکل عمل

یعنی تقدیر باندې یقین لرل اوپه الله تعالیٰ باندې اعتماد کول

په دے عقیده اوعمل کښے دا فائدے دی :-

(۱) هرڅنګه تکلیف یا پریشانی چه وی زړه ئے مضبوط وی - او دا ئے خیال وی چه الله تعالیٰ ته به هم دغه شان منظوره وه - دده خلاف کیدے نه شوه - اوکله چه د هغه رضا شوه دا مصیبت به ختم کړی.

(۲) چه په دے پوهیږی نو پریشانئ لرے کیدو کښے هرڅومره وخت چه اولګی دده زړه کښے کمزوری نه راځی او نه مایوسه کیږی.

(۳) اوچه دا ئے عقیده وی نو ددے تکلیف دفع کولو دپاره به دا سے هیڅ تدبیر نه کوی په کوم چه الله تعالیٰ ناراضه کیږی. (کوم چه د شریعت خلاف وی) په دے پوهه وی چه دا تکلیف بے د الله تعالیٰ د رضا نه خو لرے کیدے نه شی نو بیا الله تعالیٰ ولے ناراضه کړم ؟

(۴) اوچه په دے پوهیږی نو د نورو تدبیرونو کولو سره سره. به داسے په دعا کښے هم لګیا وی. ځکه چه دهغهٔ دا یقین وی چه دا مصیبت دچا په رضا لرے کیدے شی نو دهغهٔ نه سوال کول زیات فائده من وی. ددے دعا په برکت به ځے د الله تعالیٰ سره تعلق نورهم زیات شی. کوم چه دهرقسم آرام وراحت بنیاد دے.

(۵) اوچه په هرکار کښے ځے دا یقین وی چه دا کار صرف د الله تعالیٰ په رضا کیږی نو په هیڅ کامیابئ کښے په خپل تدبیر ظاهری اسبابو اوخپل عقل فکر فخر نهٔ کوی او مغروره کیږی به نه.

ددے ټولو فائدو حاصل دادے چه داسے بنده به دکامیابئ په وخت د الله تعالیٰ ډیر شکرګذار وی اود ناکامئ په وخت به صبر کوی او ناامیده کیږی به نه - ددے مسئلے هم دغه فائده ده الله تعالیٰ په دغه آیت کښے بیان کړیدی: لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ (سورهٔ حدید)

او ددے عقیدے دا مطلب نهٔ دے چه بنده د تقدیر په بهانه د شریعت موافق ضروری تدبیرونه هم پریږدی. بلکه داسے بنده خو به معمولی تدبیر هم نهٔ پریږدی. په دے امید چه الله تعالیٰ به په دے کښے اثر واچوی - نو داسے بنده هیڅرے بے همته کیږی نه - لکه څنګه چه ځنه خلق دا غلطی کوی.

دین خو لوے څیز دے - د دنیا په معمولی کارونو کښے هم داسے بے همتئ ته په حدیث کښے بد ویئلے شوی دی. لکه چه:

د حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه مقدمه فیصله کړه. نو بائیلونکی سړی اووے "حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ" (مطلب داچه د خدائے رضا زما قسمت) حضور اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: "الله تعالیٰ بے همته بنده نهٔ خوښوی - تهٔ بنهٔ په هوښیارتیا اوهمت سره خپل پوره پوره کوشش په تدبیر کښے کوه - بیا هم کهٔ حالات دستاهٔ قابو نه بهر وو نو اووایه: حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ - (ابو داؤد)

دا مضمون خو ددے عقیدے د فائدو بیئلو او غلطیو نه بچ کیدو د پاره ترمینځه راغلو. اوس مونږ هغه حدیثونه لیکو کوم چه د تقدیر په باره کښے راغلی دی.

(۱) عن جابر رضی اللّٰہ عنہ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم لا یؤمن احدکم حتی یؤمن بالقدر خیرہ و شرہ و حتی یعلم ان ما اصابہ لم یکن لیخطئہ و ان ما اخطاہ لم یکن لیصیبہ

(ترمذی، مجمع ص۱۳۷ ج ۲)

حضرت جابر رضی اللّٰہ عنہ نہ روایت دے چہ رسول اکرم صلی اللّٰہ علیہ وسلم فرمائیلی دی، پہ تاسو کښ هیڅوک مسلمان کیدے نہ شی ترڅو چہ ئے پہ تقدیر ایمان نہ وی راوړے د هغہ پہ خیر هم او پہ شر هم تر دے چہ پہ دے ئے پوخ یقین وی چہ کوم کار چہ کیدو نکے دے هغہ منع کیدئے نہ شی او کوم چہ کیدونکے نہ دے هغہ کیدے نشی۔

(ترمذی)

(۲) عن ابن عباسؓ قال کنت خلف النبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم فقال لی غلام انی اعلمک کلمات. احفظ اللّٰہ یحفظک احفظ اللّٰہ تجدہ تجاھک اذا سالت فاسال اللّٰہ واذا استعنت فاستعن باللّٰہ و اعلم ان الامۃ لو اجتمعت علی ان ینفعوک بشئ لم ینفعوک الا بشئ قد کتبہ اللّٰہ لک و ان اجتمعوا علی ان یضروک بشیء لم یضروک الا بشیء قد کتبہ اللّٰہ الیک نفعت الاقلام رجفت الصحف

(ترمذی ص۱۳۸)

د حضرت ابن عباس رضی اللّٰہ عنہ نہ روایت دے چہ زہ نبی کریم صلی اللّٰہ علیہ وسلم پسے شاتہ (پہ اونبہ سور) وم نو حضور صلی اللّٰہ علیہ وسلم اوفرمائیل۔ اے هلکہ زہ تاتہ یوشی خبرے بنائیم۔ تہ د اللّٰہ تعالیٰ خیال ساتہ هغہ بہ ستا حفاظت کوی۔ تہ د اللّٰہ تعالیٰ خیال ساتہ نو هر وخت بہ ئے ځانتہ مخامخ (نزدے) بیا موے کلہ چہ تاتہ دڅہ شی حاجت وی نو د اللّٰہ پاک نہ غواړہ۔ او کلہ چہ امداد غواړے نو د اللّٰہ مدد غواړہ۔ او دا پوخ یقین اولرہ چہ ټول خلق کہ پہ دے خبرہ راغونډ شی چہ تاتہ څہ فائدہ در اورسوی نو نہ شی در رسولے ترڅو چہ اللّٰہ تعالیٰ دا شے لیکلے نہ وی او کہ ټول مخلوق پہ دے خبرہ متفق شی چہ تاتہ څہ نقصان در اورسوی نو هرگز ئے نہ شی در رسولے سوا د هغہ نہ چہ کوم درتہ اللّٰہ تعالیٰ لیکلے دے۔

(ترمذی)

(۳) عن ابی الدرداء رضی اللہ عنہ
قال فرغ اللہ الی کل عبد
من خمس من اجلہ و
رزقہ و عملہ و مضجعہ
وشقی او سعید

د حضرت ابو درداء رضؓ نہ روایت دے چہ اللہ تعالیٰ تول
بندیان د پنځو خبرو نہ بے غمہ کړی دی.
(۱) د هغهٔ عمر نہ (۲) د رزق نہ (۳) د هغهٔ د عمل نہ
(۴) د دفن کیدو ځائے نہ (۵) او چہ آخره خاتمہ بہ ښه
وی کهٔ خرابہ (سعید دے کہ شقی)
(احمد و بزاز و کبیر و اوسط)

(۴) عن معاویۃ رضی اللہ عنہ
قال قال رسول اللہ صلی اللہ
علیہ وسلم لا تعجل علی
شئ تظن انك ان استعجلت
الیہ انك مدرکہ و ان
کان اللہ لم یقدر ذلك
ولا تستأخرن عن شئ
تظن انك ان ستاخرت
عنہ مدفوع عنك و ان
کان اللہ قد قدرہ علیك۔۱۲

د حضرت معاویہ رضی اللہ عنہ نہ روایت
دے چہ رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم
فرمائیلی دی هیڅ داسے شی تہ مهٔ ور څخه
کیږہ چہ ستا داخیال وی "زهٔ بہ ئے پہ کوشش
حاصل کړم پہ نصیب کښے دے وی او که نه"
او د هیڅ داسے شیز نه مهٔ روستو کیږہ
چہ د هغے متعلق ستا دا خیال وی چہ
"زهٔ بہ ترے پہ روستو کیدو بچ
شم اګر که اللہ تعالیٰ دے پہ تقدیر
کښے لیکلی وی۔"
(کبیر و اوسط)

ف:- یعنی دا دواړہ خیاله غلط دی کوم شیز چہ تقدیر کښے نهٔ وی پہ کوشش حاصلیدے
نهٔ شی - نو کوشش کول بے فائدے دی - او کوم کار چہ پہ تقدیر کښے لیکلے وی پہ هیڅ
تدبیر د هغے نه بچ کیدے نهٔ شی - نو دا کوشش بے فائدے دے۔

(۵) عن ابی هریرۃ رضی اللہ عنہ
قال قال رسول اللہ صلی اللہ
علیہ وسلم فی کل خیر
احرص علی ما ینفعك
واستعن باللہ ولا تعجزو

د حضرت ابو هریرہ رضی اللہ عنہ نه
روایت دے چہ رسول اکرم صلی اللہ علیہ
وسلم فرمائیلی دی د خپلے فائدے پہ کار کښے
بنهٔ کوشش کوہ او د اللہ تعالیٰ نه مدد
غواړہ او بے همته کیږہ مه۔

ان اصابك شئ فلا تقل لو انی فعلت لکان کذا وکذا ولکن قل قدر اللّٰه وما شآء فعل

(کل علی جمع الفوائد ص۱۳۹)

اوکه څه سخته درباندے راغله نو داسے مه وایه که داسے کار مے کړے وے نو داسے چل به شوو وو (بلکه داسے وخت کښے) وایه چه الله تعالیٰ دغه مقدر کړے وه چه څهٔ د هغهٔ رضا وه هغه اوشوه.

(مسلم)

تړے پورے حدیثونه دکتاب "جمع الفوائد" نه نقل شوی دی. په دے حدیثونو کښے زیات بیان د تقدیر وو. هغکښے چه کوم آیتونه او حدیثونه راځی په هغے کښے زیات بیان د توکل دے. اولږ د تقدیر دے.

(۲) فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ۝ (الآية)

الله تعالیٰ فرمائیلی دی. بیا (د صلاح کولونه پس) چه ته د یو کار پوخ نیت اوکړے نو په الله تعالیٰ اعتماد اوکړه (او هغه کار اوکړه) بیشکه داسے اعتماد کونکی د الله خوښ دی.

(آل عمران)

ف:- دے نه غټ دولت به بل څه وی چه په الله تعالیٰ اعتماد کونکو سره الله تعالیٰ مینه کوی. او دچا سره چه د الله مینه وی د هغهٔ په کامیابئ کښے څهٔ شک دے. دے آیت نه دا هم معلومه شوه چه د توکل سره سره د تدبیر کولو هم حکم دے ځکه چه صلاح خو د تدبیر دپاره کیږی. البته په خپل تدبیر باندے اعتماد نهٔ دے پکار. اعتماد په یو الله پکار دے چه هم هغه به دا تدبیر کامیابوی.

(۳) اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَّ قَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ۝ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ۝ (آل عمران)

الله تعالیٰ فرمائیلی دی دا داسے مخلصان کسان دی. چه (څنه) خلقو وویل ته اووے چه هغے خلقو (د مکے کافرانو) ستاسو (د مقابلے) دپاره ډیر سامان جمع کړیدے نو تاسو ترینه اوویریږئ نو دے خبر د هغوئ (د) ایمان (جوش) نور هم زیات کړو. او (ډیر په مضبوطیا ئے) جواب ورکړو چه زمونږ دپاره الله کافی دے او زمونږ توکل کار دے نه هغهٔ نه سپارل بهتر دی. (د هغه سپارل توکل دے) نو داخلق د الله تعالیٰ د نعمتونو او فضل نه

(یعنی ثواب او تجارت د نفع نه) پک راواپس شو۔ چه هیڅ تکلیف ورته اونه رسیدو او دا خلق (په دے واقعه کښے) دحق د رضا تابع پاتے شو (په دے وجه هرقسم نعمتونه ورکړے شو) او الله تعالیٰ د لوئے فضل مالک دے۔

ف:۔ په دے آیتونو کښے یو قصے ته اشاره ده چه پکښے اصحابوؓ ته ددین دنیا دواړو فائدے رسیدلے وه۔ الله تعالیٰ دابنائی چه دا دواړه فائدے ورته د توکل په برکت رسیدلی وے۔

(۸) قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا وَ هُوَ مَوْلٰنَا وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ (توبه)

الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه ورته اووایه په مونږ هیڅ تکلیف نه شی سوا د هغه نه کوم چه راته الله لیکلے۔ هم هغه زمونږ مالک دے (نو حقیقی مالک چه دچا دپاره کومه خبره خوښه کړی په هغے ورته راضی کیدل ضروری دی)۔ (او یوازے مونږ څه) توله مسلمانانو ته پکار دی چه خپل کارونه الله ته اوسپاری۔ (بله ورته دا اووایه) چه (زمونږ دپاره څنګه چه بنه حالت بهتر دے دغه شان د سختئی حالت هم د انجام په لحاظ بهتر دے)۔ (ځکه چه درجے پرے اوچتیږی اوګناهونه معاف کیږی) نو تاسو خو زمونږ دپاره په دوو بهترینو کښے د یوے انتظار کوئ۔ (توبه)

ف:۔ دے نه دا ثابته شوه چه د توکل اثر دا دے چه که سخته پرے راشی هم بنده پکښے پریشان نه وی۔ بلکه هغه کښے هم خپله بهتری کمزوری۔ که په دنیا کښے (دا بهتری) څرګنده نه شی نو په آخرت خو یه ضرور بشکاره کیږی (چه اجر به ورکولے شی) او دغه زمونږ اصل کور دے او دغه بهتری د همیشه دپاره ده۔

(۹) قال الله تعالیٰ: وَ قَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ؕ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً

الله تعالیٰ فرمائیلی دی: او موسیٰ علیه السلام چه (خپل قوم بنی اسرائیل) د فرعون د ظلم نه په ویره اولیدلو نو (هغوئ ته) ئے اووے اے زما قومه که تاسو (ربنتیا د زړه نه) په الله تعالیٰ ایمان لرئ (نو سوچ چونه مه کوئ بلکه (په الله اعتماد

لِلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ وَ نَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝

اوکړی که تاسو دهغهٔ تابعدار یئ. هغوئ ورته (په جواب کښے) اووے زمونږ په الله تعالیٰ اعتماد دے (بیا موسیٰ علیه السلام دعا اوغوښته) چه اے پروردګاره مونږ ددے ظالم قوم په لاس کښے مهٔ ورکوه او په خپل خاص فضل سره ددے ظالم قوم نه خلاص کړے (یعنی ترڅوچه په مونږ د دوئ حکومت مقرر دے چه دوئ را باندے ظلم اونکړے شی. او بیا مودَ دوئ د حکومت نه خلاص کړے).

ف :- ددے نه معلومه شوه چه د توکل سره دعا هم فائده منه ده.

(۱۰) قال الله تعالیٰ : وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ .

څوک چه په الله تعالیٰ اعتماد اوکړی نو الله پاک دهغه تولو کارونو سمولو دپاره کافی دے. (او دا کار سمول عام دی ظاهری هم وی اوکه صرف باطنی وی)

ف :- اوګورئ په توکل ئے څومره عجیبه وعده اوفرمائیله - او د باطنی اصلاح پته په دغه وخت نهٔ لګی - خو روستو پیر زر معلومه شی.

(۱۱) عن سعد رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من سعادة ابن اٰدم رضاه بما قضی الله له و من شقاوة ابن اٰدم ترکه استخارة الله و من شقاوة ابن اٰدم سخطه بما قضی الله له

(۱۲ مشکوٰة ص ۴۵۳)

دحضرت سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی چه د بنیادم نیک بختی دا ده چه الله تعالیٰ ورته څهٔ مقدر کړی وی په هغے راضی شی - او د بنیادم بدبختی داده چه الله نه د بهترئ سوال پریږدئ او دائے هم بدبختی ده چه الله تعالیٰ ورته څهٔ مقدر کړی وی په هغے ناراضه وی.

(احمد و ترمذی)

(۱۲) عن عمرو بن العاص رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان قلت ابن اٰدم بکل وادٍ شعبة فمن اتبع قلبه الشعب کلها لم یبال الله

دحضرت عمرو بن العاص رض نه روایت دے. چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه (د تعلقاتو) په میدان کښے د بنیادم دزړهٔ ډیرے څانګے دی نو چا چه خپل زړهٔ په هره څانګه پسے ورواچولو الله تعالیٰ

بای واد اهلکه و من توکل علی اللّٰه کفاه الشعب
(مشکوٰة ص۴۵۳)

دا پرواه نهٔ لری چه دے په کومه کنده کښے هلاک شی اوچاچه په اللّٰه اعتماد اوکړو اللّٰه به په ټولو څانګو کښے هغهٔ ته کافی شی۔ (ابن ماجه)

ف:- یعنی هغهٔ ته پریشانئ او مشکلات نهٔ پینښیږی۔ (دا دواړه حدیثونه د مشکوٰة دی)

(۱۳) عن عمران بن حصین رضی اللّٰه عنه قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم من انقطع الی اللّٰه عزوجل کفا اللّٰه کل مؤونته به و رزقه من حیث لا یحتسب و من اقطع الی الدنیا وکله اللّٰه الیها
(ترغیب ص۵۶۶)

دحضرت عمران بن حصینؓ نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایلی دی څوک چه د خپل زړهٔ نه د اللّٰه تعالیٰ شی اللّٰه پاک د هغهٔ د ټولو ضرورتونو ذمه وار شی او هغهٔ ته د داسے ځای نه رزق ورسوی چه د هغهٔ په خیال کښے هم نهٔ وی۔ اوڅوک چه د دنیا شی اللّٰه تعالیٰ ئے دنیا ته حواله کړی۔
(ترغیب و ترهیب)

(۱۴) دحضرت انس رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم یو باندیی ته اوفرمایئل چه داوښ کوڅه اوتړه نو په خدائے ځ حواله کړه۔ (ترمذی)

ف:- یعنی د توکل سره تدبیر کول منع نهٔ دی۔ تدبیر کوه خو ټول اعتماد په خپل تدبیر مهٔ کوه بلکه اصل اعتماد په اللّٰه تعالیٰ کوه (چه هغه به دا تدبیر کامیاب کړی)

(۱۵) د ابوخزامهؓ نه روایت دے چه د رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم نه پوښتنه اوشوه۔ آیا په دارو درملو او دم تعویذ تقدیر بدلیدے شی؟ حضورؐ ورته اوفرمایئل دا هم په تقدیر کښے دی۔ (ترمذی ابن ماجه)

ف:- یعنی دا هم په تقدیر کښے لیکلی چه فلانی دارو یا دم به ورته فائده کوی۔ دا حدیث په تخریج عراقی کښے دے۔

نتیجه:- اے مسلمانانو! دے حدیثونو او آیتونو نه سبق واخلئ او هرڅومره سخته کړه دربانده ځ راشی نړهٔ مهٔ تنګوئ او د دین په کار کښے کمزوری مهٔ کوئ۔ اللّٰه به مو مددګار شی۔

شپږم روح

دُعا غوښتل

یعنی دځه شی چه حاجت وی د دین کار وی که د دنیا ـ په خپل کوشش او محنت حاصلیږی شی ـ او که د خپل وس او طاقت نه بهر وی ـ هرځنګه حال چه وی هرځه د الله تعالیٰ نه غواړئ خو دومره خیال ساتئ چه هغه کار دګناه (یعنی شریعت نه خلاف) نه وی ـ

په دے کښے ټولے خبرے راغلے لکه یو سړے زمیندار ه یا تجارت کوی نو محنت کوشش د هم کوی ـ او د الله تعالیٰ نه د سوال هم کوی ـ چه یا الله زما په دے کښے برکت واچوے ـ فائده راکړے او د تاوان نه مے بچ کړے ـ یا که د څه دشمن خطره وی ـ د دنیا دشمن وی اوکه د دین دشمن وی ـ نو د هغه د شر نه بچ کیدو د پاره د خپل تدبیر هم کوی هغه تدبیر ئے په خپل لاس کښے وی که د خپل وس نه بهر وی ـ د حاکم نه یا بل چا نه امداد اختیل غواړئ نو دغه تدبیر هم کوئ خو ورسره د الله تعالیٰ نه دا سوال هم کوئ چه یا الله زما دا کمزورے تدبیر په خپل فضل کامیاب کړے ـ او دا دښمن راته کمزورے کړے ـ یا که [۲] مثلاً څوک ناجوړه وی نو هغه له پکار دی چه مناسب علاج هم کوی او ورسره د الله پاک نه دعا غواړی چه اے الله ما ته دے د ځ شفا راکړے ـ یا که [۳] مثلاً د چا سره څه مال وی نو پکار ده چه د هغه مال د حفاظت سامان په خپل وس پوره اوکړی لکه محفوظ ځائے کښے په پوخ قفل کښے ئے بند کړئ ـ او د کور د کسانو یا نوکرانو په ذریعه ئے څوکئ کوئ ـ او ورسره د الله پاک نه سوال هم کوئ چه اے الله ته زما دا مال د غلو نه په امان کړے ـ یا [۴] مثلاً په چا مقدمه جوړه شوے وی ـ نو هغه ته پکار دی چه د هغه د قانون پیروئ د پاره د وکیل اوګوا هانو انتظام هم اوکړی او ورسره د د الله پاک نه د کامیابئ او د دشمن د شر نه بچ کیدو دعا هم غواړی ـ یا [۵] مثلاً څوک د قرآن شریف یا علم دین حاصلولو کوشش کوی ـ نو هغه ته پکار دی چه بنهٔ د زړهٔ نه کوشش او خپل محنت هم کوی او ورسره د خدائے نه دا سوال هم کوی چه اے الله ته ئے راته آسان کړے او زما د اخوارئ په

حائے کړے۔ او زما ذهن صفا کړے۔ یا مثلاً چا د یو بنهٔ سړی په وینا مونځ روژه او نور عباد تونه شروع کړل۔ نو هغهٔ ته پکار دی چه د سستئ او د نفس د حیلو او بهانو مقابله بنهٔ په همت سره کوی۔ او د خدائے پاک نه دعا هم غواړی چه الله تهٔ همت راکړے او تهٔ مے مدد کار شے۔ د عبادت توفیق راکړے او قبول مے کړے۔

هسے د نمونے د پاره مونږ دا یو څو مثالونه پیش کړل۔ مطلب دا دے چه په هر کار کښے او هر مصیبت کښے دخپل وسه پورے کوشش او تدبیر هم کوئ۔ او ورسره د الله پاک نه بنه عاجزئ، توجه او زارو سره سوال هم کوئ۔ او کوم کار کښے چه دخپل تدبیر او کوشش څه دخل نهٔ وی هغے کښے خو ټوله توبه او ټول کوشش په دعا کښے لګول پکار دی۔ لکه باران وریدل یا د اولاد ژوندی پاتے کیدل یا داسے بیماری چه په علاج نهٔ بنهٔ کیږی یا د نفس شیطان د شر نه بچ کیدل، یا د وبا طاعون په حفاظت او د طاقتور ظالم د شر نه بچ کیدل۔ داسے کارونه خو بے د الله پاک د امداد نه په هیڅ تدبیر نهٔ شی کیدے۔ نو په نورو کارونو کښے چه څومره محنت او کوشش او وخت دهغے په تدبیر کښے لګی۔ داسے کارونو کښے هغه ټول په دعا کښے لګول پکار دی۔ او دعا صرف دے ته نهٔ وائی چه یو څو جملے یاد ے کړی او په مانځه پسے مے لکه د طوطی په شان په منډه منډه اووائی نو دا دعا نهٔ ده همیشه د دعا نقل دے اصل دعا د الله تعالیٰ په دربار کښے پیش کول دی۔ نو په دعا کښے کم از کم دومره خو کول پکار دی چه د درخواست پیش کولو په وخت ستر ګے اخوا وی۔ زړهٔ هم اخوا متوجه وی۔ او شکل مے هم د عاجزئ او خواست جوړ کړے وه۔ خضوع او خشوع سره دعا غواړی لکه څنګه چه یو دنیاوی حاکم ته څوک د خپلهٔ کار د پاره درخواست پیش کوی۔ نو که زبانی خبره کوی۔ څومره په ادب خبرے کوی۔ او د خپلے عرضئ منظورولو د پاره پوره پوره کوشش کوی۔ حاکم ته د دے یقین ور د ستو پوره پوره کوی۔ چه زما پوره یقین دے چه تهٔ به زما په درخواست پوره همدردئ سره غور اوکړے۔

او بیا هم که هغه درخواست د منشا موافق منظور نهٔ شی او حاکم عارضی ورکونکی ته د همدردئ په طور اووائی۔ افسوس دے ستا کار اونهٔ شو۔ نو دے ورته زړه په جواب کښے اووائی۔ خیر دے هیڅ خبره نهٔ ده۔ زهٔ خفه نهٔ یم۔

په قانون کښے گنجائش نهٔ وو. یا به زما وکیل پوره پیروی نهٔ وی کړی تاسو خو پوره مهربانی اوکړه. زهٔ ناامیده نهٔ یم. بیا به درخواست اوکړم او قانونی کاروائی به پوره کړم. او اصل خبره خو داده چه ستاسو مهربانی پکار ده. کار به بیا هم اوشی خو چه تاسو غصه نه یئ.

نو اے مسلمانانو! تاسو په خپل کریوان کښے اوګورئ. آیا تاسو د الله تعالیٰ سره هم دغه طریقه چلوئ. سوچ اوکړئ او شرم اوکړئ. که داطریقه مونهٔ وی نو په کوم مخ خپلے دعاته درخواست وایئ. په واقعه کښے خوکمے دستاسو د طرف نه دے چه دعا درخواست نهٔ شو. دهغے طرف نه خو دومره مهربانی او رعایت دے چه د درخواست ورکولو هر وخهٔ وخت مقرر نهٔ دے. وخت بے وخته کله چه ضرورت وو. درخواست ورکولے شی. دمانځه نه پس وخت هم تاسو مقرر کړے دے. البته دا وخت ذیات د برکت دے. نو په دے وخت کښے دعا ډیره ډیره کول او په نورو وختونو کښے هم جاری ساتل پکار دی. کوم وخت چه خهٔ ضرورت پیښ شی سمدستی په زړهٔ کښے یا په ژبه الله ته سوال کوئ.

اوس چه درته د دعا حقیقت معلوم شو. (چه د حقیقی بادشاه او اصلی مالک په دربار کښے درخواست دے) نو د دے حقیقت مناسب دعا غواړئ بیا اوګورئ چه څنګه برکت ځے دے. د برکت مطلب دا نهٔ دے چه خهٔ غواړئ هم هغه به درکولے شی. کله خو هم هغه شے ورکړے شی. لکه د آخرت متعلق که خهٔ سوال وی. (نو هم هغه قبلیږی. ځکه چه د آخرت شی کښے د بنده د پاره ټول خیر خیر دے. البته په دے کښے ایمان او تابعداری شرط ده. ځکه چه د هغه ځائے بهتری قانوناً صرف تابعدار بنده ته ورکیدے شی. او کله هغه شے ورنهٔ کړے شی. لکه د دنیا خهٔ شے ځے غوښتے وی. ځکه چه د دنیا څیز کښے کله بنده ته خیر وی او کله نهٔ وی. نو که واقعی پکښے خیر وی خو الله تعالیٰ ځے هم هغه شے ورکړی. او که خیر پکښے نهٔ وی نو هغه شے ورنهٔ کړی لکه پلار نه چه خوئے پیسے او غواړی نو کله ځے ورکړی او کله ځے ورنهٔ کړی که هغه پوهیږی چه دے ورباندے داسے شے اخلی چه دهٔ ته ښهٔ نهٔ دے حکیم ورنه منع کړے دے.

نو د دعا د برکت مطلب دادے چه د الله تعالیٰ رحمت ورته متوجه شی. نو که خهٔ

مصلحت په وجه ورته هم هغه غوښتے شے ورنه کړے شی - بیا هم د دعا برکت د بنده زړه کښے طاقت ، تسلی (صبر او سکون) پیدا شی - او د پریشانئ او کمزورئ نه بچ شی - دا اثر د الله تعالیٰ د هغے خاصے توجه وی کومه چه د دعا په برکت بنده باندے د حق د طرفه اوشی او هم دغه توجه د اجابت د دعا هغه یقینی درجه ده - د کوے چه وعده شوے ده - او حاجت پوره کول ئے دویمه برخه ده - د کوے وعده چه بالا شرط نه ده - بلکه په دے شرط ده - که د بنده د مصلحت خلاف نه وی - او دغه هغه خاصه توجه ده - د کوے په مقابله کښے چه د غټ نه غټ حاجت او لوئے دولت هیڅ شے نه دے - او دغه خاصه توجه د بنده اصلی خزانه ده - چه دے په برکت دنیا کښے هم بنده ته حقیقی او همیشه راحت نصیب کیږی او په آخرت کښے هم د لا محدود او ابدی نعمتونو خاوند ئے نصیب شی - نو دعا دے برکتونو سره دعا کوونکی ته هیڅ ډے د نقصان او محرومئ خطره نشته -

اوس به یو څو حدیثونه د دعا په فضیلت او آداب و کښے لیکو -

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یستجاب للعبد مالم یدع باثم او قطیعة رحم مالم یستعجل قیل یا رسول ما الاستعجال قال یقول قد دعوت فلم اویستجاب لی فیستحسر عند ذلك ویدع الدعاء

(رواه مسلم مشکوٰة ص ۱۹۴)

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - د بنده دعا قبلیږی تر هغه چه د څه گناه او کار یا د خپلوانو سره د بد سلوکئ سوال نه کوی - او چه تلوار ئے نه وی جوړه کړے - چا عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم د تلوار جوړولو څه مطلب دے ؟ حضور اوفرمائیل تلوار جوړول داسے چه اووائی ما خو ډیر سوالونه اوکړل خو قبلیږی نه - نو په دعا ستومانه شی او دعا پریږدی -

(مسلم)

(۲) عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیس شئ اکرم علی الله من الدعاء

(۱۲ مشکوٰة)

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د الله تعالیٰ په نزد د دعا نه زیات د قدر شے بل نشته -

(ترمذی و ابن ماجه)

(۳) عن ابن عمرؓ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم الدعاء ینفع مما نزل و مما لم ینزل فعلیکم عباداللّٰہ بالدعاء

(مشکوٰۃ ص۱۹۵)

دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی. چه دعا هر وخت فائدې ورکوی په هغه مصیبت کښے هم کوم چه پیښ شوے وی. او په هغے کښے هم کوم چه راتلونکے وی. نو اے د خدائے بندیانو دعا په ځان لازمه کړئ.

(ترمذی و احمد)

(۴) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم من لم یسأل اللّٰہ یغضب علیہ ۱۲

(مشکوٰۃ ص۱۹۵)

دحضرت ابو هریره رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه رسول کریم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه د اللّٰه پاک نه دعا نه غواړی اللّٰه تعالیٰ ته په هغه غصه ورځی.

(ترمذی)

ف:- البته څوک چه د اللّٰه په خیال او تصور کښے داسے ډوب وی. چه دهیڅ نه خبر نه وی. او بل هیڅ شی ته اوزګار نه وی. هغه په دے کښے نه راځی.

(۵) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم ادعوا اللّٰہ و انتم موقنون بالاجابة واعلموا انّ اللّٰہ لا یستجیب دعاءً من قلب غافل لاہٍ

(۱۲ ص۱۹۵)

دحضرت ابو هریره رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی تاسو د اللّٰه نه په دے شان سره سوال کوئ چه د تاسو په قبلیدو یقین وی او په دے پوهه شئ چه اللّٰه تعالیٰ د غفلت نه ډک زړه دعا نه قبلوی.

(ترمذی)

ف:- نو دعا نه پوره په توجه سره کول پکار دی. او د اجابت چه کومے دوه درجے هغه بیان شوی دی. هغه د قبلیدو هم دی. هُکه چه د اجابت د قبول معنیٰ یوه ده. او یوه درجه عامه ده کومه چه هغه حدیث شریف کښے راځی.

(۶) عن ابی سعیدؓ الخدری ان النبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم

دحضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی

قال ما من مسلم یدعو بدعوة لیس فیها اثم و لا قطیعة رحم الا اعطاه الله بها احدی ثلث اما ان یعجل له دعوته و اما ان یدخرها له فی الاٰخرة و اما ان یصرف عنه من السوء مثلها قالوا اذاً نکثر قال الله اکثر۔

(۱۲ مشکوٰة ص۱۹۶)

کوم مسلمان چه دا سے څهٔ دعا اوغواړی چه پکښے څه ګناه یا د خپلوانو سره د بد سلوکئ سوال نهٔ وی دلته دعا په برکت الله تعالیٰ هغهٔ ته په دے دریو څیزونو کښے یو څیز ضرور درکوی۔ [1]یا خو سمدستی هم هغه شے ورکړی چه غوښتے ئے وی۔ [2]یا ورته آخرت دپاره ثواب کړی [3]یا ورنه څه تکلیف لرے کړی صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو چه دا سے ده خو مونږ به ښه زیرے دعاګانے غواړو۔ حضور ﷺ اوفرمائیل د الله تعالیٰ بخښش ډیر دے نه هم ډیر زیات دے۔

(احمد)

ف :- خلاصه داده چه دعا یوه هم خالی نهٔ ځی۔ (مونږ ته ئے اثر ښکاری اوکهٔ نه)

(۱۳) عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیسأل احدکم ربه حاجته کلها حتی یسأل شسع نعله اذا انقطع زاد فی روایة عن ثابت البنانی وسلاحتی یسأله الملح و حتی یسأله شسعه اذا انقطع

(۱۲ مشکوٰة ص۱۹۶)

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه تاسو کښے هر چا ته د الله تعالیٰ نه خپل ټول حاجتونه غوښتل پکار دی۔ (د حضرت ثابت رضی الله عنه په روایت کښے دی) تردے چه مالګه دِ هم د خدائے تعالیٰ نه غواړی۔ د څپلئ تسمه هم که اوشلیږی هغه دِ هم دَ الله تعالیٰ نه غواړی۔

(ترمذی)

ف :- داخیال دِ څوک نهٔ کوی۔ چه دو مره معمولی شے د دا سے لوئے ذات اوغواړو حُکه چه هغهٔ ته خوښ شے هم وړوکے دے۔

اُووم روح

دَ نیکانو سره کیناستل

چه د هغوئ نه ښے خبرے واوری - او ښهٔ خویونه زده کړی - او کوم نیکان چه تیر شوی دی - د هغوئ ښهٔ حالات په کتابونو کښے لوستل یا د بل نه اوریدل (که خپله نهٔ شی لو سے) چه د هغوئ حالات معلومول هم داسے دی لکه د هغوئ مجلس کښے چه کینی - د هغوئ ښے خبرے واوری یا ترے ښهٔ خویونه زده کړی۔

ف:- په بنده کښے الله تعالیٰ دا خاصیت اچولے دے۔ چه د بل بنده سره په کیناستو د هغه خیالات او حالات د څهٔ خاص کوشش او محنت نه ورباندے اثر کوی۔ ښهٔ اثر هم کیږی او بد هم - لیکن ښهٔ مجلس ډیر فائده من دے او بد مجلس ډیر نقصانی۔ ښهٔ مجلس د داسے سړی مجلس دے۔ چه هغه د ضرورت مطابق دینی خبرونه واقف وی۔ او عقیده ئے هم صفا وی۔ د شرک، بدعت او دنیاوی رسمونونه بچ وی۔ عمل ئے ښهٔ وی۔ د مونځ، روژے او نورو عبادتونو پابند وی۔ معامله ئے هم ښهٔ وی۔ لین دین کښے صحیح وی۔ د حلالو او حرامو خیال ساتی۔ ظاهری اخلاق ئے هم ښهٔ وی۔ په طبیعت کښے ئے عاجزی او کسر نفسی وی۔ چا ته بے ضرورته تکلیف نهٔ رسوی - غریبان او حاجتمند سپک نهٔ گڼی - باطنی اخلاق ئے هم ښهٔ وی۔ په زړهٔ کښے ئے د الله سره محبت او د هغهٔ نه ویره وی۔ د دنیا لالچ نهٔ کوی۔ د دین په مقابله د مال، عزت او راحت پروا نهٔ کوی۔ د آخرت په مقابله کښے دنیاوی ژوند غوره نهٔ گڼی۔ په هر حال صابره او شاکره وی۔

په کوم سړی کښے چه دا خویونه وی۔ د هغهٔ مجلس کیمیا ده۔ او څوک چه خپله په دے خبرونهٔ پوهیږی۔ د هغهٔ د پاره د نیک سړی د پیژندو دا طریقه ده۔ چه د خپل زمانے عام نیکان (څوک چه د اکثرو مسلمانانو په خیال نیک وی) چه کوم سړی ته

نیک وائی ۔ لس اتہٗ ورتے ھغہٗ سرہ کینا ستوباندے د بندہ زړہٗ د ناکارونہ اوړی او بنو طرف تہ راوړی۔ بس دغہ سړے نیک کښړئ او ددہٗ مجلس غنیمت گنړئ ۔ او په کوم سړی کښے چہ څہٗ بد ے خبرے اوویئ بغیر دځہٗ خاصے مجبورئ نہ د ھغہٗ مجلس تہ مہٗ ځئ ۔ چہ په دے دین تباہ کیږی۔ او کلہ کلہ خو د دنیا نقصان ھم کیږی ۔ کلہ۱ د بدن چہ څہٗ تکلیف او پریشانئ کښے گیرشی ۔ او کلہ۲ د مال چہ بے ځایہ اولگی ۔ په څہٗ دھوکہ یا د محبت په جوش کښے ئے چانتہ مفت ورکړی یا داسے قرض چہ بیا وصول نہٗ شی ۔ او کلہ۳ د عزت چہ د بد انو سرہ په ناستہ دے ۔ ھم بدنام او بے عزتہ شی ۔

او په کوم سړی کښے چہ نہ دښہٗ والی څہٗ ظاھری علاے وی۔ او نہٗ د بدئ نو په داسے سړی نیک گمان پکار دے ۔ لیکن د مجلس مرگړتیاے مہٗ کوئ ۔

غرض داچہ په تجربو ثابتہ شوی دہ ۔ چہ د نیکانو مجلس په دین بنہٗ کیدو او زړہٗ مضبوطیدو او صفا کیدو کښے خاص اثر لری۔ او د بد انو په مجلس کښے دین خرابیږی او زړہٗ کمزورے کیږی۔

اوس یو څو آیتونہ او حدیثونہ د نیک مجلس په ترغیب کښے او د بد مجلس په بدئ کښے لیکو۔

۱ قال اللّٰہ تعالیٰ یٰۤاَیُّھَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰہَ وَ کُوۡنُوۡا مَعَ الصّٰدِقِیۡنَ ۝	د اللّٰہ تعالیٰ فرمان دے اے ایماندارو د اللّٰہ اویږئ او څوک چہ په دین کښے پاخہٗ او رښتونی دی د ھغوئ ملگری شئ۔

ف :۔ په ملگرتیا کښے ظاھری مجلس کښے کینا ستل ھم راغلو او د ھغوئ په لارہ تلہٗ ھم راغلو (یعنی د ھغوئ په طریقہ عمل کول) ۔

۲ قال اللّٰہ تعالیٰ وَ اِذَا رَاَیۡتَ الَّذِیۡنَ یَخُوۡضُوۡنَ فِیۡۤ اٰیٰتِنَا فَاَعۡرِضۡ عَنۡھُمۡ حَتّٰی	اللّٰہ تعالیٰ فرمائیلی او (اے مخاطبہ) کلہ چہ تہٗ داسے کسان اوویږے چہ زمونږ په آیتونو (او احکامو) کښے عیبونہ لټوی نو تہٗ د ھغوئ سرہ کینا ستونہ ونہ اوکړہ۔

Scanned with CamScanner

يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ط وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَ ذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّ لَهْوًا ۱۲ (سورہ انعام)

ترڅو چه هغوئ څه بله خبره شروع کړي اوکه د تا نه شیطان هیر کړي (یعنی دا سې مجلس کښې کیناستلو نه منع کیدل ورته یاد نه شي) نو څه وخت چه درته یاد شي د یادیدو نه پس دا سې ظالمانو په مجلس کښې مه کښینه سمدستي راپاسه (اودڅه نه یو آیت پس بیا ارشاد دے) او (یواځې دتکذیب د مجلس تخصیص نشته) دا سې خلقونه جدا شئ چا چه دخپل هغه دین نه (د کوم منلو چه په هغوئ فرض دی یعنی اسلام) توڅې مسخرے جوړے کړی۔ (انعام)

(۳) عن ابن عباسؓ قال قیل یا رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ای جلسائنا خیر قال من ذکرکم اللّٰه رویته و زاد فی علمکم منطقه و ذکرکم بالاٰخرة علمه (۱۲ ص ۳۷)

د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے۔ د رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم نه تپوس اوشو چه مونږ دکومو خلقو سره کینو په ټولو کښې ښه څوک دے (چه هغه سره کینو) حضورؐ اوفرمائیل دا سې سړے بهتر دے دچا سره په کیناستو چه تاسو ته اللّٰه یاد یږی۔ او دچا په خبرو چه ستاسو دین علم زیاتیږی اودهغه عمل تاسو ته آخرت یاد وی۔

ف:۔ مخکښې چه مونږ دنیکانو کوم علامے بیلے وے۔ په دے حدیث شریف کښې دهغو نه څنه څخه علامے ذکر شوی دی۔

(۴) عن ابی امامةؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ان لقمان قال لابنه یا بنی علیك بمجالسة العلماء و اسمع کلام الحکماء فان اللّٰه یحی

د حضرت ابو امامهؓ نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی۔ (اوکیدے شی چه دا د ابو امامهؓ قول دی بیا هم حدیث دے) چه حضرت لقمانؑ خپل هوی ته اووے اے هویه دعالمانو سره کیناستل په ځان لازم کړه۔ او د حکمت خبرے آورہ

القلب الميت بنور الحكمة
كما يحي الارض الميتة
بوابل المطر ۱۲
(ص ۱۳۷)

(حکمت ددین باریکو خبرو ته ویلے شی لکه ربنتونی
درویشان چه دین باریک خبرے بیانوی) حکمه چه
الله مې زړونه دحکمت په نور داسے ژوندی کوی
لکه مړه مزکه چه په تیز باران ژوندی شی۔
(طبرانی فی الکبیر)

۵۔ عن معاذ بن جبل رضی الله عنه
قال سمعت رسول الله
صلی الله علیه وسلم یقول
قال الله تبارك و تعالی
وجلت محبتی المتحابین
فی وللمتجالسین فی الخ
ص ۴۳۵

دحضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دے
چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی،
د الله تعالیٰ ارشاد دے چه زما محبت داسے خلقو
دپاره واجب دے (یعنی ضرور دے) څوک چه زما
دپاره خپلو کښے محبت کوی او څوک چه ما دپاره
یو بل سره کینی۔
(مالک ابن حبان)

ف:- داچه ځه فرمایلی دی۔ مادپاره۔ نو مطلب دادے چه خالص د دین دپاره (چه د
دنیاوی فائدے څه غرض پکښے نه وی)۔

۶۔ عن ابی موسیٰ رضی الله عنه
ان رسول الله صلی الله علیه
وسلم قال انما مثل الجلیس
الصالح وجلیس السوء کحامل
المسك او نافخ الکیر فحامل
المسك اما ان یحذیك واما ان
تبتاع منه واما ان تجد منه
ریحاً طیبةً ونافخ الکیر اما ان
یحرق ثیابك لما ان تجد منه
ریحاً خبیثة ۱۲ وکلیهما
فی المشکوٰة علی ص ۴۲۶

دحضرت ابو موسیٰ اشعریؓ نه روایت دے
چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی
چه د نیک مجلس او د بد مجلس مثال داسے دے
لکه یو سړی سره عطر وی (دا د نیک مجلس
مثال دے) او بل سړے د لوهارانو بهتی ته
بښتی وهی (دا د بد مجلس مثال دے) نو عطر والا
به یا تاته د عطرو ټنبه درکړی او که ټنبه
درنکړی هم خوشبوئی خو به ځه درشی۔ او بهتی والا
به درته یا جامے اوسوزوی (که بځړے درغلو) کنی
د لوکی بدبوئی او تور والے خو به ضرور درشی۔
(بخاری و مسلم)

ف:- یعنی کهٔ د نیک مجلس نه درته پوره فائده او نهٔ رسیده - بیا هم څهٔ فائده خوبه ضرور در اورسی - او د بدانو په مجلس کښے کهٔ پوره بد نهٔ شوے هم څهٔ نه څهٔ نقصان خو به درته ضرور در رسی - (دا ټول حدیثونه په ترغیب کښے دی) .

(۷) د حضرت ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دے چه ماد رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی - حضورؐ فرمائیلی بے د ایماندارو نه دهیچا د مجلس ملګرے کیږه مه -

ف:- ددے دوه مطلبه کیدے شی - یو خو داچه د کافرانو په مجلس کښے مه کښینه نو د ناستی قابل د ایماندارو مجلس دے - او په ایماندارو هم هغه چه کامل ایماندار وی - یعنی د دین پوره پابند وی -

(۸) عن ابی رزین رضؓ انه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا ادلك علی ملاك هذا الامر الذی تصیب به خیر الدنیا والاخرة علیك بمجالس اهل الذکر و اذا خلوت فحرك لسانك ما استطعت بذکر الله واجب فی الله و ابغض فی الله الخ

(ر ۱۲ مشکوٰة)

د حضرت ابو رزینؓ نه روایت دے چه هغهٔ ته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل آیا زهٔ تاته داسے خبره اونهٔ بنائیم په کومه چه ددے دین غټ دار و مدار دے - په کومه چه ته د دنیا او آخرت دواړو بهتری کښلے شے - یو خو د اهلِ ذکر مجلس ټینګ کړه - بل کله چه یوا ځے وے نو خومره چه ممکنه وی خپله ژبه د الله په ذکر جاری ساته - درئیم داچه مینه هم خالصه د الله دپاره کوه او کینه هم خالصه د الله دپاره کوه -

(بیهقی شعب الایمان)

ف:- داخبره په تجربه هم ثابته ده - چه نیک مجلس د ټول دین جړ ه ده (بنیاد دے) د دین د حقیقت ، د دین د خوبدو ، د دین د طاقت خومره ذریعه چه وی نیک مجلس په دے ټولو کښے ذیات مضبوط دے -

(۹) عن ابی هریرةؓ قال کنت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه زهٔ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره وُم - پس حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل

ان فی الجنة لعمدًا من یاقوت علیها غرف من زبرجد لها ابواب مفتحة تضیئ کما یضیئ الکوکب الدّری فقالو یا رسولَ اللّٰه من یسلتها قال المتجابون فی اللّٰه والمتجالسون فی اللّٰه والمتلاقون فی اللّٰه ۔ ۱۲

(مشکوٰة ص۴۲۷)

په جنت کښے د یاقوتو ستنے دی۔ ورباندے د زبرجدو بالاخانے دی ۔ پکښے پرانستے دروازے دی چه د تیز و ځلیدونکو ستورو نه زیاتے ځلاندے دی۔ خلقو عرض اوکړو یا رسولَ اللّٰه ! په دے بالاخانو کښے به څوک اوسی حضورؐ او فرمائیل څوک چه د اللّٰه دپاره (یعنی د اللّٰه دین دپاره) خپلو کښے مینه کوی او د اللّٰه دپاره یو بل سره کینی او څوک چه د اللّٰه دپاره خپلو کښے ملاقات کوی۔

(بیهقی شعب الایمان ۔ داټول حدیثونه د مشکوٰة دی)

(۱۰) عن سمرةؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم لا تساکنوا المشرکین ولا تجامعوهم فمن ساکنهم او جامعهم فهو منهم ۔

(۱۲ ج ۲ ص۱۴۹)

د حضرت سمرهؓ نه روایت دے ۔ چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی د مشرکانو سره مهٔ استوګنه کوئ او مهٔ دهغوئ په مجلس کښے کینئ او څوک چه د سره اوسی یا ئے مجلس کښے کینی نو هغه په هغو کښے شمار دے۔

(ترمذی)

د احدیث د جمع الفوائد دے ۔ د دے ټولو آیتونو او حدیثونو نه د مونږ د مطلب یوه حصه ثابتیږی ۔ یعنی د نیکانو په مجلس کښے کیناستل د هغوئ نه ښے خبرے اوریدل او نه د اخلاق زده کول ۔ د مطلب دویمه حصه یعنی د تیرو نیکانو کتابونه کتل او د هغوئ حالات معلومول چه د دے نه هم د نیک مجلس غوندے فائده اخستے شی ۔ اوس د دے حصے بیان لیکو۔

(۱۱) قال اللّٰه تعالیٰ وَ کُلًّا نَّقُصُّ عَلَیْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ

(سوره هود آخری رکوع)

اللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی او د پیغمبرانوؑ په قصو کښے مونږ د ټولے قصے (یعنی د حضرت نوحؑ قصه) او د حضرت هودؑ او د حضرت صالحؑ او د حضرت ابراهیمؑ او د حضرت لوطؑ او د حضرت شعیبؑ او د حضرت موسیٰؑ د ټولے قصے مونږ تاته بیانوو چه د دے په ذریعه مونږ ستا زړه مضبوط وو۔

(سورة هود)

ف:۔ دا د نیکانو د قصو بیانولو یوه فائده ده ۔ چه په دے د زړهٔ مضبوطیا اوتسلی کیږی ۔ چه څنګه چه هغوئی په حق پینګ وو ۔ دغه شان مونږ ته هم مضبوطیا پکار ده ۔ او څنګه چه ددے مضبوطیا په برکت الله تعالیٰ د هغوئی امداد کړے دے دغه شان به زمونږ امداد هم اوکړی ۔ څنګه چه الله تعالیٰ په بل آیت کښے فرمائیلی دی چه مونږ د پیغمبرانو او ایماندارو بندیانو (دلته) په دے دنیا کښے هم مدد کوو ۔ او (هلته) آخرت کښے به ے هم په هغه ورځ مدد کوو ۔ په کومه ورځ چه به ګواهی ورکوونکی فرشتے ولاړے وی (یعنی د قیامت په ورځ) ۔ (سورهٔ مؤمن) ۔ او هلته مدد څرګند دے چه تابعدار ایماندار به کامیاب وی او نافرمانه به ناکام و نامراد وی ۔ او دلته خو کله هم دغه شان څرګنده کامیابی وی ۔ او کله دا ے وی چه اول نافرمانه په تابعدار و غالب شی ۔ بیا من جانب الله په څهٔ وخت کښے د هغوئی نه بدله واخستے شی ۔ لکه چه تاریخ په دے ګواه دے ۔

(تفسیر ابن کثیر)

او ددے قصو نه تسلی په دے طریقه هم کیږی چه څنګه چه په دین باندے مضبوط اودریدونکی به په آخرت کښے په اوچتو درجو کښے وی ۔ د کومو خبر چه ددے قصو په آخر کښے ورکړے شوے دے ، چه: اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ط یقیناً بهتر انجام د متقیانو (پرهیزګارو) دپاره دے ۔

دغه شان مونږ سره هم د اوچتو درجو وعده ده ۔ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۔ اوشوک چه پرهیزګار وی هغه به ددے کفارو نه په ډیر بهتر حالت کښے وی ۔ د قیامت په ورځ ۔ (سورهٔ بقره)

(۱۲) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال من کان مستنا فلیستن بمن قد مات فان الحی لا یؤمن علیه الفتنة اولئک اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم و فی آخر الحدیث و تمسکوا بما استطعتم من

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی څوک چه دهمیشه دپاره یوه طریقه غوره کړی څکه چه په ژوندی باندے دخطا شک کیدے شی (د ژوندی طریقه ترهغه وخته اختیاریدے شی ۔ ترڅو چه هغه په صحیح لار روان وی ۔) داخلق (یعنی دچا طریقه چه همیشه دپاره اختیاریدے شی) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اصحابو رضی الله عنهم دی او ددے حدیث په آخر کښے دا هم دی ۔ چه ترڅو پورے

اخلاقهم وسیرهم ۔	کیدے شی دَهغوئی اخلاق عادات راتینګ کړئی ۔
(رزین جمع الفوائد ص۱ ج ۱)	(رزین از جمع الفوائد)

ف :۔ اوظاهره ده چه دا صحابو رضی اللہ عنہم اخلاق او عادات اختیارول هله ممکن دی چه مونږ ته د هغوئی حالات او واقعات معلوم شی نو دا سے کتابونه لوستل یا د بل نه اوریدل ضروری شو۔ په کومو کښے چه دا سے حالات وی۔

(۱۳) څنګه چه قرآن کریم کښے د پیغمبرانو، عالمانو او ولیانو قصے د هغوئی د تابعدارئی کولو په غرض ذکر شوی دی (د کوم چه په دے ارشاد کښے ذکر دے ۔) فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ (نو د دوئی په صحیح لاره روان شئی) ۔

دغه شان په حدیثونو کښے هم د پاکو خلقو قصے ډیرے بیان شویدی ۔ لکه چه د حدیثونو په کتابونو کښے د کتاب القصص یوه مستقله حصه وی ۔ دے نه هم دا سے قصو فائده من کیدل ثابتیږی۔

په دے وجه بزرګانو همیشه دا سے قصو کتابونو لیکلو ته ډیر اهمیت ورکړے دے اوس زهٔ تاسو ته د یو څو دا سے کتابونو نومونه ښئیم چه د هغے لوستل او اوریدل فائده من دی ۔ که اوړونکی عالم وی خو واه واه سبحان اللہ ۔ اوکه نه هرڅنګه چه بیا مومئی ۔

(۱) تاریخ حبیب اِلٰه	(۲) نشر الطیب	(۳) مغازی رسول
(۴) قصص الانبیاء	(۵) مجموعه د فتوح الشام والمصر والعجم	(۶) فتوحُ العراق
(۷) فتوح بهنسا	(۸) فردوس آسیه	(۹) حکایات الصالحین
(۱۰) تذکرة الاولیاء	(۱۱) انوار المحسنین	(۱۲) نزهة البساتین
(۱۳) امداد المشتاق	(۱۴) نیک بیبیان ۔	

نوټ :۔ په دے کتابونو کښے ع۱۱، ع۱۲، ع۱۳ کښے څنه مضامین او ع۱۴ کښے د ملفوظاتو څهٔ حصه ۔ تاسو دے نه خپل ذهن خالی کړئی (یعنی ډیر سوچ پرے مهٔ کوئی) ۔

اته روح

د حضور صلی اللہ علیہ وسلم پاک خویونه

د رسول پاک صلی اللہ علیہ وسلم پاکو خویونو او عادتونو ته په زړه کښ پوخ ځائے ورکول چه د حضرتؐ سره ئے محبت زیات شی او د دے محبت په وجه ئے د دغه خویونو او عادتونو اختیارولو شوق پیدا شی۔ په دے باره کښ یو څو حدیثونه او آیتونه لیکو:-

(۱) قال اللہ تعالیٰ إِنَّكَ لَعَلىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝

اللہ تعالیٰ فرمائیلی دی۔ بے شکه ته (اے رسولؐ) د ښو اخلاقو په اوچته درجه باندے ئے۔ (سورة نون)

(۲) قال اللہ تعالیٰ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝

(سورة توبه)

اللہ تعالیٰ فرمائیلی دی (اے خلقو) تاسو ته دا سے پیغمبرؐ تشریف راوړو کوم چه ستاسو د جنس نه (یعنی بشر) دے او په چا چه ستاسو د تکلیف خبره ډیره گرانه لگی۔ او چه ستاسو په فائده ډیر خوشحالیږی (خصوصاً) په ایماندارو ډیر شفیق او ډیر مهربانه دے۔

(۳) قال اللہ تعالیٰ: إِنَّ ذَٰلِكُمْ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِۦ مِنكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِۦ مِنَ الْحَقِّ ۝

(سورة احزاب)

اللہ تعالیٰ فرمائیلی دی دا خبره د نبیؐ خو نښه نه ده خو ستاسو لحاظ کوی (او په خُله ورته دا نه وائی چه پاڅئ لاړ شئ) او اللہ تعالیٰ په صفا خبره کښ د هیچا لحاظ نه کوی۔

(سورة احزاب)

ف: څومره لویه روا داری ده چه خپلو خادمانو ته هم د ځیانه دا سے نه وائی چه ځئ خپلو کورونو ته روان شئ۔ خو د لحاظ په ذاتی خبرو کښے وو د دین په خبرو

او تبلیغ په کارونو کښے نهٔ وو۔

دا وو آیتونه څنګبے حدیثونه راځی:

(۱) عن انس قال خدمت النبی صلی اللّٰه علیه وسلم عشر سنین فما قال لی اُف ولا لم صنعت ولا الا صنعت ۱۲

(بخاری و مسلم)

د حضرت انس رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه ما لس کاله د رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم خدمت کړے دے خو هغوئ ماته هیڅ زورنه نهٔ ده کړے نهٔ ئے راته داویلی چه دا کار دے ولے اونکړو۔ نهٔ ئے راته دا ویلی دی چه دا کار دے ولے اونکړو۔

(بخاری و مسلم)

ف:- په لس کاله کښے یو خادم ته په هیڅ خبره زورنه نهٔ ورکول معمولی کار نهٔ دے۔ آیا په دے دومره موده کښے به هیڅ کار د هغوئ د نازک مزاج خلاف نهٔ وی شوے۔

(۲) وعنه قال کان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم من احسن الناس خلقا فارسلنی یوماً لحاجة فقلت واللّٰه لا اذهب و فی نفسی ان اذهب لما امرنی به رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فخرجت حتی امر علی صبیان وهم یلعبون فی السوق فاذا رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم قد قبض بقفای من ورائی قال فنظرت الیه وهو یضحک فقال یا انیس ذهبت حیث امرتک قلت نعم انا اذهب یا رسول اللّٰه ۱۲

هم دغه انس رضی اللّٰه عنه نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم ډیر ذیات خوش اخلاقه وو۔ یو ورځ حضور زهٔ په څهٔ کار پسے استولم ما ورته اووے "زهٔ خو نهٔ څم" خو زړهٔ کښے مے وه چه څم به (دا د ورکوالی اثر وو) زهٔ د هغے ځائے نه روان شوم۔ نو بازار کښے ورو لوبے کولے هغو سره ټیریدم چه ناڅاپه د شا څخه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم دځټ نه اونیولم۔ ما چه شا ته اوکتل نو رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم راته په خندا خندا اووے ته ئهٔ خو په هغے کار پسے روان ئے کنه۔ ما وے جی هاں دا دے لاړم۔ (مسلم)

(۳) وعنه قال كنت امشی مع رسول الله صلی الله علیه وسلم وعلیه برد النجرانی غلیظ الحاشیة فادرکه اعرابی فجبذه بردائه جبذة الشدیدة ورجح نبی الله صلی الله علیه وسلم فی نحر الاعرابی حتی نظرت الی صفحة عاتق رسول الله صلی الله علیه وسلم قد اثرت بها حاشیة البرد من شدة جبذته ثم قال یا محمد مرلی مال الله الذی عندك فالتفت الیه رسول الله صلی الله علیه وسلم ثم ضحك ثم امر له بعطاء.

(۱۲ مشکوٰة کلها علی ص۵۱۵)

هم دوئی نه روایت دے چه زهٔ یوه وخ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره روان وم او د حضورؐ په سر د نجران جوړ د مضبوط کنارے څادر وو. په دے کښ یو بدوی راغلو د حضور صلی الله علیه وسلم د څادر پیسکه ځے داسے په زور راښکله چه حضور صلی الله علیه وسلم نزدو دهغه سینے سره جنګیدو. بیا ځے حضور صلی الله علیه وسلم ته اووے. ذما دپاره هم د الله د هغه مال نه څهٔ حکم اوکړه. کوم چه تا سره دے حضور صلی الله علیه وسلم ورته اوکتل اوځے خندل او د څهٔ بخشش حکم ځے ورته اوکړو.

(بخاری ومسلم)

(۴) عن جابر قال ما سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم شیئا قط فقال لا

(۱۲ مشکوٰة ص۵۱۹)

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم نه هیڅرے داسے شے نه دے غوښتے شوے چه حضورؐ فرمایلی دی نه درکوم که وو وربه ځے کړو. که هغه وخت نهٔ وو نو عذر به ځے اوکړو اوپه بل وخت به ځے د ورکولو وعده اوفرمایله. (بخاری ومسلم)

(۵) عن انسؓ ان رجلا سأل النبی صلی الله علیه وسلم غنما بین جبلین فاعطاه ایاه فاتی قومه فقال ای قوم

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه یو سړی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه بیزے اوغوښتے (کوم چه د حضرتؐ خپل وے) اوپه یوه کنډ کښے څرېدے. حضرتؐ هغه تولے بیزے ورکړے

اسلموا فو اللّٰہ ان
محمدا یعطی عطاء
ما یخاف الفقر ۱۲

هغه چه خپل قوم ته واپس لاړو نو ټولو ته ئې اووې
اے زما قومه مسلمانان شئ ۔ والله حضرت محمد صلی الله
علیه وسلم دومره سخی دے چه د تش لاس پاتے کیدو
ورسره هیڅ فکر نشته ۔ (مسلم)

رح عن جابرؓ بن معطم بینما
هو یسیر مع رسول اللّٰہ
صلی اللّٰہ علیه وسلم مقفله
من حنین فعلقت الاعراب
یسئلونه حتی اضطروه الی
سمرة فخطفت ردائه فوقف
النبی صلی اللّٰہ علیه وسلم فقال
اعطونی ردائی لوکان لی عدد
هذه العضاة نعما لقسمته
بینکم ثم لا تجدونی بخیلا
ولا کذوبا ولا جبانا ۱۲

د حضرت جابر بن معطمؓ نه روایت دے چه هغه
د حضورؐ سره روان وو۔ کوم وخت چه هغوئ
د حنین د غزا نه واپس راتلو ۔ چه
بدویان د حضورؐ نه راچاپیره شو ۔
څیزونه ئې ترے غوښتل ۔ حضورؐ ئے
دومره تنګ کړو چه دکیکړو یو بوټی ته
ئې په وړه لګولو مجبورکړو اود هغوئ نه ئے
څادر هم واخستو ۔ حضورؐ هلته اودریدو ۔ او ورته
اووے زما څادر خوراکړئ ۔ اوکه زما سره دومره کیکړو د
بوټو په شمار اوښان وے نو ټول به مے په تاسو تقسیم کړی
وو ۔ بیا به تاسو نه زه بخیل مونئ وم نه دروغژن او نه
تنګ زړے ۔ (بخاری)

رے عن انسؓ قال کان
رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم
اذا صلّی الغداة جاء خدم
المدینة بآنیتهم فیها
الماء فما یاتون بانا الا
غمس ایده فیها فربما
جاؤه بالغداة الباردة
فیغمس یده فیها ۔ ۱۲

د حضرت انس رضی اللّٰہ عنه نه روایت دے چه
رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم
چه به د سحر مونځ اوکړو ۔ نو مدینے د خلقو
خادمانو به د اوبو لوښی راوړی وو ۔ هغوئ نه
به ئے څخکښ کړل هغوئ د برکت د پاره پکښے خپل لاس
مبارک اووهلو ۔ کله کله به سخته یخنی وه (اوبه
به ډیره یخ وے) بیا به هم حضورؐ لاس مبارک اوبو
کښے وهلو ۔ (مسلم)
(د خپل تکلیف ئے هیڅ خیال نه ساتلو)

(۸) وعنه قال لم یکن رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم فاحشا ولا لعانا ولا سبابا کان یقول عند المعتبۃ مالہ ترب جبینہ

هم د حضرت انس رضی اللّٰہ عنہ روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم سخت مزاجه نهٔ وو - نه ځ بد رد او نبیرے کولے که څهٔ خبره به د زورغ وه نو اوبه ځ فرمایل دفلانی تندے خرڅه په دهٔ څهٔ چل شوے وو. (چه دا سے کارے اوکړو) (په تندی خریدو کښے خو هډ وڅهٔ تکلیف نشته - نو دا نبیره نهٔ ده) خصوصاً که په سجده خرڅی - خو دعا ده - د مونږ کذا رکیده و - او په ما نحه کښے داخاصیت دے چه بنده د بدو خیرو نه منع کوی نو دا د نبیرے په ځائے داصلاح دعا شوه) . (بخاری)

(۹) عن ابی سعید الخدری رضی اللّٰہ عنہ قال کان النبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم اشد حیاءً من العذراء فی حدرها فاذا رأی شیئاً یکرهه عرفناه فی وجهه ۱۲

دحضرت ابو سعید خدری رضی اللّٰہ عنہ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم دومره حیا ناک وو - چه د پرده دارے پیغلے جینئ نه زیات وو - که څهٔ خبره به ځے په طبیعت نه اونهٔ لګیده نو دحیا نه به ځے په خوله غږ نه کولو - خو مونږ به ځے د ناخوښئ اثر په مخ مبارک اولیدو - (بخاری و مسلم)

(۱۰) عن الاسود رضی اللّٰہ عنہ قال سالت عائشة ما کان النبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم یصنع فی بیته قالت کان یکون فی مهنته اهله تعنی خدمة اهله الخ ۱۳ (مشکوٰۃ کلها علی ص ۵۱۹)

دحضرت اسود رضی اللّٰہ عنہ نه روایت دے چه ما د حضرت عائشه رضی اللّٰہ عنہا نه تپوس اوکړو چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم به کور کښے څهٔ کار کولو هغوئ اوفرمایل هغوئ به په کور کښے د کور خلقو سره په کار کښے شریک وو . (د دے څو مثالونه مخکښے حدیثونو کښے راځی) .

(۱۱) عن عائشة رضی اللّٰہ عنہا قالت کان رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم یخصف نعله ویخیط ثوبه ویعمل فی

حضرت عائشه رضی اللّٰہ عنہا نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم به خپل پیزار پخپله کښلو خپل جامے به ځے هم پخپله کښلے او په کور کښے به ځے دا سے کار کولو - لکه یو عام معمولی

بیته و قالت کان بشراً من البشر یفلی ثوبه و یحلب شاته ویخدم نفسه ۱۲ (مشکوٰۃ ص۵۲۰)

سړے چه خپل کور کښے څنګه کار کوی (یعنی په کور کښے مخدوم اومملوک نه وو۔ یعنی دنورو نه جدا شان کښے نه اوسیدلو) په خپلو جامو کښے به ئے سپړے خپله کتے (چه شاید دچانه راختی وی) کښی حضورؐ خپله د دے نه پاک وو) دخپل بیزے پټ به خپله لوشل (دا په کور کښے دکار کولو یو مثال دے څنګه چه یو عام سړے په کور کښے څه کار کوی) - د کور عام کار کښے به هم شریکیدو او خپل ذاتی کار به ئے هم کولو۔ (ترمذی)

(۱۲) عن عائشةؓ قالت ما ضرب رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم لنفسه شیئاً قطبیده ولا امرأة ولا خادماً الا ان یجاهد فی سبیل اللّٰه وما قیل منه شئ قط فینتقم من صاحبه الا ان ینتهك شئ من محارم اللّٰه فینتقم اللّٰه ۱۲

د حضرت عائشے بی بیؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم هیڅرے چاته ګذار نه وو دے ورکړے نه وو نه خادم ته - البته جهاد فی سبیل اللّٰه دوے بهتر دے (مطلب په غصه کښے دهل دی لکه عام عادت چه دے) او حضورؐ ته هیڅرے دا سے تکلیف نه دے ورکړے شوے چه حضورؐ دهغے بدله اخستی وی د تکلیف ورکونکی نه (یعنی حضورؐ هیڅرے دخپل ذاتی انتقام دهیڅانه نه دے اخستے - مترجم) البته که چا دخدائے پاک په منع کړی کارونو کښے څه کار کړی وی نو دخدائے دپاره به ئے تر نه بدله اخستی وی - (یعنی سزا به ئے ورکړی وی) - (مسلم)

(۱۳) عن انسؓ قال خدمت رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم وانا ابن ثمان حین خدمة عشر سنین فما لامنی علی شئ قط اتی فیه علی بدی فان لامنی لائم من اهله قال

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه زهٔ د اتو کالو وم چه د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم خدمت ته راغلم او لس کاله وے د حضورؐ خدمت اوکړو - که ما به څه غلطی اوکړه نو حضورؐ به راته چرے بد رد نه وئیل - که په کور کښے به بل چا راته څه ملامته کوله نو حضورؐ به اوفرمائیل پریدئ ئے - دغه به مقدره

فانه لو قضی شیء کان هذا ۱۲

وه - که بل شان مقدره وے نو هغه شان به شوی وے -

(مصابیح و بیهقی)

(۱۴) عن انس یحدث عن النبی صلی الله علیه وسلم ان کان یعود المریض و یتبعها الجنازة الخ ۱۲

(مشکوٰة کلها علی ص ۵۱۹)

د حضرت انس رض نه روایت دے - هغهٔ د حضور صلی الله علیه وسلم حال بیانولو چه حضور صلی الله علیه وسلم به بیمار پرسی کوله - او د جنازے سره به تلو -

(ابن ماجه و بیهقی)

(۱۵) عن انس رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا صافحی رجل ینزع یده من یده وحتی یکون هو الذی ینزع یده ولا یصرف وجهه عن وجهه حتی یکون هو الذی یصرف وجهه عن وجهه ولم یر مقدمًا رکبتیه ۱۲

(مشکوٰة)

د حضرت انس رض نه روایت دے چه رسول اکرم به د چا سره مصافحه کوله نو خپل لاس به ئے د هغهٔ د لاس نه ترهغے نهٔ ویستو څو چه به هغهٔ خپل لاس، نهٔ وو ویستے او نهٔ به ئے ترے مخ بل خوا اړولو څو چه به هغهٔ خپل مخ بل خوا نهٔ وو اړولے - او هیڅرے نهٔ د دے لیدلے شوے چه په ناستو خلقو کښے ئے خپل زنګون د نورو نه مخکښے کړے وی (بلکه په صف کښے به د نورو سره برابر ناست وو - او دا مطلب ئے هم کیدے شی چه د زنګون مطلب بنیه وی یعنی مجلس کښے به ئے چا طرف ته بنیه نهٔ غزولے -

(ترمذی)

د شمائل ترمذی په باب تواضع کښے دوه اویا حدیثونه دی - د هغے نه یو څو تو ته نقل کوم :-

(۱۶) و (۱۷) عن علی رض قال کان اذا آوی الی منزلة جزءًا دخوله ثلث اجزاءٍ جزءًا لله

حضرت حسین رض د خپل والد حضرت علی رض نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کور ته ننوتو نو خپل وخت به ئے درے ۳

عزوجل وجزءًا لاهله و
جزءًا لنفسه ثم جزء جزاء
بينه وبين الناس ذالك
بالخاصة على العامة وكان
من سيرته فى اجزاء الامة
ايثار اهل الفضل باذنه
قسمه على قدر فضلهم فى
الدين فمنهم ذوالحاجة ومنهم
ذوالحاجتين ومنهم ذوالحوائج
فيتشاغل بهم يشغلهم فيما
يصلحهم والامة من مسئلتهم
عنه و اخبارهم بالذى ينبغى
لهم يدخلون رواًا ولا
يفترقون الا عن ذواق و
يخرجون ادلة يعنى على
الخير قال فسألته عن مخرجه
وفى حديث اخر فقال كان
رسول الله صلى الله عليه وسلم
دائم البشر سهل الخلق لين
الجانب ليس لفظ ولا غليظ لا
يتنازعون عنده ولن نظم
عندة السواله للغريب على
الجفوة فى منطقه و مسالته
ولا يقطع على احد حديثه يجوز
فيقطعه ينهى او قيام ١٢ شمائل

عزوجل وجزءًا لاهله و
جزءًا لنفسه ثم جزء جزاء
بينه وبين الناس ذالك
بالخاصة على العامة وكان
من سيرته فى اجزاء الامة
ايثار اهل الفضل باذنه
قسمه على قدر فضلهم فى
الدين فمنهم ذوالحاجة ومنهم
ذوالحاجتين ومنهم ذوالحوائج
فيتشاغل بهم يشغلهم فيما
يصلحهم والامة من مسئلتهم
عنه و اخبارهم بالذى ينبغى
لهم يدخلون رواًا ولا
يفترقون الا عن ذواق و
يخرجون ادلة يعنى على
الخير قال فسألته عن مخرجه
وفى حديث اخر فقال كان
رسول الله صلى الله عليه وسلم
دائم البشر سهل الخلق لين
الجانب ليس لفظ ولا غليظ لا
يتنازعون عنده ولن نظم
عندة السواله للغريب على
الجفوة فى منطقه و مسالته
ولا يقطع على احد حديثه يجوز
فيقطعه ينهى او قيام ١٢ شمائل

حصه کړو۔ یوه[1] حصه د عبادت دپاره ۔ یوه[2] حصه د
کور خلقو د حقونو ادا کولو دپاره ۔ او یوه[3] حصه د
خپل ذاتی کارونو دپاره ۔ خپله ذاتی حصه به ئې بیا
دا سې تقسیموله چه دوه حصې برکتونه د خپلو
خاصو اصحابو رضی الله عنهم په ذریعه عامو خلقو ته اورسی.
یعنی په دې وخت به خاصو کسانو ته د
ملاقات اجازت وو۔ هغوئ به بیا دغه فیض
عامو خلقوته رسولو اودَ وخت په دې حصه
کښې د هغوئ عادت وو۔ چه خاص اهل فضل
او اهل علم حضراتو ته به ئې په اجازت کښې
په نورو ترجیح ورکوله ۔ او دا وخت به ئې
په دې خاصو کسانو هم دَ هغوئ د ضرورت
او فضیلت (مرتبې) مناسب تقسیمولو ۔ چا ته به
دیوې خبرې د پوهې حاجت وو چا ته د دوو چا ته
د زیات ۔ نو په دغه مناسبت به ئې هغوئ ته وخت
ورکولو او هغوئ به ئې هم په دا سې کار لګول چه دَ
عام امت مصلحت او فائده به وه ورکښې ۔ لکه د
مسائلو پوښتنه ۔ د ضروری حالاتو اطلاع ورکول
او حضور سره چه به کوم خلق راتلل نو خپله د
علمی فائدې حاصلولو نه علاوه د خلقو دپاره
به هم رهنما واپس کیدل (داخو د خصوصی مجلس
حال وو) حضرت حسین رضی الله عنه فرمائی بیا ماد والد صاحب رضی الله عنه
نه د هغوئ دکور نه بهر معمولاتو تپوس اوکړو۔
نو هغوئ چه دې دوې کوم تفصیل بیان کړو هغه زهٔ
(مولانا تهانوی رحمه الله) د دوئ دویم حدیث نه نقل کوم.

حضرت علیؓ اوفرمائیل - حضورؐ هر وخت آزاد طبیعت نرم خویه ، نرم مزاجه وو. دهغوئ هغکښې به خلقو خپلو کښې بحث نهٔ کولو. او هغوئ ته چه به چا څهٔ خبره کوله نو د هغهٔ ترغلی کیدو به هغوئ په خاموشئ اوریده - او د ناشنا سړی په خبرو کښې او سوال جواب کښې به گستاخئ او بے ادبئ به حضورؐ ډیر صبر او تحمل کولو او دهغهٔ خبره به ئے په مینځ کښې نهٔ پریکوله - تر دے چه که هغه به ډیر دحد نه اووتو - نو بیا به ئے پرے خبره بنده کړه - یا به تر خپله پاڅیدو - (دا ئے دعام مجلس رنگ وو) اودا ئے د خپلو متعلقینو سره سلوک وو - او د مخالفینو سره چه کومه طریقه وه هغه هغکښې نوروحدیثونو کښې راځی -

(۱۸) عن ابی هریرةؓ قال قیل یارسول الله صلی الله علیه وسلم ادع علی المشرکین قال انی لم ابعث لعانا وانما بعثت رحمة ۱۲
(مشکوٰة ص ۵۱۹)

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه یو موقعه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړے شو چه مشرکانو ته بد دعا اوکړئ - حضورؐ اوفرمائیل زهٔ د بنیرو د پاره نهٔ یم راستولے شوے - زهٔ خو صرف رحمت راستولے شوے یم -

ف:- حضور صلی الله علیه وسلم بد دعا هیڅرے نهٔ کوله بلکه دشمنانو ته به ئے هم دعا کوله - کله که به ډیر تنگ شو خپل مالک ته به ئے سوال کولو نو او به ئے وے یا الله! دوئ ته هدایت اوکړے او ما ئے د شر نه محفوظ کړے -

(۱۹) فاذا فیها جبریل فنادا فی الله قد سمع قول قومك وما ردوا علیك وقد ابعث الیك ملك الجبال لتامره بما شئت فیهم قال فنادا فی ملك الجبال فسلم علی ثم قال یامحمدؐ ان الله قد سمع قول قومك و

د حضرت عائشهؓ بی بی نه دطائف په واقعاتو یو اوبد حدیث کښې روایت دے چه په دے موقع رسول اکرمؐ ته دکافرانو دلاسه دومره تکلیف رسیدلے وو چه د احد په جنگ کښې هم دومره نهٔ وو - په دے وخت جبریلؑ د غرونو فرشته دحضورؐ په خدمت کښې حاضره کړه هغے سلام اوکړو اوعرض ئے پیش کړو چه زهٔ د غرونو فرشته یم الله تعالیٰ تا ته راستولے یم چه تهٔ ما ته څهٔ حکم کوے نو

ملك الجبال و قد بعثنی ربك اليك لنا فی ما مرك ان شئت ان اطبق عليهم الاولا خشبين فقالو رسول الله صلی الله عليه وسلم بل ارجو ان يخرج الله من اصلابهم من يعبد الله وحده لا يشرك به شيئاً ۱۲

(مشکوٰۃ ص۵۷۳)

زهٔ به اوس دا دوارهٔ اوچت غر و نه خپلو کښې اوجنګوم او دا ټول کافران به ځ تر دا مينځه ډل شی۔ حضور صلی الله عليه وسلم اوفرمايل "نه" زما داطمع ده چه الله تعالیٰ به د دوی په نسل کښې داسې خلق پيدا کړی چه هغوئ به خالص د الله عبادت کوی او بل څوک به ورسره نهٔ شريکوی۔

(بخاری و مسلم)

ف: اوګورئ په دے وخت کهٔ رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په لاسو د کافرانو نه بدل نهٔ شو اخستے نو ژبه خوزول خو اسان وو۔ او بيا په داسې وخت کښې چه دټولو تباه کيدل يقيني وو۔ خو بيا هم هغوئ د شفقت او مهربانئ نه کار واخستو۔

دا معامله وه د حضورؐ د هغه مخالفينو سره چاچه بے اندازه تکليفونه ورسولی وو او سخت مخالف ځ وو۔ داځو مقابل وو۔ او څنه مخالفين په خپل رعيت کښې وو۔ چه هر وخت په قبضه کښې وو (لکه د مدينے يهود يا منافقين) د هغوئ سره څنګه سلوک وو۔ دا مخکښې راځی۔

(۲۰) فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم منعنی ربی ان اظلم معاهدًا وغيره ترجل النهار قال اليهودی اشهد ان لا اله الا الله واشهد انك رسول الله اما والله ما فعلت بك الذی فعلت بك

د حضرت علی رضی الله عنه نه په يو اوبد حديث کښې نقل دے چه يو يهودی د مسلمانانو تابع په مدينه منوره کښې اوسيدو۔ د هغهٔ په حضورؐ باندے څهٔ قرض وو۔ يو ځل ځ رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د هغے په غوښتو دومره تنګ کړو چه د ماسپښين نه تر صباسحره پورے ځ د جماعت نه کوره پورے ساتلو نه نهٔ پريښو۔ خلقو په دے يهودی

الا لا نظر الی نعتك فی التوراة محمد بن عبد الله مولده بمكة و مهاجره بطيبه و ملكه بالشام ليس لفظه ولا غليظ و لا سخاب فی الاسواق و لا ی بالفحش ولا قول الخنا اشهد ان لا اله الا الله و انك رسول الله ۱۲
(مشکوٰۃ ص۵۲۱)

دیره ملامته کوله نو حضورؐ اوفرمایُل زهٔ الله تعالیٰ په معاهد او غیر معاهد تولو باندِ ظلم کولو نه منع کړے یم . هم په دغه قصه کښے دی چه کله غرمه شوه نو دغه یهودی اووے اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ و اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰه - مسلمان شو - اوبیا ځُ اووے چه ما دا تنکول صرف دے امتحان دپاره کول چه ما په تورات کښے د خاتم النبیّینؐ دا اوصاف لیدلی وو - محمّد د عبد الله خُوځے چه پیدا کُش به ځُ په مکه کښے وی اوهجرت به یثرب ته کوی اوبادشاهت به ځُ په شام وی (لکه چه روستو شو) هغه به نهٔ سخت خویه وی ، نهٔ سخت مزاجه ، نهٔ به بازارونو کښے شور شغب کوی اونهٔ به د بے حیائی څهٔ کار یا خبره کوی . نو ما دا معلومول چه دا هغه رسولؐ دے اوکهٔ نه . اوس مے یقین اوشو چه هم هغه دے نو ایمان مے راوړو . (بیهقی)

مشوره : کهٔ دغه لږ غوندے حدیثونه هر ورځ لولئ یا ځُ اورئ نو بیا به اکورو چه په څو ورځو کښے ستاسو اخلاق حومره بنهٔ کیږی .

نهم روح

د مُسلمان رور د حقونو ادا کولو

خیال ساتل

آیت قال اللّٰه تعالیٰ - اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ ۱۲
یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا یَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ ۱۲
وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ الخ
وَلَا تَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ
وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ط ۱۲
یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا
اجْتَنِبُوْا كَثِیْرًا مِّنَ الظَّنِّ
اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّ
لَا تَجَسَّسُوْا وَلَا یَغْتَبْ
بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ط ۱۲

اللّٰه تعالیٰ فرمائی : ایماندار ټول په خپلو کښے رونړه دی -
(او فرمائی) : اے ایمانداروا نه د سړی په نورو سړو پورے خاندی.
او نه د بنځے په نورو بنځو پورے خاندی.
(همکښے فرمائی) او مه یو بل ته پیغورونه ورکوئ او مه یوبل په خراب نوم یاد وئ -
اے ایمانداروا د ډیرو گمانونو نه ځان ساتئ ځکه چه ځنے گمان گناه دے او د چا عیبونه مه لټوئ او هیڅوک د په ناسو کښے د بل عیب نه کوی - (سورة حجرات)

(۱) عن عبد اللّٰه بن مسعودؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم سباب المؤمن فسوق وقتاله کفر ۱۲

د حضرت عبد اللّٰه بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی چه یو مسلمان ته (بے سببه) بد رد ویل گناه دے او (بے سببه) ورسره جنگ کفر (ته نزدے) (بخاری)

(۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا قال الرجل هلك الناس فهو اهلکهم

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه یوسړے (د خلقو عیبونه ګوری او خپل عیبونه نه ګوری) د ټولو نه ګران وی د شکایت په طور) دا سے اووائی: "خلق خو تباه شو" نو دا سړے خپله د ټولونه زیات تباه کیدونکے دے (چه مسلمانان ګے سپک او کنټرل). (مسلم)

(۳) عن حذیفة رضی قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لا یدخل الجنة قتات ۱۲

د حضرت حذیفه رضی نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی چه فرمائیل ګے چغل خور به (قانوناً بے سزا) جنت ته نه ځی.

(بخاری و مسلم)

(۴) عن ابی هریرة رضی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تجدون شر الناس یوم القیمة ذا لوجهین الذی یأتی هؤلاء بوجهه و هؤلاء بوجهه

(مشکوٰة کلها علی ص ۴۱۱)

د حضرت ابو هریره رضی نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. د قیامت په ورځ به د ټولو نه بد حالت کښے دوه مخے سړے وی (یعنی چه یو سره مخامخ یو شان خبرے کوی او بل سره مخامخ بل شان).

(بخاری و مسلم)

(۵) عن ابی هریرة رضی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا تذرون ما الغیبة قالوا الله ورسوله اعلم قال ذکرك اخاك بما یکره قیل افرأیت ان کان فیه ما تقول فقد اغتبته وان لم یکن فیه تقول فقد بهته. (مشکوٰة ص ۴۱۲)

د حضرت ابو هریرة رضی نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی آیا تاسو ته پته ده چه غیبت څه ته وائی اصحابو رضی عرض اوکړو الله او د هغه رسول ښه پوهیږی. حضور او فرمائیل غیبت دا دے چه ته په یو مسلمان (ورپسے دا سے خبره اوکړے که هغه ته اورسی نو خوښه به ګے نه شی چا عرض اوکړو چه که زما په ورکښے هغه خبره وی کومه چه ما کړی وی (یعنی که ما رښتونی بدی

بیان کړی وی) حضورؐ او فرمایئل که هغهٔ کښے هغه خبره وی کومه چه تا کړی خو غیبت د اوکړو اوکهٔ پکښے نهٔ وی نو بهتان د پرے اوترلو۔ (مسلم)

(او دواړه کبیره گناه دی ۔ نو مسلمان پسے پښی شا به ویئل په هیڅ حال کښے د گناه نه خالی ننهٔ وی)

(۶) عن سفیان بن اسد الحضرمیؓ قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول کبرت خیانة ان تحدث اخاك حدیثا هولك به مصدق و انت به کاذب ۱۲

(مشکوٰة ص۴۱۳)

د حضرت سفیان بن اسد حضرمیؓ نه روایت دے چه ما د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی هغوئ فرمایئلی دی چه دا ډیره سخته خیانت دے چه تهٔ یو خپل مسلمان رورته داسے خبره اوکړے چه هغه پکښے تا رښتونے گڼړی او تا دروغ ویئلی وی۔

(ابو داؤد)

(۷) عن معاذؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من غیرا خاه بذنب لم یمت حتی یعمله یعنی من ذنب قد تاب منه ۱۲

د حضرت معاذؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی کوم سړی چه په یو مسلمان رور د یوگناه عیب اولگولو ۔ د مرگ نه مخکښے به پخپله دغه گناه باندے ګرځی (د عیب لگوونکی دا سزا گهٔ په څهٔ خاص سبب څرگنده نهٔ شی نو دا بیله خبره ده که په خیر خواهئ ورته نصیحت کوی نو خیر دے۔

(ترمذی)

(۸) عن واثلهؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تظهر الشماتة لاخیك فیرحمه الله و یبتلیك ۱۲

(مشکوٰة ص۴۱۳)

د حضرت واثلهؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایئلی چه دیو مسلمان رور په (څهٔ دینی یا دنیوی) خراب حالت باندے خوشحالی نه ښکاره کړے نه چه الله تعالیٰ په هغهٔ رحم اوکړی او تا پکښے راګیر کړی۔

(ترمذی)

(۹) عن عبدالرحمٰن بن غنمؓ و اسماء بنت یزیدؓ انّ

د حضرت عبدالرحمٰن بن غنمؓ او اسماء بنت یزید نه روایت دے چه

النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال شرار عباد اللہ المشاؤن بالنمیمۃ المفرقون بین الاحبۃ ۱۲

(ص ۴۱۵)

رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی چه دخدائے په بند یانو کښے تولو نه ناکاره هغه خلق دی څوک چه چغلئ رسوی او په دوستانو کښے جدائی راولی .

(احمد و بیهقی)

(۱۰) عن ابن عباس رض عن النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال لا تمارا خاك ولا تمازحه ولا تعده مواعدا فتخلفه ۱۲

(ص ۴۱۷)

دحضرت ابن عباس رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی چه دخپل مسلمان ورور سره مه خوخاخا بحث کوه اومه ورسره داسے توقے کوه چه د هغهٔ نه وی خوښ اومه ورسره داسے وعده کوه چه پوره کوے ئے نه

(ترمذی)

(۱۱) عن زید بن ارقم رض عن النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال اذا وعد الرجل اخاه و من نیته ان یفی له فلم یف ولم یجئ المیعاد فلا اثم علیه

(ص ۴۱۶)

دحضرت زید بن ارقم رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی چه څوک دخپل مسلمان ورور سره یو وعده اوکړی او بیا ئے پوره نکړے شی یا ئے ورسره دلاتلو وعده کړی وی اوبیا په وخت را اونهٔ رسیدے شی (یعنی دهغهٔ عذر په وجه داسے اونهٔ شی) نو په هغهٔ هیڅ گناه نشته .

(ابو داؤد و ترمذی)

ف :- یعنی کهٔ دعذر په وجه وعده پوره نکړے شی . نو هغه معذور دے . لکه چه دے باره حدیث شریف نه څرگنده ده .

(۱۲) عن عیاض المجاشعی رض ان رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم قال ان اللہ اوحی الی ان تواضعوا حتی لا یفخر احد علی احد ۱۲

(ص ۴۱۷)

دحضرت عیاض مجاشعی رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللہ علیه وسلم فرمائی چه اللہ تعالیٰ ماباندے وحی راستولی ده چه تول خلق دِ تواضع اختیارکړی تردے چه هیڅوک دِ په هیڅا فخر نهٔ کوی . او هیڅوک دِ په هیڅا زیاتے نهٔ کوی . (څکه چه فخر اوظلم د تکبّر نه کیږی) .

(مسلم)

(۱۳) عن جریر بن عبد اللّٰہ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم لا یرحم اللّٰہ من لا یرحم الناس ۱۲ (ص ۴۲۱)

د حضرت جریر بن عبد اللّٰہ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی اللّٰہ تعالیٰ په داسے بنده رحم نه کوی څوک چه په خلقو رحم نه کوی۔

(بخاری و مسلم)

(۱۴) عن ابی هریرة رضی اللّٰہ عنه قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم الساعی علی الارسلة والمسکین کالساعی فی سبیل اللّٰہ ۱۲

د حضرت ابو هریره رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی څوک چه د کونډو او غریبانانو په کار کښے کوشش کوی هغه (په ثواب کښے) د هغه سړی ملګرے دے څوک چه په جهاد کښے کوشش کوی۔

(بخاری و مسلم)

(۱۵) عن سهل بن سعد رض قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم انا و کافل الیتیم له و لغیره فی الجنة هکذا واشار بالسبابة والوسطی و فرج بینهما شیئاً ۱۲

د حضرت سهل بن سعد رض نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی: "زه او هغه سړے چه د یتیم ذمه واری واخلی (هغه یتیم ځے خپل وی که پرده) دواړه به په جنت کښے داسے سره یو او خپله د شهادت ګوتے او مینځنۍ ګوتے ته ځے اشاره اوکړه او د دواړو ترمینځه ځے معمولی فرق کړے وو (خکه چه د نبی او غیر نبی ترمینځه خو څه فرق ضروری دے) لیکن د حضور اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم سره په جنت کښے ملګرے کیدل هم څه معمولی خبره نه وه۔

(بخاری)

(۱۶) عن النعمان بن بشیر رض قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم تری المؤمنین فی تراحمهم و توادهم و

د حضرت نعمان بن بشیر رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی چه تاسو به مسلمانان خپلو کښے په همدردۍ او خپلو کښے په شفقت او محبت کښے

تعاطفهم كمثل الجسد اذا اشتكى عضوا تداعى له سائر الجسد بالسهر والحمى ۱۲

دا سے وینئی لکه یو بدن - چه که په یو اندام ځه تکلیف وی نو په بـه خوبئی او بـه آرامئی او تکلیف کښه ورسـره ټول بـدن ملګرے وی۔ (بخاری و مسلم)

(۱۷) عن ابی موسٰی رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان اذا اتاه السائل او صاحب الحاجة قال اشفعوا فتوجروا ویقضی الله علی لسان رسوله ماشاء ۱۲

حضرت ابو موسٰیؓ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی. چه کله به د حضورؐ په خدمت کښه څوک سوالګر بـه یا دځه حاجت خاوند حاضر شو نو حضورؐ به اصحابوؓ ته فرمایـه چه تاسو ئے سفارش کوئ تاسو ته به اجر درکیدے شی. او د الله تعالیٰ چه څه خوښه وی دحد رسولؐ په خوله به هغه حکم جاری کړی ' یعنی زما په خوله به هم هغه راځی څه چه د الله رضا وی. اوځه چه هغه کول نـواړی هغه به کیږی - لیکن تاسو ته به د سفارش ثواب درکړے شی) او دا حکم په هغه وخت کیږدے چه چاته سفارش کیږی هغه به تنګیږی نه لکه دلته چه حضورؐ خپله اصحابوؓ ته د سفارش اجازت ورکړے دے۔ (بخاری و مسلم)

(۱۸) عن انسؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انصر اخاك ظالمًا او مظلومًا فقال رجل یا رسولؐ الله انصره ظالما قال تمنعه من الظلم فذاك نصرك ایاه ۱۲ (مشکوٰة کلها علی ص۴۲)

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او فرمایئل دچا مسلمان دور امداد کوئ ظالم وی او کـه مظلوم وی یو سړی عرض اوکړو یا رسولؐ الله د مظلوم امداد خو کولے شم لیکن د ظالم امداد به څنګه کوم ؛ حضورؐ او فرمایئل - هغه د ظلم نه منع کړه - دا د هغه سره امداد دے۔ (بخاری و مسلم)

(۱۹) عن ابن عمرؓ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم

د حضرت عمرؓ نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی

قال المسلم اخو المسلم لا یظلمه ولا یسلمه و من کان فی حاجته اخیه کان الله الی حاجته و من فرج عن مسلم کربة فرج الله عنه کربة من کربات یوم القیٰمه و من ستر مسلما ستره الله یوم القیٰمة ۱۲

چه یو مسلمان د بل مسلمان رور دے . نه به پرے ظلم کوی او نه به ئے په تکلیف کښے پریږدی اوځوک چه د خپل مسلمان رور په څه حاجت پوره کولو کښے لګیا وی. الله تعالیٰ د هغه حاجت پوره کوی. اوځوک چه دیو مسلمان رورنه تکلیف لرے کړی . الله پاک به ترے د قیامت د سختونه یوه سختی لرے کړی . اوځوک چه د یو مسلمان رور پرده پوشی اوکړی الله پاک به د قیامت په ورځ د هغه پرده پوشی اوکړی.

(بخاری و مسلم)

(۲۰) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بحسب امراء من الشر ان یحقرا خاه المسلم و کل المسلم علی المسلم حرام دمه و ماله و عرضه

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د بنیادم د پاره دا شر کافی دے چه خپل مسلمان رور سپک ګڼړی (یعنی که یو سړی کښے د شر بله خبره نه وی د غه یوه خبره وی پکښے نو هم پکښے د شر څه کمے نشته د غه یوه خبره کافی ده) د یو مسلمان هر شے په بل مسلمان حرام دے د هغه ځان - د هغه مال، او د هغه عزت (یعنی د هغه بدنی تکلیف رسونی نه د مالی نقصان او نه د عزت تکلیف یعنی عیب جوئی او غیبت وغیره به ئے نه کوی) (مسلم)

(۲۱) عن انس رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده لا یؤمن عبد حتی یحب لاخیه ما یحب لنفسه

د حضرت انس رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی زما د قسم په هغه ذات وی چه زما روح ئے په قبضه کښے دے هیڅوک ایماندار کیدے نه شی تر څو چه خپل مسلمان رور د پاره د هغه خبره خوښه نه کړی کومه چه خپل ځان د پاره خوښوی . (بخاری و مسلم)

(۲۲) وعنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يدخل الجنة من لا يأمن جاره بوائقه ۱۲ (كلها على ص ۴۲۲)

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هغه سړے به جنت ته نه ځی دچا دلاسه چه دهغهٔ کوانډی په خطره کښه وی. (یعنی هغه نه ورته د ضرر رسیدو خطره وی) (مسلم)

(۲۳) عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ليس منا من لم يرحم صغيرنا ولم يوقر كبيرنا يامر بالمعروف وينه عن المنكر ۱۲

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هغه سړے زمونږ دڅه نه بهر دے څوک چه زمونږ په وړو رحم نهٔ کوی او زمونږ د مشرانو عزت نهٔ کوی. او د نیک کار نصیحت او بد کار نه منع نهٔ کوی (حکه چه داهم په مسلمان حق دے چه په موقعه دین خبره بل ته اوښئی خو په نرمئی او طریقه). (ترمذی)

(۲۴) عن انس رضی الله عنه عن النبی صلى الله عليه وسلم قال من اغتيب عنده اخوه المسلم وهو يقدر على نصره فنصره نصره الله في الدنيا والاخرة فان لم ينصره وهو يقدر على نصره ادركه الله به في الدنيا والاخرة ۱۲ (كلها على ص ۴۲۳)

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی دچا څخه چه دهغهٔ د مسلمان رور غیبت کیږی او دے دهغه (غائب) په مرسته قادر وی. او مرسته ئے اوکړی نو الله تعالیٰ به په دنیا او آخرت کښه دهغهٔ مرسته اوکړی اوکه مرسته ئے اونکړه سره ددے چه قدرت ئے لرلو نو الله تعالیٰ به ئے په دے دنیا او آخرت دواړو کښه رانیسی. (شرح السنته)

(۲۵) عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من رأى

دعقبة بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چا چه د بل مسلمان یو عیب

عورة فستر ها كان
كمن احيٰى موؤدة ۱۲

اولیدو او پرده ئے پرے واچوله (بل چاته ئے
بنکاره نکړو) نوهغه (په ثواب کښے) داسے دے
لکه چه ژوندئ ښخه شوئ جینئ د مړک نه بچ کړی (یعنی د قبر نه ئے ژوندئ
را اوباسی۔ (احمد و ترمذی)

(۲۶) عن ابی هريرة رض قال قال
رسول الله صلى الله عليه
وسلم ان احدكم مرآة
اخيه فان رأى به
اذى فليمط عنه ۱۲

د حضرت ابو هریره رض نه روایت دے ۔ چه
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه
تاسو کښے هریوکس د بل دپاره آیئنه ده ۔ که په
هغه دور کښے څه خرابه خبره اوویني نو داسے دے
ترنه لرے کړی لکه آیئنه چه د چا د مخ داغ لرے
کوی۔ (یعنی لکه څنګه چه آیئنه د مخ عیب صرف کتونکی ته بنئ بل څوک ئے نه وینی)
دغه شان دے هم د هغے مسلمان دور پټ په پته اصلاح اوکړی ۔ او بل چاته د
حال نه ئ وائی ۔ (ترمذی)

(۲۷) عن عائشة رض ان
النبی صلى الله عليه
وسلم قال انزلوا الناس
منازلهم ۱۲
(كلها على ص ۴۲۴)

د حضرت عائشه رض نه روایت دے ۔ چه
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی
چه خلق په خپله خپله مرتبه ساتئ (یعنی هر
چا سره د هغه د شان مناسب سلوک کوئ) ټول په
یو کوټ کښ مه سړئ۔ (ابو داؤد)

(۲۸) عن ابن عباس رض قال
سمعت رسول الله صلى الله
عليه وسلم يقول ليس
المؤمن بشبع و جاره
جائع الى جنبه ۱۲
(ص ۴۲۴)

د حضرت ابن عباس رض نه روایت دے ۔ هغه
فرمائی چه ما د رسول کریم صلی الله علیه
وسلم نه اوریدلی دی۔ فرمائیل ئے ۔ هغه
سړے (پوره) ایماندار نه ئ دے څوک چه
خپله خیټه ډکه کړی او کوانډی ئے په
خوا کښے هم داسے اوږے پاته شی ۔
(بیهقی)

(۲۹) عن ابی هریرة رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال المؤمن مالف ولا خیر فیهن لا یالف ولا یولف ۱۲

د حضرت ابو هریرهٔ رض نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مسلمان د محبت کور دے او په هغه سړی کښ څهٔ خیر نشته کوم چه نهٔ دچا سره محبت کوی او نهٔ درسره څوک محبت کوی (یعنی تریځ او د ټولو نه لرے اوسی (هیڅا سره ځ روح نهٔ کږیږی - باقی دخپل دین د حفاظت دپاره دخلقو سره تعلقات کم یا نهٔ ساتل دے نه بهتر دی. (احمد وبیهقی)

(۳۰) عن انس رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قضی لاحد من امتی حاجته یرید ان یسره بها فقد سرنی و من سرنی فقد سرالله و من سرالله ادخل الله الجنة ۱۲

د حضرت انس رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی چاچه زما د یو امتی څهٔ حاجت پوره کړو په دے نیت چه دے خوشحاله شی نو هغهٔ زهٔ خوشحاله کړم او چا چه زهٔ خوشحاله کړم الله پاک ځ خوشحاله کړو او دچانه چه الله پاک خوشحاله شو نو هغه به ځ جنت ته واستوی. (بیهقی)

(۳۱) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اغاث ملهوفا کتب الله له ثلثا و سبعین مغفرة واحدة فیها صلاح امره کله و ثنتان و سبعون درجات یوم القیٰمة ۱۲

(مشکوٰة کلها علی ص۴۲۵)

د حضرت انس رض نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چا چه دیو پریشان حال بنده امداد اوکړو الله تعالیٰ به هغهٔ دپاره درے اوو یا بخښنه اولیکی په هغو کښ یو ددهٔ د ټولو کارونو سمیدو دپاره کافی دے او په باقی دوه اویا به ځ د قیامت په ورځ درجې پلسے شی.

(بیهقی)

(۳۲) عن ابی هریرة رض ان النبی صلی الله علیه وسلم

د حضرت ابو هریرهٔ رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم

قال اذا عاد المسلم اخاه اوزاره قال الله تعالیٰ ان طبت وطاب مشاك وتبوّت من الجنة منزلاً ۱۲

(ص ۴۲۶)

فرمائیلی دی کله چه دیو مسلمان ځپل بیمار مسلمان تپوس ته ځی. یا هسے د بل مسلمان دور ملاقات ته ځی نو الله تعالیٰ فرمائی ته هم پاک ئے ستا ټله هم پاک دی تاځان ته جنت کښے ځائے جوړ کړو.

(ترمذی)

(۳۳) عن ابی ایوب الانصاریؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یحل للرجل ان یهجر اخاه فوق ثلث لیالٍ یلتقیان فیعرض هذا ویعرض هذا وخیر هما الذی یبدأ بالسلام ۱۲

د حضرت ابو ایوب انصاریؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی هیچاته دا جائز نه دی چه د خپل مسلمان دور سره درے ورځو نه زیات دا سے قطع تعلق اوکړی چه که لار کښے ځنا ځ شی نو یو یو خوا ځ اوګرځوی او بل بل خوا. او په دے دواړو کښے بهتر هغه سړے دے څوک چه په سلام کښے روبدے شی (یعنی تعلقات بحال کولو کښے سبقت اوکړی.

(بخاری و مسلم)

(۳۴) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث ولا تحسسوا ولا تجسسوا ولا تناجشوا ولا تحاسدوا ولا تباغضوا ولا تدابروا وکونوا عباد الله اخوانا وفی روایة ولا تناسوا ۱۲

(کلهما علی ص ۴۲۷)

د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د بدګمانئ نه ځان ساتئ چه بدګمانی په ټولو کښے غټ دروغ دی. او دچا د پټ حال لټون مه کوئ نه د بنسټ حال او نه د بد حال. او مه د ټګئ دپاره د څه شی قیمت زیاتوئ. او مه خپلو کښے کینه او بغض ساتئ. او مه دچا پشی شا غیبت کوئ او اے د الله بندیانو ټول خپلو کښے د خپلو دونړو په شان اوسئ او په یو روایت کښے دی مه په یو بل رشک کوئ.

(بخاری و مسلم)

(۳۵) عن ابی هریرة رضؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم حق المسلم علی المسلم ست قیل ما هن یا رسول الله قال اذا لقیته فیسلم علیه و اذا دعاك فاجبه و اذا استنصحك فانصح له و اذا عطس فحمد الله فشمته و اذا مرض فعده و اذا مات فاتبعه ۱۲

(مشکوٰة ص۱۳۳)

د حضرت ابو هریرة رضؓ نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د هر مسلمان په بل مسلمان رور شپږ حقونه دی (په دے وخت د دغه شپږو د ذکر موقع وه) چا عرض اوکړو یا رسول الله هغه کوم کوم دی - حضورؐ اوفرمایل: (۱) چه درسره مخامخ شی سلام پرے اچوه - (۲) چه کله دِ اوبلی قبلوه ئے (۳) چه مشوره درنه اوغواړی صحیح مشوره ورکوه - (۴) چه اِنډے اوکړی او اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائی نو یَرْحَمُكَ اللّٰه وَرقه وایه (۵) چه ناجوړه شی تپوس ته ورځه (۶) چه مړشی جنازے سره ئے ځه -

(مسلم)

(۳۶) عن ابی بکر الصدیق رضؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ملعون من ضار مؤمنا او مکر به ۱۲

(مشکوٰة ص۴۲۸)

د حضرت صدیق اکبر رضؓ نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هغه سړے ملعون دے څوک چه مسلمان ته ضرر رسوی یا ورسره ټکی کوی -

(ترمذی)

(دا ټول حدیثونه د مشکوٰة نه اخستی شوی دی) -

دا خو د عامو مسلمانانو عام حقونه دی چه د یو بل سره د ژوند کولو لپاره ضروری دی او په خاصو حالاتو کښے ئے خاص حقونه هم دی کوم چه مونږ په خپله رساله حقوق الاسلام کښے لیکلی دی - دے ټولو حقونو د پوره کولو پوره پوره کوشش کوئ - نن صبا دے کښے ډیره بے پروائی کیږی -

لسم روح

دَخپل ځان حقُونه ادا کول

اصل خبره داده چه زمونږ ځان هم (روح وبدن دواړه) د الله تعالیٰ ملکیت دے. زمونږ سره د امانت په طور پروت دے. نو ځکه د الله تعالیٰ د حکم موافق د ځان حفاظت کول په مونږ لازم دی. او حفاظت ئے داد ے.

(۱) چه د صحت خیال اوساتلے شی. (۲) چه د طاقت حفاظت ئے اوشی. (۳) د اطمینان او تسکین ئے اوساتلے شی. یعنی پخپله څه داسے کار اونکړی چه د پریشانئ سبب وی ځکه چه په دے کارو نوکښے نقصان راتلو په وجه: (۱) د دین کارونو کښے سستی راځی. (۲) دچا حاجت مند امداد نشی کیدے. (۳) او کله کله د ناشکرئ او بے صبرئ په وجه ایمان ته هم نقصان اورسی. د دے متعلق یوځو حدیثونه او آیتونه لیکو:-

الله تعالیٰ د ابراهیم علیه السلام په قول کښے د نعمتونو په شمارہ کښے فرمائیلی دی

(۱) وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ط (الشعراء)

او چه زهٔ ناجوړه شم نو هغه شفا راکوی. (سورة شعراء)

ف:- دے نه معلومه شوه چه د بدن صحت مطلوب او لوئے نعمت دے.

(۲) قال الله تعالیٰ: وَ اَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ (سورهٔ انفال)

الله تعالیٰ فرمائی: او دے د دشمنانو د پاره تاسو نه چه څومره کیدے شی خپل طاقت تیار ساتئ.

ف:- په دے آیت کښے د طاقت محفوظ کولو صفا حکم دے. د مسلم بن عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دے تفسیر په تیر اندازئ (غشی ویشتو) کښے مهارت پیدا کولو سره کړے دے. او دے ته قوت ځکه اوویلے شو. چه د دین حفاظت کښے په دے زړهٔ ته مضبوطیا حاصلیږی. او په دے کښے چه

کوم کوشش او محنت کیږی هغه سره هم بدن کښے طاقت راځی. غشے دهغے زمانے یوه عامه اعتباری وسله وه - په دے زمانه کښے د موجوده توپو وسلو چلولو طریقے زده کول هم په دے کښے راځی او په مسلمان ځے چل زده کول ضروری دی. ددے نور مضمون په حدیث ۱۳ کښے راځی.

(۳) قال الله تعالیٰ : وَ لَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا (شعراء)

الله تعالیٰ فرمائی: او مال بے موقعه (یعنی بے ځایه) مه لګوئ - (مه الوزوئ)

ف:- د مال په کمی زړه پریشان کیږی. ددے پریشانئ نه دپاره کیدو حکم شوے دے. او په کومو کارونو چه ددے نه هم زیاته پریشانی راځی دهغے نه بچ کیدل خو نور هم ضروری شو. ددے نه معلومه شوه چه د زړه اطمینان او سکون حاصلول هم ضروری دی.

(۱) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لجسدك علیك حقا وان لعینك علیك حقا

(مشکوٰة ص ۱۷۹)

دحضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په عبادت شپے رونړولو او ویرے زیاتے روژے نیولو او پیرو نفلونو کولو نه منع کړی دی. فرمائیلی دی دستا د بدن هم په تاحق دے او دستا د سترګو هم په تاحق دے. (بخاری و مسلم)

ف:- مطلب دا چه په زیات محنت او په زیاتو شوګیرو صحت خرابیږی. او سترګے خوبیږی.

(۲) عن ابن عباس رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم نعمتان فیهما کثیر من الناس الصحة و الفراغ ۱۲

دحضرت ابن عباس رض نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه دوه نعمتونه داسے دی - چه په هغے کښے اکثر خلق تاوان کښے وی - (یعنی کار ترنه اخلی او څه دینی فائده ترنه پوره کوی) یو صحت او دوئیم فراغت (بے فکری)

(بخاری)

ف:- ددے نه معلومه شوه چه صحت او فراغت (یعنی د رزق د غمه بے فکری) دوه

دا ستا غټ نعمتونه دی. چه غټه دینی فائده ترے اخیستے شی. او فراغت هله راځی چه ډیر مال ورسره وی (د ژوند ضروریاتو پوره کولو کښے ورته پریشانی نه وی) نو ددے نه معلومه شوه چه د افلاس او پریشانیو نه. بچ کیدل هم مطلوب دی.

(۳) عن عمرو بن میمون الاودیؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم لرجل و هو یعظه اغتنم خمسًا قبل خمس شبابك قبل هرمك وصحتك قبل سقمك وغناك قبل فقرك وفراغك قبل شغلك وحیوتك قبل موتك ۱۲

(ص ۴۴۱)

د حضرت عمرو بن میمون اودیؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم یوسړی ته په نصیحت کښے اوفرمایل پنځه څیزونه د پنځو څیزونو دراتلو نه مخکښے غنیمت اوګڼړه او په دین کښے تر فائده واخله. (۱) د ځوانی د بوډا والی نه مخکښے (غنیمت اوګڼړه) (۲) او صحت د بیمارئ نه مخکښے (۳) مالداری د افلاس نه مخکښے (۴) او بے فکری د پریشانئ نه مخکښے (۵) او ژوند د مرګ نه مخکښے

(ترمذی)

ف:- معلومه شوه چه په ځوانئ کښے چه کوم صحت او طاقت وی. او په مالدارئ کښے چه کوم فراغت او د پریشانیو نه بے فکری وی. دا دواړه غټ نعمتونه دی. (د دے حفاظت او په دین کښے ترے کار اخستل ضروری وی.)

(۴) عن عبید اللّٰه بن محصنؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم من اصبح منکم اٰمنا فی سربه معافی فی جسده عنده قوت قوم فکانما حیزت له الدنیا بحذافیرها ۱۲

(ص ۲۳۲)

د حضرت عبید اللّٰه بن محصنؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم په تاسو کښے چا باندے چه په دے حال کښے صباشو چه خپل زړه ئے د پریشانو نه په امن وی او بدن ئے د بیمارئ نه بچ وی او ورسره د یوے ورځے خوراک وی چه په دغه ورځ د لوړے نه په امان وی نو دا ستا اوګڼړئ چه دے سړی ته غوښتره دنیا ورکړے شوے ده.

(ترمذی)

ف:- دے نه هم د صحت او امن وعافیت مطلوب والے

(۵) عن ابی هریرة رضؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من طلب الدنیا حلالا استعفافا عن المسئلة و سعیا علی اهله وتعطفا علی جاره لقی الله تعالیٰ یوم القیٰمة و وجهه مثل القمر لیلة البدر ۱۲ (ص ۴۴۴)

د حضرت ابو هریرة رضؓ نه روایت دے ۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائی څوک چه دحلال مال طلب دے دپاره کوی چه دسوال نه بچ شی او دخپل بال بچ حقونو ادا کولو دپاره څه کتې اوکړی او دخپل کوانډی حق ادا کړی نو الله تعالیٰ به ئے د قیامت په ورځ په داسے شان پاڅوی چه مخ به ئے د څوارلسمے د سپوږمئ په شان روښانه وی ۔

(بیهقی و ابونعیم)

ف :- معلومه شوه چه دضروری حقونو ادا کولو خپل دین بچ کولو دپاره دضرورت په اندازه حلال مال کتل غټ فضیلت لری ۔ په دے هغه اطمینان حاصلیږی کوم چه مطلب دے ۔

(۶) عن ابی ذر رضؓ عن النبی صلی الله علیه وسلم قال الزهادة فی الدنیا لیست تحریم الحلال و اضاعة المال ۱۲ (ص ۴۵۳)

د حضرت ابو ذر غفاری رضؓ نه روایت دے ۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د دنیا سره بے تعلقی (دکوم چه حکم شوید ے) نه د حلال شی په ځان حرامولو ده او نه په مال بربادولو ده ۔

(ترمذی و ابن ماجه)

په دے کښے مال بربادولو ته صفا بد ویلی شویدی چه دے سره اطمینان بربادیږی ۔ او پریشانی راځی ۔

(۷) عن ابی الدرداء رضؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله انزل الداء والدواء وجعل لکل داء دواءً فتداووا دلا تتداووا بحرام ۱۲ (ص ۳۵۸)

د حضرت ابو درداء رضؓ نه روایت دے ۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه مرض او دارو دواء الله تعالیٰ راستولی دی ۔ او دهر مرض دپاره ئے دارو هم پیدا کړیدی نو تاسو علاج کوئ خو په حرام څیز علاج مه کوئ ۔ (ابو داؤد)

ف:- په دے کښے صفا د صحت حاصلولو حکم شوے دے۔

(۸) عن ابی هریرة رضی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المعدة حوض البدن والعروق الیها واردة فاذا صحت المعدة صدرت العروق بالصحة و اذا فسدت المعدة صدرت العروق بالسقم ۱۲

(ص ۳۹۰)

د حضرت ابو هریره رضی نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه معده د بدن حوض دے او رګونه ورنه غذا حاصلوی نو که معده روغه وه خو رګونه به ترے صحت یوسی او که خرابه وه نو رګونه ترے بیماری وړی (او په ټول بدن کښے ځے ترے نه خوړی)

(شعب الایمان د بیهقی)

ف:- په دے کښے د صحت د پاره د معدے خاص خیال ساتلو حکم دے۔

(۹) عن ام المنذر رضی قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعلیٍ یا علی فانك ناقه قالت فجعلتم لهم سلقا و شعیرا فقال النبی صلی الله علیه وسلم یا علی من هذا فاصب فانه اوفق لك ۱۲

(ص ۳۳۶)

د ام منذر رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه په یو موقع حضرت علی رضی الله عنه ته اوفرمایل : کجورے مه خوره ته کمزورے ځے۔ بیا ما چقندر او اوربشے تیارے کړے نو حضور اوفرمایل اے علی رضی دے نه اوخوره دا درته ښه دے۔

(احمد ، ترمذی ، ابن ماجه)

ف:- په دے حدیث کښے د بد پرهیزی نه منع شوی ده۔ چه صحت خرابوی۔

(۱۰) عن ابی هریرة رضی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یقول اللهم انی اعوذبك من الجوع فانه بئس الضجیع الخ ص ۲۱۷

د حضرت ابو هریره رضی نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به دا دعا غوښته۔ اے الله زه د لوږے نه ستا پناه غواړم چه دا لوږه خراب ملګرے دے د شپے۔

ف :- په مرقات کښے ئے دے پناه غوښتو سبب دا لیکلے دے ، چه په لوبه بدن کمزورے کیږی او ذهن پریشانه کیږی - نو دے نه د صحت ، قوت و جمعیت و اطمینان مطلوب کیدل (یعنی چه حاصلول ئے ضروری وی) ثابت شو - خکه چه په دیره لوبه کښے دا درے واړه نعمتونه برباد یږی) او د لوبے کوم فضیلت چه راغلے دے - نو هغه دا سے دے لکه د بیماری چه راغلے دے - (نو دے نه ئے مطلوب کیدل نه ثابتیږی -) (خاخا خان اوبے ساتل مفید نه دی - چه کمزورتیا پرے راځی او عبادت کښے کمے کیږی) - (په دومره اندازه بنهٔ ده چه بنده ورکښے الله پاک ته رجوع شی - او دگناهونو نه توبه کار شی) -

(۱۱) عن عقبة بن عامرؓ قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله تعالیٰ یدخل الخ

(ص ۲۳۷)

د حضرت عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه تیر اندازی هم کوئی او د اَس سورلی هم -

(ترمذی ، ابن ماجه ، ابو داؤد ، دارمی)

ف :- د اَس سورلی هم یو ورزش دے - صحت پرے بنهٔ کیږی او طاقت زیاتیږی -

(۱۲) وعنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول من علم الرمی ثم ترکه فلیس منا او قد عصی ۱۲

(مشکوٰة ص ۳۴۶)

هم د حضرت عقبهؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چاچه تیر اندازی زده کړه بیا ئے پریښوه هغه زموږ نه نهٔ دے یا ئے اوفرمایل هغهٔ نافرمانی اوکړه -

(مسلم)

ف :- دے نه د طاقت او قوت پیدا کولو څومره په سختئ سره تاکید معلومیږی لکه په آیت ۶۰ کښے چه حکم شوے دے - باقی تفصیل ئے په نورو حدیثونو کښے راځی -

(۱۳) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المؤمن القوی خیر

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی طاقتور مسلمان د الله په نزد د کمزوری

واجب الی اللّٰہ من المؤمن الضعیف و فی کل خیر۔
(۱۲ ص ۴۵۲)

مسلمان نه ډیر بهتر دے او زیات غوره دے هیڅ ټول بنهٔ دی۔
(مسلم)

ف:- هرکله چه د مسلمان طاقت او قوت اللّٰه تعالیٰ ته دا سے خوښ دے نو دهغه باقی ساتل بلکه زیاتول - او په کوموشیانو نوچه د کمیږی دهغه نه پرهیز کول مطلوب شو نو په دے څیز ونو کښے (کوم چه طاقت کموی) خوراک[1] ډیر کمول او خوب[2] ډیر کمول او د طاقت[3] اندازے نه زیات کورواله کول - او دا سے[4] څیز ونه خوړل کوم چه بیماری پیدا کوی یا ورباندے بیماری اوبدیږی۔ بد[5] پرهیزی کول - دا ټول په دے حکم کښے راغلو نو ددے ټولو خبرو نه ځان بچ کول پکار دی - او په طاقت زیاتولو کښے ورزش[1] کول منډے[2] ترپلے وهل - پیاده گرځیدل - د قانونی اجازت دننه د وسلے استعمال زده کول او مشق ے کول دا ټول داخل دی - لیکن د شریعت حد او قانون حد نه بهر وتل نهٔ دی پکار ځکه چه دے هغه اطمینان، جمعیت او راحت ختمیږی - کوم چه شرعاً مطلوب دے۔

۱۴) عن عمرو بن شعیبؓ عن ابیه عن جده ان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم قال الراکب شیطان والراکبان شیطانان والثلثة رکب ۱۲

حضرت عمرو بن شعیبؓ د خپل پلار نه او هغه ے د نیکهٔ نه روایت کوی چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی: چه یواځے سور شیطان دے او دوه سوارهٔ دوه شیطانان دی او درے سوارهٔ قافله ده -
(مالک، ترمذی، ابوداؤد)

ف:- دا هغه وخت خبره ده چه یو دوه کسانو ته به په لار کښے د دشمنانو ډاکوانو خطره وه - ددے نه معلومه وه چه د ځان د حفاظت انتظام ضروری دے۔

۱۵) عن ابی ثعلبة الخشنی قال کان الناس اذا نزلوا منزلا تفرقوا فی الشعاب والاودیة انما ذلکم من الشیطان فلم ینزلوا بعد ذلك منزلاً الا

د حضرت ابو ثعلبه خشنیؓ نه روایت دے چه خلق به چه په پراؤ دیره شو نو په کندو او میدانونو کښے به خوارهٔ وارهٔ شو نو رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم او فرمائیل ستاسو دا خوارهٔ وارهٔ کیدل شیطانی کار دے (ځکه چه که څهٔ مصیبت پیښ شی

انضم بعضهم الی بعض حتی یقال لو یهبط علیهم ثوب بعمهم ۱۲

نوډ یو بل نه به خبر هم نه شی) ددے نه پس چه کله به پراؤ پریوتو نو دیو بل سره به داسے جوخت ناست وو چه دا ویلے شوه که چا څادر غورولے وے نو په ټولو به خورشوے وو۔ (ابو داؤد)

ف:۔ ددے نه هم دځان په حفاظت د احتیاط کولو تاکید ثابتیږی۔

(۱۶) عن ابی السائب عن ابی سعید الخدریؓ (فی الحدیث الطویل) فکان ذلك الغنی یستاذن رسول الله صلی الله علیه وسلم بانصاف انهار فیرجع الی اهله فاستاذنه یوماً فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم خذ علیك سلاحك فانی اخشی علیك قریظة فاخذ الرجل سلاحه ثم رجع (مشکوٰة ص۳۶۰)

ابو السائبؓ د حضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت کوی چه یو صحابیؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه (کورته د) تلو اجازت اوغوښتو۔ هغوی ورته اوفرمایل وسله درسره واخله د بنی قریظه نه (چه یهودیان او دشمنان وو) خطره ده۔ نو هغهٔ ځان سره وسله واخسته۔ او کور ته لاړو۔ دا یو اوږد حدیث دے۔ (مسلم)

ف:۔ ددے نه ثابته شوه چه دخطرے په موقعه مسلمان ته دخپل ځان د حفاظت دپاره ځان سره جائز وسله کرځول ضروری دی۔

(۱۷) عن عبدالله بن مسعودؓ قال کنا یوم بدر کل ثلثة علی بعیر فکان ابو لبابةؓ وعلیؓ بن ابی طالب زمیلی رسول الله صلی الله علیه وسلم قال فکانت اذا جاءت عقبة رسول الله صلی الله علیه وسلم قالا نحن نمشی عنك قال ما انتما باقوی

د حضرت عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دے چه مونږ خلق دبدر (غزا) په ورځ درے درے کسان په یو یو اوښ سواره وو۔ او ابو لبابهؓ او حضرت علیؓ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره شریک سواره وو۔ وار په وار به څوک پیده تلو څوک به سواره وو۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیاده تلو وار به راغلو نو هغوی به عرض اوکړو ستاسو په ځای به مونږ پیاده لاړ شو۔ حضورؐ به اوفرمایل تاسو زما نه

منی وما انا باغنی عن الاجر منکما ۱۲ (ص ۳۳۹)

زیات تکړه نه ګیئی اوزه تاسونه د ثواب نه یم پرواه نه ګیم (یعنی پیاده تلو کښے چه کوم ثواب دے. هغه تاسو ته زما هم حاجت دے) (شرح السنته)

ف:- دے نه ثابته شوه چه د پیاده تلو عادت سائل هم پکار دی. زیاته آرام طلبی ښه نه ده -

(۱۸) عن عبد الله بن بریدهؓ قال قال رجل بفضالة بن عبید مالی اراك شعثا قال ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهانا عن کثیر من الارفاه قال مالی لا اری علیك حذاء قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یأمرنا ان نحتفی احیانا ۱۲ (ص ۳۸۲)

د حضرت فضاله بن عبید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به مونږ د پیرے آرام طلبئ نه منع کولو او راته به ئے حکم کولو چه کله کله بنیے ابله (بے پیزاره) هم کرځئ -

(۱۹) عن ابی حدادؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اخشوا شنوا وامشوا احفاة ۱۲ (مجمع ص ۳۸ ج ۱)

د حضرت ابن ابی حدادؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کلک شئ تنکه ګذاره کوئ - د سختئ سره ځان عادت کړی او بنیے ابله ګرځئ -

(جمع الفوائد از کشیر)

ف:- په دے کښے پیرے فائدے دی - مضبوطی، جفاکشی او آزادی -

(۲۰) عن حذیفةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا ینبغی للمؤمن ان یذل نفسه قالوا و کیف یذل نفسه قال یتعرض من البلاء لما لا یلیق الخ ۱۲ (ترمذی ص ۵۴ ج ۲)

د حضرت حذیفهؓ نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مسلمان ته نه بنائی چه خپل ځان ذلیل (سپک) کړی. چا عرض اوکړو یا رسول الله دے مطلب څه دے. حضورؐ اوفرمائیل ځان سپکول دادی چه د کوم مصیبت برداشت کولو طاقت نه لری هغے ته ورځکښه شی -

(ترمذی)

ف:- وجه ئے څرګنده ده. چه په داسے کولو پریشانی زیاتیږی. په دے کښے هغه ټول کارونه راځی کوم چه ئے د قابو نه بهر وی. بلکه که دچا مخالف دلاسه تکلیف خطره وی. نو د حاکم وخت په ذریعه د هغے دفع کول پکار دی. حاکم ئے خپله انتظام کوی او که تاسو ته دبدلے اخستو اجازت درکوی. او که خپله د حاکمانو د طرف نه څه د خفګان خبره پیښه شی. نو په تهذیب سره دخپل تکلیف اطلاع ورکول پکار دی. که بیا ئے هم هغوئ د دفع کولو څه انتظام او نکړو. نو مقابله ورسره مه کوئ. په عمل نه په ژبه نه په قلم. صبر کوئ او د الله تعالیٰ نه سوال کوئ چه دا پریشانی ختم کړی.

دا درے آیتونه او شل حدیثونه دی چه د آخری اوو نه علاوه ټول د مشکوٰة نه اخستی شوی دی.

نوټ:- (۱) د دے آیتونو او حدیثونو نه صفا ثابتیږی چه صحت، قوت او جمعیت (اطمینان) امن و امان او راحت مطلوب دی.

(۲) نو کوم کارونه چه په دے مقصد و نوکښے خلل اچوی نو قانون دا دے که دغه مقصد حاصلول واجب وی. او دا خلل سخت او یقینی وی نو په داسے کار عمل کول حرام دی. او که خلل یقینی نه وی. نو مکروه دی.

(۳) که بغیر د بنده د اختیار او ارادے نه خالص د الله د طرفه داسے څه واقعه پیښه شی. چه په هغے دا درے مقصده صحت، قوت، جمعیت برباد شی. نو په داسے مصیبت د الله د طرف نه اجر او ثواب ورکیدے شی. او په غیبی امداد سره ئے پریشانی ختمیږی. نو په داسے مصیبتونو صبر پکار دے. او خوشحالیدل پکار دی ځکه چه داسے واقعات ټولو نبیانو علیهم السلام او ولیانو او د خدائے نیکو بندیانو ته پیښ شوی دی. قرآن، احادیث او تواریخ د داسے واقعاتو نه ډک پراته دی.

یوولسم روح

دَ مانځه پابندی

په دے باب کښے یو څو آیتونه او زیات حدیثونه نقل کوو؛

(۱) قال اللّٰه تعالیٰ
یُقِیمُونَ الصَّلٰوۃَ (سورۃ بقرہ)

اللّٰه تعالیٰ د متقیانو په صفاتو کښے فرمائی؛
او داخلق مونځ پوره پوره پابندئ سره کوی۔

ف:- د اقامت په لفظ کښے په وخت ادا کول، همیشه ادا کول او په ښهٔ طریقه ادا کول ټول راځی۔

(۲) قال اللّٰه تعالیٰ
وَ اَقِیمُوا الصَّلٰوۃَ ط

د اللّٰه تعالیٰ فرمان دے
او مونځ پوره پابندئ سره ادا کوئ۔

ف:- په دے الفاظو (یعنی د اقامت په لفظ) د مانځه حکم قرآن مجید کښے ډیر زیات شوے دے۔ (لکه څنګه چه ف کښے بیان شو۔ دَ دے وسیعه معنیٰ ده۔ بله ژبه کښے دومره ټولے معنیٰ د پاره یو جامع لفظ نشته۔ نو هر ځائے کښے ترے پوره معنیٰ اخستل پکار دی)

(۳) یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا
اسۡتَعِیۡنُوۡا بِالصَّبۡرِ وَالصَّلٰوۃِ

اے ایماندارو (طبیعت نه دَغم بار سپکولو د پاره)
د صبر او مانځه نه مدد واخلئ۔

ف:- په دے کښے د مانځه یو خاص صفت بیان شوے دے (چه اطمینان او سکون پرے حاصلیږی) دے هر چاته هر وخت ضرورت دے۔

(۴) حَافِظُوۡا عَلَی
الصَّلَوَاتِ (دفیه بعده)
فَاِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا اَوۡ
رُکۡبَانًا۔ (سیقول)

د ټولو مونځونو خیال ساتئ (دے آیت په آخر کښے دی) بیا که تاسو په ولاړه یا په سورلئ روان یئ (څنګه چه ممکن وی نو قبلے ته برابر دی که نه وی او که رکوع سجده په اشاره کوئ) هم مونځ ادا کوئ (په دے سخته کښے سُد حفاظت کوئ۔ او ترک کوئ سُد مه)۔

ف :- سوچ اوکړئ د مانځه څومره سخت تاکید دے چه په داسے سخته کښے هم د قضا کولو اجازت نشته .

(۵) وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ (وبعده) فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِنْ وَّرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ

(سورة النساء)

که دشمن سره د مقابلے په وخت کښے خطره وی چه که ټول په مانځه اودریږئ نو دشمن به درباندے ناڅاپی حمله اوکړی نو په داسے حالت کښے پکار دی چه د جمعه د مانځه دپاڼه ټول دوه ډلے شئ چه یو ډله خو د امام سره په مانځه اودریږی او بله ډله د څوکئ کوی اود دشمن مقابلے ته د اودریږی بیا چه دا ډله سجده اوکړی یعنی یو رکعت پوره کړی نو دا ډله د څوکئ دپاره روستو شی اودوی په ځائے د هغه څوکیدارہ ډله د امام سره اودریږی پاتے یو رکعت د اوکړی داخو د دواړو ډلو یو یو رکعت شو - بل رکعت به داسے کوی چه امام دوه رکعته پوره کړی - سلام اوګرځوی نو دا دواړه ډلے به یو یو رکعت ځانته اوکړی. (داخو په هغه وخت کښے ده چه ټول مسافر وی قصر کوی - یا مونځ دوه رکعتی وی - که امام مقیم وی - څلور رکعته کوی - نو هر ډلے ته به دوه دوه رکعته اوکړی - او که دمابنام مونځ وی - نو پومبئ ډلے نه دوه رکعته او دوستئ ته به یو رکعت اوکړی .

ف :- سوچ اوکړئ مونځ څومره ضروری کار دے چه د داسے پریشانئ په وخت کښے هم د قضا کولو اجازت نشته - لیکن زمونږ د آسانئ دپاره ځے ورته طریقه کښے تبدیلی راوسته -

(۶) يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ (وبعده) إِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى (الى ان قال) فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا ۱۲

(سورة مائده)

اے ایماندارو کله چه تاسو مانځه ته پاڅئ (مخکښے د اودس او غسل حکم دے او بیا ارشاد دے) که تاسو ناروغه یئ (اوبه درته ضرر رسوی اود نورو عذرونو بیان دے چه یو پکښے د اوبو نه مونږ حالت هم دے) نو (په دے ټولو حالتونو کښے) تاسو په پاک خاوره تیمم کوئ . (مائده)

ف :- اوګورئ دنارو غټیا او اوږو نهٔ مونټو په حالت کښے د اودس او غسل په ځائے د تیمم اجازت اوشو. او الله تعالیٰ راته مونږ دومره آسان کړو چه که اوبه نه ومومئ نو تیمم وکړئ. او که نه ستاسو هم ګران وی نو په پروته هم جائز دے خو معاف کیږی نه.

(۷) وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۱۲ (واذا سمعوا)

(د شرابو او جوارئ د حرمت په وجه کښے ارشاد دے) او شیطان دا غواړی چه تاسو د شرابو او جوارئ په ذریعه د الله د یادو او مانځه نه (چه د الله د یادو ټولونه بهتره طریقه ده) منع کړی.

ف :- اوګورئ د مانځه څومره لوئے شان دے چه کوم څیز په دے کښے رکاوټ اچوی هغه حرام شو چه مانځه کښے خلل راځهٔ ئے.

(۸) فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ط (براة)

(دیو دا سے په حق کښے چه دهر قسم نه ضرر ئے اسلام او اهل اسلام ته رسولو (ارشاد دے) که دا خلق د کفر نه توبه وکاږی (یعنی مسلمانان شی) او داخل اسلام څرګند هم کړی مثلاً مونږ کوی زکوٰة ورکوی او ستاسو دینی رونړه شی نو دوئ ته به تیر کناهونه ټول معاف شی. (براة)

ف :- په دے آیت کښے مونږ د اسلام علامه ګرزولے شوے ده. تر دے چه که د یو کافر خولے چا کلمه نهٔ وی اوریدلی خو په مانځه لیدلے شوے وی نو د ټولو عالمانو فتوٰی ده چه مسلمان به ګڼلے شی - او د زکوٰة څهٔ خاص شکل نشته په دے وجه دا ئے څرګندونه علامه نهٔ ده.

(۹) فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ط (مریم)

(د نبیانو ؑ د یو ولے د ذکر نه پس د هغوئ د نالائقه ورستنیو ذکر کیږی چه) د دوئ نه پس نالائقه پیدا شو چه مونځونه ئے برباد کړو (دے نه لږ روستو فرمائی) دا خلق به ویر زر (په آخرت کښے) خپله تباهی اووینی (یعنی عذاب)

ف :- اوګورئ د مونږ بربادولو څومره سخت عذاب واورولے شو.

(۱) وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۱۲ (طٰهٰ)

اوخپلو متعلقینو ته دمانځه حکم ورکړه او پخپله ئے هم پابند شه۔

ف: - داحکم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه نورخلق ئے هم واوړی او په دے پوهه شی چه حضور ته داسے سخت تاکید دے نو بل څوک به څنګه معاف شی۔

دغه شان دا هم معلومه شوه چه څنګه خپله دمانځه پابندی ضروری ده۔ دغسے ئے خپل بال بچ ته هم تاکید پکار دے۔

دغه شان نورهم دیر آیتونه دی خو فی الحال دا کافی دی۔

احادیث: (۱) عن ابی هریرة رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ارایتم لو ان نهرا بباب احدکم یغتسل فیه کل یوم خمسا هل یبقی من دونه شئ قالوا لا یبقی من دونه شئ قال فذلك مثل الصلوٰة الخمس یمحو الله بهن الخطایا ۱۲ (ص۵۷)

دحضرت ابو هریره رض نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ که دچا (دکور) دروازے سره (جوخت) یو نهر وی او په هغے کښے څوک هره ورځ پنځه ځله لامبی نو آیا د هغه په بدن به چرته خیرے پاتے شی۔ خلقو عرض اوکړو نه۔ حضور صلی الله علیه وسلم او فرمائیل۔ دغه حال د پنځو سو ځلونو دے چه الله تعالیٰ دربانده ګناهونه معاف کوی۔

(بخاری و مسلم)

ف: - ددے نه دمانځه څومره فضیلت معلوم شو۔ او د مسلم په یو حدیث کښے ورسره د کبیره ګناهونو نه بچ کیدو شرط لګیدلے دے۔ خو بیا هم غټه خزانه ده۔

(۲) عن جابر رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بین العبد و بین الکفر ترك الصلوٰة ۱۲ (ص۵۸)

دحضرت جابر رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د بنده او د کفر ترمینځه بس دمانځه پریښو کسر دے (چه داکسر لرے شو یعنی بنده مونځ پریښو نو کفر ورته رانزدے شی۔ بهرحال لرے والے ئے ختم شی) (مسلم شریف)

ف :- سوچ اوکړئ - په مونځ پریښو څومره سخت وعید دے چه بنده کفر ته نژدے کوی.

(۳) عن عبد الله بن عمرو بن العاص عن النبی صلی الله علیه وسلم انه ذکر الصلوٰة یوما فقال من حافظ علیها کانت له نورا وبرهانا ونجاة یوم القیٰمة ومن لم یحافظ علیها لم تکن له نورا ولا نجاة وکان یوم القیٰمة مع قارون و فرعون وهامان و ابی بن خلف ۱۲ (ص۵۸)

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ د مانځه بیان کولو نو اوئے فرمایئل چه څوک چه د مانځه حفاظت اوکړی نو دا به د هغه ډیاره د قیامت په ورځ د نړا او د نجات (خلاصی) یوسند وی. او څوک چه د مانځه حفاظت او نکړی. نو د قیامت په ورځ به هغه ډیاره هیڅ د نړا نه وی. او نه به ئے د خلاصی څه ذریعه وی. او دا سړے به په دغه ورځ د قارون، فرعون، هامان (غوندے غټو کافرانو) او اُبئی بن خلف (د منافقانو مشر) سره ملګرے وی (یعنی په دوزخ کښے به د دوئی سره وی. اګرچه هغوئی به همیشه ډیاره وی او دئے به همیشه ډیاره نه وی - بیا هم د دوزخ یو ساعت هم ډیر سخت دے. الله د ټول مسلمانان په امان کړی) (احمد، دارمی، بیهقی، شعب الایمان)

(۴) عن بریدة رضی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم العهد الذی بیننا و بینهم الصلوة فمن ترکها فقد کفر (ص۵۸)

د حضرت بریدة رضی نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی زمونږ او د خلقو ترمینځه چه د وعدے یو څیز دے (یعنی د وعدے سبب) هغه مونځ دے. نوچاچه مونځ پریښو هغه کافر شو (یعنی مونږ به ورسره د کافرو په شان سلوک کوو. ځکه چه د اسلام ظاهری بنسه ورکښے پاتے نه شوه. ځکه چه جامه اوڅیبه د کافرو سره یو شان ده نو مونږ به ئے کافر ګڼو.)

(احمد، ترمذی، نسائی، ابن ماجه)

ف :- دے نه ثابته شوه چه مونځ ترک کول د کفر علامه ده. اګرچه د اسلام د نورو علامو په وجه ورباندے د کفر حکم او نه شی بیا هم یو مسلمان ته د کفر خاصه علامه اختیارکول څه وړه خبره نه ده (غټ جرم دے).

(۵) عن عمرو بن شعیبؓ عن ابیه عن جده قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مروا اولادکم بالصلوٰة وهم ابناء سبع سنین و اضربوهم علیها وهم ابناء عشر سنین ۱۲ (ص۵۸)

حضرت عمر بن شعیبؓ د خپل پلار نه او هغه ځ د نیکهٔ نه روایت کوی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی - خپل اولاد ته دمانځه حکم کوئ چه د اوو کالو شی او وربانده ځ وهئ (که نهٔ کوی) چه د لسو کالو شی -

(ابو داؤد)

(دا قول حدیثونه د مشکوٰة دی)

(۶) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال کان رجلان من بنی خضاعة اسلما مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فاستشهد احدهما واخر الاخر سنته قال طلحة بن عبید الله فرأیت المؤخر منهما ادخل الجنة قبل الشهید فتعجبت لذلك فاصبحت فذکرت ذلك النبی صلی الله علیه وسلم فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم الیس قد صام بعده رمضان وصلی ستة آلاف رکعة وکذا وکذا رکعة صلوٰة سنة وزاد ابن ماجة و ابن حبان فی اخره فلما بینهما ابعد مما بین السماء والارض ۱۲

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه د خزاعه قبیلے دوه سړی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے د مسلمانیدو د پاره حاضر شو په هغو کښے یو شهید شو او بل یو کال پس په خپل مرګ مړ شو - حضرت طلحه بن عبید الله وائی چه ما دا روسته مړ شوے په خوب کښے اولیدو چه دهغه شهید نه اول جنت ته لاړو - زهٔ ډیر حیران شوم - د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه مے تپوس اوکړو نو هغوئ اوفرمائیل ولے دهٔ د هغه شهید نه پس د رمضان روژے نهٔ وے نیولے ؟ او یو کال ځ زیاته موښځو نهٔ ووکړی (که تش فرض ، واجب او سنت مؤکد اوشمیرلے شی هم په کال کښے تقریباً لس زره رکعته جوړیږی یعنی د روژو او موښځونو په برکت د دهٔ ثواب د شهید نه زیات شو)

(احمد ، ابن ماجه ، ابن حبان ، بیهقی)

ف :- د ابن حبان او ابن ماجه په روایت کښې ورسره دا هم زیات دی چه حضورؐ اوفرمایئل دده دواړو په درجو کښې د زمکې او آسمان ترمینځه فاصله ده . او ظاهره ده چه دده زیاتی کښې دخل د مانځه دده . ځکه پکښې حضورؐ د مانځه دکثرت خاص ذکر فرمایئلے دے .

نو مونځ داسے برکتی شے دے چه دده په برکت د شهید نه هم زیاته مرتبه حاصلیدے شی .

(۷) عن جابر بن عبد اللّٰه رضؓ عن النبی صلی اللّٰه علیه وسلم قال مفتاح الجنة الصلوٰة ۱۲ منه

د حضرت جابر بن عبد اللّٰه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایئلی دی: د جنت کنجی مونځ دے .

(دارمی)

ف :- خاص د مانځه نوم اختلونه دا صفا معلومیږی چه په ټولو عبادتونو کښې مونځ زیات جنت نه بوتلونکے دے .

(۸) عن عبد اللّٰه بن قرطؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اول مایحاسب به العبد یوم القیٰمة الصلوٰة ینظر فی الصلوٰته فان صلحت فقد افلح و ان فسدت خاب و خسر ۱۲

د حضرت عبد اللّٰه بن قرطؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایئلی دی په قیامت کښې د ټولو نه اول چه د بنده سره دکوم څیز حساب کیږی هغه مونځ دے که هغه صحیح اوختو نو ټول حساب ئے صحیح دے . (کامیاب شو) اوکه داکم وړ وو نو ټول حساب ئے خراب شو او تاوانی شو .

ف :- معلومه شوه چه د مانځه برکت په ټولو عبادتونو کښې اثر کوی . دده نه زیات دلیل به بل څه وی د فضیلت دپاره .

(۹) عن ابن عمر رضی اللّٰه عنه قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم (فی حدیث) او لا دین لمن لا صلوٰة له

د حضرت ابن عمر رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایئلی دی چا سره چه مونځ نه وی (یعنی څوک چه مونځ نه کوی) هغه سره دین نشته . د

انما موضع الصلوٰة من الدين كموضع الرأس من الجسد ۱۲

مانځه او دُدين داسے نسبت دے لکه دسَر او نور بدن۔ کهٔ سَر نهٔ وی نو نور بدن بے روحه مړے دے۔ دغه شان کهٔ مونځ ورسره نهٔ وی نو نور عملونه ځُ یے روحه دی۔ (طبرانی، اوسط وصغیر)

(۱۱) عن حنظله الكاتب رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم من حافظ علی الصلوات الخمس ركوعهن و سجودهن و موقيتهن و علم انهن حق من عند الله دخل الجنة او قال وجبت له الجنة او قال حرم علی النار ۱۲

(ترغیب کلها علی ص۷)

د حضرت حنظلهٔ کاتب نه روایت دے چه ما د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی حضورؐ اوفرمائیل چاچه د پنځو مونځونو حفاظت اوکړو۔ یعنی د هغے رکوع سجدے او وخت ځُ پوره پوره خیال اوساتلو (څه کمے ځُ پکښے اونکړو) او دائے عقیده وه چه ټول مونځونه د الله تعالیٰ د طرفه حق دی۔ نو هغه به جنت ته ځی یائے دا اوفرمائیل د هغهٔ دپاره جنت مقرر دے یا داچه دوزخ پرے حرام دے (ددے ټولو الفاظو مطلب یو دے)۔ (الحمد)

دا حدیثونه د ترغیب دی۔

دا لسٔ آیتونه اولسٔ حدیثونه شو۔ نو اے مسلمانانو! اوس به هم د مانځه پابندی نهٔ کوئ۔

دولسم روح

جماعت جوړول اودهغه حقونه ادا کول

(په دے کښے جماعت جوړولو کښے مالی یا بدنی امداد کول۔ زمکه ورکول د مات کوم مرمت کول ټول داخل دی)

(په حقونو کښے د ټولے خبرے راځی۔

(۱) په جماعت کښے د جمعے مونځ کول ۔ (۲) جماعت پاک ستره ساتل ۔ (۳) د جماعت ادب عزت کول ۔ (۴) د هغے خدمت کول ۔ (۵) او پکښے ویره ویره حاضری ورکول ۔ ددے متعلق یوځو آیتونه او یوځو حدیثونه لیکو ۔

(۱) قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَ مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ یُّذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ وَ سَعٰی فِیْ خَرَابِهَا ۱۲

(سورہ بقرہ)

اللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی او د هغه سړی نه زیات ظالم به څوک وی چه د اللّٰه تعالیٰ په جماعتونو کښے د ذکر وعبادت بندیز کوی۔ او د هغے ورانولو کښے کوشش کوی ۔

(۲) اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَی الزَّکٰوةَ وَلَمْ یَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰۤی اُولٰٓئِكَ اَنْ یَّکُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِیْنَ ۝

(سورہ توبه)

د اللّٰه تعالیٰ جماعتونه (په دنیا) آبادول د هغه چا کار دے څوک چه په اللّٰه او د قیامت په ورځ ایمان لری او د مانځه پابندی کوی او زکوٰة ورکوی ۔ او بے د اللّٰه نه نور دهیڅا نه نه ویریږی ۔ نو داسے خلق د طمع لری (وعده ده) چه خپل مقصود (جنت نجات) ته به اورسی۔

ف: په دے آیت کښے جماعت آبادوونکی ته زیرے دے ۔ د ایمان اوجنت ۔ لکه د حضرت ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی۔

تاسو چه اوویني چه یو سړے دجماعت خیال ساتی (یعنی دجماعت خدمت کوی او جمع ته حاضیږی) نو تاسو په ایماندارئ گواهی ورکوئ ځکه چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ (الایه) آیت دے۔ چه اوس ئے ترجمه تیره شوه۔ (ترمذی)

(۳) فِیْ بُیُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَ یُذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ (۱۲)

(اهل هدایت) په داسے کورونو کښے عبادت کوئ دے کومو په باره کښے چه الله پاک حکم کړے چه ادب دِ ئے کړلے شی او ذکر دِ پکښے کیږی۔

ف:- دے دے کورونو نه مراد جماعتونه دی۔ او دے دے ادب دا دے کوم چه په مخکښے حدیثونو کښے راځی۔

(۱) عن عثمان بن عفان رضی الله عنهٗ قال عرض قول للناس فیه حین بنی مسجد رسول الله صلی الله علیه وسلم .... وانی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول من بنی مسجدا یبتغی به وجه الله بنی الله له بیتا وفی روایة بنی الله له مثله فی الجنة۔

دحضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. څوک چه یو جماعت جوړ کړی او غرض ئے د الله تعالیٰ رضا او خوشحالی وی۔ (بل څهٔ خراب غرض ئے نهٔ وی) الله تعالیٰ به هغهٔ دپاره دغه شان کور په جنت کښے جوړ کړی۔

(بخاری ومسلم)

ف:- دے حدیث شریف نه دَ نیت د صفایئ تاکید هم معلوم شو۔ که نوے جماعت نهٔ وی۔ د زور جماعت چا مرمت اوکړو هم دغه ثواب ئے دے ځکه چه حضرت عثمانؓ داحدیث د مسجد نبوی د مرمت په وخت بیان کړے وو۔ د نورو حدیثونو نه هم دغه شان معلومیږی۔

(۲) عن جابر بن عبد الله ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من بنی مسجد

د حضرت جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے څوک چه یو جماعت جوړ کړی که هغه د قطات (غوندے وړے) مرغئ د جالے برابر یا دے نه

الفحص قطاة او اصغر بنى الله بيتا فى الجنة ۱۲ (ترغیب ص۶۵)

هم وړوکے وی الله تعالیٰ به هغهٔ ته په جنت کښے کور جوړ کړی۔ (جوړولو کښے مالی امداد او خالی خدمت دواړه راځی)

(۳) رُزین رضی الله عنه عن ابی سعید رضی الله عنه فکان صلی الله علیه وسلم یحمل اللبن معهد ۱۲ (جمع الفوائد ج ۱ ص۶۶)

رُزین رضی الله عنه د حضرت ابو سعید رضی الله عنه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مسجد نبوی جوړولو په وخت خپله کچه خښته راچولے۔ (ابن حزیمه و ابن ماجه)

ف: دے حدیث نه دجماعت په جوړید و کښے د چنده ورکولو فضیلت هم معلوم شو۔ حکه چه دجالے برابر جوړید و مطلب هم دغه کیدے شی چه پوره جماعت ځُ نهٔ وی جوړ کړے۔ په جوړولو کښے ځُ دومره قدرے شرکت کړے وی۔ چه په هغه رقم دجالے برابر ځائے جوړید ے شی۔ او پورتنی حدیث کښے چه راغلی دی چه دغه شان کور به ورته په جنت کښے جوړ کړے شی۔ نو د هغه دا مطلب نهٔ دے چه دجالے هومره وړوکے کور به ورته په جنت کښے جوړ شی۔ تشبیه په وړوکوالی کښے نهٔ ده بلکه تشبیه په اخلاص کښے ده۔ څنګه چه د هغه سړی اخلاص وی هغه هومره به په کور کښے فراخ وی۔

(۴) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من بنی لله مسجدا بنی الله بیتا او سع منه

د عبد الله بن عمر رضی الله عنهٔ نه روایت دے چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چا چه د الله د پاره جماعت جوړ کړو الله به ورته په جنت کښے د هغے نه ډیر فراخ کور جوړ کړی۔ (احمد)

(۵) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من بنی بیتا یعبد الله فیه من مال حلال بنی الله له بیتا فی الجنة من

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه د عبادت د پاره په حلال مال څه آبادی اوکړی۔ (یعنی جماعت جوړ کړی)۔ الله تعالیٰ به هغهٔ ته په جنت کښے د

درّو یاقوت ۱۲
(کلهما علی ص ۶۵)

یا قوتو او مرغلرو کور جوړ کړی۔
(طبرانی، اوسط)

ف:- دا هم د جماعت په آداب کښے دے چه حرام مال د پکښے نه ګډوی۔ حرامه پیسه وی که ملبه که زمکه - لکه څنه خلق چه په شوق کښے پردی زمکه باندے د مالک نه بے اجازے جماعت جوړ کړی او بیا که ځوک منع کوی - نو جنګ ته تیار وی- او دا په اسلام غیرت او د دین خدمت ګڼی - بیا خاص په هغه وخت که د زمکے مالک غیرمسلم وی- خو د کفر او اسلام مقابله ترِ جوړه شی - نبۍ پوهه شی چه دا سے جماعت د شریعت په حکم هډو جماعت نه دے۔ ترڅو چه مالک په خپله رضا زمکه جماعت ته وقف نه کړی۔

(۶) عن ابی سعید رضؓ قال کانت سوداء تقم المسجد فتوفیت لیلا فلما اصبح رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اخبر بها فقال الا آذنتمونی فخرج باصحابه فوقف علی قبرها فکبر علیها والناس خلفه و دعا لها ثم انصرف ۱۲

د حضرت ابو سعید رضؓ نه روایت دے چه یوه توره بنځه وه۔ (شاید حبشنه وه) چه جماعت به ځ جارو کولو۔ یو شپه هغه مړه شوه - چه سحر شو نو نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم خبر کړے شو - هغوئ او فرمائیل تاسو زه ولے خبر نکړم - بیا د اصحابو رضؓ سره لاړو د هغے قبر ته اودریدو - تکبیر ځ اوکړو بیا ځ دعا اوکړه او واپس شو (د جنازے مونځ ځ اوکړو)
(ابن ماجه و ابن خزیمه)

(۷) وفی روایة ثم قال اے العمل وجدت افضل قالوا یا رسول اللّٰه اتسمع قال ما انتم باسمع منها فذکر انها اجابته قم المسجد ۱۲

او په یو روایت کښے دی تپوس ځ ترے نه اوکړو چه تا خپل کوم عمل زیات افضل اومونتو - هغے جواب ورکړو جماعت جارو کول۔
(ابو الشیخ اصفهانی)

ف:- اوکورئ د جماعت جارو کولو په برکت رسول اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم د یوه کمنا مے بنځے څومره ډیر قدر اوکړو - چه د هغے د وفات خبر نه ورکولو ځ د اصحابو رضؓ نه

کلمه اوکړه- بیائے دهغه په قبر د جنازے مونځ اوکړو - بیا د حضورؐ په پوښتنه هغه خپله د جماعت جارو کولو فضیلت بیان کړو- افسوس دے چه نن صبا خلق جماعت جارو کول سپک کار ګڼی-

(۸) عن ابی قرصافةؓ انه سمع النبی صلی الله علیه وسلم قال و اخراج القمامة من المسجد مهور الحور العین ۱۲

(ترغیب کلهاعلی ص۶۶)

د ابو قرصافهؓ نه په اوږد حدیث کښے روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د جماعت صفائی کول د بنائسته غټو سترګو والا حورو مهر دے-

(طبرانی کبیر)

(۹) عن ابی سعید الخدریؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اخرج اذی من المسجد بنی الله له بیتا فی الجنة ۱۲

د حضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت دے- چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چا چه د جماعت نه د اسے شے لرے کړو چه خلقو ته ترے تکلیف وو- لکه اغزی یا ډکی یا کانړی شکے وغیره الله تعالیٰ به ورته په جنت کښے کور جوړ کړی-

(ابن ماجه)

(۱۰) وعن عائشة رضی الله عنها قالت امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ببیتًا المساجد فی الدود وان تنظف و تطیب ۱۲

د حضرت عائشے ایښی رضی الله عنها نه روایت دے چه مونږ ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم په هره محله کښے د خپل جماعت جوړولو حکم راکړے دے او د هغے د پاک اوصفا ساتلو حکم ئے هم کړے دے-

(احمد، ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه، ابن خزیمه)

ف:- پاک ساتل دا دے چه ناپاک بنده ناپاکه جامه، بدبویه تیل وغیره د ډکښے نه وی- اوصفا دا دے چه خیچن د نه وی-

(۱۱) عن واثله بن الاسقع ان النبی صلی الله علیه وسلم قال (فی الحدیث الطویل)

د حضرت واثله بن الاسقعؓ په یولوئے حدیث کښے روایت کوی- چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته فرمائیلی دی- چه په

خَيْرُهَا فِي الْجَمْعِ - ۱۲
كَلَاهُمَا عَلَى شَ

جماعتونو کښې هره جُمعه د خوشبویۍ لوګے کوئ.
(لکه عود اګربتی وغیره).

(ابن ماجه ، کبیر ، طبرانی)

ف:۔ د جُمعې ورځ حاضرۍ ضروری نه ده. خو دا په دے مصلحت یاده شوې ده چه په دے ورځ جماعتونو کښې کښره کوونکې ډیره وی. هر قسم خلق پکښې راغلی وی. چه په دغه ورځ خوشبوئ لوګے شوے وی. نو چاته به تکلیف نه وی.

(۱۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا رأیتم من یبیع او یبتاع فی المسجد فقولوا لا ارجح الله تجارتك اذا رأیتم من ینشد ضالة فقولوا لارد الله علیك و فی روایة قبلها فان المساجد لم تبن لهذا ۱۲

(مسلم وغیره ترغیب شَ)

دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چاچه څوک په جماعت کښې په سوداسودا اولیدو نو ورته اووایئ خدائے دے پکښې فائده درنه کړی. او چه څوک اووینئ چه د خپل ورک څیز تلاش کولو دپاره جماعت کښې چغه وهی. نو ورته وایئ خدائے دِ ئے هیچرے درنه کړی.

(ترمذی، نسائی، ابن خزیمه)

او په یو روایت کښې ورسره دا الفاظ هم دی چه "جماعتونه د کارونو دپاره نه وی جوړ شوی".

(مسلم، ابوداؤد، ابن ماجه)

ف:۔ مطلب دغه ورک څیز تلاش دے. کوم چه بهر ورک شوے وی. او دے دپاره په جماعت کښې آوازونه کوی چه دلته د هر ځائے خلق جمع دی. څوک به ئے پته راکړی. دا خبره د تنبیهه دپاره دی. (چه بیا ماسے کار نه کوی). اوکه دجنګ جګړے خطره وی پکښې نو بیا دغه وینا دِ په زوره نه کوی. زړه کښې دِ اووائی په دے حدیث کښې د جماعت د باطنی ادب خیال ساتلو حکم دے. چه جماعت د الله تعالیٰ د ذکر و عبادت دپاره خاص دے. دلته د دنیا کارونه (د دنیا خبرے) نه کوئ.

(۱۴) عن ابن عمر رضی الله عنهما

دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے

ان النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال خصال لا ینبغین فی المسجد لا یتخذ طریقا ولا یشهر فیه سلاح ولا ینضض فیه بقوس ولا ینشر فیه نبل ولا یمر فیه بلحم نی ولا یقرب فیه حد ولا یقض فیه من احد ولا یتخذ سوقًا

چه نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلی دی یو څوکا دونه دی چه په جماعت کښے ئے کول بنه نه دی۔ (۱) په جماعت کښے لاره مه جوړه وئی لکه څنه خلق چه د لوئے چکر نه پرے کیږی و دپاره په جماعت کښے بل طرف ته ووځی (۲) او په جماعت کښے توره مه مړئی۔ او (۳) لینده پکښے مه راکاږئی اوغشی پکښے مه خورئی او اومه غوښه ورته مه رانسه باسئی مه ورکښے چا ته سزا ورکوئی۔ او مه ورکښے دچا نه بدله اخلئی (یعنی شرعی حدود و قصاص ډِ هم په جماعت کښے نه ئی اخستے) او مه ترے بازار جوړ وئی - (سود سودا په کښے مه کوئی۔) (ابن ماجه)

ف:- دا ټول لے خبرے د جماعت د ادب نه خلاف دی۔

(۱۴) عن عبد اللہ ابن مسعود رضی اللہ عنه قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم سیکون فی اخر الزمان قوم یکون حدیثهم فی مساجد هم لیس اللہ فیهم حاجة ۱۲

د حضرت عبد اللہ ابن مسعود رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللہ علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه په آخره زمانه کښے داسے خلق پیدا شی چه خپله د دنیا خبرے به په جماعتونو کښے کوی نو اللہ تعالیٰ به دداسے خلقو هیڅ پرواه نه کړی۔ (یعنی خوشحاله به ترے نه وی)۔ (ابن حبان)

ف:- په جماعت کښے د دنیا خبرے کول بے ادبی ده۔

(۱۵) عن عبد اللہ بن عمر رضی اللہ عنه قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم..... الخ

د حضرت عبد اللہ بن عمر رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللہ علیه وسلم فرمائیلی دی۔ څوک چه د جمعے ماخښه دپاره جماعت ته ځی نو هغه ته به په یو قدم یو ګناه معاف کیږی او په بل قدم به یو نیکی لیکلے شی۔ په تلو کښے هم او واپس راتلو کښے هم۔ (احمد، طبرانی، ابن حبان)

ف:- د اللہ تعالیٰ څومره لوئے رحمت دے چه جماعت ته په تلو کښے هم ثواب دے او بیا واپس کورته راتلو کښے هم هغه شان ثواب دے۔

(۱۶) عن ابی الدرداء رضی اللّٰہ عنہ عن النبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم قال من مشی فی ظلمۃ اللیل الی المسجد لقی اللّٰہ عزوجل بنور یوم القیٰمۃ

دحضرت ابو درداء رضؓ نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه د شپے په تیارۀ کښے جماعت ته ځی - د قیامت په ورځ به اللّٰہ تعالیٰ سره په "نور" کښے ملاقات کوی۔ (طبرانی)

(۱۷) عن ابی هریرة رضی اللّٰہ عنه قال سمعت رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم یقول سبعة یظلم اللّٰہ فی ظله یوم لا ظل الا ظله الامام العادل و شابٌ نشأ فی عبادة اللّٰہ عزوجل و رجل قلبه معلق بالمسجد الخ ۱۲

دحضرت ابو هریره رضی اللّٰہ عنه نه روایت دے چه ماد رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم نه اوریدلی دی. چه اووۀ کسانو ته به اللّٰہ تعالیٰ په خپل سویری کښے ځائے ورکړی په هغه ورځ (قیامت) چه بے د اللّٰہ تعالیٰ د سویری نه به بل سوری نه وی په دے اووۀ کښے یو هغه سړے هم دے چه زړۀ ئے جماعت سره تړلے وی۔ (بخاری ومسلم)

(یعنی جماعت کښے دیو مونځ کولو نه پس د بل ماغه په انتظار وی چه بیا به جماعت ته ځم) گویا زړۀ ئے په جماعت کښے دے۔ او د ضرورت په وجه بهر ته راوځے دے)

(۱۸) عن انس رضی اللّٰہ عنه قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم ایاکم وهذه البقلتین المنتنتین ان تاکلوهما و تدخلوا مساجدنا فان کنتم لا بد اٰکلوهما فاقتلوهما بالنار قتلا ۱۲

دحضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمائیلی دی چه دا دوۀ بدبویه ترکاړی مو خوړلی وی (پیاز او اوبه لکه نور وحدیثو نو کښے چه راځی - نو جماعت ته تلو نه ځان ساتئ - اوکه خامخا دے د خوړلو ضرورت وی نو (دے بد بوئی) په اور وژنئ - یعنی پخے ئے خورئ - کچه مه خورئ۔

(طبرانی)

(۱۹) عن ابی امامة عن النبی صلی اللّٰہ علیه وسلم قال من عذا الی المسجد لا یرید الا ان یتعلم خیرا او یعلمه کان له کاجر حاج تاما حجته ۱۲

دحضرت ابو امامهؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه جماعت ته خالص په دے نیت ځی چه دین خبره زده کړی یا ئے بل ته اوښائی نو هغه ته به د یو ډیر کولو هومره ثواب ورکیدے شی۔ (طبرانی)

(ترغیب ص ۳۵)

ف:- دوے نه معلومه شوه چه جماعت څنګه چه مونږ دپاره د عبادت ځائے دے. دغه شان دین زده کولو ځائے هم دے.

نو په جماعت کښے داسے سړی له اوسیدل پکار دی. څوک چه خلقو ته دین خبرے بنائی. داټول حدیثونه د "ترغیب" نه اخستی شوی دی. بے د دوو حدیثونو نه چه هغے سره مشکوٰة اوجمع الفوائد لیکلی دی.

دستورالعمل (دکار طریقه)

کوم چه دوے آیتونو اوحدیثونو نه ثابتیږی دادے:-

(۱) په هریو وړوکی کلی کښے دهغے ضرورتیا تو مناسب جماعت جوړول ضروری دی. (۲) لیکن داجماعت په حلال مال اوپه حلاله زمکه جوړول پکار دی.

(۳) دجماعت ادب کول ضروری دی - یعنی پاک سُتره ساتل، جاروکول او نور ضروری خدمت، دبدبو په څیزونو نه بچ کول. د دنیا خبرے پکښے نه کول.

(۴) دکلی ټولو سړو ته پکار دی چه د جُمع ماښځه ته جماعت ته راځی. اوبے د خاص عذر نه د جُمع مونځ نه قضا کوی. په دے کښے یو فائده دا هم ده چه خپلو کښے تعلق زیاتیږی دیو بل دغم درد نه خبریږی. د مالک رضی الله عنه د حدیث نه دا هم ثابتیږی چه یوه ورځ حضرت عمر رضی الله عنه د سحر په ماښځه کښے سلیمان بن ابی حشمه رضی الله عنه اونه لیدو. چه بازار ته تلو د سلیمان رضی الله عنه کور په لاره کښے وو. د هغه د مور نه ئے تپوس اوکړو چه نن سلیمان رضی الله عنه د سحر ماښځه کښے نه وو الخ.

(۵) په جماعت کښے بنه عالم ساتل پکار دی. چه دکلی خلقو ته د دین خبرے بنائی.

(۶) کله چه وزګار یئ نوجماعت کښے کینئ خو د دنیا خبرے مه کوئ. څه د دین کار (عبادت، ذکر) یا د دین خبرے کوئ. که ټول خلق د دے پابندی اوکړی نو د ثواب نه علاوه د جماعت جُمع به هم درنه شی. او دکلی اتفاق او طاقت به هم زیات شی.

تنبیه په حدیثونو کښے صفا راغلی دی. چه زنانه دپاره کور کښے د ماښځه ثواب د جماعت نه زیات دے.

دیارلسمد روح

د اللّٰه تعالیٰ ذِکر ډیر ډیر کول

یعنی څومره چه کیدے شی د اللّٰه تعالیٰ ذکر کول - په قرآن اوحدیث کښے ډیر حکم هم دے - او فضیلت او ثواب هم - اوځه ګران کار هم نه دے - نو په داسے آسان کار کښے ناراستی اوبے پروائی کول نافرمانی اوغټ ثواب بربادول اوخپل غټ نقصان کول دی - داځومره بده خبره ده - بیا په اللّٰه یادولو کښے نه ځه د شمار پابندی شته نه د وخت - نه د تسبو ساتلو نه د چغو وهلو - نه د اودس پابندی شته ، نه قبلے ته مخ کولو - نه د خاص ځائے کیناستو - نه په یوځائے کیناستو - هر قسم آزادی او اختیار دے نو بیا ورکښے څه ګران شو ؟

البته که څوک په خپله خوښه تسبے ساتی - د شمار یاد ساتلو دپاره - یا دِے دپاره چه تسبو سره ذکر یادیږی - اوچه تسبے نه وی نو غافل کیږی - نو په دے خیال که څوک تسبے ساتی خیر دے بلکه بهتر ے دی - او دا وهم نه کوی چه تسبو ساتلو کښے ریا راځی - ریا خو د نیت شے دے - که څوک په دے خیال ذکر کوی چه خلقو ته ښه سړے ښکاره شم نو بے تسبو هم ریا ده - او که زړه کښے ے دا خیال نه وی نو په تسبو نه ریا کیږی - د ریا په وهم باندے ذکر پریښودل د شیطان دهوکه ده - په دے ټکئ ے ذکر نه پاتے کوی -

او شیطان دا دهوکه هم ورکوی چه هرکله زړه دِ د دنیا په کارونو کښے ښبتے دے نو په ژبه د خدائے نوم اخستو کښے څه خیر دے ؟ په دے ښه پوهه شئ چه دا د شیطان دهوکه ده - څوک چه د ذکر شروع کولو په وخت زړه کښے دا نیت اوکړی چه خالص د اللّٰه د رضا او ثواب دپاره د اللّٰه نوم اخلم - نوکه د ذکر په دوران کښے ے خیال بل خوا لاړ شی خو نیت ے نه وی بدل شوے نو هغه ته برابر

ثواب ورکیږی شی. البته کوم وخت چه د نورو کارونو نه خالی وی - په هغه کښه زړهٔ هم ذکر ته متوجه اوساتی او هیڅ فضول خیالات اوبی باد ے قلب زړهٔ ته نهٔ راولی نو زیات ثواب به ے کیږی. اوس مونږ د ذکر په باره کښه یو څو آیتونه او حدیثونه لیکو.

آیات (۱) قال الله تعالیٰ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ (سوره بقره)

الله تعالیٰ فرمائی تاسو ما یاد ساتئی - زهٔ به (په خپل رحمت) تاسو یاد ساتم - (بقره)

(۲) الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ (آل عمران)

دا ے خلق (چه په هر حال کښه) الله تعالیٰ یاد ساتی په ولاړه هم په ناسته هم په پروتی هم - (آل عمران)

(۳) وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ

(سوره اعراف)

خپل رب یاد ساته په زړهٔ کښه (په غلی آواز وی) عاجزئی سره او ویرے سره (اوکه) په زوره آواز د چغے نه کم (هم دغه شان په عاجزئی اوخوف سره) سهار او مابنام (یعنی همیشه) د همیشه یاد مطلب دا دے چه غافل اوبے پروا نهٔ وی.

(اعراف)

ف: دیر په زوره ذکر کولو کښه څهٔ خاص ثواب نشته - لیکن کهٔ یو د شریعت پابند بزرګ چاته د علاج په طور په زوره ذکر اوښئی نو جائز دے. او هغه علاج دا دے چه د خُنه کسانو په زړهٔ باندے په زوره ذکر زیات اثر کوی - لیکن دا خیال ساتل پکار دی چه په دے د بل چا عبادت یا په خوب کښه نقصان نهٔ راځی - (یعنی بل بنده ته ترے تکلیف نهٔ وی) کهٔ بل بنده ته تر تکلیف رسی نو په زوره ذکر ثواب نهٔ دے - ګناه دے.

(۴) الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ

(سوره رعد)

(ګوم خلق چه الله تعالیٰ خپل ځان ته نزدے کړی) هغه خلق دے چه ایمان را وړی - او د الله پاک په ذکر ئے د زړونو تسلی کیږی - بنهٔ پوهه شئی چه د الله په ذکر کښه (دا خاصیت دے) چه زړونه پرے اطمینان او سکون حاصلیږی (په دے طریقه په دے ذکر د

بنده تعلق د الله پاک سره زیات شی او دغه تعلق د اطمینان او سکون بنیاد دے۔

(۵) رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ

(سورہ نور)

په جماعتونو کښے داسے خلق د الله تعالیٰ پاکی بیانوی چه نه ډغوی دغه شیز اخستل غافل کوی او نه ئے دغه شیز خرڅول د الله د ذکر نه او مونځ کولو او زکوٰة ورکولو نه غافل کوی۔ (نور)

(۶) وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ ط

(سورہ عنکبوت)

(بعد)

اود الله تعالیٰ ذکر ډیر لوئے شے دے (یعنی په دے کښے ډیر فضیلت دے)

(۷) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا

(سورہ احزاب)

اے ایماندارو د الله ذکر ډیر ډیر کوئ۔

(احزاب)

(۸) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ ط

اے ایماندارو تاسو دستاسو مالونه او اولاد د خدائے د یاد نه غافل نه کړی۔ (سورہ منافقون)

(۹) وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ط

(سورہ مزمل)

دخپل رب نوم اخله او د ټولو نه جدا خالص د هغه شه۔ (د جدا کیدو مطلب دادے چه د الله تعالیٰ تعلق په نورو ټولو تعلقاتو غالب وی)

(۱۰) قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ط وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ط

(اعلیٰ)

کامیاب شو هغه څوک چه (د خرابو عقیدو نه او خرابو اخلاقو نه) پاک شو۔ او خپل رب یاد وی۔ دخپل رب ذکر کوی او مونځ کوی۔ (اعلیٰ)

احادیث (۱) عن ابی هریرةؓ وعن ابی سعیدؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یقعد قوم یذکرون الله الا حفتهم الملٰئکة وغشیتهم الرحمة ونزلت علیهم السکینة وذکرهم الله فیمن عنده ۱۲

د حضرت ابو هریرهؓ او حضرت ابو سعیدؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ څوک چه د الله ذکر نه کینی فرښتے ترے راچاپیره شی۔ او د الله پاک رحمت پرے اوغوړیږی۔ او زړه ته ئے سکون اورسی۔ (مسلم)

(۲) عن ابی موسیٰ رض قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم مثل الذی یذکر ربہ والذی لایذکر مثل الحی والمیت ۱۲

د حضرت ابی موسیٰ اشعری رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی څوک چه د الله پاک ذکر کوی او څوک چه نه کوی د هغوئ مثال د ژوندی او د مړی په شان دے (یعنی ذکر کوونکے د ژوندی په شان دے او نه کوونکے د مړی په شان دے) حکمه چه د ژوند اصل روح د الله تعالیٰ ذکر دے ۔ چه دا نه وی نو داسے ژوند د مړو په شان دے چه روح پکښے نشته ۔ (بخاری و مسلم)

(۳) عن ابی هریرة رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انا معه اذا ذکرنی فان ذکرنی فی نفسه ذکرته فی نفسه و ان ذکرنی فی ملاء ذکرته فی ملاء خیر منهم ۱۲
(کلها علی ص ۱۹۶)

د حضرت ابو هریرة رض نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه الله تعالیٰ فرمائی څوک چه زما ذکر کوی زه د هغه سره یم ۔ بیا که هغه زما ذکر په زړه کښے کوی نو زه ځم په زړه کښے یا دوم اوکه هغه زما ذکر په جمع کښے په زوره کوی ۔ نو زه هغه په داسے جمع کښے یا دوم چه هغه د دے جمع نه بهتره ده (یعنی د فرشتو او پیغمبرانو په جمع کښے) (بخاری و مسلم)

ف: د الله په زړه کښے یادول داسے نه دی لکه زمونږ په شان ۔ بلکه مطلب ئے دا دے چه بل څوک ترے خبر نه شی (صرف د الله او بنده ترمینځه) لکه په دویم حالت کښے چه ترے جمع خبر شی ۔ او د هغے ډله نه بهتر کیدو مطلب دا دے چه د هغے اکثریت په دے کښے د اکثرو نه بهتر وی ۔ دا ضروری نه ده چه د هغے هر هر کس د دے ډلے د هر هر کس نه بهتر وی ۔ مثلاً که په دنیا کښے هغه د ذکر ډله داسے وی ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم پکښے موجود وو ۔ لکه د اصحابو رض په زمانه کښے چه به وو ۔ نو دے نه دا نه ثابتیږی چه کنے یوه فرشته یا یو پیغمبر د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په مرتبه کښے زیات وو ۔

(۴) عن انس قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم اذا مررتم برياض الجنة فارتعوا قالوا وما رياض الجنة قال حلق الذكر ۱۲

د حضرت انس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمائیلی دی تاسو چه د جنت په باغونو تیریږئ نو دهغه میوه په چټه خوږئ . خلقو عرض اوکړو یا رسول اللّٰہ د جنت د باغونو مطلب څه دے . حضور او فرمائیل د ذکر حلقه اوجمع . (ترمذی)

(یعنی چه د ذکر په حلقو تیریږئ نو تاسو هم پکښه شرکت کوئ . په هغه مه خښئ)

(۵) عن ابی هريرة رضی قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم من قعد مقعدا لم يذكر الله فيه كانت عليه من الله ترة ومن اضطجع مضجعا لا يذكر الله فيه كانت عليه من الله ترة ۱۲

(كلها على ص ۱۹۵)

د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه په داسے ځائے کښ کینی چرته چه د اللّٰہ تعالیٰ ذکر نه کیږی . په هغه به د اللّٰہ تعالیٰ د طرفه تاوان وی . اوځوک چه په داسے ځائے کښ اوده کیږی چرته چه د اللّٰہ تعالیٰ ذکر نه کوی . نو په هغه به د اللّٰہ تعالیٰ د طرفه تاوان وی .

ف : مطلب دادے چه د مسلمان هیڅ ځائے او هیڅ وخت د ذکر نه خالی نه دے پکار .

(۶) عن عبد اللّٰہ بن بسر رضی ان شرائع الاسلام قد كثرت علي فاخبرني بشئ اتشبث به قال لا يزال لسانك رطبا من ذكر الله ۱۲

د عبد اللّٰہ بن بسر رضی نه روایت دے چه یوسړی عرض اوکړو یا رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم د اسلام شرعی کارونه په ما ډیر شو . (یعنی نفلی کارونه ، هګه چه فرضی خو دومره ډیر نه دی ما ته ځے یاد سائل او عمل پرے کول گران شو) نو ته راته یو داسے کار اوښایه چه زه هغه کوم او دا ټول پکښه راشی . حضور ورته او فرمائیل (په دے پابند شه) چه ستا ژبه همیشه د اللّٰہ پاک په ذکر تر وی (یعنی چلیږی) .

(ترمذی ، ابن ماجه)

(۷) عن ابی سعید رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم سئل ای العباد افضل و ارفع درجة عند الله یوم القیمة قال الذاکرون الله کثیرا والذاکرات قیل یا رسول الله ومن الغازی فی سبیل الله قال لو ضرب بسیفه فی الکفار والمشرکین حتی ینکسر و یختضب دما فان الذاکر الله افضل منه درجة ۱۲ (کلاهما علی ص ۱۹۸)

د حضرت ابو سعید رض نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوشو چه په بنده یانو کښے د څو لونه افضل او د قیامت په ورځ الله تعالیٰ سره قرب کښے بریالے څوک دے حضور اوفرمائیل کوم سړی چه د الله ذکر ډیر ډیر کوی او کوم بنځے چه د الله ذکر ډیر ډیر کوی. عرض اوکړے شو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوڅوک چه د خدائے د پاره جهاد اوکړی؟ (آیا هغه افضل نهٔ دے) حضور اوفرمائیل څوک چه کافرانو او مشرکانو سره دا سے جنګ اوکړی چه توره ئے ټوټه ټوټه شی او بدن د زخمونو څخه په وینو سور پور شی - د الله ذکر کوونکے په درجه کښے دده نه هم زیات دے۔ (احمد، ترمذی)

ف: وجه ئے ظاهره ده چه جهاد خو د الله د ذکر جاری کولو د پاره فرض شوے دے۔ د سورة حج په آیت اَلَّذِیْنَ اِنْ مَّکَّنّٰهُمْ فِی الْاَرْضِ الآیه کښے صفا بیان شوے دے. نو د الله ذکر اصل شو (او جهاد د هغے تابع) او د اصل بهتر او افضل کیدل ظاهر دی.

(۸) عن عبد الله بن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان یقول لکل شئ صقالة وصقالة القلوب ذکر الله ۱۲

د حضرت عبد الله بن عمر رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د هر شی د پاره یو صیقل وی او د زړونو صیقل د الله ذکر دے (یعنی د زړونو صفائی په ذکر کیږی)

(بیهقی)

(۹) عن ابن عباس رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الشیطان جاثم علی قلب ابن آدم فاذا ذکر الله خنس و

د حضرت عباس رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی شیطان د بنده په زړه پورے جوخت ناست وی کله چه هغه د الله ذکر شروع کړی شیطان ترے اخوا

اذا غفل وسوس ۱۲

(کلاهما علی ص۱۹۹)

۱۱۔ عن ابن عمرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتکثروا الکلام بغیر ذکر الله فان کثرة الکلام بغیر ذکر الله قسوت للقلب و ان ابعد الناس من الله القلب القاسی ۱۲

(مشکوٰة ص۱۹۸)

شی او کله چه بنده غافل شی نو بیا ورته زړه کښے وسوسے اچوی۔ (بخاری)

د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د الله تعالیٰ د ذکر نه علاوه ډیرے خبرے مه کوئ څکه چه د ذکر د الله نه علاوه خبرے زړه کښے سختی راولی او په تولو خلقو کښے د الله پاک نه ډیر لرے هغه زړه دے۔ چه سخت وی۔

(ترمذی)

ف: د آخری درے واړو حدیثو نو خلاصه داده: په زړونو کښے اصل صفائی په بنده کارونو راځی۔ او سختی په ناکاره کارونو۔ او د دواړو عملونو بنیاد د زړه ارادې ده۔ او د ارادے بنیاد خیال دے۔ کله چه په فکر کښے راشی نو شیطان په زړه کښے خراب خیالات راپیدا کړی چه دهغے نه ناکاره ارادې ته خبره اورسی۔ او ناکاره کارونه ډیر کیږی او بنه کارونه کم۔ او کله چه د ذکر کثرت وی نو شیطان په زړه کښے خراب خیالونه نه شی پیدا کولے۔ دغه شان ناکاره ارادې نه وی۔ نو د ګناه کارونه هم نه کیږی۔ د نیکئ ارادې مضبوطه شی نو نیک کارونه ډیر کیږی۔ نو په زړونو کښے صفائی او سختی په دے طریقه راځی۔ لیکن داخبرے خو د بخود نه کیږی۔ په خوارو کیږی۔ نو څوک که تش په څله ذکر کوی خو د بنو کارونو همت نه کوی۔ او د ګناه نه د بچ کیدو کوشش نه کوی نو هغه په دهوکه کښے پروت دے۔ (چه نیک عمل ورسره نه وی تش ذکر څه فائده نه شی ورکولے۔ او د زړه صفائی پرے نه راځی)۔ تر دے پورے تول حدیثونه د مشکوٰة دی۔

۱۲۔ عن ابی سعیدؓ الخدریؓ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لیذکرن الله اقواما فی

د حضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په دنیا کښے به ډیر خلق په نرمو نرمو بسترو

الدنیا علی الفرش المهدة یدخلهم الدرجات العلی ۱۲

کښے د الله ذکر کوی او الله تعالیٰ به ورته په جنت کښے اوچتے درجے ورکړی۔ (ابن حبان)

ف: یعنی داخیال دِ څوک نه کوی چه آرام و راحت پرینبسونه بغیر ذکر فائده نه ورکوی۔

۱۲) عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اکثر ما ذکر الله حتی یقولوا مجنون

هم د ابو سعید رضی الله عنه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د الله پاک ذکر دومره ډیر ډیر کوئ چه خلق درته لیونے اووائی۔ (احمد و ابویعلی و ابن حبان)

۱۳) و عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذکروا الله ذکرا یقول المنافقون انکم مراءون ۱۲ (کلها علی ص ۲۹۵ ترغیب)

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه دومره (ډیر او هروخت) ذکر کوئ چه منافقان (یعنی بے دینه خلق) درته ریاکار او مکار اووائی۔ (طبرانی)

۱۴) عن معاذ بن جبل رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیس یتحسر اهل الجنة الا علی ساعة مرت بهم لم یذکروا الله تعالیٰ فیها (ص ۲۹۶)

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د جنت والو به هیڅ ارمان نه وی۔ بے ددے نه چه کوم وخت ورباندے دا سے تیر شوے وی چه ذکر ئے پکښے نه وی کړے۔ ددغے وخت ارمان به کوی۔ (چه که په دے کښے موهم ذکر کړے وے) (طبرانی و بیهقی)

ف:۔ لیکن په دے ارمان کښے به د دنیا غوندے تکلیف نه وی۔ نو داشک پاته نه شو۔ چه جنت کښے تکلیف څنګه پیدا شو۔

۱۵) عن عائشة بنت سعد بن ابی وقاص عن ابیها رضی الله عنه انه دخل مع رسول الله صلی الله علیه وسلم

عائشه رضی الله عنها بنت سعد رضی الله عنه بن ابی وقاص رضی الله عنه د خپل پلار نه روایت کوی چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هغوئ د یو بی بی کور

علی امرأة وبین یسبحها نوی اوحمی تسبیح به الخ (ترغیب ص۳۱۰)

ته لاړو - دبابن صاحب څخه ته دکجورو هډوکی (کیټی) پرانته وو . په هغه باندے ځ سبحان الله سبحان الله ویل الخ (او حضرت هغه منع نه کړه) (ابوداؤد، ترمذی، نسائی، ابن حبان، حاکم)

ف: په تسبو باندے د ذکر شمیر کولو دا بنیاد دے . (لکه شامی چه تبوت منلے) دا پنځه حدیثونه د ترغیب دی . تر اوسه پورے خوځ علم ذکر بیان وو . اوس مونږ څنه خاص ذکرونه لیکو چه ثواب ځ ډیر دے او کول ځ آسان دی . هغه دادی .

(۱) لا إله الا الله صرف یا د محمد رسول الله سره پوره کلمه طیبه .

(۲) سبحان الله (۳) الحمد لله (۴) الله اکبر (۵) لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم (۶) استغفر الله و اتوب الیه (۷) درود شریف په مختلفو الفاظو راغلے دے . یو مختصر غوندے دادے : اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد (نسائی عن زید بن فارجه) . (او بهتر دادے اللهم صل علی سیدنا و مولانا محمد وعلی آل سیدنا ومولانا محمد کما تحب و ترضی عدد ما تحب و ترضی . مترجم)

خلاصه: دادے چه د ذکر نه غفلت نه ځ دے پکار . څه خاص ذکر وی اوکه عام . بیا څوک هر وخت هم یو ذکر کوی . اوکه کله یو اوکله بل . ے شمار ځ کوټی اوکه په ګوتو یا تسبو ځ شمیری . او څنه دعاګانے د خاصو خاصو وختونو دپاره هم شته که دچا شوق وی . دچا دیندار عالم نه دِ تپوس اوکړی . ګنی مونږ چه د نمونے دپاره کوے شپږ جُمله څخنبے لیکلی دی . دا هم کافی دی . الله تعالیٰ دِ مونږ ټولوته توفیق راکړی .

څوارلسمه روح

مالداروته د زکوٰة پابندی کول

زکوٰة هم د ماغځه په شان د اسلام غټ رکن او یو لازمی حکم دے. په ډیرو آیتونو کښے د زکوٰة ورکولو حکم شوے دے. د زکوٰة ورکولو غټ ثواب او د نه ورکولو غټ عذاب بیان شوے دے. ډیر آیتونه خو دا سے دی. چه ورکښے د ماغځه سره سم د زکوٰة ورکولو حکم دے. دا ټول آیتونه قرآن شریف کښے په آسانئ سره مونږ شی. که څوک په عربئ نه پوهیږی نو د اردو (یا پښتو) ترجمے والا قرآن شریف کښے ګوري شی. نو مونږ دلته صرف احادیث لیکو.

احادیث: (۱) عن ابی الدرداءؓ عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الزکوٰة تنطرة الاسلام ۱۲

د حضرت ابی درداءؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. زکوٰة د اسلام پُل دے یا د اسلام اوچته آبادی ده (یعنی که څوک زکوٰة نه ورکوی. هغه د اسلام په پل نه شی تیریدے. یا د اسلام اوچت درجے ته نه شی رسیدے. لاندے لاندے درجو کښے به پروت وی.

ف: دے نه صفا معلومیږی چه د زکوٰة ورکولو څومره اوچته مرتبه ده. او په نه ورکولو کښے ئے څومره غټ نقصان دے.

(۲) عن جابرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من ادی زکوٰة ماله فقد ذهب عنه شره ۱۲ (کلها علی ص ۱۵۶)

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: چا چه د خپل مال زکوٰة ورکړو. هغه ترے نه خرابے لرے کړو. (یعنی د زکوٰة نه نه ورکولو په وجه چه ورکښے کومه بے برکتی او خرابے راتلو هغه ترے لرے شو. (الطبرانی، اوسط، ابن خزیمه)

Scanned with CamScanner

ف: معلومه شوه چه دکوم مال زکوٰة ورنکړے شی . هغه کښے برکت پاتے نه شی .
دے تفصیل په حدیث ۱۳ وعده ۱۴ کښے راځی .

(۳) عن ابن عمرؓ قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول من کان یؤمن بالله و رسوله فلیؤد زکوٰة ماله ۱۲

د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ما اوریدلی دی . حضورؐ فرمایئلی : په تاسو کښے چه څوک په الله او د هغهٔ په رسولؐ ایمان لری هغه دِ خپل مال نه زکوٰة ضرور ورکوی .

ف: دے نه معلومه شوه چه د زکوٰة نهٔ ورکوونکی په ایمان کښے کمزوری ده .

(۴) عن عبدالله بن معاویةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ثلث من کم فیه فقد ذاق طعم الایمان من عبد الله وحده وعلم ان لا اله الا الله واعطی زکوٰة ماله طیبة نفسه وافده علیه کل عام ۱۲ کلیهما علی متہ ۱۵

د حضرت عبدالله بن معاویهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی درے کارونه دا سے دی . کوم سړے چه داکوی د ایمان په خوږو به پوهه شی . (۱) چه خالص د الله تعٰی عبادت کوی . (۲) او دا ئے عقیده وی چه بے د الله نه بل هیڅوک د عبادت قابل نشته (۳) د خپل مال نه هر کال زکوٰة دا سے ورکوی چه نفس ئے پرے خوشحال وی . او نفس ئے ورکولو ته تیار وی . (منع کوی ئے نه)

ف: د زکوٰة مرتبه خو دے نه معلومه شوه چه توحید سره سم ذکر شو . او اش ئے دے نه معلوم شو چه د ایمان خوابدهٔ پرے زیاتیږی .

(۵) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من صاحب ذهب ولا فضة لا یؤدی منها حقها الا اذا کان یوم القیٰمة صفحت له صفائح من نار

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی هیڅوک د سرو او سپینو زرو سانتونکے دا سے نشته چه هغه ئے حق نهٔ ورکوی (یعنی زکوٰة نهٔ اوباسی) مګر د هغه به دا سے حال وی د قیامت په ورځ چه د هغهٔ (عذاب)

فاحمی علیه فی نار جهنم فیکوی بها جنبه وجبینه وظهره کلما بردت اعیدت له فی یوم کان مقداره خمسین الف سنة ۱۲
(ترغیب ص۱۵۸)

دپاره به دوغه سره او سپینوته تخته جوړوله شی۔ دغه تخته به د دوزخ په اور کښے سره کوله شی۔ بیا به هغهٔ ته په اړخونو، تندی او شا باندے داغونه ورکوله شی۔ کله چه دا تخته یخیږی۔ نو بیا به گرموله شی۔ او به هغه ورځ وی چه د پنځوس زره کالو په اندازه به اوږده وی۔ (یعنی د قیامت دا دومره اوږده ورځ به پرے ټوله په دے عذاب تیریږی)
(بخاری ومسلم)

(۶) عن علیؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله فرض علی اغنیاء المسلمین فی اموالهم بقدر الذی یسع فقراءهم ولن یجهد الفقراء اذا جاعوا و عروا الا بما یصنع اغنیاءهم الا وان الله یحاسبهم حسابا شدیدًا ویعذبهم عذابًا الیمًا وفی حدیث بعده یقولون ربنا ظلمونا حقوقنا التی فرضت لنا علیهم فیقول الله عزوجل وعزتی وجلالی لاذنینکم ولابعدنهم ۱۲

د حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ چه الله تعالیٰ په مالدارو مسلمانانو د هغوئ په مال کښے دومره حق (زکوٰة) فرض کړیدے چه د غریبانو مسلمانانو دپاره کافی دے۔ او غریبانو ته چه کله د خوراک یا جامے تکلیف ورسی (چه دوئی زکوٰة نهٔ ورکوی) نو یاد لرئی چه الله تعالیٰ به درنه دومره سخت عذاب اخلی او سخت عذاب به ورکوی۔

(طبرانی، اوسط، صغیر)

ف: په یو حدیث کښے دا تفصیل هم راغلے دے۔ چه غریبان به د قیامت په ورځ الله تعالیٰ ته د مالدارو شکایت اوکړی چه زمونږ کوم حقونه چه تا په دوئی فرض کړی وو۔ دوئی مونږ ته نهٔ دی راکړی رسولی۔ نو الله تعالیٰ به اوفرمائی زما د ذات په خپل عزت او جلال قسم دی۔

چه زکوٰة به تاسو مقرب (خلمان نه نژدے) کړم او دوی به لږے اوشړم۔

(۷) عن عبد اللّٰه بن مسعودؓ قال امرنا باقام الصلوٰة وایتاء الزکوٰة ومن لم یزك فلا صلوٰة له ۱۲ (کلها علی ص ۱۵۹)

(طبرانی صغیر، اوسط، وابو الشیخ کتاب الثواب)
دحضرت عبد اللّٰه بن مسعودؓ نه روایت دے چه موږ ته دمانځه دپابندئ اوزکوٰة ورکولو حکم شویدے اوځوک چه زکوٰة نه ورکوی دهغه مونځ هم نه قبلیږی۔

(طبرانی، اصبهانی)

وفی روایت قال من اقام الصلوٰة ولم یؤت الزکوٰة فلیس المسلم ینفعه عمله ۱۲

اوپه بل روایت کښے دا الفاظ دی څوک چه مونځ کوی اوزکوٰة نه ورکوی هغه (پوره) مسلمان نه دے چه نیک عمل څه فائده ورکړی۔

(اصبهانی)

ف: دوے دامطلب نه دے چه څوک زکوٰة نه ورکوی هغه دِے ورپسے مونځ هم پریږدی که دا سے ئے اوکړی۔ نو دوے عذاب پرے سیوا شی۔ بلکه مطلب ئے دادے چه زکوٰة دِهم ورکوی۔ (چه دعذاب نه خلاص شی)

(۸) عن ابی هریرةؓ عن النبی صلی اللّٰه علیه وسلم قال من اتاه مالا فلم یؤد زکوٰته مثل له یوم القیٰمة شجاعا اقرع له زبیبتان یطوقه یوم القیٰمة ثم یاخذ بلهزمیه یعنی شدقیه ثم یقول انا مالك انا کنزك ثم تلا هذه الآیة ولا یحسبن الذین الخ ۱۲

دحضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے۔ چه نبی اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی چاته چه اللّٰه تعالیٰ مال ورکړے وی او دے ئے زکوٰة نه ورکوی نو دقیامت په ورځ به ئے دا مال د یوکنجی مار په شکل شی۔ په دواړو سترګو به ئے دوه تاکی وی۔ (دا سے مار ډیر زهری وی) اوددهٔ په غاړه کښے د اوښی په شان واچولے شی هغه به ئے په دواړو ژامو چکونه لګوی اوورته به وائی زهٔ ستا هغه مال یم او ستا هغه خزانه یم۔ اوبیا ئے دا آیت تلاوت کړو۔ ولا تحسبن الذین بخلوا (الآیه) پدے آیت کښے دابیان دے چه دغه مال به ورته په غاړه کښے اچولے شی۔ (بخاری ونسائی)

(۹) عن عمارة بن حزم رض قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اربع فرضهن الله في الاسلام فمن جاء بثلاث لم يغنين عنه شيئا حتى ياتي بهن جميعا الصلوٰة والزكوٰة وصيام رمضان وحج البيت (كليهما على ص ۱۶۰)

د حضرت عماره بن حزم رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. چه د لا اله الا الله محمد رسول الله کلمه باندے ایمان راوړو نه علاوه الله تعالیٰ په اسلام کښ څلور څیز ونه نور فرض کړی دی که څوک په هغو کښ درے کوی خو یو نه کوی نو هغه ورته کافی نه دے ترڅوچه څلور واړه اونکړی (هغه څلور څیز ونه دادی) مونځ، زکوٰة د رمضان روژه او د بیت الله حج.

ف: دے نه معلومه شوه که څوک مونځ روژه حج درے واړه کوی خو زکوٰة نه ورکوی نو دا درے واړه ئے د نجات دپاره کافی نه دی.

(۱۰) عن انس بن مالك رض قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مانع الزكوٰة يوم القيٰمة في النار (ص ۱۶۰)

د حضرت انس بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی زکوٰة نه ورکوونکے به د قیامت په ورځ دوزخ ته ځی. (طبرانی، صغیر)

(۱۱) عن ابن عمر رض قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ظهرت لهم الصلوٰة فقبلوها وخفيت لهم الزكوٰة فاكلوها اولئك هم المنافقون ۱۲

د حضرت ابن عمر رض نه روایت دے. چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. مونځ چه ټولو څرګند شو دے نو هغه خلقو قبول کړو او زکوٰة چه پټ شو دے نو هغه ئے خپله اوخوړه (حقدار ته ئے ورنکړو) دا دے د منافق کار دے. (بزار)

ف: یعنی څنه خلق مونځ څکه کوی چه خلق ئے اوویني او زکوٰة څکه نه ورکوی چه هغه نه څوک خبریږی. او دا د منافق کار دے کنی د خدائے حکم خو د واړو کول دی.

(۱۲) عن بريدة رض قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما منع قوم الزكوٰة الا ابتلاهم

د حضرت بریده رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کوم قوم چه زکوٰة ورکول بند کړی. الله تعالیٰ ئے په

اللّٰہ بالسنین و فی روایۃ الاحبس اللّٰہ عنھم المطر ۱۲ (ص ۱۶۱)

څخنې کښې راکیږ کړی. او یو روایت کښې دا سې الفاظ دی. اللّٰہ تعالیٰ وربانده بارانونه بند کړی. (طبرانی، حاکم، بیهقی)

(۱۳) عن عائشۃ رضؓ قالت قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم ما خالط الصدقۃ او قال الزکوٰۃ مالا الا افسدتہ ۱۲ (ص ۱۶۰)

دحضرت عائشې ابیٰ رضؓ نه روایت دے. چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی. کوم مال کښې چه زکوٰة گډ وی هغه ئې تباه کوی. (بزاز و بیهقی)

ف: دزکوٰة ګډیدو مطلب دا دے چه زکوٰة پرے فرض وی او د مال نه ئې اونه باسی. حقدارو ته ئې ورنکړی. او د تباه کولو مطلب دا دے چه دا سې مال نه برکت پورته شی لکه څنګه چه بل حدیث کښې چه راځی.

(۱۴) عن ابی ھریرۃ رضؓ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم ما تلف مال فی برّ ولا بحر الا بحبس الزکوٰۃ ۱۲ (ص ۱۶۰)

دحضرت ابو هریره رضؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی. کوم مال چه په اوچه یا په دریاب کښې تباه کیږی. دزکوٰة نه ورکولو په وجه تباه کیږی. (طبرانی و اوسط)

ف: اوګه سره د زکوٰة ورکولو ګله ګله یو مال په ظاهره تباه شی نو هغه په حقیقت کښې تباه نه دے ځکه چه دهغې په آخرت کښې اجر ورکیدلے شی او د زکوٰة نه ورکولو په وجه چه تباه شی هغه سزا ده. په هغې د اجر وعده نشته.

(۱۵) عن اسماءؓ بنت یزید قالت دخلت انا وخالتی علی النبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم وعلینا اسورۃ عن ذھب فقال لنا اتعطیان زکوٰۃ قالت فقلنا لا فقال اما تخافان ان یسور کما اللّٰہ

دحضرت اسماءؓ بنت یزید نه روایت دے چه زه او زما تروره د نبی کریم صلی اللّٰہ علیه وسلم په خدمت کښې دا سې حالت کښې حاضر ے شوچه زمونږ په لاسونو کښې د سرو کنګنې وو. حضورؐ تپوس اوکړو چه تاسو د دے زکوٰة ورکړیدے مونږ عرض اوکړو چه نه. حضورؐ اوفرمایل آیا

اسورة من نار ادیا زکوٰة ۱۲ (ترغیب ص۱۶۳)	تاسو سره دا ویره نشته چه الله تعالیٰ به درته د اور کنګنې په لاسو کړی - ددے زکوٰة ورکوئ. (احمد)

(دا ټول روایتونه په ترغیب و ترهیب کښے دی)

ف: ددے حدیثونو نه داخبرے ثابتے شوے:

(۱) د زکوٰة فرض کیدل او فضیلت.

(۲) د زکوٰة نهٔ ورکولو مصیبت اوعذاب. په دنیا کښے د مال تباهی یا بے برکتی او په آخرت کښے عذاب د دوزخ.

(۳) د زکوٰة نه ورکونکی مونځ روژه هم نهٔ قبلیږی.

(۴) د زکوٰة نهٔ ورکونکی حالت د منافق په شان دے کوم چه حدیث ۱۱ کښے تیر شوید ے.

(۵) زکوٰة د حقوق العباد په شان د بند یا نو (غریب مسلمان) حق دے کوم چه حدیث ۶ کښے تیر شوید ے. نو ددے تاکید د نورو عبادتونو نه زیات دے.

اوس د زکوٰة په حقله یو څو نورے ضروری خبرے لیکو. اوله خبره په کومو څیزونو کښے چه زکوٰة فرض دے هغه کنټ څیزونه دی:-

(۱) سرهٔ اوسپین زر

د اشرفئ یا روپئ په شکل کښے وی که د نوټ په شکل کښے بیا په خپل لاس کښے وی. کهٔ چا پورے قرض وی. چه تاسره غُ ثبوت وی او قرضدارے غُ د ورکړے نه انکاری نهٔ وی. یا د سرو سپینو لوښی اوکالے وی. یا سوچه کوټ کنارئ وئ که خالی سپین زر وی یا د سپینو زرو جوړ شوی څیزونه وی. سرهٔ زر یا نوره نغدی ورسره نهٔ وی. نو په د سپینو زرو وزن څلور پنځوس تولے او شپږ ماسے وی نو زکوٰة پورے فرض دے. اوکهٔ څه درسره چاندی وی. اوهغهٔ سرهٔ زر نو د سرو به قیمت اچولے شی. کهٔ د دغه قیمت چاندی دهغے سره مرګ ے شی او څلور پنځوس نیمے تولے ترے جوړیږی نو زکوٰة پورے فرض دے. اوکهٔ کم وی نو نهٔ دے. د کوم ورځ چه دا بنده د دے څیزونو مالک شوے دے چه اسلامی کال غُ پوره شی نو څلویښتمه حصه زکوٰة پورے فرض شو. احتیاط په دے کښے دے چه د پنځو سو روپو برابر مالیت وی. نو

پنځه پاوه دِ زکوٰة ورکړی۔

(۲) دویم شے چه زکوٰة پکښے فرض دے د سوداګرۍ مال دے۔ چه قیمت ئے پنځوس روپۍ وی۔ دده مقدار نه دا هم معلومه شوه۔ چه نن صبا اکثر مسلمانان دا سے دی چه دغه هومره مقدار کالی یا د سوداګرۍ مال نه تقریباً یوکورهم خالی نهٔ دے لیکن اکثر په غفلت کښے دی۔ دیرکم زکوٰة اوباسی۔ نو دده دیرخیال ساتئ۔

(۳) دریُم شے څاروی دی۔ اوښان، غوا، میښے، ګډے، بیزے وغیره کوم چه دپیُو او بچو دپاره ساتلے شوی وی۔ او په څنګل کښے څری لکه عام شپنان چه ساتی۔ په دے علاقه کښے دده رواج کم دے۔ نو هغه تعداد په کوم چه زکوٰة ' ن کیږی۔ او په کومه طریقه چه ورکولے شی مونږ نهٔ لیکو چاته چه ضرورت ی دعالمانو نه دِ څان پوهه کړی۔

(۴) څلورم شے دعشری زمکے پیداوار دے۔ دده مسئله دعالمانو نه معلومول پکار دی۔" په دے مختص غوندے کتاب کښے د تفصیل ګنجائش نشته۔"

(۵) پنځم شے صدقهٔ فطره۔ (چه پښتانهٔ ورته سرسایه وائی) کومه چه د واړهٔ اختر په ورځ په هغه چا واجب ده۔ په چا چه زکوٰة فرض وی۔ او په څنه حالت کښے په دا سے کسانو هم واجب کیږی چه زکوٰة پرے فرض نهٔ وی۔ دده تفصیل هم دعالمانو نه معلوم کړئ۔ صدقه دخپل ځان دطرفه او د نابالغه اولاد دَ طرفه ورکول واجب دی۔

دوئیمه خبره زکوٰة چاچاته ورکول پکار دی :-

(۱) د زکوٰة د ټولو نه زیات حقدار غریب رشته دار دے۔ کلی کښے درنسره اوسی او کهٔ بل کلی کښے۔ (۲) ورپسے دخپل کلی غریبانان دی۔ لیکن کهٔ په بل کلی کښے دَ دوئی نه زیات غریبانان وی نو هغه زیات حقدار دی۔ لیکن کوم غریب ته چه ورکولے شی۔ هغه دِ نهٔ سیّد وی او د زکوٰة ورکونکی مور، پلار یا نیا، نیکهٔ دَ مور دطرفه یا د پلار دطرفه او نهٔ دِ خپل اولاد یا خپله ښځه وی۔

دمړی په کفن کښے یا دجماعت په کار کښے دَ زکوٰة رقم لګول جائز نهٔ دی۔ البته دمړی دکور کسانو ته کهٔ ورکړے شی نو خیر دے خو دا بیا دَ هغه کس اختیار دے

چه په کفن دفن کښے ځکوی که نه . (خلکه ... اوس ئے هغه مالک شو)

دغه شان هره مدرسه او ... س نه ئے د ... هم ښه نه دی. تر څو چه ئے د مدرسے یا د انجمن د ... مانو نه تپوس نه وی کړے . چه تاسو به دارقم په څه طریقه خرچ کوئ . بیا د چا عالم نه تپوس اوکړئ چه آیا دا طریقه د زکوٰة د پاره صحیح ده که نه .

دریئمه خبره :- نن سبا د مسلمانانو د ویرو ظاهری اه باطنی پریشانو سبب افلاس دے او زکوٰة د دے پریشانئ د ختمولو علاج دے . که د مسلمانانو مالدار فضول خرچی نه کوی . او روغ کسان خپل همت مزدوری کوی . او د معذورو بوډاګانو او بیمارانو امداد په زکوٰة سره کیږی . نو یو مسلمان به هم اوږے برښه پاتے نه شی . په حدیث ع کښے خپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا مضمون صفا بیان کړیدے .

پنځلسم روح

د زکوٰة نه علاوه نورو ښو کارونو کښے خرچ کول او همدردی کول

(مالدار د تش په زکوٰة ورکولو بے فکره کیږی نه چه اوس زمونږ په ذمه بل څه کار پاتے نه شو) زکوٰة خو یو ترلے حق دے . د دے نه علاوه هم ډیر داسے کارونه دی . چه پکښے مال خرچ کول او که چا سره مال نه وی د لاسو ښپو امداد کول ضروری دی . باقی دا چه په کومه درجه کښے ضروری دی . دا په موقع باندے د عالمانو نه تپوس پکار دے . دے اجمالی دلیل د یو آیت او یو حدیث نه لیکو بیا به ئے لږ تفصیل بیان کړو .

(۱) عن فاطمة بنت قيس رض قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان فی المال لحقا سوی الزکوٰة ثم تلا لیس البر ان تولوا وجوهکم قبل المشرق والمغرب الخ (مشکوٰة ص ۱۶۹)

د حضرت فاطمه بنت قیس رض نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی بیشکه په مال کښے د زکوٰة نه علاوه نور حقونه هم شته . بیا ئے د هغه په تائید کښے دا آیت اولوستو لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ . الایه (دے آیت نه تائید دا سے کیږی چه په دے کښے الله پاک د زکوٰة ذکر هم کړیدے او په خاص خاص موقعو کښے ئے د مال خرچ کولو ذکر هم کړے دے . نو ثابته شوه چه خرچ دا موقعے د زکوٰة نه علاوه دی) (ترمذی، ابن ماجه ، دارمی)

ف: دا دعوه د آیتونو او حدیثونو نه ثابته شوه . د طیبی او مرقاة په حاشیه کښے دے موقعو څخه څلوریشتو نه زیاتو نه ورکړی دی. لکه سائل او قرض خواه تش نه پرینبول د عام استعمال څیزونه د چا نه ئے منع کول . اوبه ، مالګه ، اور ، واړه واړه څیزونه غوښتو تکی ته هیڅ ورکول . هغه څه چه آیتونو او حدیثونو نه نور تفصیل معلومیږی.

(آیات) (۲) قال الله تعالیٰ وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط

الله تعالیٰ فرمائی : او تاسو د خدائے په لار کښے مال لګوی . (سیقول قریب نصف)

(۳) مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ط ۱۲

څوک دے چه الله پاک ته قرض ورکوی په بنه طریقه (یعنی اخلاص سره) قرض ورکول .

(۴) لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰی تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ط وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ۵

تاسو پوره بهتری نه شئ حاصلولے ترڅوچه د خپلو خوښ څیزونو خرچ نه کړئ . او تاسو چه څه خرچ کوئ الله تعالیٰ په هغے بنه خبر دے . (لن تنالوا شروع)

(۵) اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِیْنَ ۙ الَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ فِی السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ

هغه (جنت) تیار شوے دے . د الله نه ویریدونکو دپاره . هغه ویریدونکی چه خرچ کوی په فراخئ کښے او په تنګسه کښے . (لن تنالوا)

(۶) اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ (یعتذرون ربع)

بے شکه الله تعالیٰ د مسلمانانو نه د هغوئ مالونه او ځانونه د دے خبرے په عوض اخستی دی چه هغوئ ته به جنت ورکوی۔

(۷) وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

اوځومره وړوکے لوئے خرچ چه ځکړے او ځومره سفرے چه ځے د الله تعالیٰ په لار کښے کړی دی۔ دا ټول د هغوئ په نوم لیکلی شوی چه الله تعالیٰ هغوئ ته د ښو کارونو ډیره ښه بدله ورکړی۔ (یعتذرون ربع)

(۸) وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۝

اوخپلوانو ته د هغوئ حق ورکوئ۔ او محتاجو او مسافرونه هم۔ (سبحان الذی۔ ربع)

(۹) وَمَا اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ۝

او د اخلق د خدائے په مینه غریبانو او یتیمانو او قیدیانو ته خوراک ورکوی۔

ف: نور هم ډیر آیتونه دی۔ چه د زکوٰة د قید نه علاوه پکښے د مال خرچ کولو ذکر دے هغه ښے حدیثونه دی۔

احادیث (۱۰) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الله تعالیٰ انفق یا ابن آدم انفق علیك ۱۲

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ فرمائی اے بنی آدمه ته په نیک کار کښے خرچ کوه زه به په تا خرچ کوم۔ (بخاری و مسلم)

(۱۱) عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اتقوا الشح اهلك من كان قبلكم ۱۲

د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د حرص (د مال د محبت) نه ځان بچ کړئ۔ دے حرص تاسونه څخه دیر قومونه برباد کړی دی۔ (مسلم)

(۱۲) عن ابی سعید الخدری رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لان یتصدق المرء فی حیواته بدرهم خیرله من ان یتصدق بمائة عند موته ۱۲

(کلها فی المشکوٰة ص ۱۶۴)

دحضرت ابو سعید خدری رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی په خپل ژوند یوه روپۍ خیرات کول د مرګ نه پس ګ سلو روپو خیرات کولو نه بهتر دے۔

(ابو داؤد)

(۱۳) عن علی رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بادروا بالصدقة فان البلاء لا تخطاها ۱۲

دحضرت علی رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی خیرات په کار کښے څومره چه کیدے شی تلوار کوئ څکه چه آفت د خیرات نه څخکښے کیدے نشی هغه ولاړ پاتے کیږی

(رزین)

ف: د ثواب نه علاوه ورکښے دا د دنیا فائده هم ده - چه آفت نه پرے ښے کیږی۔

(۱۴) عن ابی هریرة رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من تصدق تمرة من کسب طیب ولا یقبل الله الا الطیب فان الله یتقبلها بیمینه ثم یربیها لصاحبها کما یربی احدکم فلوه حتی تکون مثل الجبل ۱۲

دحضرت ابو هریره رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی څوک چرته د کهجورے د داسے برابر پاک مال خیرات کړی۔ او الله پاک څیز ونه قبلوی۔ نو الله تعالیٰ هغه په خپل لاس کښے واخلی (دنه) لاس مطلب صرف الله ته معلوم دے) بیا هغه غټوی۔ لکه څنګه چه تاسو د غوا بچے ساتئ او غټوئ۔ تر دے چه د غر هومره غټه شی۔

(بخاری و مسلم)

(۱۵) وعنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما نقصت صدقة من مال

دحضرت ابو هریره رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ خیرات ورکول مال کمیدو ته نه پریږی (آمد فی دنیا نه شی اوکه برکت ډیات شی)۔ (مسلم)

ی عن ابی ذرؓ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم لا تحقرن من المعروف شیئاً ولو ان تلقی اخاك بوجه طليق ۱۲

د حضرت ابو ذرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی - هیڅ قسم نیکی کمه مه ګڼئ - اګر که دومره قدر وی چه ته د مسلمان دور سره په روئ تندی ملاؤ شوے وے۔ (مسلم)

(۱۷) عن ابی موسی الاشعریؓ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کل مسلم صدقة قالوا فإن لم یجد قال فلیعمل بیدیه فلینفع نفسه ویتصدق قالوا فان لم یستطع او لم یفعل قال فلیعن ذا الحاجة الملهوف قالوا فان لم یفعل قال فیامر بالخیر قالوا فان لم یفعل قال فیمسك عن الشر فانه له صدقة ۱۲ (کلها علی صـ ۱۶۷)

د حضرت ابو موسی اشعریؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د هر مسلمان په ذمه څه نه څه صدقه ضروری ده چا عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ که څوك چا سره مال نه وی. حضور ﷺ اوفرمایئل څه دلاس محنت دِ اوکړی. اوخپل ضرورت دِ هم پوره کړی اوصدقه دِ هم اوکړی - چا عرض اوکړو که دمعذوری په وجه هغه نشی کولے. حضور ﷺ اوفرمایئل د چا پریشان حاجتمند حاجت پوره کولو کښے دِ امداد اوکړی که دا هم نشی کولے حضور ﷺ اوفرمایئل چا ته دِ څه خبره اوښئ - چا عرض اوکړو که دا هم اونکړے شی حضور ﷺ اوفرمایئل چا ته دِ تکلیف نه رسوی (د هغه دپاره دا هم صدقه ده) (بخاری ومسلم)

ف: دے ټولو کارونو ته صدقه ځکه اوویئل شوه چه څنګه په صدقه خلقو ته فائده رسی - په دے کارونو هم مخلوق ته فائده رسی - کنی د اصلی معنیٰ خو د خدائے د پاره څه مال خرچ کول دی۔

او نقصان نه رسول هم په نفع کښے شمیرل څومره غټ رحمت دے۔

(۱۸ و ۱۹) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کل سلامی من الناس علیه

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د بنده په هر پیوند باندے هره ورځ

صدقة كل يوم تطلع فيه الشمس يعدل بين الاثنتين صدقة ويعين الرجل على دابته فيحمل عليها متاعه صدقة والكلمة الطيبة صدقة وكل خطوة يخطوها الى الصلوٰة صدقة ويميط الاذى عن الطريق صدقة ۱۲

یوه صدقه لازمی ده.

(۱) د دوو کسانو ترمینځه انصاف کول هم صدقه ده. (۲) چا سره په ځناوی سورید و یا سامان ترلو کښ امداد کول هم صدقه ده. (۳) څه ښه خبره چه چاته ترِ خیر اورسی هم صدقه ده. (۴) کوم قدم چه ماښځه دپاره تلو کښ اخلی دا هم صدقه ده. (۵) څه تکلیف ورکونکی څیز (لکه غښ کانښی وغیره) دلاره نه لرے کول هم صدقه ده.

وفی روایة عن عائشةؓ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خلق کل انسان من بنی آدم علی ستین و ثلثمائة مفصل فمن کبر الله وحمد الله (الی ان قال) وقد زحزح نفسه عن النار ۱۲ (ص ۱۶۷)

(بخاری ومسلم)

ف: دمسلم په یو بل روایت کښ دے تفصیل دا سے راغلے دے چه دشمار قابل پیوندونه د بنیادم په بدن کښ درے سوه شپیته دی کوم بنده چه هره ورځ دغه هومره نیکئ اوکړے هغهٔ خپل ځان د دوزخ د اوره خلاص کړو.

(۲۰) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم نعم الصدقة اللقحة الصفی منحة تغدو بإناء وتروح باخر ۱۲

دحضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. په توله کښ بنهٔ صدقه داده چه څوک چاته لنگه اوښه د پیو دپاره سوالی ورکړی هم دغه شان غوا، میښه، کلږا، بیزه وغیره د پیو دپاره سوالی ورکړی. (ترڅو چه پټی کوی هغه ترے نه پټی اخلی چه اوچه شی خپل شے مالک ته واپس کړی.

(بخاری)

(۲۱) عن انس رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من مسلم و یغرس غرسا او یزرع زرعا فیاکل منه انسان او طیر او بهیمة الا کانت له صدقة ۱۲

وفی روایة المسلم عن جابر رض وما سرق منه له صدقة ۱۲ (ص ۱۶۸)

د حضرت انس رض نه روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. کوم مسلمان چه یوه وُنه اوکری یا فصل اوکری او د هغے نه څاروے یا مرغئ څه خوراک اوخوری دا هم ددهٔ د پاره صدقه ده - (بخاری و مسلم)

او د مسلم په یو روایت کښے ورسره دا هم دی که چا ترے څهٔ شے پټ کړو هغه هم صدقه ده -

ف: سره د دے چه په دے کښے مالک چاته د نفع رسولو ارادہ نهٔ وی کړے بیا هم صدقه ده - او ثواب پرے ورکولے شی ، دا په مسلمان د الله تعالیٰ څومره لوئے رحمت دے -

(۲۲) عن ابی هریرة رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم غفر لامرأة مرمسة مرت بکلب رأس رکی یلهب. کاد یقتله العطش فنزعت خفها فاد نقته بخمارها فنزعت له من الماء فغفر لها بذلك قیل ان لنا فی البهائم اجرا قال فی کل ذات کبد رطبة جز ۱۲

د حضرت ابو هریره رض نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یوه بد کاره ښځه په دے خبره الله تعالیٰ او ښځنله چه هغه یوه ورځ په لاره تیریده د کوهی په غاړه یو سپے ناست وو د تندے نه ځُړبه راویسته وه - په بد حال وو. په کوهی بوقه نهٔ وه څه خپله مامئ د ښپے نه اوویسته د لوپټے پیسه پورے ځے اوترله - د کوهی نه ځے پکښے اوبهٔ را اوخیژولے او په سپی ځے اوڅښولے - (په یو بد ژبانه څناورے دومره ترس اوخوړو - نو الله تعالیٰ وربانده رحم اوکړو -) گناهونه ځے ورته معاف کړل -

چا پوس اوکړو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! آیا د څناورو په خدمت به

هم مونږ ته ثواب راکولے شی؟ حضورؐ اوفرمایئل څومره ډوندی څیزونه چه دی تولوکښے ثواب دے۔ (بخاری ومسلم)

ف: لیکن تکلیف رسوونکی څیزونه لکه مار، لرم، چپئی وغیره د دے حکم نه بهر دی په نورو حدیثونو کښے دا سے څیزونو د مړی اجازت شوے دے۔

(۲۳) عن عبد الله بن عمرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اعبدوا الرحمٰن واطعموا الطعام و افشوا السلام تدخلوا الجنة بسلام ۱۲ (کلها علی ص۱۶۵)

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی د رحمان (مهربانه الله) عبادت کوئ۔ خوراک ورکوئ او سلام عام کړئ۔ (په ۹ مسلمان پیژندلکلو وی که ناشنا سلام اچوئ) تاسو بے جنت ته په آرام لاړ شئ۔ (ترمذی، ابن ماجه)

(۲۴) عن ابی ذرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بتمسك فی وجه اخیك صدقة و امرك بالمعروف و نهیك عن المنكر صدقة و ارشادك الرجل فی ارض الضلال لك صدقة و بصوك الرجل الرؤی البصر لك صدقة

د حضرت ابی ذرؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی۔ د مسلمان رورسره چه مخامخ شے نو په رونې تندی ورسره سترې مشی کوه (په دا سے طریقه چه هغه داخیال اوکړی چه تهٔ ئے په لیدو خوشحاله شوے) داهم صدقه (خیرات) دے اوچا ته بنهٔ کار بنیئل او د بد کار نه منع کول هم صدقه ده۔ او د لارے خطا کیدو په وخت کښے چا ته لارسمؤل هم صدقه ده (خیرات دے) کهٔ دچا نظر کمزورے وی د هغهٔ مدد کول او د لارے نه غټے اوکانړی شکے لرے کول هم صدقه ده۔ او د خپلے بوقے نه مسلمان رورته بوقه کښے اوبهٔ اچول۔ (یعنی مسلمان رورسره دکوهی نه اوبو وکولو کښے امداد کول) هم صدقه ده (خیرات دے) (ترمذی)

(۲۵) عن سعد بن عبادةؓ قال یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ام سعد ماتت فای

د حضرت سعد بن عبادهؓ نه روایت دے چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے عرض اوکړو چه اُمِّ سعد (یعنی زما مور)

صدقة افضل قال الماء فحفر ببير او قال هذه لام سعد ۱۲

مړه ده نو کوم خیرات زیات بهتر دے چه زهٔ ځم هغے پسے او کړم - حضورؐ او فرمایئل! اوبهٔ نو حضرت سعدؓ یو کو هے اوکنستو او اوبهٔ وے چه دا (یعنی دد ے ثواب) د ام سعدؓ شو - (ابوداؤد ، نسائی)

(۲۶) عن ابی سعیدؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایما مسلم کسا مسلما ثوبا علی عری کساه الله من خضر الجنة وایما مسلم اطعم مسلمًا علی جوع اطعمه الله من ثمار الجنة وایما مسلم سقی مسلما علی ظماء سقاه الله من الرحیق المختوم ۱۲ (مشکوٰة ص ۱۶۹ کلاهما)

د حضرت ابو سعیدؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی. څوک چه یو مسلمان دود ته د بربنډ ے په حالت کښے جامے ورکړی. الله تعالیٰ به هغهٔ ته د جنت شنه جوړه ورکړی - او کوم مسلمان چه بل مسلمان رود ته د لوږے په حالت کښے خوراک ورکړی - الله تعالیٰ به ورته د جنت میوے ورکړی او کوم مسلمان چه بل مسلمان رود باندے د تندے په حالت کښے اوبهٔ اوڅکوی الله تعالیٰ به ورباندے د جنت مهر لګید لی شراب اوڅکوی. (ابوداؤد ، ترمذی)

(۲۷) عن انس بن مالکؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سبع تجری للعبد بعد موته وهو فی قبره من علم علما وکری نهرا او حفر بیرا او غرس شجرا او ورث مصحفا او ترک ولدا یستغفرله بعد موته ۱۲ (ترغیب ص ۱۶۹) وذکر ابن ماجه موضعهما الصدقة وبیت السبیل ۱۲ (ترغیب ص ۱۹۵)

د حضرت انس بن مالکؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی - اووهٔ څیزونه دی چه ثواب ئے د بنده د مرګ نه پس هم جاری وی. دے په قبر کښے پروت وی (او ثواب ورسی) (۱) چا چه بل ته د دین علم اوښیلو. (۲) یا ئے نهر اوکنستو (۳) یا ئے کو هے اوکنستو (۴) یا ئے وُنه اولګوله (۵) یا ئے جماعت جوړ کړو (۶) یا ئے قرآن شریف پریښو (چه څوک پکښے تلاوت کوی) (۷) یا ئے نیک اولاد پریښو (چه د مرګ نه پس ورته د بخښش

دعا کوی) - (ترغیب از بزاز و ابو نعیم)

او د ابن ماجه په روایت کښے دی یائے کوے خیراتی کړو - یائے خیراتی مسافرخانه جوړه کړه -

ف: د دے حدیث نه د دینی مدرسو او د عامے فائدے د کارونو فضیلت ثابت شو.

(۲۸) عن سعدؓ انه اعطی رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم رهطاً فقلت مالك عن فلان قال انی لاعطی الرجل وغیره احب منه خشینه ان یکبب فی النار علی وجهه مختصراً ۱۲

(مسلم جلد اول ص۳۳۸)

د حضرت سعدؓ نه روایت دے چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم څهٔ مال (په خلقو) ویشلو نو ما عرض اوکړو چه حضرت فلانی ته هم څهٔ ورکړئ (د حدیث په آخر کښے دی چه رسول اللّٰه هغهٔ ته هم څهٔ ورکړهٔ) نو حضورؐ او فرمائیل (کله کله زهٔ یو کس ته څهٔ شے ورکوم او بل سړے زما د هغهٔ نه زیات خوښ وی - لیکن ځان فکر را سره وی کهٔ دهٔ ته څهٔ ورنکړے شی نو په اسلام به قائم پاتے نهٔ شی. او په دے وجه به ئے اللّٰه تعالیٰ دوزخ ته پرېږدے او غورځوی.) (حُکمه چه څنه نو مسلم په اول کښے مضبوط نهٔ وو تکلیف ئے نهٔ شو برداشت کولے. نو د اسلام نه د واپس کیدو خطره ئے وه. حُکمه د هغوئ سره امداد کول او د تکلیف نه یې کول ضروری وو. (مسلم)

ف: د دے حدیث شریف نه د نو مسلمو د امداد کولو او آرام ورسولو فضیلت ثابت شو.

(۲۹) د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی زما د قَسم وی په هغه ذات چه زهٔ ئے د ربستونی دین سره راستولے یم. اللّٰه تعالیٰ به د قیامت په ورځ هغه بنده ته عذاب نهٔ ورکوی چا چه په یتیم رحم اوکړو د یتیم سره نرمی او مینه اوکړه او د هغهٔ په لاچارئ او بے اسرے ژوند ئے ترس راغلو. (ترغیب از طبرانی)

ف: د دے حدیث شریف نه د یتیم سره د امداد کولو فضیلت ثابت شو.

خلاصه: دا لس آیتونه او شل حدیثونه دی. حدیث اکثر د مشکوٰة دی.

سوا د دوه دریو نه چه د هغه سره د کتاب نوم لیکل شوے دے - دے نه مونږ ته دیر دا ے کار ونه معلوم شو چه مخلوق ته پرے فائده رسی - (او الله تعالیٰ پرے بنده ته اجر ورکوی) دے نه علاوه نور دیر کار ونه دی چه ټول په دے یو آیت او یو حدیث کښے راجمع دی۔

آیت شریف: دښیګړے او تقویٰ په کار ونو کښے دیو بل مدد کوئ - (مائده)

حدیث شریف: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ ته ټولو بندیانو کښے هغه کس زیات غوره دے څوک چه مخلوق ته زیاته فایده رسوی۔

(ترغیب از اصبهانی)

الله تعالیٰ د مونږ ټولوته د نیکئ توفیق راکړی - آمین

شپارسم روح

روژه

بابُ الرّیان (د جنت دروازه)

روژے نیول، خاصکر د رمضان فرض روژے او نورے واجب روژے

روژه نیول هم لکه د مونځ او زکوٰة د اسلام غټ رکن او لازمی حکم دے - لکه چه:

(آیت) (۱) قال الله تعالیٰ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَام

الله تعالیٰ فرمائی اے ایمانداره په تاسو روژے فرض کړے شوی دی۔

(۲) وقد مر هذا الحدیث فی الروح الرابع عشر فی ص۹۵

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی که یو سړے مونځ زکوٰة حج درے واړه

فلتنظر ان شئت ۱۲ | کوی خو روژه نه نیسی نو دا دیے وارہ څیز ونه
ځے نجات دپارہ کافی نه دی. (ترڅوچه څلور وارہ نه پوره کوی کامیا بیدے نه شی)
داحدیث په څوارلسمه روح کښے (۹) نمبر باندے تیر شوے دے۔

په روژه کښے یوخاصه خبره داسے ده چه هغه په نورو عبادتونو کښے نشته۔
هغه داچه روژه پټ کار دے۔ سواد الله تعالیٰ نه وریاندے بل څوک نه خبریږی۔
نو دا به هغه بنده ساتی دچا په زړه کښے چه خپل رب سره مینه او دهغه ویره
وی۔ اوکه فی الحال په دے تعلق کښے څه کمے وی۔ نو په تجربه ثابته شوے ده۔
چه دمحبت او عظمت په کارونو کولو محبت او عظمت پیدا کیږی۔ نو په روژه
نیولو داکهه پوره کیږی۔ اوظاهره ده چه دچا په زړه د الله محبت اوعظمت وی
دهغه ایمان به ډیر مضبوط وی۔ نو په روژه نیوو کښے د دین د مضبوطیا خاصیت
ثابت شو۔ هکښے دوو حدیثونو کښے داخبره په دے طریقه صفا شویده۔

(۳) عن ابی هریرة رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الله عزوجل کل عمل ابن آدم له الا الصوم فانه لی ۱۲ (ص ۱۹۸)

د حضرت ابو هریره رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه الله پاک جل جلاله فرمائی د بنده ټول کارونه دهغه دپاره وی خو روژه خالص ما دپاره ده۔ (بخاری)

(۴) و فی روایة للبخاری یترك طعامه و شرابه و شهوته من اجل الصیام (بخاری)

او په یو بل روایت د الله پاک ارشاد دے چه روژه دار خپل خوراک څښاک او خپل نفسانی خواهشونه (دکور والا سره تعلق) خالص ما دپاره پریدی۔

او دے حدیث تفصیل په یو بل حدیث کښے داسے راځی:

(۵) و فی اخری لابن خزیمه قال الله الا الصیام فهو لی و انا اجزی به یدع الطعام من اجلی ویدع

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه الله تعالیٰ فرمائی بنده خپل خوراک ما دپاره پریدی۔ خپل څښاک ما دپاره پریدی۔ خپله

الشراب من اجلی ویدع
لذته من اجلی ویدع
زوجته من اجلی ۱۲
(ترغیب ص۱۹۸)

بی بی ما دپاره پریږدی (یعنی خپل
خواهش ترے نه پوره کوی)۔
(ابن خزیمه)

ف: ددے ټولو حدیثونو نه زمونږ دا خبره ثابته شوه (چه روژه خالصه د
الله د محبت او عظمت په وجه نیولے شی)۔ نو حُکه ورته الله تعالیٰ خپل څیز
ویلے دے - لکه حدیث ۳ کښے چه تیر شو۔

او ددغے خصوصیت په وجه د روژے سخت تاکید شوی دے - اوپه ټولو
عملونو کښے ورته بے نظیره وئیلے شوے دے لکه چه حدیث شریف دے:

۶ عن ابی امامة رضی الله عنه قال قالت
یارسول الله مرنی بعمل
قال علیك بالصوم فانه لا
عدل له قلت یا رسول الله
مرنی بعمل قال علیك
بالصوم فانه لا عدل له
قلت یا رسول الله مرنی
بعمل قال علیك بالصوم
فانه لا عدل له ۱۲
(ص۲۰۰)

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دے - چه ما
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو
ماته د یوغټ نیک عمل حکم اوکړه - حضور
اوفرمائیل روژه ټینګه کړه ددے برابر بل یو
عمل نشی کیدے - ما دوباره عرض اوکړو
یارسول الله! ماته یوغټ نیک عمل
اوبنایه - حضور اوفرمائیل روژه نیسه ددے
په شان یو نیک عمل نشته - ما دریم ځل بیا
عرض اوکړو چه ماته یو د یو غټ نیک عمل
اوبنایه - حضور (بیا هم) اوفرمائیل روژه
را ټینګه کړه - ددے نه زیات بل عمل نشته۔ (نسائی، ابن خزیمه)

ف: یعنی روژه په ځنډه خاصیتونو کښے بے مثله ده - لکه په دے خاصیت کښے
چه روژه خالص د الله تعالیٰ د محبت او خوف په وجه نیولے شی - نو کهٔ روژه دار
ددے دوُ څبرو خیال ساتی نو ضرور به دګناهونو نه بچ کیږی - حُکه چه ګناه د
محبت او خوف دکمی په وجه کیږی - اوچه دګناهونو نه بچ شو نو د دوزخ نه هم
بچ شو - اوپه ځنکښے حدیث کښے هم دغه خبره ده -

(۷) روی عن النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال الصیام جنۃ وحصن حصین من النار ۱۲ (ترغیب ص۱۹۹)

د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم نه روایت دے چه حضور فرمایلی دی. روژه یو وال دے او یوه مضبوطه قلاده - دوزخ نه بچ کیدو دپاره. (احمد، بیهقی)

کومه چه باطنی بیماری ده - دغه شان دځنه ظاهری بیماریونه هم حفاظت کوی. ځکه چه د یرے بیمارئ په خوراک څښاک کښے د بے اعتدالئ نه پیدا کیږی - روژه کښے خوراک څښاک کم شی نو بیمارئ هم کم شی - همځکه حدیث کښے دے ته اشاره ده.

(۸) عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم لکل شئی زکوٰة و زکوٰة الجسد الصوم ۱۲

د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی. د هر یو شیئ یو زکوٰة دے (صفا کوونکے وی) او د بدن زکوٰة (صفا کونکی) روژه ده. (ابن ماجه)

ف: یعنی څنګه چه په زکوٰة د مال بنیرے لرے کیږی - او مال پرے صفا کیږی دغه شان په روژه د بدن صفائی راځی - او کوم فاسد مواد چه بیماری پیدا کوی هغه پرے لرے کیږی. په همځکښے حدیث کښے دا مضمون د پرصفا راغلے دے.

(۹) وعنه قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم صوموا تصحوا ۱۲ (ص۱۹۹)

د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ نه روایت دے. چه رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی روژے ونیسئ او روغ اوسئ. (طبرانی)

او په روژه څنګه چه ظاهری او باطنی بیمارئ لرے کیږی - دغه شان پرے ظاهری او باطنی خوشحالئ هم حاصلیږی.

(۱۰) عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ (فی الحدیث الطویل) قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم لصائم فرحتان یفرحهما اذا افطر فرح و اذا لقی ربه (ص۱۹۸)

د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ نه په یو اوږد حدیث کښے روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی چه روژه دار دپاره دوه خوشحالئ دی یو د روژے ماتولو په وخت (داخو څرګنده ده) او بل چه کله د خپل رب سره ملاقی شی - (په هغه وخت به د روژے په

ثواب ونو خوشحال شی) (بخاری)

او په رمضان شریف کښې یو عبادت بل هم مقرر دے - یعنی تراویح کښې قرآن شریف اورول او اوریدل چه سنت مؤکده دی - په دے کښې هم څنه کارونه د روژے په شان دی. لکه خوب چه د خوراک څښاک په شان د نفس ډ آرام او خوښې څیز دے. د تراویح په وجه خوب کښې کمے راځی - او د خوب دکمی نه هم بل څوک پوره نه ځی خبر ید ے - لکه چې څله بنده په مانځه کښې اوده ځی او د نورو خلقو دا خیال وی چه ویښ دے - او کله کله بنده په سجده کښې په داسے حالت کښې ډ خوب جوړه اوخوری. چه دهغے حالت په وجه ئے اودس مات ځی - او چه اودس پاتے نه ځی نو مونږ هم پاتے نه ځی. یا که داسے حالت نه ووچه اودس پرے ماتیږی - بیا هم د مانځه څومره حصه چه ډ خوب په حالت کښې ادا شوه. هغه صحیح نه ځی شوه - نو په داسے حالت کښې ډ خوب غوندے خوب څیز ډ څان تښتول - اودس بیا تازه کول او د مانځه دغه فوت شوی حصه چاروپستل صرف هغه بنده کولے شی - دچا په زړه کښې چه ډ الله محبت اوخوف وی - نو ډ روژے په شان په تروایحو کښې قرآن شریف اوریدو کښې هم ډیره ریا نه ځی کیدے. په رمضان کښې الله تعالیٰ دیو شان دوه عبادتونه راجمع کړی دی. یو د شپے او بل د ورځے. په مخکښې دوُحدیثونو کښې دا بیا ذکر ږی.

رال وفی روایة قال ان الله فرض صیام رمضان و سننت لکم قیامه، فمن صامه وقامهٗ ایمانا و احتسابًا خرج من ذنوبه کیوم ولدته امه ۱۲ (ص ۲۰۶)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه الله تعالیٰ د رمضان روژے فرض کړی دی. او ما د الله تعالیٰ په حکم د رمضان شب بیداری (په تروایحو کښې قرآن اوریدو دپاره) ضروری کړیده. (سنت مؤکده هم ضروری دی) څوک چه په ایمان سره اود ثواب په عقیده د رمضان روژے اونیسی اود رمضان شپے رونږے کړی - هغه به دکنا هونو نه داسے پاک ځی - لکه په کومه ورځ چه د مور نه پیدا شوید ے. (نسائی)

(۱۲) عن عبد اللّٰہ بن عمرؓ ان رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم قال الصیام والقرآن یشفعان للعبد یوم القیٰمۃ یقول الصیام ای رب منعتہ الطعام والشھوۃ فشفعنی فیہ ویقول القرآن منعتہ النوم باللیل فشفعنی فیہ قال فیشفعان فیہ ۱۲ (ص ۱۹۹)

د حضرت عبد اللّٰہ بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم فرمایلی دی. چه روژه او قرآن دواړه به د قیامت په ورځ د بنده شفاعت (د ګناهونو د بخښنې سفارش) کوی. روژه به وائی ما دا بنده د خوراک څښاک او نفسانی خواهشونو نه منع کړے وو. نو اے پروردګاره د دهٔ په حق کښے زما سفارش قبول کړے. او قرآن به وائی ما دا بنده د خوا ب ځ خوب ویستے وو. نو اے پروردګاره! د دهٔ په حق کښے زما سفارش قبول کړے. رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم فرمائی. نو د دے دواړو سفارش به قبول شی.

(احمد، طبرانی، کبیر، ابن ماجه، حاکم)

ف: دا دواړه حدیثونه چه یو ځائے شی. نو د روژے او قیام دواړو مناسبت (د کوم تفصیل چه مخکښے بیان شوے دے) واضح دے.

تر دے پورے یو مسلسل مضمون وو. مخکښے څه متفرق خبرے لیکلے شی.

آیت (۱۳) قال اللّٰہ تعالیٰ ان المسلمین والمسلمات (الیٰ ان قال) والصائمین والصائمات (الیٰ ان قال) اعد اللّٰہ لھم مغفرۃ واجرًا عظیمًا (سورہ احزاب)

په یو اوږد آیت کښے اللّٰہ تعالیٰ فرمائی: بیشکه مسلمانان سړی او ښځے. او روژه نیونکی سړی او روژه نیونکی ښځے (د آیت په آخر کښے دی) اللّٰہ تعالیٰ د دوئی دپاره بخښنه او غټ ثواب تیار کړے دے.

(احزاب)

حدیث (۱۴) عن ابی ھریرۃؓ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم والذی نفس محمدٍ بیدہ لخلوف فم الصائم اطیب

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیہ وسلم (په یو اوږد حدیث کښے) فرمائیلی دی. زما د قسم وی په هغه ذات چه قبضه کښے ځے زما روح دے. د

عند الله من ریح المسك ۱۲ (ص ۱۹۸)

روژه دار دخولے بوئی (کوم چه دولږے نه پیدا کیږی) د الله تعالیٰ په نزد د مشکو د خوشبویئ نه زیات خوشبویه دے - (بخاری)

ف: دوے بوئی اصلی وجه د معدے خالی کیدل دی. نو دا په مسواک وهلو نه ورکیږی البته کم شی.

۱۵) عن ابن عمرؓ فی الحدیث الطویل قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والصیام الله عزوجل لا یعلم ثواب عامله الا الله عزوجل ۱۲ (ص ۱۹۸)

د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (په یو اوږد حدیث کښے چه د اعمالو د ثواب مختلف اندازے پکښے بیانیلی شویدی) فرمایلی دی چه روژه خالصه د الله دپاره ده - نو د دے عمل ثواب هم بے اندازے دے - بے د الله پاک نه ځ صحیح (طبرانی، اوسط، بیهقی)

مقدار بل هیڅ ته نه دے معلوم -

۱۶) عن ابی سعید الخدریؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کان اول لیلة من رمضان فتحت ابواب السماء فلا یغلق منها باب حتی یکون آخر لیلة فی رمضان ولیس عبد مؤمن یصلی فی لیلة فیها الا کتب الله له الفا و خمس مائة حسنة بکل سجدة و بنی له بیتا فی الجنة من یاقوت حمراء لها ستون الف باب لکل منها قصر من ذهب موشح بیاقوته حمراء فاذا

د حضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کله چه د رمضان لومړنۍ شپه شی - نو د آسمانونو دروازے پرانستے شی - بیا یوه دروازه هم نه بندیږی تر دے چه د رمضان آخری شپه راشی او هیڅ یو ایماندار بنده دا سے نشته چه په دے شپو کښے یوه شپه مونځ کوی (یعنی د تراویحو مونځ) مګر الله تعالیٰ درته په هره سجده یو نیم زر نیکئ لیکی - او هغه دپاره په جنت کښے د سرو یاقوتو یو دا سے محل جوړ کړی چه د هغے (د قلعے) په شپیته ځ زره دروازے وی. هره دروازه د سرو زرو نه جوړه

مام اول یوم من رمضان غفولہ ما تقدم من ذنبہ الی مثل ذلك الیوم من شھر رمضان و استغفر لہ کل یوم سبعون الف ملك من الصلوٰۃ الغداۃ الی ان توادی بالحجاب وکان لہ بکل سجدۃ یسجد ھا فی شھر رمضان بلیل او نھار شجرۃ یسیر الراکب فی ظلھا خمسن مائۃ عام ۱۲

(ترغیب ص۲۰۲)

اوسرو یاقوتو بنایسته شوے. بیاچه د رمضان په میاشت روژه اونیسی نو زاړه ګناهونه ورته ټول معاف شی. کوم چه ځ د تیر رمضان نه تر دے رمضانه کړی وی. او هر ورځ د سحر دمانځه نه تر نمر ډوبیدو پورے ورته اویا زره فرشتے د مغفرت دعا غواړی. او دے چه د رمضان په میاشت کښے څومره مونځونه کوی د ورځے وی که د شپے د هرے سجدے په عوض کښے ورته د جنت په باغ کښے یوه داسے وُنه ورکولے شی چه د هغے په سوری کښے د اَس سور پنځه سوه کاله منزل کولے شی.

(۱۸) عن سلمان رضؓ قال خطبنا رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فی آخر یوم من شعبان فقال یاایھا الناس قد اظلکم شھر عظیم مبارک شھر فی لیلۃ خیر من الف شھر جعل اللہ صیامہ فریضۃ وقیام لیلہ تطوعا من تقرب فیہ بخصلۃ کان کمن ادی فریضۃ فیما سواہ و من ادی فریضۃ فیہ کان کمن ادی سبعین فریضۃ فیما سواہ (وفیہ بعدہ) من فطر صائما کان مغفرۃ

د حضرت سلمان رضؓ نه روایت دے. چه رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم په آخری جُمعه کښے خطبه لوسته پکښے ځے او فرمائیل! اے خلقو! په تاسو یوه ویره د برکت میاشت راتلونکے ده (یعنی رمضان) په دے میاشت کښے یوه شپه داسے ده چه په هغے عبادت کول د یوزر میاشتو د عبادت نه افضل دی. اللہ تعالیٰ دے میاشتے روژے په تاسو فرض کړی او د شپے د نوړُل (شب بیداری) (تراویح کول) ځے د فرضونه لږ کم کړیدی. (یعنی سنت) څوک چه په دے میاشت کښے د ثواب په نیت یو داسے نیک کار اوکړی (کوم چه فرض نه وی) هغه داسے دے

لذنوبه وعتق رقبة من من النار وكان له مثل اجره من غير ان ينقص من اجره شئ قالوا يا رسول الله ليس كلنا يجد ما يفطر الصائم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على تمرة او شربة ماء او مذقة لبن الخ ۱۲
(ترغیب ص ۲۰۲)

(یعنی دومره ثواب ورکولے شی) لکه چه بله میاشت کښے اویا فرض ادا کړی۔ (همغسے ارشاد دے) څوک چه په دے میاشت کښے په روژه دار باندے روژه ماتے (افطاری) اوخوروی دا به ئے دگناهونو د بخښش او دوزخ نه خلاصیدو ذریعه شی۔ او دا ته به هم د روژه دار هومره ثواب ورکړے شی۔ او دهغه په ثواب کښے به څه کمے اونه شی خلقو عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په مونږ کښے دهریو خو دومره طاقت نشته چه په روژه دار و افطار اوکړی۔ (د تپوس کوونکی دا خیال ووچه د افطاری مطلب د روژه دار مړ ول دی) حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ به دا ثواب هغه بنده هم ورکوی څوک چه په روژه دار افطاری کښے یوه چواره اوخوروی یا یوجام اوبه یا لسی ورکړی۔

او په رمضان کښے یو درېم عبادت بل هم دے یعنی اعتکاف چه د رمضان په آخری لسو ورځو کښے هر مسلمان دپاره سنت دے۔ خو که په کلی کښے څوکسانو اعتکاف اوکړو نو د ټول کلی غاړه به خلاصه شی (او که هیڅا هم اونکړو نو ټول به د سنت په ترک ملامته وی۔ مترجم)

اعتکاف دے ته وائی چه په دے نیت د عبادت دپاره جماعت کښے ډیره شی چه بے ضروری حاجت نه به هیڅ کار دپاره جماعت نه بهر ته نه ځی۔ د روژے او تروایحو په شان دے کښے هم د یو خوب څیز نه (یعنی د آزاد ګرځید ونه) منع کیږی۔ او دغه شان په دے کښے هم دیا نه شی دا تل څکه چه څوک څه خبرږی چه دے جماعت کښے په څه نیت ناست دے۔ همغسے د اعتکاف فضائل بیانیږی۔

(۱۸) عن علی بن حسین رض عن ابیه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

د حضرت علی رض بن حسین رض د خپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔

من اعتکف عشرا فی رمضان کان کحجتین و عمرتین ۱۲ (ترغیب ص۲)

څوک چې د رمضان آخری لس ورځې اعتکاف اوکړی (نو) د دوو حجونو او دوو عمرو هومره ثواب ئې اوشی۔ (بیهقی)

(۱۹) عن ابن عباس رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال فی المعتکف هو یعتکف الذنوب یجزی له من الحسنات کعامل الحسنات کلها ۱۲ (مشکوة ص۱۸۳)

دحضرت ابن عباس رض نه روایت دے۔ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اعتکاف کوونکی په حق کښې فرمائیلی دی چې د ټولو ګناهونو نه پاک وی۔ او داسې ثواب ورکیږی لکه چې ټولې نیکئ کوی۔ (مشکوة از ابن ماجه)

په دې یو فضیلت دا هم دے چې هر وخت په جماعت کښې حاضر وی۔ او جماعت کښې حاضریدو ثواب په لسم روح کښې تیر شوی دے۔

البته بنځوله پکار دی چې د کور دننه د ماښه په ځای کښې د اعتکاف نیت کینی۔ او دا د دے وارې عبادتونه چې په کومه ورځ ختمیږی یعنی د وارې اخترپه ورځ د هغې ویر فضیلت راښکاره دے۔

(۲۰) عن انس رض فی الحدیث الطویل قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فاذا کان عیدهم (الی ان قال) فان ملائکتی عبیدی و اماءی قضوا فریضتی علیهم ثم خرجوا یعجون الی الدعاء و عزتی وجلالی و کرمی و علوی و ارتفاع مکانی لاجیبنهم فیقول ارجعوا قد غفرت لکم

دحضرت انس رض نه په یو اوږد حدیث کښې روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ کله چې د اختر ورځ شی نو الله تعالیٰ خپلو فرشتو ته اووائی چې دے بنده یانو زما حکم پوره کړو۔ اوس دعا د پاره راوتی دی۔ نو زما په خپل عزت او جلال، لوئ کرم او لوړ شان خپل قسم دی چې زه به ضرور د دوئ سوال قبلوم۔ بیا به اوفرمائی، خپلو کورونو ته واپس شئ ما اوبخښلئ۔ او ستاسو بدئ مے په نیکو بدلے کړے

وبدلت سیاٰتکم حسنات قال فیرجعون مغفوراً لھم (مشکوٰۃ ص۱۸۲)	نو هغوئ به بخښلی شوی واپس شی. (مشکوٰۃ از بیهقی)

دا آخری دوه حدیثونه د مشکوٰۃ دی. نور ټول د ترغیب دی.

اولسم روح

چه نوم ئے باب الدّیان دے

حج کول

حج کول په مالدار مسلمان (چه شرائطو باندے پوره وی) فرض دے - او په نورو نفل. اوحج هم د مونځ زکوٰۃ او روژے په شان د اسلام یو غټ رکن دے او یو شاندار لاره می حکم، لکه چه:

(۱) قال اللّٰه تعالیٰ وَ لِلّٰهِ عَلَی النَّاسِ حِجُّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا ط	اللّٰه تعالیٰ فرمائی: او د اللّٰه د پاره په خلقو باندے د دے کور (بیت اللّٰه شریف) حج لازم دے (یعنی دهغه چاپه ذمه) چه طاقت لری ترهغے د تلو.
(۲) وقد مر هذا الحدیث فی نمبرۃ ۹ علی	رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی. که څوک موضح روژه زکوٰۃ درے واړه ادا

کوی لیکن فرض حج ادا نکړی. نو دا درے واړه ئے د نجات د پاره کافی نه دی -
(دا حدیث په څوارلسم روح کښے ع۹ باندے تیر شوید ے)

او په حج کښے یوه خاصه خبره دا ده. چه په نورو عبادتونو کښے نشته. هغه دا ده چه په نورو عبادتونو کښے خو ځنے کارونو کښے څه عقلی مصلحتونه (فائدے) هم شته (بنده پرے پوهیږی) لیکن د حج کارونه ټول عاشقانه دی. او حج (په صحیح

Scanned with CamScanner

طریقه) هغه بنده کولے شی۔ چه په عقل ئے عشق غالب وی. اوکه په شروع کښے ورکښے څه کمے هم وی ۔ بیا هم دا تجربه ده چه عاشقانه کارونو کولو سره عشق زیاتیږی۔ نو په حج کولو په ئے دا کمے پوره شی ۔ او بیا خاص چه څوک د حج کارونه هم په دے خیال اوکړی۔

اوظاهره ده چه دچا نیه د الله د عشق نه ډک وی هغه به په دین کښے ډیر مضبوط وی۔ نو په حج کولو کښے د دین د مضبوطولو خاصیت دے ۔ د هغے حدیثو نونه دوے اندازه لګیدے شی۔

رس عن عائشةؓ قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انما جعل الطواف بالبیت وبین الصفا والمروة ورمی الجمار لاقامة ذکر الله

(ابوداؤد جلد ۱ ص۲۶۷)

دحضرت عائشهؓ ابئی نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د بیت الله شریف نه چاپیره طواف د صفا مروه ترمینځه چکر لګول (په جمراتو) کانړی ویشتل ۔ دا ټول کارونه د الله تعالیٰ د یاد قایم ساتلو دپاره مقرر شویدی۔

(ابو داؤد باب الرمل)

ف: یعنی ظاهربین په دے حیران دی چه په دے طواف، چکر اوکانړو ویشتو کښے عقلی مصلحت څه دے؟ لیکن تاسو عقلی مصلحتونه مه لټوئ۔ دا سوچ اوکړئ چه دا د الله تعالیٰ حکم دے او دے په کولو د الله پاک یاد تازه کیږی او د الله سره تعلق زیاتیږی۔ او د محبت امتحان دے چه کومه خبره په عقل کښے نه راتله هغه ئے د الله د حکم په وجه اوکړه ۔ د محبوب دکورنه څار قربان کیدل او د محبوب په کلو کوڅو کښے منډے وهل څرګند عاشقانه کارونه دی۔

رس عن زید بن اسلمؒ عن ابیه قال سمعت عمرؓ بن الخطاب یقول فیما الرملان والکشف عن المناکب وقد اطأ الله

دحضرت زید بن اسلمؒ دخپل پلار نه روایت کوی چه ما د حضرت عمرؓ نه اوریدلی دی، وے چه (اوس په طواف کښے) د اوبدے وهلو[1] او څادر[2] د مټو لاندے راویستلو اویوه اوبده

[1] دمل [2] اضطباع

الاسلام ونفی الکفر واهله ومع ذلك لاندع شیئا کنا نفعله علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم ۱۲ (ابوداؤد، بحتبائی ص۲۶۵)

څرګند ولوځئ سبب دے؟ حالانکه الله تعالیٰ اسلام ته په مکه کښے قوت ورکړو. مشرکان او کافران ئے ذلیل کړل. (او دا کار شروع شوے وخپل طاقت بنکاره کولو دپاره وو) لیکن اوس دے چه اوس ورکښے هغه مصلحت پاتے نه شو) بیا هم مونږ هغه کار نه پریږدو. کوم چه موږ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په وخت کولو دهغه په اتباع کښے. ځکه چه خپله هم رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د حج وداع په موقعه په دے عمل کړیدے. (سره ددے چه په مکه کښے یو کافر هم نه وو پاتے). (ابو داؤد باب الزل)

ف: که د حج په کارونو کښے د عاشقئ رنګ غالب نه وے نو چه عقلی مصلحت ئے ختم شوے وو هغه کار هم ختمیدل پکار وو.

(۵) عن عابسؓ بن ربیعه عن عمر انه جاء الی الحجر فقبله فقال انی اعلم انك حجر لا تنفع ولا تضر ولولا انی رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقبلك ما قبلتك (ابو داؤد ج۱ ص۲۶۵)

د حضرت عابسؓ بن ربیعه نه روایت دے چه حضرت عمرؓ حجر اسود ته ورغلو بنکل ئے کړو بیا ئے اوفرمائیل زه ډیر نه پیژنم چه یو کانړے ئے نه چاته څه خیر رسولے شے اونه نقصان. که ما رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وے لیدلے چه ته ئے بنکل کړے ئے نو ما به هیڅ وخت نه دے بنکل کړے. (ابوداؤد باب تقبیل الحجر)

ف: د محبوب دکورځنه شی بنکل کولو کښے د عشق نه علاوه بل څه مصلحت کیدے شی؟ حضرت عمرؓ په خپل دے قول ذاخبره واضحه کړه چه مسلمان حجر اسود خپل معبود نه ګڼی. معبود خو هم هغه ذات دے کوم چه د نفع نقصان مالک دے.

(۶) عن ابن عمرؓ قال استقبل رسول الله صلی الله علیه وسلم الحجر ثم وضع شفتیه علیه یبکی طویلا ثم التفت فاذا

د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم (په طواف کښے) حجر اسود ته مخ کړو بیا ئے ورباندے دواړه شونډے مبارکے کیښوے اوډیر ساعت ئے ژړل چه سر مبارک ئے

هو بعمر بن الخطاب يبكي فقال يا عمر ههنا تسكب العبرات ۱۲

(ترغیب ص۲۳۳)

اوچت کړو . وئې کتل چې حضرت عمرؓ هم ژړل حضورؐ او فرمائیل اے عمره ! داد اوښکو بیولو ځائے دے .

(ابن ماجه ، ابن خزیمه ، بیهقی)

ف: دمحبوبې څخه غښه په مینه بنکلول او ژړل خالص په عشق کښ کیږی . کوږے نه ښکیدے . نور عاشقانه کارونه خو پخپله اراده کیدے شی . لیکن ژړا داسے شے دے چې بے اختیاره د عشق په جوش کښ راځی . (په خپله اراده هسے بے جوشه څوک ژړلے نه شی .) نو د ژړا د کارونو تعلق د عشق سره په دے حدیث نورهم زیات مضبوط شو .

وعن جابرؓ قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (في الحديث الطويل) اذا كان يوم عرفة فان الله تبارك وتعالى يباهي بهم الملئكة فيقول انظروا الى عبادي اتوني شعثا غبرا صاحين من كل فج عميق اشهدكم اني قد غفرت لهم ۱۲

(ترغیب ص۲۳۴)

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی . کله چې د عرفې ورځ شی . (په کومه ورځ چې ټول حاجیان د عرفات میدان کښ راغونډ وی) الله تعالیٰ فرښتو ته په فخر سره فرمائی . زما بندیانو ته اوګورئ څنګه کالونه لرے ملکونونه ماته په دا حال کښ راغونډ شوی دی چې سرونه ځ ببر دی بدن ځ په دوړو لړلے ، په سر و غړمو ځ مزلے کړی او راغلی دی . تاسو ګواه شئ چې ما دوئ اوښخل

(بیهقی ، ابن تیمیه)

ف: (دا سر ببر او ګرد و غبار نه ړک بدن) ظاهره ده چې د عاشقانو شکل دے . او په فخر سره د دے ذکر کول د دے عاشقانه شکل د خوښی اوښورے کیدو ثبوت دے .

دا یو څو حدیثونه په ډیر کښ د عاشقانه شان د تائید وپاره د نمونے په طور اولیکلے شو .

ورنه د ډیرو کارونو کښ عاشقانه رنګ ډیر واضح اوښرګند دے . لکه د

مز لفه او عرفات په غږونو کښې سرتور سر کړ خپیدل او لبیک لبیک چغې وهل. په خپل ژوند دمړو شکل جوړول. لکه د کفن په شان یوجامه لنګ او یو څادر کښې سرتور سر، ببر وینښتهٔ، لوټ نوکونه په عشق کښې د لیونتوب درجه ظاهره وی. نوکونه نهٔ پریکول، د بدن نه یو وینښتهٔ نهٔ کمول، څنګلی مرغان، ځناور بلکه سپینه قدرے نهٔ وژل. د حرم ونه، بوټے، وابنهٔ نهٔ پریکول. د محبوب د کوشې ادب دے. دا کارونه د هوښیارو دی که په عشق د لیونو.

په دے کښې ځکه کارونه چې په ښځو حاجیانو باندے نشته د هغې خاصه وجه ده. یعنی پرده. د حج په کارونو کښې د بیت الله شریف طواف، صفا مروه ترمینځه چکر، حجر اسود بوسکول او په زار زار ژړل. سرتور سر، ببر وینښتهٔ، په ډوړو لړلے، د کفن په شان جامه اغوستی عرفات ته حاضریدل. د پاسنو حدیثونو نه معلومه شوه. چې دا ټول عاشقانه کارونه دی. او څنګه چې په حج کښې د عشق او محبت رنګ دے. د دے د ادا کولو مقام یعنی مکه معظمه او ورسره نورو ځایونو کښې هم د محبت شان اینبے شوے دے. چې په دے د حج د عاشقانه رنګ نور هم تیز یږی. لکه آیت شریف دے.

(۸) رَبَّنَا إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ۔

حضرت ابراهیم علیه السلام دعا کړے وه! چې اے زما ربه زهٔ خپل اولاد ستا د لوټ کور په خوا کښې آباد وم. ته د ځنه خلقو زړونه دے خوا را اوکړ ځوه. چې دلته راغونډ یږی.

ف: دوے دعا اثر بالکل څرګند لیدے شی. لکه چې ابن حاتمؒ د سدیؒ نه روایت کړے دے.

(۹) اخرج ابن حاتم عن السدیؒ (فی الحدیث الطویل) لیس من مؤمن الا و قلبه معلق بحب الکعبة قال ابن عباسؓ لو ان

حضرت ابن حاتمؒ د حضرت سدیؒ نه په یو اوږد حدیث کښې روایت کړے دے. یو مسلمان هم دا سے نشته چې زړهٔ ئے د بیت الله شریف په مینه کښې کیږی نهٔ وی. حضرت ابن عباسؓ فرمانی

ابراهیم علیه السلام حین دعاء قال اجعل افئدة الناس تهوی الیهم لازحمت علیه الیهود والنصاریٰ ولکنه خص حین افئدة من الناس فجعل ذلك افئدة المؤمنین ۱۲
(درمنثور ج ۴ ص ۳۸)

که ابراهیم علیه السلام په خپله دعا کښے ټول خلق یاد کړے وے۔ (اَفْئِدَةً النَّاسِ) ئے ویلے وے نو دلته به د یهود یانو او عیسایانو هم ویره کښے وه۔ خو هغهٔ خپله دعا صرف ایمان دارو دپاره کړی ده۔ چه (اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ) ئے ویلی۔
(درمنثور)

او یو حدیث دے

(۱۰) عن ابن عباسؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لمکة ما اطیبك من بلد واحبك الی ولو لا ان قومی اخرجونی منك ماسکنت غیرك ۱۲
(مشکوٰة ص ۲۳۸)

د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (د هجرت په وخت مکے معظمے ته مخ کړو) وے فرمایل تهٔ څنګه پاک ښاره یے او زما څومره خوښ ئے۔ که زهٔ خپل قوم دتانه نهٔ جدا کولے نو زهٔ به هیڅرنګه بل خوا نهٔ وم لاړ۔
(مشکوٰة از ترمذی)

ف: او هرکله چه د هرمسلمان زړهٔ د محبت نه ډک دے نو د هغهٔ د محبوب ښهر سره به ئے هم ضرور مینه وی۔ نو د مکے معظمے محبت د دوو پیغمبرانو د دعا اثر دے۔ دا خو د حج او د هغه مقام دینی فضیلت کوم چه اصلی فضیلت دے بیان شو۔ دا دے نه علاوه حُنه دنیاوی فائدے هم پکښے شته۔ اګرچه په حج کښے دا دے نیت نهٔ دے پکار۔ لیکن هغه پخپله حاصلیږی۔ لکه په دے دوو آیتونو کښے دے طرف ته اشاره ده۔

(۱۱) قال الله تعالیٰ جَعَلَ اللّٰهُ الْکَعْبَةَ الْبَیْتَ الْحَرَامَ قِیٰمًا لِّلنَّاسِ ۱۲

الله تعالیٰ فرمائی۔ چه کعبه چه د عزت مقام دے الله تعالیٰ د خلقو د مصلحت قائم ساتلو دپاره برقرار ساتلی ده۔

ف: مصلحت (فائده) یو عام لفظ دے۔ نو د کعبے شریفے دینی فائدے خو څرګنده دے۔ او حُنه دنیاوی فائدے ئے دادی:

(۱) د امن ځائے کیدل۔ (۲) هرکال ورکښے کښ خلق راجمع کیدل (۳) چه مالی ترقی

او قوی اعتبار پکښې په سهولت سره حاصلیدے شی ۔ (۴) دوے تر باقی پاتے کیدو د دنیا باقی پاتے کیدل۔ تر دے چه کله د کافرو د لاسه کعبه شریفه ورانه شی نو وير زر به قیامت راشی۔ او دا دنیا به ورانه شی ۔ څنګه چه د احادیثونه ثابته ده۔ (بیان القرآن)

(۱۲) قال اللّٰه تعالیٰ فی سورة الحج : لِيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ الخ

اللّٰه تعالیٰ (ج ته د خلقو راتلو په حکمت کښې) فرمائی چه د خپلو دنیوی او دینی فائدو د پاره حاضر شی (مثلاً د آخرت فائدے لکه د ج ثواب او د اللّٰه رضا او دنیا وی فائدے لکه د قربانئ غوښه خوړل په تجارت کښې نفع کول وغیره) ۔ د رنګ :

(۱۳) اخرج ابن ابی حاتمؓ عن ابن عباسؓ انه قال فی الآیة منافع فی الدنیا ومنافع فی الآخرة اما منافع الآخرة فرضوان اللّٰه واما منافع الدنیا فما یصیبون من لحوم البدن فی ذلك الیوم والذبائح والتجارات ۳ (ج ۱۷ ص ۱۳۱)

ابن ابی حاتمؓ د حضرت ابن عباسؓ نه روایت کړے دے او د ج رنګ کښې یو عبادت بل هم دے۔ یعنی عمره چه سنت مؤکده ده۔ چه حقیقت کښې د ج څنګه عاشقانه کارونه دی څکه ورته ج اصغر هم ویلے شی۔ لکه چه

(۱۴) عن ابن مسعود ابن عباسؓ قالا العمرة الحجة الصغری ۔ (درمنثور ج ۱ ص ۲۰۹)

کښې راخلی دی۔

د عبداللّٰه بن شداد او مجاهد نه روایت دے ۔ (درمنثور عن ابی شیبه) لیکن د عمرے د ج په زمانه کښې هم کیږی ۔ په دے طریقه د یو شان دوه عبادتونه جمع شی۔ او په نورو ورځو کښې هم کیږی۔

تردے پورے یو مسلسل مضمون وو۔ څنګه یو څو ستر قه خبرے لیکو۔

(۱۵) قال اللّٰه تعالیٰ فی سورة البقر : وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ۔

اللّٰه تعالیٰ فرمائی : کله چه ج یا عمره کوئ نو خالص د اللّٰه د رضا د پاره ئے پوره پوره ادا کوئ۔ (یعنی قول کارونه ئے په خپلو شرطونو پوره پوره کوئ او نیت هم

خالص د ثواب کوئی۔ چه یلا څه دنیاوی غرض ورسره مرکب نه وی۔) (بیان القرآن)

(۱۶) عن ابی امامة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من لم یمنعه من الحج حاجة ظاهرة او سلطان جائر او مرض فمات ولم یحج فلیمت ان شاء یهودیا وان شاء نصرانیا۔ (مشکوٰة از دارمی)

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چا ته چه څه ظاهری مجبوری لکه ظالم حاکم یا معذورکوونکی بیماری د حج نه منع کوونکی نه وی۔ او بیا هم (سره د طاقته) بے حج کولو مړ شی نو هغه ته اختیار دے چه یهودی مری او که عیسائی مری۔

ف: په فرض حج نه ادا کولو داځومره سخته زورنه ده۔

(۱۷) عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اراد الحج فلیعجل ۱۲

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د چاچه د حج اراده وی نو تلوار ورته پکار ده۔

(مشکوٰة از ابوداؤد و ترمذی)

(۱۸) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعوا بین الحج والعمرة فانهما ینفیان الفقر و الذنوب کما ینفی الکیر خبث الحدید والفضة و لیس للحجة المبرورة ثواب الا الجنة ۱۲ (مشکوٰة کلها علی ص ۲۲۳)

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ حج او عمره دواړه یو ځائے کوئ (چه د حج زمانه وی) دا دواړه افلاس او گناهونه داسے لرے کوی لکه بهټئ چه د اوسپنے او سرو سپینو خیرے لرے کوی۔ (په دے شرط چه بل څه کار د دے خلاف موجود نه وی) او کوم حج چه په احتیاط سره اوشی (یعنی ټول ارکان ئے پوره پوره ادا کړے شی) د هغه بدله بے د جنت نه بل هیڅ نشته۔ (مشکوٰة از ترمذی و نسائی)

ف: په دے حدیث کښے د حج او عمرے یو دینی فائده بیان شویده۔ او یو دنیوی فائده۔ او گناه نه مطلب حقوق الله دی۔ ځکه چه حقوق العباد خو شهید ته هم نه معاف کیږی۔ لکه په مشکوٰة کښے چه د مسلم حدیث دے۔ ټول گناهونه

شهید ته معاف کیږی ـ یعنی د قرض نه ـ (مراد ترے قبول حقوق العباد دی)

(۱۹) عن ابی هریرة رضی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال الحاج والعمار وعد الله ان دعوه اجابهم و ان استغفروه غفر لهم ۱۲
(مشکوٰة ص ۲۲۲)

د حضرت ابو هریره رضی نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه حج کوونکی او عمره کوونکی د الله تعالیٰ میلمانه دی دوئی که دعا غواړی ـ نو الله تعالیٰ ئے قبلوی او که ډکناهونو معافی ترغواړی نو هغه ئے معاف کوی ـ
(مشکوٰة از ابن ماجه)

(۲۰) عن ابی هریرة رضی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من خرج حاجا او معتمرا او غازیا ثم مات فی طریقه کتب الله له اجر الغازی و الحاج والمعتمر ۱۲
(مشکوٰة ص ۲۲۳)

د حضرت ابو هریره رضی نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی څوک چه حج د پاره یا عمرے د پاره یا جهاد د پاره روان شو (او دومره کار ونو کولو نه مخکښے) په لاره کښے وفات شو ـ الله پاک هغه د پاره د حاجی او عمرے والا او غازی ثواب لیکی ـ
(مشکوٰة از بیهقی)

او د حج متعلق یو دریم کار بل هم دے یعنی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د روضے مبارکے زیارت ـ چه د اکثر و عالمانو په نزد مستحب دے او څنګه چه په حج کښے د عشق الٰهی شان دے ـ دغه شان په دے زیارت کښے د عشقِ نبوی شان دے ـ د چا زړه چه د الله او د هغه د رسول د عشق نه ډک وی هغه به په دین کښے څومره مضبوط وی ـ د عاشقانه شان اندازه د دے حدیث شریف نه لګیدے شی ـ

(۲۱) عن ابن عمر رضی مرفوعا من حج فزار قبری بعد موتی کان کمن زارنی فی حیوتی ۱۲
(مشکوٰة ص ۲۴۱)

د حضرت ابن عمر رضی نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ـ څوک چه حج اوکړی او زما د وفات نه پس زما د قبر (شریف) زیارت ته راشی نو داسے ده لکه زما په ژوند چه زما زیارت اوکړی ـ
(مشکوٰة از بیهقی)

ف: نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وارۀ زیارتونه (یعنی د وفات نه پس او په ژوند یو

برابر کړی دی۔ او هر کله چې دغه خاص خبرې تخصیص یکښې نشته۔ نو په هر اثر کښې به سره برابر وی۔ او ظاهره ده چې د حضورؐ په ژوند زیارت شوے دے۔ نو په زړه کښې به د حضورؐ څومره عشق پیدا کیدو۔ د وفات نه پس زیارت به هم دغه اثر وی۔ دا حدیث خو مے دد ے دعوے په تائید کښې اولیکلو۔ کنې په عشق نبویؐ کښې په ترقی د دے زیارت اثر په ستر کولید ے شی۔

اوځنګه چې د حج مقام یعنی د مکے معظمے ښهر کښې د محبت شان ساتلے شوید ے۔ دغه شان زیارت نبویؐ په مقام مدینه منوره کښې هم د محبت شان ساتلے شویدے۔ لکه چې دے حدیث نه معلومیږی۔

(۲۲) عن ابی هریرةؓ (فی الحدیث الطویل) و انه دعاك لمکة و انا ادعوا للمدینة بمثل ما دعاك لمکة و مثله معه ۱۲

د حضرت ابوهریرهؓ نه (په یو اوږد حدیث کښې) روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ اے الله! حضرت ابراهیمؑ ستانه د مکے دپاره سوال کړے وو۔ زهٔ ستانه د مدینے دپاره سوال کوم هغه هم (څهٔ چې ابراهیمؑ غوښتی وو۔ اوزه هغه څومره نور هم)۔ (یعنی دوچند برکت او شان)۔ (مشکوٰة از مسلم)

ف: په دغه کښې تیر شوی دی۔ چې حضرت ابراهیمؑ د مکے دپاره د محبوبیت دعا غوښتی وه نو د مدینے دپاره د دوچند محبوبیت دعا شوه۔

(۲۳) عن عائشةؓ قالت (فی الحدیث الطویل) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اللهم حبب الینا المدینة کحبنا مکة او اشد ۱۲

(کلیهما علی ص ۲۳۹)

د حضرت عائشے ابنتؓ نه (په یو اوږد حدیث کښې) روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ اے الله تهٔ مدینه زمونږ ه محبوبه (خوښه) کړے څنګه چې زمونږ ه د مکے وو۔ لا د هغے نه زیات۔

(مشکوٰة از بخاری و مسلم)

(۲۴) عن انسؓ ان النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا قدم من سفر فنظر الی جدران المدینة

د حضرت انسؓ نه روایت دے چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د سفر نه راغلو د مدینے دیوالونه به ئے اولیدل۔ نو

اوضح راحلته وان کان علی دابة حرکها من حیها ۱۲ (مشکوٰة ص۲۴۰)

سورلی به ئے تیزه کړه - د مدینے د محبت په وجه (چه زر اورسی) (مشکوٰة از بخاری)

ف: هرکله چه د محبوب هم محبوب وی. اود رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هرمسلمان مینه ده. نوضرور به دَهغهٗ د مینے څیز سره د هرمسلمان مینه وی.

(۲۵) عن یحیٰی بن سعیدؓ (فی الحدیث الطویل) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما علی الارض بقعة احب الی ان یکون قبری بها من ههنا ثلث مرات ۱۲ (مشکوٰة ص۲۴۱)

د یحیٰی بن سعیدؓ نه (په یو اوبد حدیث کښے) روایت دے - چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. د زمکے په مخ دا سے ځائے نشته چه زما د خپل قبر د پاره هغه د مدینے نه زیات خوښ وی. داخبره ئے درے ځله اوکړه - (مشکوٰة از مالک)

ف: دے د پاره هم هغه فائده ده کومه چه په مخکښے حدیث کښے لیکلے شوے ده. په حج او زیارت د الله او رسولؐ الله عشق زیاتیدل اوخپله د حج او زیارت او ددے مقاماتو کوم محبت چه د مسلمانانو په زړه کښے دے هغه د پاره دغهٗ دلیل حاجت نه ګڼشته - او ددے محبت چه په دین کوم اثر پریوځی هغه هم څرګند دے او مخکښے بیان شوید ے -

نو اے شته منو مسلمانانو! دالوئے نعمت مه پریږدئ - دا قول احادیث د مختلفو کتابونونه چونې شوی او دهریو سره د خپل کتاب حواله لیکلے شویده -

اتلسمد روح

د قربانئ په باره کښے

چه نوم ئے عیش الحیان دے

په چا چه زکوٰة فرض دے په هغهٔ قربانی واجب ده . او داخبره چه زکوٰة په چا فرض دے د روح څوارلسم په آخره کښ بیان شویدے . او په څنه دا عے کسانو هم قربانی واجب ده . چه زکوٰة پرے فرض نهٔ دے په دے د چا دیندار عالم نه څان پوهه کړئ . په چاچه قربانی واجب نهٔ ده . هغه کهٔ د خپل څان دپاره یا نابالغه وړو دپاره قربانی اوکړی نو د ثواب کار دے . اوکه د مړی د طرفه اوکړی نو هغهٔ ته ئے هم ثواب رسی . د دے متعلق یو څو آیتونه او حدیثونه لیکو :

آیات (۱) قال الله تعالیٰ

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ (سورة حج)

الله تعالیٰ فرمائی : د هر اُمت دپاره قربانی په دے غرض مقرر شوی ده - چه دوئ خاص څاروی (اوښ ، غوا ، میښه ، کډه ، بیزه وغیره) باندے د الله نوم واخلی چه هغهٔ داځینونه ورکړی دی . (او دا هغه څاروی دی

وفی سورة انعام : ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْإِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ الخ

دکومو ذکرچه په بل آیت کښ د دوئ د خوراک حلال کیدو سره داسے را غلے دے) چه اته نر او بنځے کډ اوکډه ، بیزه اوچیلے ، اوښ او اوښه غوا او غوے (د غوا سره میښه هم شامله ده) - (سورة انعام)

وفی سورة الحج بعد الآیة السابقه : وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ

بیا ارشاد دے او د قربانئ اوښ او غوا مونږ د الله د دین یو یادگار کړځولے دے .

Scanned with CamScanner

مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ وَبَعْدَهُ وَلٰكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ وَفِيْهِ بَعْدَهُ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

چه په دے قربانئ د الله تعالیٰ عظمت نه علاوه ستاسو دپاره په دے څاروو کښے نورے هم ډیرے فائدے دی۔ (مثلاً دنیاوی فائده خوړل او خورول او د آخرت فائده ثواب)

(بیا ارشاد دے) الله تعالیٰ ته نهٔ د قربانئ غوښه رسی نهٔ وینه لیکن هغهٔ ته ستاسو تقویٰ (او اخلاص) رسی۔

(بیا ارشاد دے) او مخلصانو ته خوشخبری وراوروه۔ (سورة حج)

ف: (۱) دے نه معلومه شوه چه قربانی په نورو امتونو هم واجب وه۔

(۲) اگرچه گڼو ښیزه هم د قربانئ څاروی او د دین یادگار دی۔ لیکن په آیت کښے خاص د اوښی او غوا ذکر دے دپاره اوشو چه د دے قربانی دگڼو او ښیزے نه بهتره وه۔ که پوره اوښی یا غوا نهٔ وی بلکه اووم حصه وی نو په هغے کښے دا تفصیل دے که دا اووم حصه دگڼو یا ښیزے سره په قیمت او غوښے کښے برابر وی۔ نو د گوم شی غوښه چه بنهٔ وی هغه بهتر دے۔ او که په قیمت او غوښے کښے برابر نهٔ وی۔ نو گوم چه زیات وی هغه افضل دے۔ (شامی)

ف: په قربانئ کښے اخلاص دے چه خالص د الله دپاره او د ثواب په نیت وی۔

(۳) قال الله تعالیٰ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝

الله تعالیٰ فرمائی: (سورة کوثر کښے چه) ته د خپل رب سوغ گوه او قربانی کوه۔

ف: د حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دے۔ چه په حضور دومره تاکید شوید نو مونږ ته گله معافی کیدے شی۔ څنگه چه د دے سره په حکم کښے مرگ ے شے سوغ په امت هم فرض دے۔ نو شان قربانی هم دے۔

احادیث: (۱) عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما عمل آدمی من عمل یوم النحر احب الی الله من عراق الدم وانها لتاتی یوم

د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د قربانئ په ورځو کښے د بنده یو عمل هم د الله په نزد د قربانئ نه زیات خوښ نهٔ دے۔ او د قربانئ څاروے به

القيمة بقرونها واشعارها و اظلافها وان الدم ليقع من الله بمكان قبل ان يقع من الارض فطيبوا بها ۱۲
(ترغیب ص۲۲۱)

د قیامت په ورځ د خپلو ښکرونو، ویښتو او سُمونو (نوکونو) سره حاضریږی. (یعنی د دے ټولو څیزونو په بدله کښے به ثواب ورکیدے شی) او د قربانئ وینه په زمکه تویُدونه وړومبے الله تعالیٰ سره یو خاص درجه ته رسی - نو تاسو د زړهٔ په خوښه قربانی کوئ. (او د زیات رقم په خرچ کیدو زړهٔ مه تنګوئ).
(ابن ماجه، ترمذی، حاکم)

(۴) عن زيد بن ارقمؓ قال قال اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يا رسولَ الله ماهذه الاضاحى قال سنة ابيكم ابراهيم قالوا فمالنا فيها يا رسولَ الله قال بكل شعرة حسنة قالوا فالصوف قال شعرة من الصوف حسنة ۱۲
(ترغیب ص۲۴۱)

د حضرت زید بن ارقمؓ نه روایت دے چه اصحابوؓ تپوس اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قربانی څهٔ شے دے حضورؐ اوفرمائیل دا ستاسو (د نسبی یا روحانی) نیکهٔ ابراهیمؑ طریقه (یادګار) ده هغوی عرض اوکړو مونږ ته په دے کښے څهٔ خیر دے حضورؐ اوفرمائیل د (قربانئ د څارویو) هر ویښتهٔ په بدله کښے یو نیکی - هغوئ عرض اوکړو که هغه د وړئ والا څارویے وی - حضورؐ اوفرمائیل د هرے وړئ په بدله کښے یو نیکی -
(حاکم)

(۵) عن علیؓ ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال يا فاطمة قومى فاستهدى اضحيتك فان لك بأول قطرة تقطر من دمها مغفرة لكل ذنب اما انه يجاء بدمها ولحمها فيوضع فى ميزانك سبعين ضعفًا فقال ابو سعيد يا رسولَ الله

د حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - اے فاطمهؓ پاسه او (د حلال لحم په وخت) د خپلے قربانئ سره اودریږه ځکه چه د قربانئ د ویښے وړومبئ قطره چه زمکه ته رسی د هغے سره به ستا ټول ګناهونه معاف شی - او یاد لره د قیامت په ورځ به د دے قربانئ وینه اوغوښه راوړے شی او د ستا د عمل په تله کښے به د دے اویا چنده وزن

هٰذ الآل محمد خاصة فانهم اهل لما خصوا به من الخير اولآل محمد و للمسلمين و امة قال لآل محمد خاصة وللمسلمين عامة ۱۲

(ترغیب کلاهما علی ص ۲۲۱)

کینبوے شی او دوے ټولو په بدله کښے به نیکئ درکړے شی - ابو سعیدؓ عرض اوکړو. یا رسولؐ اللّٰه! آیا دا ثواب خاص د اهل بیتو دپاره دے - حُکه چه دوئ دوے لائق دی چه په یوځین کښے خاص کړے شی - اوکه د عامو مسلمانانو دپاره دے؟ حضورؐ اوفرمایئل د اهل بیتو دپاره یو قسم خاص هم دے او د ټولو مسلمانانو دپاره یو قسم عام هم.

ف: د اهل بیتو دپاره دیو قسم خاص کیدو مطلب دا سے معلومیږی لکه قرآن شریف کښے چه د رسول کریم صلی اللّٰه علیه وسلم د بیبیانو دپاره فرمایئلی شوی دی - چه د نیک کار ثواب به هم دوچند ورکولے شی - او د بد کار سزا به هم دوچند وی. نو د قرآن پاک نه د بیبیانو دپاره او دوے حدیث نه د اولاد دپاره خصوصیت ثابت شو. دوے وجه زیات عزت او بزرگی ده.

(۶) عن حسین بن علیؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم من ضحی طیبة نفسه محتسبا لاضحیة کانت له حجابا من النار ۱۲

د حضرت حسین بن علیؓ نه روایت دے - چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایئلی دی څوک چه دا سے قربانی اوکړی چه زړه ئے پرے خوشحال وی او نیت ئے د ثواب وی دا قربانی به دهغه دپاره د دوزخ د اور نه یو رکاوټ شی.

(طبرانی، کبیر)

(۷) عن ابو هریرةؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم من وجد سعة لان یضحی فلم یضح فلا یحضر مصلانا ۱۲

(ترغیب کلاهما علی ص ۲۲۲)

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایئلی دی څوک چه د قربانئ طاقت لری او قربانی اونکړی. زمونږ عیدگاه ته دِ نه راځی.

(حاکم)

ف: دوے جملے نه څومره خفګان بنکاره کیږی - آیا یو مسلمان د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم دا سے نافرمانی کیدل برداشت کولے شی؟ دا خفګان د هغه چا نه دے چه قربانی پرے

واجب وی. دچا چه طاقت نه وی د هغوئ نه نه دے. (دا ټول حدیثونه د ترغیب دی)

(۸) عن جابرؓ قال نحر رسول الله صلی الله علیه وسلم عن نسائه فی حجة بقرة روایة نحر عن عائشةؓ بقرة یوم النحر ۱۲

د حضرت جابرؓ نه روایت دے. چه رسول پاک صلی الله علیه وسلم په خپل حج کښے د بیبیانوؓ د طرفه دیو غوا قربانی اوکړه. او په یو روایت کښے دی چه د لوئ اختر په ورځ ئے د حضرت عائشهؓ ابئی د طرفه دیو غوا قربانی اوکړه. (مسلم)

ف: دا ضروری نه ده چه یوه غوا ئے د ټولو نهو واړو بیبیانو د طرفه قربانی کړی وی. او سره د دے چه اونبان او بیزے ویرے وے. د غوا قربانئ ته ترجیح ورکول که یو اتفاقی خبره اونه ګڼلے شی. نو کیدے شی چه یهودیانو چه د سختی عبادت کړے وو. د هغے مشرکانه رسم ختمولو د پاره ئے دا اهتمام کړے وی.

او په څنه روایاتو کښے چه د غوا غوښے ته ضرری او نقصانی ویلے شویدی. دا شرعی حکم نه دے. بلکه د پرهیز په طور دے. لکه څنګه چه لسه روځ ع کښے حضرت علیؓ د کهجورو خوړو نه منع کولو خبره تیره شوے ده. لکه چه حلیمی ویلی دی. حجاز خشک وطن دے او د غوا غوښه هم خشکه ده. او مقاصد واله لیکلی دی. چه دا حکم خاص د حجاز خلقو د پاره دے. او دا خبره اکثرو عالمانو خوښه کړے ده.

(۹) عن خنشؓ قال رأیت علیا یضحی بکبشین وقال احدهما عنی والآخر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم فقلت له قال امرنی به یعنی النبی صلی الله علیه وسلم او قال اوصانی به فلا ادعه ابدا

(جمع الفوائد ج۱ ص۳۳۳)

د حضرت خنشؓ نه روایت دے چه ما حضرت علیؓ اولید وچه دوه ګډان ئے قربانی کړل او وئے ویل دا یو زما د طرفه دے او بل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طرفه دے. ما ورسره په دے کښے خبرے اوکړے. نو هغوئ او فرمائیل. ماته حضورؐ دا حکم کړے دے (چه ما د پاره قربانی کوه) نو زهٔ به دا هیڅرے نه پریږدم.

(ابو داؤد، ترمذی)

ف: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مونږ ډیر حقونه او احسانونه دی. که مونږ هر کال

Scanned with CamScanner

د هغوئ دپاره هم قربانی اوکړو نوځئ دومره کران کار نئ دے۔

(۱۰) عن ابی طلحۃؓ انه صلی اللہ علیه وسلم قال فی ذبح الثانی هذا عمن لم یذبح و صدقنی من امتی۔
(جمع الفوائد ج ۱ ص ۲۰۳)

د حضرت ابو طلحہؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د قربانئ یو کړه حلالولو په وخت اووے دا د ما د طرفه دے او د بل کړه حلالولو په وخت ئے اووے دا زما په امت کښے دهغه چا د طرفه دے چه په مائے ایمان راوړے او زما تصدیق ئے کړے دے۔ (مومل، کبیر و اوسط)

ف۱: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مطلب خپل امت هم د قربانئ په ثواب کښے شریکول وو۔ دے مطلب دا نئ دے چه هغوئ د امت د طرفه قربانی اوکړه۔ نو کوئے اوس دامت په زمه قربانی پاتے نئ شوه۔

ف۲: د غور خبره دا ده چه حضورؐ خپل امت په قربانئ کښے یاد کړو۔ نو دا ډیره د افسوس خبره ده چه امت هغوئ یاد نکړی۔ او د قربانئ یوه برخه هم د هغوئ دپاره اونئ نیسی۔

(۱۱) عن ابی هریرۃؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم استسمنو ضحایاکم فانها مطایاکم علی الصراط
(کنز العمال ج ۲ ص)

د حضرت ابو هریرہؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه د قربانئ څاروی بنئ څر بوئ (ډیر خوراک ورکوئ) ځکه چه دا په پل صراط دستا سو سورلئ دی۔

ف: عالمانو د سورلئ دوه مطلبه بیان کړی دی۔

(۱) چه هم دا څاروی به سورلئ وی۔ او کنې څاروی وی نو دهغے ټولو په بدله کښے به یوه ډیره بنئ سورلی ورکړے شی۔ یا به یویو پراؤ په یو څاروی سوریږی۔

(۲) د قربانئ په برکت به په پل صراط باندے پورے وتل آسان شی لکه چه پرے سور لاړ شی۔ او په کنز العمال کښے دے مضمون یو بل حدیث دا سے دے۔ چه د ټولو نه بهتره قربانی هغه ده چه څاروے بنئ څوریږ او غټ وی۔

او یو حدیث دا سے دے چه د الله په نزد غوره او اعلیٰ قربانی هغه ده۔ چه

څارونه اعلیٰ او بهتر وی۔

د قربانئ نه منع کولو مسئله

خُنه ظالمان (هندوان) خلق د قربانئ نه اوخامی د غوا د قربانئ نه منع کوی۔ اوکله عین د قربانی په وخت په مسلمانانو حمله اوکړی۔ او قربانی چه د هغوئ جائز بلکه واجب حق دے پریښو باندے مجبوروی۔ دا سراسر دهغو زیاتے دے اوچونکه پورته ذکر شو و آیتونو او حدیثو نو کښے خاص د غوا حلالولو ذکر او د غوا د قربانئ فضیلت راغلے دے۔ اوخپله حضور د غوا قربانی کړی ده۔ نو مسلمانان په دے دچا دَخل نهٔ شی برداشت کولے اوخان په قربان کولو کښے بالکل بے وسه دی۔ دا سے واقعات ډیر پیښیږی۔ نو په دے مسئله خان پوهه کول پکار دی۔ څنګه چه په هغے کلکیدل جائز دی۔ دغه شان که چرته کلکیدل د مصلحت خلاف وی۔ نو دا هم په شریعت کښے جائز ده چه په دغه موقعه دَصبر نه کار واخلی قربانی بنده کړئ۔ اوحکومت ته اطلاع ورکړئ۔ امداد ترے اوغواړئ۔ که د قربانئ تر ورځو یعنی دولسمه تاریخ پورے حکومت انتظام اوکړی اوکهٔ تر دے ورځو انتظام اونهٔ شی۔ نو په دے کال دِ قربانی پریدی او هغه رقم دِ په غریبانانو تقسیم کړئ۔

اوکهٔ د اول ځل اندازه لګی۔ چه په قربانئ به جنګ جګړه کیږی۔ نو په دا سے وخت کښے د اول نه هغه طریقه چلول پکار دی کومه چه مونږ په لسم روح کښے لیکلی ده۔ د هغے مطلب دادے چه د حکومت په ذریعه د شر دفع کولو انتظام پکار دے۔ که حکومت ځے خپله انتظام کوی او تاسو ته د بدل اخستو اجازت درکوی۔ اوکهٔ خپله د حکومت د طرفه څهٔ خرابے وی۔ نو په تهذیب سره دَخپل تکلیف اطلاع ورکړئ۔ اوکهٔ بیا هم د منشا مطابق انتظام اونهٔ شو۔ نو صبر کوئ په عمل یا په ژبه یا په قلم سره د حکومت مقابله مهٔ کوئ۔ صبر کوئ او الله پاک نه سوال کوئ۔ چه دا تکلیف درنه لرے کړی۔

اوکهٔ بیا هم ظالمان موپه آرام نهٔ پریدی او خامخا درسره جنګ کوی نو مسلمان باندے بهرحال د کافرو په مقابله کښے مضبوطیا او استقلال فرض دے۔ کهٔ کمزورے وی هم۔ خلاصه دا ده چه ترڅو پورے شر او فساد په روغه او امن دفع کیدے شی نو جنګ نهٔ دے پکار۔ اوکهٔ په هیڅ طریقه د روغے خبره نهٔ منی نو آخری

حربه جنګ دے، په مجبورئ - لکه شیخ سعدیؒ چه ویلی دی -

چو دست از همه حیلتے درگسست — حلال است بردن به شمشیر دست
اگر صلح خواهد عدو سر بپیچ — وگر جنګ جوید عنان بر بپیچ

ترجمه: چه ټول تدبیرونه دلاس نه اوخوځیږی (ناکام شی) نو ټوره ته لاس ور وړل جائز دی- که دشمن صلح کول غواړی نو انکار مه کوه- اوکه خامخا جنګ غواړی نو مخ ترے مه اړوه - (بیا کمک اوسه میدان مه پریږده -)

نولسم روح

دآمد وخرچ انتظام کول

یعنی پیداوار هم په صحیح کول چه څه کار ورکښے د شریعت خلاف نه وی- او دغه حلاله کتلے بیا په صحیح خائے لګول چه د شریعت خلاف څه کار پکښے نه وی-

(۱) عن ابن مسعودؓ عن النبی صلی اللہ علیه وسلم قال لا تزول قدما ابن آدم یوم القیٰمة حتی یسأل عن خمس اومن الخمس وعن ماله این اکتسبه وفیما انفقه ۱۲ (مشکوٰة ص۴۴۳)

دحضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی اللہ علیه وسلم فرمائیلی دی - د قیامت په ورځ به دهیچا قدم دحساب دځائے نه نه ځوزی- ترڅوچه ترے نه د پنځو څیزونو تپوس نه وی شوے (په هغے پنځو کښے دوه دادی) د هغه دمال متعلق به ترے تپوس کیږی چه په څه طریقه ئے کمائے وو (حلاله که حرامه) او په څه طریقه ئے خرچ کړے وو - (ترمذی)

ف: مطلب داچه مال کټلو کښې د هم څه کار د شریعت خلاف نه وی. لکه سودی[1] کاروبار رشوت[2] اختلس[3]، د بل حق لاسته راوړل[4] کول (لکه دچا زمکه په موروثیت وغیره قبضه کول. یا دچا قرض خوړل یا چاته په میراث کښې برخه نه ورکول. لکه څنه خلق چه لور، خور ته میراث کښې برخه نه ورکوی). یا مال[5] کټلو کښې دا سې مشغولیدل چه د ماڼځه پروا ئې هم نه وی. زکوٰة نه ورکوی. حج نه کوی. آخرت ئې بالکل هیر کړے وی. بس تشه دنیا ئې یاده وی.

او هم دغه شان په مال لګولو کښې هم داخیال پکار دے. چه بے ځایه اونه ئې لګی. د شریعت خلاف څه کار پرے اونه شی. لکه د مړی ډوندی په رواجی کارونو لګول صرف د نفس خوشالولو دپاره د ضرورت نه زیات خوراک، جامه یا شاندار آبادی باندے بے فائدے خرچ کول. یا د مکان د بنائست په سامان یا په بنکار او لوبو یا د وړو د لوبو په څیز ونو ډیرے پیسے لګول دا ټول فضول کارونه دی. په دے کښې ډیر احتیاط پکار دے.

دے ټولو پابندیو سره که څوک جائز کټه کوی یا حلال مال جمع کړی نو څه نقصان پکښې نشته. بلکه څنه حالتونو کښې بهتر او ضروری دے. لکه د بال بچ په نفقه خرچ کولو یا هغوئی ته د دین تعلیم ورکولو د رقم ضرورت دے. د غه شان د علم دین مدرسو چلولو د مسلمانانو د خدمت، د اسلامی تبلیغ او د دین د حفاظت دپاره دیتیم خانو او جماتونو د انتظام دپاره د مال لګولو ضرورت دے. او بیا خاص په دا سے حالت کښې چه د شمنان د اسلام او مسلمانانو ختمولو دپاره مال لګوی. نو په دا سے حالت کښې د مال مقابله په مال کیدے شی. (که دینداره خلقو سره مال نه وی نو دا سے مقابله به څنګه کوی؟) لکه الله تعالیٰ چه د اسلام د دشمنانو د مقابلے دپاره د اسونو او نور سامان تیار ساتلو حکم کړے دے. (سورة توبه) او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دا سے اسونو ساتلو او د هغوئی په هر خدمت د خاطر د ډیرے ثواب او ډیرو ډیرو نیکیو وعده کړے ده. (مسلم) نو په دا سے حالت کښې چه د دین د موجوده او راتلونکی ضرورتونو پوره کولو دپاره رقم حاصلول عبادت دے. په څنګښې حدیثونو کښې هم دغه ذکر دے.

(۲) عن عبد اللّٰہ قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم طلب کسب الحلال فریضۃ بعد الفریضۃ ۱۲

(مشکوٰۃ ص ۲۴۲)

دحضرت عبد اللّٰہ نه روایت دے۔ چه رسول اکرم صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی چه دحلال کټه تلاش فرض دے۔ د فرض (عبادت) نه پس۔

(بیهقی)

(۳) عن ابی کبشۃ رض الانماری انه سمع النبی اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم یقول (فی الحدیث الطویل) انما الدنیا لاربعة نفر عبد رزقه اللّٰہ مالا وعلما فهو یتقی فیه ربه ویصل رحمه ویعمل اللّٰہ فیه بحقه فهذا بافضل المنازل الخ

(مشکوٰۃ ص ۴۵۱)

دحضرت ابو کبشه انماری رض نه روایت دے (په یو اوږد حدیث کښے) چه رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی چه دنیا دځلورو کسانو دپاره ده۔ یو پکښے هغه بنده دے چه اللّٰہ تعالیٰ مال هم ورکړے وی اوډ دین پوهه هم۔ په دے کښے د خپل رب نه ویریږی دخپلوانو سره ښیګړه کوی او د اللّٰہ تعالیٰ حق پکښے ادا کوی۔ دا سړے په ټولو کښے بهتر او په اوچته مرتبه کښے دے۔

(ترمذی)

(۴) عن ابی سعید الخدری رض ان رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم قال (فی الحدیث الطویل) ان هذا المال مخضرة حلوة فمن اخذه بحقه و وضعه فی حقه فنعم المعونته هو ۱۲

(ص ۴۳۰)

دحضرت ابو سعید خدری رض نه روایت دے چه رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی۔ دا مال ویر ښائسته او مزیدار څیز دے۔ نو څوک چه ئے په حقه (د شریعت موافق) حاصل کړی۔ او په حقه (جائز موقعو کښے ئے) خرچ کړی نو دا ویر ښه مددګار دے۔

(بخاری ومسلم)

(۵) عن عمرو بن العاص رض (فی الحدیث الطویل) قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم نعم المال الصالح للرجل الصالح ۱۲

(مشکوٰۃ ص ۳۲۶)

دحضرت عمرو بن العاص رض نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم فرمایلی دی۔ چه ښه مال د ښے سړی دپاره ښه څیز دے۔

(احمد)

Scanned with CamScanner

(۶) عن ابن ابی بکر بن ابی مریم قال مقدام بن معدیکربؓ سمعت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم یقول لیاتین علی الناس زمان لا ینفع فیھا الا الدنیاء والدرھم ۱۲ (مشکوٰۃ)

د حضرت مقدامؓ بن معدی کربؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی. چه په خلقو به یو داسے وخت هم راشی چه صرف اشرفئ او روپئ به پکښے کار ورکوی. (یعنی خپلوی او نور تعلقات به نهٔ پکاریږی صرف مال به پکاریږی.

(۷) عن سفیان الثوریؓ قال کان المال فیما مضی یکره فاما الیوم فھو ترس المؤمن و قال لولا ھذہ الدنانیر لتمندل بنا ھؤلآء الملوک وقال من کان فی یدہ من ھذہ شیٔ فلیصلحه فانه زمان ان احتاج کان اول من یتذل دینه وقال الحلال لا یحتمل السرف ۱۲ (مشکوٰۃ)

د حضرت سفیان ثوریؓ نه روایت دے چه مال په پومبنئ زمانه کښے (یعنی د اصحابو په وخت کښے) ښهٔ نهٔ شوکښلے (ځکه چه زړونه په دین کښے مضبوط وو. د مال ضرورت ورته نهٔ وو. د دے په نقصان ئے نظر نهٔ وو لرلے به ترِ تښتیدهٔ) لیکن په دے زمانه کښے مال د مسلمان دپاره ډال دے (یعنی د بے دینئ نه ئے بچ کوی. ځکه چه په زړونو کښے د ایمان قوی نشته. په بے مالئ کښے پریشان کیږی. او پریشانئ کښے ئے دین خرابیږی) او دا به ئے هم وے که زمونږ سره دا اشرفئ نهٔ وے نو دے دنیادار وخلقو به ډیر سپک او ذلیل کښلو. او زمونږ دین ته به ئے نقصان رسولو - اوس د مال په وجه زمونږ عزت کوی. او د عزت په وجه زمونږ دین محفوظ دے) او دا به ئے هم وے د چا سره چه څهٔ روپئ پیسے وی. نو لږ خیال ډِ ساتی. یعنی د هغے ډِ په صحیح طریقه د ژباتولو کوشش کوی (برباده وی ډِ ئے نه) ځکه چه دا داسے وخت دے چه څوک پکښے غریب شی نو د هرڅهٔ نه روسے خپل دین برباد کوی. (لکه چه د ډال کیدو په مطلب کښے تیر شویدی) او دا به ئے هم وے چه حلال مال کښے فضول خرچی نهٔ شی کیدے (یعنی حلال

مال اکثر دومره ویرنه وی چه بے حایه ډکے الوزئ او بیا هم نه ختمیږی ۔ نو پکار ده چه په خیال خیال خرچ کوئ چه ډختمید و په وجه پریشان نه شئ ۔ (شرح السنة)
څنګه بیا د حلال مال ګټلو فضیلت بیان شوے دے۔

(۸) عن ابی سعید قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم التاجر الصدوق الامین مع النبیین والصدیقین ۱۲ (مشکوٰة)

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. ریښتونے او امانتګر تاجر به (په قیامت کښے) د پیغمبرانو، ولیانو او شهیدانو مرګوے وی.
(ترمذی، دارمی، دارقطنی)

ف: په دے کښے د حلال تجارت فضیلت دے۔

(۹) عن مقدام بن کرب رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما اکل احد طعاما قط خیرا من ان یاکل من عمل یدیه وان نبی الله داؤد کان یاکل من عمل یدیه ۱۲ (مشکوٰة ص ۲۴۱)

د حضرت مقدام بن معدیکرب رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هیڅا هیڅ خوراک نه دے خوړلے بهتر د هغے خوراک نه کوم چه د خپل لاس د محنت په ګټه او خوړلے شی د الله تعالیٰ پیغمبر داؤد علیه السلام به د خپل لاس ګټه خوړه۔
(بخاری)

د هغه دستکاری زغره جوړول وو۔ لکه په قرآن مجید کښے چه راغلی دی.

ف: دے نه د حلالے دستکارئ فضیلت ثابت شو۔ البته حرامه دستکاری لکه د جاندارو تصویرونه جوړول یا باجے وغیره د سرود سامان جوړول ګناه دی۔

(۱۰) عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم ما بعث الله نبیا الا رعی الغنم فقال اصحابه وانت فقال نعم کنت ارعی علی قراریط لاهل مکة ۱۲ (مشکوٰة ص ۲۵۸)

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی الله تعالیٰ یو نبی داسے نه دے راستولے چه هغه بیزے نه وی څرولی اصحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو یا رسول الله تاسو هم څرولی دی؟ حضور فرمایل او ما د مکے د خلقو بیزے د یو څو آنو په عوض کښے څرولی دی۔ (بخاری)

ف: قیراط د دینار څلیرمه[۲۴] حصه دی۔ او دینار زمونږ دروپئی په حساب پاؤکم درے جوړیږی۔ نو قیراط څه کم دوه آنے شوے۔ شاید چه دهغے بیزے په داسے ضروری مقرر شوی وی۔ ددے نه دا داسے مزدورئ فضیلت معلوم شو چه پکښے دکښرو کسانو کار کولے شی۔

(۱۱) عن عتبة بن المنذر (فی الحدیث الطویل) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان موسٰی علیه السلام آجر نفسه ثمان سنین او عشرا ۱۲ (ص ۲۵۸)

د حضرت عتبه بن منذرؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ حضرت موسٰی علیه السلام خپل ځان الله یا لسٰی کالو دپاره نوکر کړے وو۔ (د حضرت شعیب علیه السلام بیزے ئے ساتلے) (احمد و ابن ماجه)

ف: دا قصه په قرآن مجید کښے هم شته۔ ددے نه د دا داسے نوکرئ فضیلت معلوم شو۔ چه دیو کس کار کوی۔

(۱۲) عن عبد الله بن مغفل قال زعم ثابت الضحاك ان رسول الله صلی الله علیه وسلم منی عن المزارعة وامر بالمواجرة وقال لا باس بها (مشکوٰة ص ۲۵۸)

د ثابت بن ضحاکؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (زمکه) په کرایه ورکولو اجازت ورکړے دے۔ او فرمائیلی ئے دی چه په دے کښے هیڅ حرج نشته۔ (مسلم)

ف: ددے نه دکرایئ دجائز آمدنئ اجازت معلوم شو۔

(۱۳) عن انسؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یغرس غرسا او یزرع زرعا فیاکل منه انسان او طیر او بهیمة الا کانت له صدقة ۱۲ (مشکوٰة ص ۱۶۸)

د حضرت انسؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یو مسلمان هم داسے نشته چه لغه څهٔ وُنے اولګوی۔ یا فصل اوکړی بیا د هغے نه څوک بنیادم یا مرغی یا څاروی څه شے اوخوری۔

لیکن هغه سړی دپاره هغه خیرات په ځائے شی ۔ (یعنی الله تعالیٰ خیرات ثواب ورکړی)۔ (بخاری ومسلم)

ف: ددے نه دکر کړوندے او باغونو لګولو فضیلت ثابت شو۔ او دا معلومه شوه ۔ چه دا کار د آمدنئ یوه غوره ذریعه ده۔

(۱۴) عن انس ان رجلا من الانصار اتی النبی صلی الله علیه وسلم یساله ثم قال (بعد بیع اشیاء) اذهب فاحتطب وبع فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم هذا خیرلك من ان تجیئ والمسئله نکتة فی وجهك یوم القیٰمة مختصرا ۔

(مشکوٰة ص ۱۶۳)

د حضرت انس رضی الله عنه نه (په یو اوبد حدیث کښے) روایت دے چه د انصارو یو سړے رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څه خواست دپاره راغلو۔ حضور صلی الله علیه وسلم دهغه د کورنه یو کمبل او یو د اوبو څښکلو پیاله را اوغوښته ۔ نیلام ئے کړه او په دغه پیسو ئے دغه سړی ته څه غله او یو تبر واخستو۔ ورته ئے اووئے چه څه لاړ شه د څنګل نه لرګی راوړه او خرڅوه ۔ بیائے ورته او فرمائیل دا محنت ستا دپاره د دے نه بهتر دے چه د قیامت په ورځ دِ په څهره د سوال د ذلت داغ بنکاره وی ۔

(ابوداؤد ابن ماجه)

ف: ددے نه معلومه شوه چه حلاله مزدوری هرڅومره چه په ظاهره سپک وی. (لکه د څنګل وابنه ریبل یا لرګی پریکول) د سوال نه ډیره بنه ده. اګرچه دا سوال په شاندار ه طریقه وی ۔ (لکه نن صباچه څنه خلق چنده جمع کول کسب کړیدے) چه ځان هم سپکه وی او په بل هم بے ځایه بوج اچوی ۔ البته که یو دینی کار دپاره په عام وعظ کښے دچنده د ضرورت اظهار اوشی نو څه حرج ئے نشته ۔

(۱۵) عن ابن عمر رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال ان الله یحب المؤمن المحترف ۱۲

(ترغیب ص ۳۳۲)

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ د حلال کسب هنرمند مسلمان سره محبت کوی ۔

(ترغیب از طبرانی)

ف: په دے کښے هر حلال کسب وهنر راځی ۔ نو هیڅ جائز کسب ته سپک نه وی کتل

پکار. څنګښې دا بیان راځی چې وخپل اطمینان دپاره د حلال مال نه څهٔ جمع کول لهم نبهٔ دی.

(۱۶) عن عمرؓ (فی الحدیث الطویل) فکانت هذه خالصته لرسول الله صلی الله علیه وسلم ینفق علی اهله نفقة سنتهم من هذا المال ثم یاخذ ما بقی فیجعله مجعل مال الله

(بخاری ج ۲ ص۸)

د حضرت عمرؓ نه (په یو اوږد حدیث کښې) روایت دے چې دیهود و د بنی نضیر قبیلے جائداد کوم چې د مسلمانانو په قبضه کښې راغلے وو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم (د خرچ) دپاره خاص وو. حضورؐ به د دے نه خپلو بیبیانو ته دیو کال خرچ ورکولو او د دے نه چې به څهٔ زیات شو هغه به ځے په وسله او اسونو (د جهاد په سامان) ګډولو. (بخاری)

(۱۷) عن کعب بن مالك (فی الحدیث الطویل) قال قلت یا نبی الله ان من توبتی ان لا احدث الا صدقا وان انخلع عن مالی کله صدقة الی الله والی رسوله فقال النبی صلی الله علیه وسلم امسك علیك بعض مالك فهو خیر لك فقلت فانی امسك سهمی الذی بخیبر ۱۲

(ترمذی مجتبائی ج ۲)

د حضرت کعب بن مالکؓ نه روایت دے چې ما عرض اوکړو یا رسولؐ الله! زما توبه دا ده چې زهٔ به همیشه رښتیا وایم. اوخپل ټول مال الله او رسولؐ ته پیش کوم. زهٔ ترې نه دست بردار کیږم حضورؐ ورته اوفرمایل ټول مال مهٔ وقف کوه. څهٔ ترې نه ځان دپاره اوساته. دا چې ستا دپاره ښهٔ ده. چې دګذارے درسره وی نو پریشان کیږے به نه. ما عرض اوکړو چې ښهٔ ده نو زهٔ به ځان ته هغه حصه پریږدم - کومه چې ما د خیبر (په مال غنیمت کښې) راکړے شوے وه. (ترمذی)

ف: د ورمبی حدیث نه خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قدر د حاجت د ضروری خرچ دپاره ذخیره کول ثابت شو. او په بل حدیث کښې ځے صحابی ته د ضروری خرچ دپاره جائیداد پریښودو مشوره ورکړه.

(۱۸) عن ابن مسعودؓ انه قال انی لا اکره الرجل فارغا لا فی عمل الدنیا ولا فی الاخرة ۱۲

(مقاصد ص۶۰)

د حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے. وایے سړے زما نهٔ وی خوښ کوم چې بالکل بے کاره وی. نهٔ د دنیا د څهٔ کار وی او نهٔ د آخرت د کار.

(مقاصد حسنه از سعید بن منصور بن احمد و ابن مبارک)

دوے حدیث نه معلومه شوه چه دچا په ذمه څهٔ دینی کار نهٔ وی. نو هغهٔ ته پکاردی چه د دنیاوی ژوند څهٔ جائز کار کښے لګیا وی بے کاره نهٔ کینی - باقی په دینی کار کښے مشغول کسانو ذمه وار خپله الله تعالیٰ دے - هغوئ ته د دنیا د کارونو فکر نهٔ دے پکار.

تر دے پورے د آمدنئ ذکر وو څنګکښے د خرچ ذکر دے۔

(۱۹) عن المغیرة (فی الحدیث الطویل) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کره لکم اضاعة المال ۱۲ (مشکوٰة ص۴۱۹)

د حضرت مغیرهؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی الله تعالیٰ ستاسو د پاره مال برباد ول ناخوښه کړیدی۔

(بخاری و مسلم)

ف: د برباد ولو مطلب دے بے ځایه خرچ (په غیر شرعی کارونو کښے خرچ) چه څه تفصیل د حدیث ۱۰ په تشریح کښے تیر شویدے

(۲۰) عن انسؓ وغیره الاقتصاد نصف المعیشة وما حال امرأ فی اقتصاد ولا یبقی علی صرف کثیر ۱۲ (مقاصد ص۳۴)

د حضرت انسؓ و ابو امامهؓ و ابن عباسؓ او علیؓ نه روایت دے چه درمیانه چال (یعنی نه کنجوسی او نهٔ اسراف بلکه په سوچ سمجھ سره په احتیاط خرچ کول) نیمه ګټه ده - څوک چه په خرچ کښے اعتدال (درمیانه حال) کوی هغه چا ے نه محتاج کیږی او په فضول خرچئ کښے مال نهٔ پاتے کیږی۔ (مقاصد از عسکری و دیلمی)

ف: په دے کښے د خرچ د انتظام طریقه او بښلے شوه - او دا خو څرګنده لیدے شی. چه اکثر پریشانئ او بربادئ په دے وجه راځی - چه خرچ بے انتظامه وی - چه څهٔ په لاس کښے وی هغه بے ځایه لګی - بیا په قرضونو شروع اوکړی او دے خرابے نتیجے په دنیا کښے خو بے شماره لیدلی شوی او په آخرت کښے ئے هم نتیجه خرابه وی. لکه دے حدیث نه معلومیږی۔

(۲۱) عن محمد بن عبدالله بن جحشؓ (فی الحدیث الطویل)

د حضرت عبدالله بن جحشؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے۔ چه

قال قال رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم فی الدین والذی نفسی بیدہ لوقتل رجل فی سبیل اللّٰہ ثم عاش ثم قتل و علیہ دین ما دخل الجنۃ حتی یقضی دینہ ۱۲

(ترغیب ص ۳۵۱)

رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم د قرض په باره کښے فرمائیلی دی (یعنی دچا په ذمه چه د بل مالی حق پاتے وی) زما د قسم په هغه ذات وی د چا زما روح دے که یو سړے په جهاد کښے شهید شی - بیا ژوندے شی - او دوباره شهید شی بیا ژوندے شی او په دریم ځل شهید شی - بیا هم که د هغهٔ په ذمه دچا قرض پاتے وی جنت ته به نهٔ ځی ترڅو چه دا قرض ادا شوے نهٔ وی۔ (ترغیب از نسائی وطبرانی وحاکم)

ف: البته کوم قرض چه د خهٔ خاص ضرورت د پاره اخستے شوے وی او هغه د شرع په نزد هم ضرورت وی او ددے ځے دا کولو په کوشش کښے لګیا وی د هغے اجازت دے۔

خلاصه دے ټولو حدیثونو نه دا ثابته شوه - چه د کوم مال آمد وخرچ چه په شرع برابر وی هغه د اللّٰہ تعالیٰ نعمت دے - هیڅ بدی پکښے نشته - بدی داده چه آمد وخرچ کښے د شریعت خلاف څه کار اوشی - لکه په احادیثو کښے چه د نکاح کولو او اولاد پیدا کولو فضیلت هم بیان شوید ے او بیا ښځے او اولاد ته دشمن هم ویلے شوے دے (سورۃ تغابن) یعنی کله چه ځے د آخرت د کار نه اوباسی نو دشمن دے (جلالین) دغه حالت د مال هم دے - ځکه په فتنه کید وکښے د اولاد سره ذکر شوے دے: اِنَّمَا اَمْوَالُکُمْ وَ اَوْلَادُکُمْ فِتْنَۃٌ (سورۃ تغابن) یعنی دا دواړه که ځے د آخرت د کار نه غافله کوی نو فتنه ده (جلالین) او که د آخرت نه ځے نهٔ غافل کوی نو غټ نعمت دے - نو د اللّٰہ تعالیٰ د نعمتونو نه فائده اخلئ - د یو غلام په شان نهٔ د باغی په شان -

دا ټول حدیثونه د مشکوٰۃ دی - څنه چه د نورو کتابونو نه دی - هغه سره د کتاب نوم لیکلے شوے دے۔

شلم روح

نکاح کول اونسل زیاتول

یعنی کم نر یا بنځه چه د څه عذر په وجه د نکاح نه معذور نه وی - نو د هغوی د پاره کله د مصلحت په درجه کښے او کله د ضرورت په درجه کښے دا حکم دے چه نکاح وکړی -

(۱) عن ابن نجیح رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مسکینٌ مسکینٌ رجل لیست له امرأة قالوا او ان کان کثیر المال قال و ان کان کثیر المال مسکینة مسکینة امرأة لیست لها زوج قالوا او ان کانت کثیر المال قال و ان کانت کثیر المال ۱۲

(رزین)

د حضرت نجیح رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی محتاج دے محتاج دے هغه سړے چه بنځه ځے نه وی. خلقو عرض اوکړو! یا رسول الله! اګرچه ډیر مالدار وی - حضور او فرمائیل او اګر که ډیر مالدار وی بیا ځے او فرمائیل محتاجه ده محتاجه ده هغه بنځه چه خاوند ځے نه وی - خلقو عرض اوکړو اګر که ډیره مالداره وی - حضور او فرمائیل او اګر که ډیره مالداره وی -

(رزین)

ف: څکه چه د مال نه چه کوم مقصود دے - راحت او بے فکری نه وی هغه سړی نصیبیا کیدے شی - چه بنځه ځے نه وی. او نه وی هغے بنځے نصیب کیدے شی چه خاوند ځے نه وی - دا څرګنده لیدے شی - په نکاح کښے نورے هم ډیرے ډیرے فائدے وی - د دین هم او د دنیا هم - لکه چه:

(۲) عن عبد الله بن مسعود رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یا معشر الشباب من

د حضرت عبد الله بن مسعود رض نه روایت دے چه مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل اے د ځلمو ډلے په تاسو کښے

استطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه اغض للبصر و احصن للفرج

(سته الامالك)

چه څوک د کور د بوجھ پورته کولو همت لری (یعنی د ښځې حقوق پوره ادا کولے شی) هغهٔ ته ضرور نکاح کول پکار دی. ځکه چه نکاح نظر ښکته کوونکی او د ستر حفاظت کوونکی ده.

(یعنی د حرام نظر او د حرام کار نه پرے بنده ښه کیږی)

ف: دا دینی فائده خوئ څرګنده ده - او دنیاوی یوخو په حدیث عمل کښے تیره شوه. چه راحت او سکون پرے حاصلیږی. او نورے فائدے عملکښے حدیثونو کښے راځی.

(۳) عن عائشةؓ قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تزوجو النساء یاتینکم بالاموال ۱۲

(البزاز)

د حضرت عائشےؓ ابنی نه روایت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. تاسو ودونه کوئ، ښځے به مو مالدار کړی.

(بزاز)

ف: داخبره هغه وخت کښے ده چه ښځه خاوند دوارپه سنجهدار او پوهه او د یو بل خیرخواه وی. نو سړے خو به د ذمه وارئ د احساس په وجه زیات محنت کوی. نو زیات مال به کړی - او ښځه به ئے داسے په انتظام خرچ کوی. چه سړی ئے نه شی کولے. دغه شان به د دواړو ژوند په راحت و سکون تیریږی - او د مال هم دغه فائده ده. نو د مالدار کولو دغه مطلب دے چه ژوند به مو په آرام شی. (دا نهٔ دے چه کوئے د پلار د کوره به ځان سره ډیر مال راوړی)

(۴) قیل الرسول الله صلی الله علیه وسلم ای النساء خیرؐ قال التی تسره اذا نظر تطیعه اذا امر لا تخالفه فی نفسها ولا مالها بما یکره ۱۲

(نسائی ص ۲۲۶)

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے - چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوشو چه کومه ښځه په ټولو کښے ښه ده (یعنی د کومو اوصافو ښځه) حضورؐ اوفرمایل: ل چه داسے وی چه خاوند ورته اوګوری نو زړهٔ ئے خوشال شی (یعنی په رنګ هم بنائسته وی). (۲) اوچه د څهٔ کار ورته اووائی نو هغه ئے فوراً اوکړی - (یعنی تابعداره وی.) (۳) و (۴) اوچه د خپل ذات او د خاوند د مال په باره کښے د

هغهٔ د طبیعت خلاف څهٔ کار نهٔ کوی۔ (یعنی وفادار، پاکدامنه او امانتګره وی) (نسائی

ف: خوشحالی، فرمانبرداری او د طبیعت موافقت څومره غټ فائدې دی۔

(۷) عن علیؓ قال لابن عبد الاحد ألا أحدثك عني وعن فاطمةؓ قلت بلى قال انها جرت بالرحا حتى اثرت في يدها واستقت بالقربة حتى اثرت في نحرها وكنت البيت حتى اغبرت ثيابها فاتى النبي صلى الله عليه وسلم خدم فقلت لو اتيت اباك فسألته خادما فانة توجدت عنده خدام فرجعت فاتاها من الغد فقال ما كان حاجتك وسكت فقلت انا احدثك يا رسول الله جرت بالرحا حتى اثرت في يدها وحملت بالقربة حتى اثرت في نحرها فلما ان جاء الخدم امرتها ان تاتيك فتستخدمك خادما يقيها حرما هي فيه فقال اتقي الله يا فاطمةؓ وادي فريضة ربك واعملي لاهلك ۱۲

د حضرت علیؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه د حضرت فاطمهؓ بی بی په لاسونو د میچنے راوړلو او په سینه د اوبو د مشک راوړلو نښے شوے وے۔ د حیارو دوړے او د انګړی لوګو ئے جاړے خیریف کړے وے۔ په یو غزا کښے د چرته نه خدمتګارے راغلی وے نو هغے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یوه خدمتګاره اوغوښته حضور صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل۔ د الله نه اوویریږه۔ او د خپل رب فرض ادا کوه او د خپل کور کار کوه۔

(بخاری ومسلم و ابو داؤد وترمذی)

ف: د حضرت فاطمهؓ بی بی نه لویه څوک ده۔ چه د خپل کور کار به نهٔ کوی۔

(۸) عن معقل بن يسار قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الودود الولود فاني مكاثر بكم الامم ۱۲

(رواه ابو داؤد)

د حضرت معقل بن یسار نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د داسے ښځے سره نکاح کوئی چه مینه ناکه وی او اولاد راوړونکی وی۔ (که کونډه وی نو پرته مبئی نکاح نه ئے اندازه ګڼیدے شی۔ اوکه ډینئی وی نو د هغے د صحت اود نورخاندان د واده شوو جینکو د حالت نه ئے اندازه

لکیدے شی) حُکه چه زهٔ به د تاسو په ویر والی په نورو امتونو فخر کوم - (چه زما امت دومره ډیر دے)

ف: اولاد پیدا کیدل هم څومره غټه فائده ده - په ژوند کښے هم چه اولاد د ټولو نه زیات خدمتګار، تابعدار او خیرخواه وی - او مړ کیدو نه پس هم چه دعا ورته کوی -

(مشکوٰة باب العلم از مسلم)

اوکهٔ څنګه ځے نیک فعل اوچلیدو او د دین په لار روان وو - (نو هغوی چه څومره نیک کارونه کوی - دهٔ ته هم په ثواب کښے برخه رسی - روح دویم ځ) او په قیامت کښے هم که دچا نابالغه اولاد مړ وی نو هغوی به ځے په الله تعالیٰ بخښی - او کوم بالغ اولاد چه ځے نیکان وی هغوی به ځے هم سفارش کوی - روح دریم ځ - او د ټولو نه غټه خبره دا ده چه د مسلمانانو شمار زیات شی نو دنیا کښے هم پرے د اسلام طاقت زیاتیږی - او د قیامت په ورځ به پرے نبی کریم صلی الله علیه وسلم خوشحالیږی - او فخر به پرے کوی - نو واده نهٔ کول دومره غټه فائده ځے برباد ډول دی -

او کهٔ په یو ملک کښے د شرعی قانون موافق ویښځے پیدا کیږی نو دهغه نه هم د نکاح فائده ځے اخستی شی -

نو بغیر د څهٔ خاص عذر نه بے واده او سیدل بنهٔ کار نهٔ دے - لکه دوے حدیثو نو نه چه ثابتیږی -

(۲) عن ابی ذرؓ دخل عکاف بن بشر التمیمی علی النبی صلی الله علیه وسلم فقال له یا عکاف هل لك من زوجة قال لا قال ولا جارية قال ولا جارية قال ولا انت موسرٌ بخير قال و انا مرسو بخير قال انت اذاً من اخوان الشياطين لو كنت من النصارى كنت من رهبانهم

د حضرت ابو ذرؓ نه روایت دے چه عکاف بشر تمیمی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو - حضورؐ ورنه تپوس اوکړو - ستا بنځه شته ؟ هغهٔ عرض اوکړو نه حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل او د خیره سره نهٔ مالداره هم ځے - هغهٔ عرض اوکړو او د خیره سره مالداره خو یم - حضورؐ اوفرمائیل بیا خو ته د شیطان دور ځے - کهٔ عیسائی وے خو هغوی په راهبانو کښے به

ان سنتنا النکاح شرار کم عزابکم و اراذل موتاکم عزابکم بالشیطان تمرون ما للشیطان سلاح ابلغ من الصالحین من النساء الا المتزوجات من اولئک المطهرون المبرؤن من الخنساء الخ

(جمع الفوائد ص ۲۱۶)

حساب شوے دے۔ ژمونږ (یعنی اهلِ اسلامو) طریقه خو واده کول دی (یا شرعی ویښه سائل) په تاسو کښے ډیرلو نه ناکاره خلق جوړه کسان دی۔ د شیطان سره په نیکانو خلقو پوره اش اچولو دپاره د ښځو نه غټه وسله بله نشته لیکن څوک چه واده اوکړی هغه د کنده کار دونو نه بچ شی۔

(احمد)

ف: دا په هغه وخت کښے دے۔ چه نفس کښے ځُد ښځو خواهش وی۔ نو چه حلاله ښځه نهٔ وی نو د حرامے خطره څرکنده ده۔

او د واده کومے فائدے چه بیان شوے پوره پوره په هغه وخت کښے ښکاره کیږی چه د ښځے خاوند ترمینځه مینه محبت وی۔ او دا هله پیدا کیږی چه دواړه دیو بل د حقونو خیال ساتی۔

نو شریعت کښے دده حقونو حکم شویدے۔ څُکه مونږ د څُنو غټو غټو حقونو بیان کوو۔ باقی حقونه به د هغے نه خپله معلوم شی۔ د ښځے څه حقونه دادی۔

(۸) عن ابی موسٰی الاشعری قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم (فی الحدیث الطویل) فی فضیلة رجل) کانت عنده امة فادبها فاحسن تادیبها وعلمها فاحسن تعلیمها ۱۲

(مشکوٰة من البخاری ومسلم)

د حضرت ابو موسٰی اشعریؓ نه (په یو اوږد کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو د هغے سړی فضیلت بیان کړو چا سره چه یوه ښځه وی او هغه ورته دینی علم او ادب په ښه طریقه اوښځی۔

(مشکوٰة از بخاری و مسلم)

ف: ظاهره ده د نکاح کړی ښځے حق د ښځے نه زیات دے نو هغے ته دینی علم او ادب ښودلو فضیلت به دده نه زیات وی۔ په روح دویم ځے کښے د احکم د قرآنانو بیان شوے دے

(۹) عن ابی هریرةؓ قال قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم استوصوا بالنساء خیرًا فانهن خلقن من ضلعٍ وان اعوج شئ فی الضلع اعلاه فان ذهبت تقیمه کسرته وان ترکته لم یزل اعوج فاستوصوا بالنساء متفق علیه ۱۲

(مشکوٰة ص۲۸۰)

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے . چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی - زهٔ تاسو ته د ښځو په حق کښے دښهٔ سلوک نصیحت کوم - دا قبول کړئ حکه چه ښځه د کبے پښتئ نه پیدا شوے ده - نو که تاسوئے سمول (یعنی ښغول) غواړئ نو ماته به ئے کړئ (ماتول ئے طلاق ورکول دی) او که په خپل حال ئے پریږدئ نو هم دغه شان به کبږه وی - نو د دوئ په حق کښے دښهٔ سلوک نصیحت قبول کړئ۔

(بخاری ، مسلم ، ترمذی)

ف: د سهولو مطلب ئے دا دے چه دوئ نه یو کار هم د ستاسو طبیعت خلاف اونهٔ شی - نو په دے کوشش کښے کامیابی کرانه ده - (نتیجه به ئے دا وی چه تعلقات به نورهم خراب شی - او آخر سر به ئے جدائی ، طلاق وی) نو په معمولی خبرو سره ئے مهٔ دتئ او د ډیره سختی ورسره مهٔ کوئ - په سختئ شیطان د ښځو په نرونو کښے د دین خلاف خبرے اچوی نو دے نه ځان ساتئ۔

(۱۰) وعن حکیم بن معاویةؓ القشیریؓ عن ابیه قال قلت یارسولؐ اللّٰه ماحق زوجة احدنا علیه قال ان تطعمها اذ طعمت و تکسوها اذا اکسبت ولا تضرب الوجه ولا تقبح ولا تهجر الا فی البیت ۔

(رواه احمد وابوداؤد وابن ماجه)

حضرت حکیم بن معاویهؓ د خپل پلار نه روایت کوی چه ما عرض اوکړه یا رسولؐ اللّٰه د ښځو په مونږ باندے څه حق دے - حضورؐ اوفرمائیل چه تاسو خوراک خورئ هغوئ ته هم ورکوئ اوچه ځان ته جامے اخلئ نو هغوئ ته هم اخلئ په مخ ئے مهٔ وهئ (یعنی په څهٔ غلطئ ئے هم په مخ مهٔ وهئ - بےګناه وهل خو په هرڅا ئے بد دی) نو مهٔ ورته کنده ګنځل کوئ - او مهٔ ورنه جدا کیږئ ، مګر دکور دننه - (یعنی چه ترے نه خفه وی نو دکور نه بهر مهٔ اوده کیږئ - کورته راځئ خو بیا بیل بیل اوده کیږئ)۔ (ابوداؤد)

(۱۱) عن عبد الله بن زمعة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يجلد احدكم امرته جلد العبد ثم يجامعها في آخر اليوم (بخاری ومسلم)

دحضرت عبد الله بن زمعهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هیڅوک دِ خپله ښځه دَ غلام په شان نه وهی بیا شاید چه د ورځ په ختمید و (یعنی شپه ته) به ورسره یوځای کیږی۔

ف: یعنی چه د ورځ مودا سے بده بده وهلی وی نو بیا به ورسره څنګه ستړی لګوی.

(۱۲) كنت عند رسول الله صلى الله عليه وسلم وعنده ميمونة فاقبل ابن ام مكتوم و ذلك بعد ان امرنا بالحجاب فدخل علينا فقال احتجبا منه فقلنا يا رسول الله صلى الله عليه وسلم اليس اعمى لا يبصرنا ولا يعرفنا قال افعميوان انتما الستما تبصرانه ۱۲ (للترمذی و ابو داؤد)

دحضرت اُمِّ سَلَمهؓ نه روایت دے چه زهٔ او میمونهؓ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر ے وو. په دے کښے ابنِ اُمِّ مکتومؓ (نابینا) دحضورؐ ملاقات ته راغلو۔ (دا واقعه د پردے دحکم نه پس وه) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته اوفرمایل تاسو دواړه پناه شئی۔ مونږ عرض اوکړو چه هغه خو پوند دے۔ نهٔ مونږه وینی اونهٔ موپیژنی۔ حضورؐ اوفرمایل ولهتاسو هم رنډیئی نهٔ ئے وینی اونهٔ ئے پیژنئی؟

(ترمذی، ابو داؤد)

ف: دا هم د ښځو یوحق دے چه دنامحرم نه ئے په پرده کښے ساتئی چه نهٔ ئے هغه وینی اونه ئے دوئی وینی۔ په دے کښے د ښځو دډیر حفاظت دے۔ چه دَ بے ستړئی د نقصان نه پیچ شی۔ او په دے کښے دډیر هم حفاظت دے داد تجربے خبره ده چه کوم شے چه څومره خاص وی دومره دهغے سره تعلق او مینه زیاته وی۔ اوڅومره چه عام شی نو تعلق به هم ورسره زیاتیږی۔ اوڅومره چه ورسره دَ خاوند مینه وی نو دومره به ئے دَ حقونو زیات خیال ساتی۔ نو ستر منو ښځو ته په دنیا کښے هم د ستر دافائده ده۔ هکښے دخاوند حقونه بیا نیږی۔

(۱۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لوکنت آمرا احدا ان یسجد لاحد لامرت الزوجة ان یسجد زوجها

(للترمذی وزادالبزاز)

دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - که ما چاته د اجازت ورکولے چه چاته سجده اوکړی نو بنځے ته به مے حکم کړے وو - چه خاوند ته سجده اوکړی.

(ترمذی)

ف: ددے نه دسړی څومره عظمت حق ثابت شو۔

(۱۴) والذی نفس محمد بیده لا تؤدی المرأة حق ربها حتی تؤدی حق زوجها ۱۲

دحضرت ابن ابی اوفی رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - زما د قسم دی په هغه ذات چه په لاس کښے زما روح دے" بنځه دخپل پروردګار حق نه شی ادا کولے ترڅوچه بنځه د خپل خاوند حق نه وی ادا کړے - (ابن ماجه)

ف: یعنی قسم په موټه روژه د داخیال نه کوی چه د الله حق ے پوره کړو - چه د خاوند حق ے نه وی پوره کړے ، دا هم نه دے پوره (یعنی الله پاک ترے تنه راضی کیږی ترڅوچه ترے خاوند راضی نه وی) -

(۱۵) (ابن عمر رضی الله عنه) رفعه اثنان لا تجاوز صلاتهما رؤسهما عبد آبق من مواليه حتی یرجع الیهم وامرأة عصت زوجها حتی ترجع ۱۲

(للاوسط والصغیر)

دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دهغے بنځے مونځ د هغے دسړی نه په بره نه خی (یعنی قبلیږی نه) کوم چه دخپل خاوند نافرمانی کوی - ترڅو چه ترے منع نه شی -

(اوسط وصغیر وطبرانی)

تر دے پورے د نکاح د ضرورت او د هغے د حقونو بیان اوشو - البته که د نکاح نه د منع کولو څه قوی عذر وی نو بیا نه سړی د پاره واده ضروری دے او نه بنځے د پاره مخکښے حدیثونو کښے د څنه عذرونه بیان کړیدی -

۱۲۱ ان رجل باینته الی النبی صلی اللہ علیہ وسلم فقال ان ابنتی هذه لبت ان تتزوج فقال لها اطیعی اباك قالت والذی بعثك بالحق لا اتزوج حتی تجیرنی ماحق الزوج علی زوجة قال حق الزوج علی زوجة لوکانت به قرحت ملحستها اوسال مسخراً صدیداً اودما ثم ابتلعته ما ادت حقه قالت والذی بعثك بالحق لا اتزوج ابدا فقال صلی اللہ علیه وسلم لاتنکحو هن الا باذنهن - ۱۲

(البزاز)

د حضرت ابو سعید رضی اللہ عنہ نه روایت دے . چه یو سړی خپله لور د نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم په خدمت کښے حاضره کړه چه داد وادهٔ نه انکاری ده . حضورؐ هغے جینئی ته اووے د پلار خبره اومنه . هغے عرض اوکړو . زما د قسم وی په هغه ذات چه ته ئے په حقه پیغمبرؐ راستولے ئے زهٔ نه ودیږم ترڅو چه راته دا اونه بنیی چه د ښځے په ذمه د خاوند څهٔ حقونه دی حضورؐ اوفرمائیل (دا اوبد حدیث دے پکښے د خاوند څنه ضروری حقونه بیان شویدی) جینئی چه دا وریدل نو عرض ئے اوکړو زما د قسم وی په هغه ذات چه تهٔ ئے په حقه پیغمبرؐ راستولے ئے . زهٔ به هیڅرے خاوند اونکړم . حضورؐ اوفرمائیل د ښځو نکاح (چه شرعًا بااختیاره وی) بے د هغوئی د اجازت نه مهٔ ترئ .

(بزاز)

ف: د هغے د خیال وو چه زهٔ به د خاوند حقونه ادا نکړے شم . نو حضورؐ هغه معذوره اوګڼله او مجبوره ئے نهٔ کړه .

۱۲۲ د حضرت عوف بن مالک اشجعی رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم فرمائیلی دی . چه زهٔ او هغه ښځه چه د محنت او مشقت په وجه ئے رنګ بدرنګ شوے وی د قیامت په ورځ به دا سے سره یو ځای کړے شهادت ګوته اومینځه ګوته . یعنی دا به ښځه چه کونډه واړهٔ ښځی ورسره وی . (او ځوانه وی چه بل خاوند کولے شی) خو هغه د بچو د خاطره بل خاوند اونکړی . خپل محنت مزدوری کوی او د یتیمانو . بچو خدمتا کوی تر هغے چه ځلی شی ترے نه جدا شی یا مړه شی .

(ابو داؤد)

ف: دا په هغه وخت کښے ده چه ښځهٔ سره دا غم وی چه بل خاوند سره به ے بچی خراب شی . د روښی حدیث نه د روښی وادهٔ او د دویم حدیث نه د دوباره وادهٔ عذر معلوم شو .

دا خو د ښځې دپاره عذر شو ځکښې دسړو د عذر بیان دے۔

(۱۸) د حضرت یحیٰی بن واقدؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کله چه نسۍ شی یعنی د حضورؐ د زمانے نه پس څه کم دوه سوه کاله تیرشی (او په څنه روایتو نوکښې دوه سوه راغلی دی (هغوی دکمی خیال نه ساتلے خو مطلب د دواړو یو دے) ۔ (چه فتنې فسادونه زیات شی) نو په داسے وخت کښې نه خپل امت ته د څه اوسیدو، تعلقاتو پرینښودو او د عروتو په اوچتو سوکو ځانته اوسیدو اجازت درکوم (ورزیږی) د دے مطلب څکښې حدیث کښې راځی۔

(۱۹) د حضرت ابن مسعود او ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسولؐ الله فرمایلی دی په خلقو به داسے وخت راشی چه سړے به د خپل ښځې د لاسه او مور پلار به د اولاد د لاسه تباه کیږی چه دوئی به نادار سړی ته پیغورونه ورکوی او دا سے څیزونه به ترے غواړی چه د هغه ځ د وسه بهر وی نو هغه به په داسے کارونو (لکه رشوت، دهوکه وغیره) مجبورشی چه آخرت به ئے خراب شی۔ (خطابی و بیهقی)

ف: د دے عذر مطلب واضح دے چه هرکله د دین د خرابئ قوی خطره وی نو کوم بے واده اوښتی نو خیرد ے او څنه خلق چه د بے همتئ په وجه د کور د ذمه دارۍ نه څان بچ کولو دپاره جرړه کړی د هغے حکم په دے حدیث کښې راځی۔

(۲۰) د حضرت عیاضؓ نه روایت دے چه رسولؐ الله فرمایلی دی۔ پنځه کسان دوزخیان دی (په هغو کښې یو) هغه کم همته بے عقله دے چه په تاسو کښې زیاتی کړے (طفیلی) اوسی نه ئے بال بچ وی او نه ئے مال ساتی۔ (مسلم) (یعنی نه ئے واده کړے وی۔ نه کارکسب کوی په بل بار وی)۔

د ښځو په شان د اولاد هم حقونه دی چه د هغو د ادا کولو حکم شوے دے او د هغے د ادا کولو په وجه د اطمع کیدے شی چه اولاد به زیات تابعدار او خدمتګذار وی۔ د اولاد د دینی حقونو څخه بیا په دویم روح ع، ع، ع کښې بیان شوے دے۔ او څه په دریم روح ع، ع کښې۔ او د نیوی حقونه ئے دا دی چه په کومو کارونو د دنیا ژوند کښې فائده او آرام رسی هغه ورته هم ښیل پکار دی۔ (یعنی څه کارکسب)

(۲۱) د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسولؐ الله فرمایلی دی خپلو څامنوته د لامبو او غشو ویشتو چل بنایئ۔ او خپلو جینکو ته په (څرخه) تار غښتو چل بنایئ۔ (مقاصد از بیهقی)

ف: دا درے خبرے هسے د مثال په طور دی۔ مطلب دادے چه د ژوند ضروری کارونه ورته بنایئ۔

دا تول حدیثونه د جمع الفوائد نه اخستی شوی دی او کوم چه د نورو کتابونو دی هغے سره نوم یکے شوے دے۔

یو ویشتد روح

دنیا پورے زرہ نہ ترل او د آخرت غم کول

په دے باندے دین کښے پوخوالے او زړہ کښے مضبوطیا راځی۔ او دا خبرہ داسے پیدا کیدے شی چه بنده هیشه دا سوچ کوی چه دا دنیا یو ډیر معمولی او زر ختمیدونکے شے دے۔ خاصکر خپل عمر خو به ډیر زر پوره شی۔

او آخرت یو ډیر شاندار شے او یقینی راتلونکی۔ اوله پوړۍ ئے مرګ دے۔ چه ډیر زر راتلونکے دے۔ او بیا به بله پسے دا واقعات شی۔ د قبر سوال جواب او ثواب یا عذاب۔ د قیامت حساب کتاب د جنت او دوزخ جزا یا سزا۔ په دے مضمون کښے یوځو آیتونه او حدیثونه لیکو۔

آیات: (۱) زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ۝ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۔ (آل عمران)

الله تعالیٰ فرمائی: بنایسته بنکاری (اکثر) خلقو ته مینه د بنایسته څیز ونو لکه ښځے او ځامن او د سرو سپینو زرو ډیری۔ او ښکلے شوی اسونه او نور څاروی او پټی (لیکن) دا ټول د دنیا په ژوند کښے د استعمال څیزونه دی۔ او د آخر انجام ډیره ښکلی (څیز) د الله سره دے۔ (کوم چه د مرګ نه پس پکار راځی۔ او د کوم د خبر ورکولو حکم چه مخکښے راځی۔ یعنی) ته (د خلقو ته) دا اووایه چه آیا زه تاسو ته داسے شے اوښایم چه هغه د (هومره) څیز ونو نه ډیر بهتر دے۔ (نو واورئ) داسے خلقو دپاره څوک چه د الله تعالیٰ نه ویریږی۔ د هغے مالک (حقیقی) سره داسے باغونه دی۔

(جنت) چه پکښے نهر ونه بهیږی. دوئی به په دے (جنت) کښے همیشه همیشه اوسی ۔
(او دوئی دپاره په دے کښے دا سے بیبیانے دی چه (هر قسم نه) پاکے ستره دی. (او دوئی دپاره)
د الله پاک رضا ده ۔ (آل عمران)

(۲) مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَ مَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ط
(سوره نحل)

الله تعالیٰ فرمائی څه چه په (دنیا کښے) تاسو سره دی هغه (یوه ورځ) ختمیدونکی دی. (د زائل کیدو په وجه دی اوکه د مرګ) اوهغه چه د الله تعالیٰ سره هغه به همیشه وی ۔ (نحل)

(۳) اَلْمَالُ وَ الْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّ خَيْرٌ اَمَلًا ط
(سوره کهف)

الله تعالیٰ فرمائی : مال او اولاد د دنیاوی ژوند یو دونق دے اوکوم نیک عملونه چه همیشه همیشه پاره باقی پاتے کیدونکی دی. هغه د رب په نزد یعنی په آخرت کښے) د ثواب په اعتبار هم ډیر بهتر دی. او د طمعے په اعتبار هم ډیر بهتر دی. (یعنی دنیکو عملونو سره چه کوم امیدونه تړلے شی ۔ هغه به په آخرت کښے ضرور پوره کیږی. بلکه دهغه نه به زیات ورکولے شی) په خلاف د دنیاوی سامان چه د هغه نه چه په دنیا کښے کومه طمع وی هغه هم اکثر نه پوره کیږی. په آخرت کښے خو ترے هیڅوشه طمع نشته ۔ (کهف)

(۴) اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ وَّ زِيْنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ط كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ط وَفِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ وَّ مَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانٌ ط
(سورة حدید)

الله ج فرمائی : په دے ښه پوهه شئی چه (د آخرت په مقابله کښے) د دنیا ژوند هرکله د توجه قابل نه دے (حکمه) چه دا فضول لوبے او یو (ظاهری) بنائست او په یو بل باندے فخر کول (په طاقت، بنائست او هنر وکمال کښے) او په مال او اولاد کښے په یو زیاتے ښکاره کول دی. (هغه ښے د دنیا زوال یو مثال بیانولونه پس فرمائی (او د) آخرت (کیفیت دا دے چه په دے) کښے (د کفارو دپاره) سخت عذاب دے او (ایمانداروو) د خدائے پاک طرف نه بخښنه او رضا ده ۔
(حدید)

۵۔ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى ۝

الله تعالیٰ فرمائی: بلکه تاسو دنیاوی ژوند ته ترجیح (غوره والے) ورکوئ - اوحال دا دے چه آخرت (د دنیا) ډیر زیات بهتر او پائیدار دے۔

(سورة اعلیٰ)

احادیث:

۶۔ عن المستورد بن شداد قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول وما الدنیا فی الاخرة الا مثل ما یجعل احدکم اصبعه فی الیم فلینتظر بم یرجع۔ (مشکوٰة ص ۴۳۹)

د حضرت مستورد بن شداد نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی هغوئ فرمائیل زما د قسم په خدائ دی د آخرت په مقابله کښے د دنیا نسبت داسے دے لکه یو سړے چه په دریاب کښے گوته ډوبه کړی۔ بیائے را اوباسی پس اوګوری چه څومره اوبه ورپورے اونښتے۔ نو دے اوبو چه د دریاب د اوبو سره څه نسبت دے دغه شان نسبت د دنیا د آخرت سره دے۔ (مسلم)

۷۔ عن جابرؓ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مر بجدی میت قال ایکم یحب ان هذا له بدرهم فقالوا ما نحب انه لنا بشیء و قال فوالله الدنیا اهون علی الله من هذا علیکم (مسلم ص ۴۳۹)

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د بینځے په یو غوږ پریکړی مړ بچی تیر شو۔ وئے فرمائیل تاسو کښے څوک داسے بنوی چه د بینځے دا مړ بچے په یوه روپئ واخلی خلقو عرض اوکړو۔ یا رسول الله! روپئ خو ډیر شے دے داسے به څوک په ډیر معمولی شی هم اخستل خوښ نه کړی حضورؐ اوفرمائیل قسم په خدائ چه دُنیا د الله تعالیٰ په نزد دے نه هم سیکه او ذلیله ده۔ (مسلم)

۸۔ عن سهل بن سعدؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه لو کانت الدنیا تعدل عند الله جناح بعوضه ماسقی کافراً منها شربة ۱۲ (رواه احمد و ترمذی ص ۴۴۱)

د حضرت سهل بن سعدؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی که د دنیا (قدر) الله پاک سره د ماشی د وزر برابر هم وے نو کافر ته به ئے تړے یوکوټ هم نه وے ورکړے۔

(احمد، ترمذی، ابن ماجه)

(۹) عن ابی موسیٰؓ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم من احب دنیاہ اضر بآخرتہ و من احب آخرتہ اضر بدنیاہ فاثروا ما یبقی علی یفنی (رواہ احمد والبیھقی م ص ۴۴۱)

دحضرت ابی موسیٰؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی څوک چه دخپلی دنیا سره محبت کوی. هغه به هغه دخپل آخرت ته نقصان رسوی او څوک چه خپل آخرت سره محبت کوی هغه به ضرور خپلی دنیا ته نقصان رسوی نو تاسوته پکار دی چه همیشه باقی پاتے کیدونکی څیز (یعنی آخرت) ته په فنا کیدونکی څیز (یعنی دنیا) ترجیح ورکړئ. (احمد و بیهقی)

(۱۰) عن کعب بن مالکؓ عن ابیه قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم ما ذئبان جائعان اُرسلا فی غنم بافسد لها من حرص المرء علی المال والشرف لدینه (م ص ۴۴۱)

دحضرت کعب بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. چه که دوه اوږی پرانکان د بیزو په کنډک کښے پریښودے شی نو هغه به دومره بیزے تباه نکړی څومره چه د مال محبت او د لویئی محبت د بنده دین تباه کوی. (ترمذی و دارمی)

ف: یعنی د مال سره دومره محبت چه پکښے د دین خرابیدو پروا نه کوی. او په لویئی کښے د دنیا اکثر خبرے راځی. لکه سرداری غوښتل یا حکومت غوښتل.

په قرآن مجید کښے هم د لویئی بد راغلی دی. لکه:

(آیت ۱۱) تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا (قصص)

الله تعالیٰ فرمائی: دا عالم آخرت موږ هغه خلقو ته خاص کړے دے څوک چه په دنیا کښے نه د څان لویی غواړی او نه فساد (یعنی گناه او ظلم) کوی. (البته که بے غوښتے الله تعالیٰ چا ته لوئی ورکړی. او هغه دے لویئی نه د دین کار واخلی. نو دا د الله تعالیٰ د طرفه یو غټ انعام دے. لکه چه د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی. الله تعالیٰ به بنده ته د قیامت په ورځ اوفرمائی: آیا ما تا ته په دنیا کښے سرداری نه وه درکړے. (مسلم)

دے نه د لویئی نعمت کیدل معلوم شو. لکه چه موسیٰ علیه السلام ته ځ د وجاهت والا فرمایلی دی. (الاحزاب) اولکه چه عیسیٰ علیه السلام ته ځ په دنیا

او آخرت کښے وجاهت والا فرمائیلے دے۔ (آل عمران) تر دے چه څهٔ نبیانو ته ئے بادشاهی هم ورکړے وه۔ لکه داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام بادشاهان وو۔ بلکه د دین د خدمت د پاره د سرداری خواهش کول هم مبه نهٔ دی۔ لکه یوسف علیه السلام چه د مصر د خزانو اختیار اخستو خواهش کړے وو۔ (سورة یوسف)

لیکن سړه د نعمت اوجائز کیدو بیا هم خپله د سرداری خواهش کولو خطره ضرور شته۔ لکه:

(۱۲) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من اجل ولی عشرة الا جاء یوم القیمة مغلولة یده الی عنقه یقضی بینه و بینهم ۱۲

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ څوک چه په لسو کسانو هم حکومت لری هغه به د قیامت په ورځ لاس تړلے راوستلے شی۔ تر دے چه یا خو به ئے انصاف (کوم چه دهٔ په دنیا کښے کړے وی) دوه بندونه پرانزی او یا به ئے بے انصافی (کومه چه ئے دنیا کښے کړے وی) تباه و برباد کړی۔ (دارمی)

ف: دغه ئے هغه خطره ده۔ (که په سرداری کښے پوره پوره انصاف اونکړے شی نو تباه به شی)

(۱۳) عن ابن مسعود رضی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نام علی حصیر فقام و قد اثر فی جسده فقال ابن مسعود رضی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم لو امرتنا ان نبسط لك و نعمل فقال ما لی و للدنیا وما انا والدنیا الا کراکب استظل تحت شجرة ثم راح و ترکه ۱۲

(رواه احمد والترمذی وابن ماجه ص ۴۴۲)

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو اندیری باندے اوده وو۔ چه راپاځیدو نو په بدن مبارک ئے د اندیری نښے وے۔ ابن مسعود رضی عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو مونږ ته اجازت راکړی چه تاسو د پاره یوه نرمه بستره جوړه کړو۔ حضور اوفرمائیل زما د دنیا سره څهٔ دی۔ زما او دنیا خو داسے مثال دے لکه یو مسافر چه په لاره څی د یوے وخے سوری ته د هغه د پاره کینی بیا په خپله روان شی

(احمد، ترمذی، ابن ماجه)

(۱۴) وعن عائشة رضی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم

حضرت عائشه ایبئی رضی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه

قال الدنیا دار من لا دار له
و مال من لا مال له، ولها
یجمع من لا عقل له ۱۲
(رواه احمد والبیهقی ص۴۴۴)

نه روایت کوی چه حضورؐ اوفرمایل دنیا هغه چا
کور دے دچا چه کور نه وی اودَ هغه چ مال دے
دچا سره چه مال نه وی . (اودَ ضرورت نه زیات
ے) هغه سړے جمع کوی دچا چه عقل نه وی .
(احمد و بیهقی)

۱۵ عن حذیفة فی حدیث طویل
قال سمعت رسول الله صلی الله
علیه وسلم حب الدنیا
رأس کل خطیئة ۱۲
(رزین، بیهقی م ص۴۴۴)

دحضرت حذیفهؓ نه روایت دے چه ما دَ
رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی
په خطبه کښے ے فرمایلی د دنیا محبت د ټولو
ګناهونو جړه (بنیاد) ده
(رزین و بیهقی عن الحسن مرسلا)

۱۶ عن جابرؓ فی حدیث طویل
قال قال رسول الله صلی الله علیه
وسلم وهذه الدنیا مرتحلة
ذاهبة ولکل واحدة منهما
بنون فان استطعتم ان لا
تکونوا من بنی الدنیا فافعلوا
فانکم الیوم فی دارالعمل و
لاحساب وانتم غدا فی دار
الآخرة ولا عمل ۱۲
(رواه البیهقی)

دحضرت جابرؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت
دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی
دا دنیا ده چه په هغه سفر کوی روانه ده . او دا
آخرت دے چه را روان دے . او په دواړو کښے
دهریو خامن دی نو که دَ ماسو نه دا کیږی
چه دَ دنیا خامن نه شئ نو دا سے اوکړئ .
حکه چه نن د عمل وخت دے او دلته حساب
نشته او صبا به په آخرت کښے یئ هلته به عمل
نه وی (د دے عمل حساب به درسره کیږی)
(بیهقی)

۱۷ عن ابن مسعودؓ قال تلا
رسول الله صلی الله علیه وسلم
فمن یرد الله ان یهدیه
یشرح صدره للاسلام ۱۲
فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم

دحضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے . چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت اولوستو
(چه ترجمه ئے ده) چاته چه الله تعالیٰ هدایت
کول غواړی د هغهٔ سینه اسلام دپاره پرانزی
(آزاده کړی) بیا حضورؐ اوفرمایل چه

ان النور اذا دخل الصدر انفتح فقيل يا رسول الله هل لتلك من علمٍ يعرف به قال نعم التجا فی من دار الغرور والانابة الی دار الخلود والاستعداد للموت قبل نزوله ۱۲

سینه کښے نور ننوزی نو سینه فراخه شی خلقو عرض اوکړو یا رسول الله! دے علامه څهٔ ده چه دا نور پرے اوپیژندے شی. حضورؐ اوفرمائیل د دهوکے دکور نه (یعنی دنیانه) کناره کښی اودهمیشه اوسیدو کور طرف (یعنی آخرت) ته توجه - اومرګ دپاره د هغے دراتلونه وړاندے تیارے کول. (بیهقی)

ترڅه پورے دنیا پورے د زړهٔ نهٔ تړلو بیان وو - هغکښے د آخرت د غم کولو بیان دے.

۱۸) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اکثروا ذکرها ذم اللذات الموت (ترمذی)

دحضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ډیر ډیر یاد وئ د مزو (لذتونو) ختمونکے شے یعنی مرګ. (ترمذی، نسائی، ابن ماجه)

۱۹) عن عبد الله بن عمرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تحفة المؤمن الموت ۱۲ (رواه البیهقی م ص۱۴۰)

دحضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. مرګ د مسلمان تحفه ده. (بیهقی)

ف: نو په تحفه خوشحالی پکار ده - اوکهٔ څوک د عذاب نه ویریږی نو هغه نه د بچ کیدو ورته څه فکر پکار دے - یعنی د خدائے رسولؐ حکمونه ومنی اونافرمانی نهٔ کوی - که څهٔ غلطی ترے اوشی د هغے دپاره په توبه معافی غواړی.

۲۰) عن عبد الله بن عمرؓ قال اخذ رسول الله صلی الله علیه وسلم بمنکبی فقال کن فلا تنتظر الصباح و اذا صبحت فلا تنتظر المساء (م ص۲۳۹)

دحضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زهٔ د دواړو اوږو نه اونیولم راته ئے اووے په دنیا کښے داسے اوسه لکه مسافر (چه په یو ځائے کښے عارضی ډیره شی - نو زړهٔ ورپورے نهٔ تړی) بلکه داسے مسافر چه په لار روان وی. (یعنی عارضی ئے نهٔ وی نیولی) اوحضرت ابن عمرؓ به فرمائیل چه

مابنام شی نو د صبا انتظار مهٔ کوئ اوچه صبا شی درباندے نود مابنام انتظار مهٔ کوئ (یعنی داطمع مهٔ کوئ چه تر مابنامه به ژوندے یم . هر وخت مرگ یاد ساتئ . (بخاری)

(۲۱) وعن البراء بن عازبؓ قال خرجنا مع النبی صلی اللّٰه علیه وسلم فی جنازة رجل من الانصار فانه هینا الی القبر ولما یلحد فجلس رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم وجلسنا حوله کان علی رؤسنا الطیر و فی ید دعو دینکت به فی الارض فرفع رأسه فقال استعذوا باللّٰه من عذاب القبر مرتین او ثلثا ثم قال ان العبد المؤمن اذا کان فی انقطاع من الدنیا واقبال من الاخرة نزل الیه ملائکة من السماء بیض الوجوه کان وجوههم الشمس معهم کفن من اکفان الجنة وحنوط الجنة حتی یجلسوا منه مد البصر ثم یجیئ ملك الموت علیه السلام حتی یجلس عند رأسه فیقول ایتها النفس الطیبة اخرجی الی مغفرة من اللّٰه ورضوان قال فتخرج تسیل

(حضرت براء بن عازبؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی. مسلمان چه د دنیا نه آخرت ته روان شی. نو هغهٔ ته دوه سپینے فرښتے راشی چه ورسره د جنت کفن او د جنت خوشبوئ وی. بیا ملك الموت راشی ورته اووائ . اے پاکه روحه ده اللّٰه بخښش او رضا طرف ته لاړ شه . بیا چه هغه روح (د بدن نه) را اوباسی نو فرښتے ئے د هغهٔ په لاس کښے نهٔ پرینږدی . د جنت په هغه کفن او د مشکو په شان خوشبوئیئ کښے ئے اونغاړی. او په برکه ئے خیژ وی . د مزکے د فرښتو په ډله چه تیرینږی نو هغوئ پتوس کوی چه دا پاک روح دچا دے . هغه فرښتے ورته په بنو بنو القابو د هغه مسلمان نوم واخلی. چه فلانے د فلانی حوئے دے . بیائے د دنیا آسمان ته اورسوی . د آسمان دروازه ورته پرانستے شی اود هر مسلمان مقرب فرښتے ورسره تر بل آسمانه جلب کښے روانے شی . تر دے چه اووم آسمان ته اوخیژی.

حق تعالیٰ اوفرمائ:

زما د بنده عمل نامه په علیین کښے اولیکئ . او دے سوال جواب د پاره زمکے

كما تسيل القطرة من السقا فيأ
خذها فاذا اخذ ها لم يدعوها
في يده طرفة عين حتى ياخذوها
فيجعلوها في ذلك الكفن وفي ذلك
الحنوط ويخرج منها كاطيب نفحة
مسك وجدت على وجه الارض
قال فيصعدون بها فلا يمرون
يعني ملأ من الملئكه الا قالوا ما
هذا الروح الطيب فيقولون
فلان بن فلان باحسن اسمائه التي
كانو يسمونه بها في الدنيا حتى ينتهوا
بها الى السماء الدنيا فيستفتحون
فيفتح لهم فيشيعه من كل سماء
مقربوها الى السماء التي تليها حتى
ينتهى به الى السماء السابعة فيقول
الله عز وجل اكتبوا كتاب عبدي في
عليين واعيدوه الى الارض فاني منها
خلقتهم وفيها اعيدهم ومنها اخرجهم
تارة اخرى قال فيعاد روحه في جسده
فيأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان له
من ربك فيقول ربي الله فيقولان له
ما دينك فيقول ديني الاسلام فيقولان
له ما هذا الرجل الذي بعث فيكم
فيقول هو رسول الله صلى الله عليه وسلم
فيقولان له وما علمك فيقول قرأت

ته واپس بوځئ، نو دهغهٔ روح بدن ته واپس
بوځئ نو دهغهٔ روح بدن ته واپس کړے شی
(خو د دنیا په شان نه بلکه د عالم برزخ
مناسب او د دے حقیقت پته په
لیدو لګی)
بیا هغهٔ ته دوه فرشته راشی
ورنه تپوس کوی: "ستا رب څوک دے؟"
هغه وائی:
"زما رب الله دے"
بیا ورته وائی: ستا دین کوم دے۔ هغه
وائی زما دین اسلام دے۔
بیا ورته وائی: "دا سړے څوک دے چه
تاسو ته د استولے شوے وو؟"
هغه وائی دا د الله پیغمبر دے۔ یو آواز
کووونکے د الله د طرفه د آسمان نه آواز اوکړی
زما بنده صحیح صحیح
جواب درکړو دهٔ ته
د جنت نه فرش اوغوړوئ
د جنت جاے ورکړئ
او جنت طرف نه
ورته کړکئ پرانزئ
چه د جنت یخه
او خوشبوئیه هوا
ورته راځی

فیقولان له وما علمك فیقول قرأت

(دے نه پس دے حدیث

کتاب اللہ فآمنت به وصدقته فینادی مناد
من السماء ان صدق عبدی فافرشوه من الجنة
والبسوه من الجنة وافتحوا له بابا الی الجنة
قال فیاتیه من روحها و طیبها ۱۲
(داخو د عالم برزخ حال وو)

کښے د کافر د مرګ
حال بیان شوے دے چه
بالکل دده اپوټه دے)
(احمد)

ف: دے نه پس دا واقعات پیښیږی:

(۱) اسرافیل علیه السلام به شپیلئ وهی.
(۲) ټول مړی به ژوندی شی.
(۳) د حشر په میدان کښے به راغونډ شی.
(۴) دا به سخته د تکلیف ورځ وی حساب کتاب به کیږی.
(۵) عملونه به تلل شی که د چا حق په چا پاتے وی دهغے نه کښے بد دهغهٔ نیکئ ورکولے شی.
(۶) پل صراط باندے به تیریدل وی.
(۷) څنه گناهگار به د سزا دپاره دوزخ ته واستولے شی.
(۸) د ایمانداروبه شفاعت کیږی.
(۹) جنتیان به جنت ته لاړ شی هاغته به د خپل رب دیدار کوی.

دا ټول واقعات اکثر و مسلمانانو ته یقینی دی. چاچه نه وی اوریدلی شاه رفیع الدین صاحب رحمة الله علیه په اردو کښے قیامت نامه لیکلی ده. هغه کښے پوره تفصیلی حالات دی. په دے ټولو خبرو سوچ پکار دے. که څوک د ورځے ناوزکاره وی. نو دشیے چه کټ کښے پریوځی نو دا سوچ وکوی چه مړی را روان اود قیامت د سختو نه بچ کیدو دپاره د نیک عمل ضرورت دے.

(دا ټول حدیثونه د مشکوٰة شریف دی).

دوه ویشتم روح

گناهونه بې کیدل

گناه داسې شی دے چه که دے باندے د سزا ویره نه وے - نو بیا هم ترے په دے خیال بې کیدل پکار وو - چه الله پرے ناراضه کیږی.

په دے دنیا کښے چه څوک دچا سره لږ غوندے احسان کوی - د هغه پاره کولو هم دچا زړه نه کیږی - نو د الله تعالیٰ خو په بندیانو بے شماره احسانونه دی - د هغه د ناراضه کولو همت به څوک څنګه اوکړی - او اوس خو ورکښے د سزا خطره هم شته - په دنیا او آخرت دواړو کښے سزا ورکړے شی - که یوازے په آخرت کښے ورکړے شی -

لکه په دنیا کښے یو قسم سزا دا هم ده - کومه چه څرګنده لیدے شی چه دا سے سړی دنیا سره مینه وی - او د آخرت نه ئے وحشت وی - د دے اثر دا اوشی چه د هغه زړه مضبوطیا او د دین پوخوالے ختم شی لکه د یو ویشتم روح د شروع مضمون نه چه صفا معلومیږی -

نو په داسے حالت کښے خو ګناه ته نزدے کیدل هم نه دی پکار - د زړه ګناه وی او که د لاسو ښپو او که د څڅے - بیا هغه د الله پاک حقونه دی - که د الله د بندیانو دا سزا خو په ټولو ګناهونو کښے شریکه ده - او په څنه ګناهونو خاصے خاصے سزاګانے هم دا غلی دی - د دے متعلق یو څو حدیثونه لیکو -

(۱) عن ابی هریرة رض عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان العبد اذا خطأ خطیئة تکتب فی قلبه نکتة سوداء فاذا هو نزع واستغفر وتاب سقل

د حضرت ابو هریره رض نه روایت دے - چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی - مسلمان چه ګناه اوکړی په زړه ئے یو تور داغ اوبکی - بیا که توبه استغفار شی نو دا داغ صفا شی او که بله ګناه اوکړی نو بل داغ اوشی - او دغه شان

قلبه وان عاد زید فیها حتی یعلوا قلبه و هو الوان الذی ذکرالله کَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ مَّا کَانُوْا یَکْسِبُوْنَ ط

(ترمذی ج ۲ ص ۱۷۸)

دا تورواله زیاتیږی - دا هم هغه رنګ دے دکوم ذکر چه الله تعالیٰ په دے آیت کښے کړے دے (ترجمه ئے داده چه) هرګز داسے نه ده (څنګه چه ګ دوئ خیال دے) بلکه ګدوئ په زړونو د دوئ د (بدو) عملونو رنګ خټلے دے۔

(احمد، ترمذی، ابن ماجه)

(۲) دحضرت معاذؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څان ډکناه نه ښه کوه - ځکه چه ډکناه په وجه د الله تعالیٰ غضب نازلیږی۔ (احمد)

(۳) دحضرت انس بن مالکؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ آیا زهٔ تاسو ته ستاسو بیماری او دهغے علاج اوښائیم؟ واوئ ستاسو بیماری ګناهونه دی - او دهغے علاج استغفار دے۔ (ترغیب از بیهقی)

(۴) دحضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - په زړونو هم یو قسم زنګ خیژی (یعنی ډکناهونو) او دهغے صفائی استغفار دے۔ (ترغیب از بیهقی)

(۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی بنیادم د رزق نه محرومیږی دهغهٔ ډکناه په وجه چه دے ئے په خپل اختیار کوی۔ (جزاء الاعمال)

ف: کله کله په څرګنده هم ډ رزق نه محروم شی - او د رزق د برکت نه محروم کیدل خو ئے همیشه وی۔

(۶) دحضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه مونږ لسو کسان د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت حاضر وو - هغوئ مونږ ته متوجه شو - وئے فرمائیل پنځه څیزونه دی چه زهٔ د الله پناه غواړم چه تاسو پکښے مبتلا شئ۔

(۱) په کوم قوم کښے چه په څرګنده دبے حیائی کارونه شروع شی هغه د طاعون وبا کښے ګیر شی - او داسے داسے مرضونه پکښے پیدا شی چه د مشرانو په وخت کښے نهٔ وی۔

(۲) او کوم قوم چه په ناپ تول کښے کمے کوی - قحطی، تنګسیا او ظالمانو حاکمانو کښے ګیر شی۔

(۳) اوکوم قوم چه زکوٰة ورکول بندکړی. الله تعالیٰ پرے ډ رحمت باران بندکړی. که څاروی نهٔ وے نو هیڅرے به پرے باران نهٔ وو شوے (۴) اوکوم قوم چه بے لوظی کوی الله تعالیٰ وربانده ے دغیر قوم دشمن مسلط کړی. چه مالونه ترے په زور اخلی.

(جزاء الاعمال از ابن ماجه)

(۷) دحضرت ابن عباسؓ نه روایت دے کله چه په یوقوم کښے خیانت ډیرشی. الله تعالیٰ ئے په زړونو کښے رعب واچوی (بُزدل) شی. اوکوم قوم چه په ناحقه فیصلے کوی دشمن پرے مسلط شی. (مالک)

(۸) دحضرت ثوبانؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. داسے وخت زر راتلونکے دے - چه دکفارو ولے به دتاسو مقابلے ته یو بل داسے رابلی لکه په یو دسترخوان روټئ خوړو ته چه څوک راجمع کیږی. (یعنی مسلمانانو ته ته به یو وډله شی) چا عرض اوکړو آیا زمونږ تعداد به دغه ورځو کښے کم وی؟ حضورؐ اوفرمائیل نه ستاسو شمار به ډیر وی - لیکن تاسو به ډ کنکښرو په شان یئ (لکه بارانی سیلاب کښے چه کنکښرے راجمع شی). (یعنی بے کاره به یئ) او الله تعالیٰ به ډ دشمنانوړ زړونو نه ستاسو هیبت لرے کړی - او ستاسو زړونه به کمزوری کړی. چا عرض اوکړو - دا کمزوری به ولے راشی (یعنی سبب به ئے څهٔ وی) حضورؐ اوفرمائیل ددنیا محبت اود مرګ نه ویره -

(ابوداؤد، بیهقی)

(۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - کله چه الله تعالیٰ د بندیانو نه گناهونو بدله اخلی (یعنی سزا ورکوی) نو واړهٔ ډیر مړهٔ کیږی. او بنځے شنډه نه (یعنی واړهٔ پیدا کیږی کم او مړهٔ کیږی ډیر - نو قوم کمزورے اوکم شمیره شی).

(جزاء الاعمال از ابن ابی الدنیا)

(۱۰) دحضرت ابو درداءؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی: "زهٔ دبادشاهانو مالک یُم - دبادشاهانو زړونه زما لاس کښے دی - کله چه بندیان زما نافرمانی کوی - نو زهٔ دهغوئ د بادشاهانو ډ زړونو نه رحم او شفقت لرے کړم - اوچه بندیان زما نافرمانی کوی - نو زهٔ دهغوئ د بادشاهانو زړونه دقهر اوغضب نه ډک کړم - بیا هغوئ ته سخت سخت تکلیفونه رسی. (ابونعیم)

(۱۱) وهب وئیلی دی چه الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته فرمائیلی - څوک چه زما تابعداروی زهٔ ترے راضی شم او چه زهٔ راضی شم - برکت ورکوم - اودهٔ مادهٔ برکت څهٔ انتها نشته - او څوک چه زما نافرمانی کوی - زهٔ ورته په غضب شم او په لعنت ځکوم زما د لعنت اثر تر اوو پیړو پورے وی - (جزاء الاعمال از احمد)

ف: ددے دا مطلب نهٔ دے چه اوو پیړو پورے په لعنت وی - بلکه مطلب ځے دادے که دوئ نیکان نهٔ وی نو په اولاد به ځے چه کوم برکت وو هغه به نهٔ ورسی.

(۱۲) د حضرت وکیعؓ نه روایت دے حضرت عائشهؓ ابئ فرمائیلی دی - کله چه بنده د الله تعالیٰ نافرمانی کوی نو صفت کوونکے ځے بے اختیاره بد شروع کړی - (جزاء الاعمال از احمد)

ف: په دے حدیثونو کښے زیات د مطلق گناه خرابئ ذکر شوی دی - اوس د څنه خاصو گناهونو خاصه خرابئ لیکلے شی.

(۱۳) عن جابرؓ قال قال النبی صلی الله علیه وسلم ان اعظم الذنوب عند الله ان یلقاه بها بعد الکبائر التی نهی عنها ان یموت رجل وعلیه دین لایدع له قضاءً ۱۲

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - د کبیره گناهونو نه پس غټه گناه دا ده چه بنده قرضدار مړ شی - (یعنی د چا مالی حق پرے پاتے وی) او دومره څه ځے پاتے نهٔ وی چه هغه حق پرے ادا شی - (احمد و ابوداؤد)

(۱۴) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرءٍ الا بطیب نفس منه ۱۲

حضرت ابی حره رقاشیؓ د خپل نږه نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - خبردار! ظلم مهٔ کوئ - واوریئ د هیچا مال حلال نهٔ دے بغیر د هغهٔ د خوشدلئ نه -

(بیهقی - دارقطنی)

ف: په دے کښے څنگه دا اغلهٔ چه د چا نه مال په زور قبضه کړی - یا د چا نه قرض یا د میراث برخه لاندے کړی - د غه شان یکښے هغه چنده هم راځی کوم چه په څهٔ دباؤ یا شرم ولحاظ واخیستے شی.

(۱۵) د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په سود خور لعنت وئیلے

دے (یعنی په اخستونکی هم اوپه ورکونکی هم) اود سودی حساب په لیکونکی اوددے په
ګواهانو۔ (اوفرمایلی ئے دی چه دا ټول برابر دی)۔ (مسلم)

(۱۶) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم
من اخذ شبراً من الارض
ظلماً فانه یطوقه یوم
القیٰمة من سبع ارضین
(م ص۲۵۴)

حضرت سالمؒ دخپل پلار نه روایت کوی چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ څوک
چه دچانه لږه غوندے زمکه ناحقه قبضه کړه
(په یو روایت کښے یو لویشت راغلی دی) هغه قیامت
به د قیامت په ورځ تر اووے زمکے پورے
ډډ ته غاړه کښے اچولے شی۔ (بخاری)

(۱۷) عن عبد الله بن عمرؓ
قال لعن رسول الله صلی الله
علیه وسلم الراشی
والمرتشی

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے
چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
لعنت ویلے دے په رشوت ورکونکی او په
رشوت اخستونکی۔ (ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذی)

او د حضرت ثوبانؓ په یو روایت کښے دا زیات دی۔ او په هغه سړی هم څوک چه
دواړو ترمینځه معامله جوړه وی۔ (احمد و بیهقی)

ف: البته چرته چه بے رشوته د ظالم د ظلم نه بچ کیدلے نه شی هلته (د ظلم نه
ځان بچ کولو د پاره) رشوت ورکول جائز دی۔ لیکن آخستل بهر حال حرام دی۔

(۱۸) عن عبد الله بن عمرؓ
ان النبی صلی الله علیه وسلم
نهی عن الخمر والمیسر ۱۲
(م ص۳۱۸)

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے
چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د شرابو
او جوارئ نه منع کړے دی۔
(ابو داؤد)

ف: په شرابو کښے ټول د ټنګ ټین ونه راغلی۔ او په جوارئ کښے لاټری بیمه وغیره
ټول شامل دی۔

(۱۹) عن ام سلمةؓ قالت نهی
رسول الله صلی الله علیه وسلم
عن کل مسکر و مفتر ۱۲ (م ص۳۱۸)

د حضرت ام سلمهؓ نه روایت دے چه رسول الله
صلی الله علیه وسلم د داسے ټولو څیزونو نه منع
کړیدے کوم چه نشه راوړی (یعنی چه عقل

کښے فرق راولی یا په حواسو کښے فرق راولی) ۔ (ابوداؤد)

ف: په دے کښے بنګ، چرس، افیم هم راغلهٔ ۔ اوځنه هغه چیلم هم کوم چه دماغ یا لاس بنچے بے کاره کوی۔

(۲۰) قال النبی صلی اللہ علیه وسلم العینان زناهما النظر والاذنان زناهما الاستماع واللسان زناه الکلام والید زناها البطش والرجل زناها الخطی والقلب یهوی ویتمنی و یصدق ذلك الفرج ویکذبه ۱۲

دحضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د دواړو سترګو زنا (د شهوت) په نظر کتل دی ۔ اود دواړو غوږونو زنا (په شهوت) خبرے اوریدل دی ۔ اود ژبے زنا (د شهوت) خبرے کول دی ۔ او د لاسونو زنا (په شهوت) دچا نیول دی ۔ او د بنسپو زنا (په شهوت) قدم پورته کول دی او د زړهٔ زنا داده چه هغه خواهش او تمنا کوی۔ (مسلم)

ف: اود هلکانو سره د شهوت خبرے یا کار کول دے نه هم سخته ګناه ده ۔ ددے حدیث سره چه دا ورو ستے حدیث شریف مرکرے شی نو اوګورئ چه دناچ ګانو په مجلسونو کښے څومره ګناهونه راجمع کیږی۔

(۲۱) دحضرت ابو امامهؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ماته خپل رب حکم راکړیدے د باجو د وړهٔ کولو کوے چه په لاسو یا په خُله وهلے شی۔ (احمد)

(۲۲) عن عبد الله بن عمرؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الکبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدین و قتل النفس والیمین الغموس ۱۲

دحضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی غټ غټ ګناهونه دا دی: الله تعالیٰ سره شریک جوړول د مور پلار نافرمانی کول مور پلار ته تکلیف رسول ۔ بے ګناه مړک کول او په دروغه قسم خوړل ۔ (بخاری)

(۲۳) فی روایة انسؓ بدل الیمین الغموس ۱۲

د حضرت انسؓ نه په دغه حدیث کښے د قسم په ځائے په دروغه ګواهی کول دی۔

(۲۴) عن ابی هریرة رض قال قال النبی صلی الله علیه وسلم اجتنبوا السبع الموبقات قالوا یارسول الله ماهن قال الشرک بالله والسحر وقتل النفس التی حرم الله الا بالحق واکل الربوٰ واکل مال الیتیم والتولی یوم الزحف وقذف المؤمنات الغافلات ۱۲

(م ص ۱۱۶)

دحضرت ابو هریرة رض نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے (چه په غټو ګناهونو کښے) دا هم دی - دیتیم مال خوړل - دکافرو سره په جنګ کښے - او په پاکدامنو بښځو (چه هغوئی ډ داسے کار نه خبر هم نه وی) ناکاره تهمت لګول -

(بخاری ومسلم)

(۲۵) دحضرت ابو هریرة رض نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے (او په غټو ګناهونو کښے) دا کارونه هم دی : زنا کول ، غلا او ډاکه کول -

(بخاری ومسلم)

(۲۶) عن عبد الله بن عمر رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اربع من کن فیه کان منافقا خالصاً ومن کانت فیه خصلة منهن کانت فیه خصلة من النفاق حتی یدعها اذا اؤتمن خان واذا احدث کذب واذا عاهد غدر و اذا خاصم فجر ۱۲

دحضرت عبد الله بن عمر رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - څلور خویونه دی په چا کښ چه داخلور واړه وی نو پوره منافق دے او په چا کښ چه ډډے څلورونه یو خوئی وی نو په هغه کښ ډ نفاق خوئی دے تر څو چه ئے پرے نږدی-

(۱) چه هغه سره امانت کیښودے شی (مال وی که خبره) نو خیانت پکښ کوی (۲) چه خبره کوی نو دروغ پکښ وائی (۳) چه وعده اوکړی ماته ئے کړی

(۴) چه چا سره په جنګ شی نو کنځلے کوی - (بخاری ومسلم)

او دحضرت ابوهریرة رض په روایت کښ دا الفاظ دی چه وعده اوکړو د هغے خلاف کوی

(مطلب د دواړو یو دے)

(۲۷) عن صفوان بن عسال رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فی حدیث طویل ولا تمشوا

دحضرت صفوان بن عسال رض نه (په یو اوږد حدیث کښ) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو څو حکمونه کړی وو - چه هغه کښ یو دا

ببری الی ذی سلطان لیقتله ولا تسحروا ۳ (م مت ۱۵)

وو: "هیڅوک بے قصوره حاکم ته مه پیش کوئ (یعنی په چا بے گناه مقدمه مه جوړوئ) چه هغه ئے قتل کړی یا پرے څه ظلم اوکړی (قید یا سزا) اوجادو مه کوئ۔ (ترمذی، ابوداؤد، نسائی)

اوپه دے گناهونو دعذاب وعید راغلے دے:-

(۱) په چا پورے دسپکاوی دپاره خندل۔ (۲) چاته پیغورونه ورکول۔ (۳) څوک په خراب نوم یادول۔ (۴) بدگمانی کول۔ (۵) دچا عیبونه لټول (۶) دچا غیبت کول (۷) بے قصوره چاته بد ردوئیل (۸) چغلی خورل (۹) درغله کیدل۔ یعنی یوته مخامخ یوشان خبره کول اوبل ته مخامخ بل شان کیدل (۱۰) په چا تهمت لگول۔ (۱۱) دهوکه ورکول (۱۲) دبل په نقصان خوشحالیدل (۱۳) کبر غرور کول (۱۴) ظلم کول (۱۵) دضرورت په وخت کښے سره د وسه دحاجتمند امداد نه کول (۱۶) چاته مالی تاوان رسول (۱۷) دچا عزت خرابول (۱۸) په وړو رحم نه کول (۱۹) دمشرانو عزت نه کول (۲۰) د اوښی بربنډ ترخپله وسه خدمت نه کول۔ (۲۱) دمسلمان سره په څه دنیوی خبره تعلقات پریښودل (۲۲) د ژوندی څیز تصویر جوړول (۲۳) په زمکه دموروثی کیدو دعوه کول (۲۴) بے معذورئ سوال کول دے خبرو متعلق آیتونه اوحدیثونه په روح ۹، ۱۹ کښے تیر شوی دی (۲۵) بیره کلول یا قینچی کول (۲۶) دکافرانو یا فاسقانو په شان جامے اچول۔ (۲۷) دسړو دپاره دښځو په طرز او ښځو دپاره د سړو په طرز جامه پیژارا چول۔ دے تفصیل به په روح ۲۵ کښے راځی۔ انشاء الله تعالی!

نور گناهونه هم ویردی دا یو څو نمونے په طور اولیکلے شو۔ دے ټولو گناهونو نه څان ساتل پکار دی۔ که دچا نه څه شوی وی۔ دهغے نه توبه ویستل پکار دی چه په توبه گناه معاف کیږی۔ لکه چه حدیث کښے راځی۔

(۲۸) عن عبد الله بن مسعودؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم التائب من الذنب کمن لاذنب له۔ (م مت ۲۶۳)

دحضرت عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ دگناه نه توبه ویستونکے داسے دے لکه چه گناه ئے هیڅ کړی نه وی۔ (بیهقی)

البته په حقوق العباد کښے د توبے قبلیدو دپاره دا هم ضروری ده - چه اهلِ حق ئے معاف کړی -

۲۹ عن ابی هریرة رضی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کانت عنده مظلمة لاخیه من عرضه او شیٔ منه فلیحلله منه الیوم من ان لایکون دینار ولا درهم ۱۲

د حضرت ابو هریره رضی نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - دچا په ذمه چه دچا مسلمان څه حق وی - د مال وی که د عزت که د بل څه نوهغه ته پکار دی چه نن ئے وربانده معاف کړی روبے ددے نه چه نه به اشرفئ پکاریږی او نه روپئ (یعنی د قیامت په ورځ)

۳۰ وعنه ایضاً ان کان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته وان لم یکن له حسنات اخذ من سیئات صاحبه فحمل علیه ۱۲

(د قیامت په ورځ) که ددے سړی سره نیک عمل وی نو ددے حق په اندازه به ترے واخیستے شی صاحبِ حق ته به ورکړے شی - او که څه نیک عمل ورسره نه وی نو د هغه گناهونه به (د هغے حق په اندازه) په ده بار کړے شی -

(جمع الفوائد از مسلم و ترمذی)

دا ټول حدیثونه د مشکوٰة دی - کوم چه د بل کتاب دی هغے سره نوم لیکلے شوید ے -

---

درویشتم روح

صبر او شکر کول

په بنیادم چه څه حالتونه راځی - اختیاری وی که غیر اختیاری هغه په دوه قسمه دی یا به هغه د طبیعت موافق وی - دا سے حالت د زړه نه د خدائے پاک نعمت گنړل، وربانده ئے

خوشحالیدل دخپل حیثیت نه زیات کنترل ، په ژبه د الله تعالیٰ ثنا صفت ویئل او دا نعمت ډکناه په کار کښے نه استعمالول د نعمت شکر دے.

یا به هغه حالت د طبیعت خلاق وی - په نفس به گران اوناخوښه وی - په دا سے حالت کښے داکنترل چه په دے کښے به د الله تعالیٰ د طرفه مصلحت او زماځه خیر وی - او شکایت نه کول - که هغه څه حکم وی نو په کلکه د هغے تعمیل کول. او که څه مصیبت وی نو په کلکه ئے برداشت کول - او نه پریشان کیدل دا صبر دے - چونکه صبر مړ گران دے نو ددے بیان د شکر نه اول او د هغے نه زیات کوم . اول د نمونے په طور د دا سے موقعو کوم چه ورته پیښیږی یو څو مثالونه لیکم - بیا به د هغے متعلق آیتونه او حدیثونه لیکم.

مثالونه دادی :-

مثلاً نفس د دین په کارونو کښے تنګیږی او ترے نه تښتی - یا د ګناه څه کار تقاضا کوی هغه د مونځ روژے نه پرتیدل وی که د حراے آمدنئ پریښو یا د چا حق ادا کولونه دوستو کیدل دی. نو په دا سے وخت کښے د شریعت په حکم عمل کولو او د ګناه نه ځان ساتلو همت پکار دے - اګرچه په دغه وخت به لږ تکلیف او سخته برداشت کول وی. لیکن مړ زد به دے آرام او مزه اوویني - یا مثلاً په چا څه مصیبت راشی - د لوبے، تندے، بیمارئ مرګ یا د دشمن د طرفه څه سخته یا مالی تاوان - په دا سے وخت کښے د دے مصیبت مصلحت یادول پکار دی - د ټولونه غټ مصلحت خو ئے هغه ثواب دے د کوم چه وعده شویده.

او بے ضرورته د دے تکلیف اظهار نه د دے پکار او نه ئے هر وخت سوچ پکار دے.

(هیر ولو) سره ئے په زړه کښے یو خاص سکون او اطمینان پیدا کیږی. البته که د دے مصیبت دفع کولو څه جائز تدبیر وی لکه حلال مال حاصلول یا بیمارئ علاج کول یا د چا طاقت والا نه امداد حاصلول یا د شریعت د حکم مطابق بدله اخستل یا دعا کول نو د دے څه حرج نشته - تدبیر کول پکار دی. یا مثلاً که د دین په کار کښے څوک ظالم رکاوټ اچوی یا د دین توهین کوی نو په دا سے کښے د دین په مرسته کښے د ځان پرواه نه کول (لیکن د عقلی او شرعی قانون فی حد ذاته) دا د صبر ضروری مثالونه وو - هغه څه چه د دے متعلق آیتونه او حدیثونه لیکلے شی -

آیات (۱) اِسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ط (سیقول ع ۵)

الله تعالیٰ فرمائی او (کله تاسو ته د مال وجاه د محبت په وجه ایمان راوړه کران وی.) نو تاسو د صبر او مانځه نه مدد واخلئ۔ (بقره)

ف: دلته د صبر مطلب خلافِ شرعِ خواهشات ترک کول دی۔

(۲) وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَ نَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَ الثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ط (پ۲ ع ۳)

الله تعالیٰ فرمائی: او مونږ به ستاسو ازمینښت کوو په څه قدرے خوف (چه د دشمن په وجه یا د حوادثو په وجه راشی) او لږوالی اوځه قدر د مال او ځان او میوو په کمی (لکه ځاروی یا بنیادم مړه شی یا ناجوړه شی او فصلونه خراب شی) او ته اے رسولؐ الله! په دا سے موقعو صبر کوونکو ته زیږے ورکړه۔ (سورۃ بقرہ)

(۳) فَمَا وَهَنُوْا لِمَا اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ۝

(د تیر وامتونو د مخلصانو ایماندارو په باره کښے الله تعالیٰ فرمائی) نو دوئی بے همته نه شو په هغه مصیبتونو کښے چه د الله په لار کښے دوئی باندے راغلو۔ او نه ئے (د زړه یا بدن) زورکم شو۔ او نه ئے دشمن ته سر ټیټ کړو۔ چه د کمزورئ یا خوشامندے خبرے ئے ورته کړی وی۔ او الله تعالیٰ د دا سے صابرانو (یعنی مستقل مزاجو) خلقو سره محبت کوی (کوم چه دین په کار کښے مضبوط وی)۔ (آلِ عمران)

(۴) وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ط (نحل)

الله تعالیٰ فرمائی: څوک چه د دین په کار کښے صابر او ثابت قدم وی۔ مونږ د دوئی د ښو کارونو په بدل کښے دوئی ته اجر ضرور ورکوو۔

(نحل پ۱۴ ع ۱۸)

(۵) اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَ الصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَ الصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ (پ۲۲)

الله تعالیٰ (په یو اوږد آیت کښے د نورو اعمالو سره دا هم) فرمائی: او صبر کونکی سړی او صبر کونکی ښځے (بیا په آخر کښے فرمائی) دوے ټولو دپاره الله تعالیٰ بخښنه او لوئے اجر تیار کړے دے۔

(احزاب)

ف: په دے کښے د صبر ټول قسمونه راغلی دی۔ په عبادتونو صبر په مصیبتونو صبر او ګناهونو نه صبر۔

احادیث (۶) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا ادلکم علی ما یمحو الله به الخطایا و یرفع به الدرجات قالوا بلی یا رسول الله قال اسباغ الوضوء علی المکاره و کثرة الخطا الی المساجد و انتظار الصلوة بعد الصلوة فذلکم الرباط و فی حدیث مالک بن انس رضی الله عنه فذلکم الرباط موتین۔

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ آیا زه تاسو ته داسے شے اونه ښایم په کومو چه الله تعالیٰ ګناهونه معاف کوی او درجے پرے زیاتوی۔ خلقو عرض اوکړو ضرور راته اوښایئ اے رسول الله! حضور اوفرمایل اودس مکمل کول په داسے وخت کښے چه اودس کول په طبیعت ګران وی۔ (خو دے سره سره همت اوکړی) اوجمات ته په تلو کښے ډیر قدمونه آخستل (یعنی د لرے نه د جمعے ماښځه جماعت ته تلل یا ډیر ځله تلل) اود یو مونځ نه پس بل ماښځه ته انتظار کول۔

(رواه مسلم فی روایة الترمذی ثلثة ص مشکوة)

ف: په داسے وخت کښے چه طبیعت ځے نه منی اودس پوره پوره کول د صبر یو مثال دے۔

(۷) عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال اوصانی خلیلی ان لا تشرک بالله شیئًا و ان قتلت اوحرقت ۱۲

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه نه روایت دے چه زما د زړه محبوب صلی الله علیه وسلم ماته وصیت کړیدے چه الله تعالیٰ سره هیڅوک مه شریکوه اګر که دوزه غوښے پریکړے شی یا ډز شوک په اور کښے واچوی۔ (ابن ماجه)

ف: په داسے وخت کښے توحید باندے قایم اوسیدل د صبر یو مثال دے۔ ۱۲ لیکن دیو ظالم د سختئ په وخت شوک په مجبورئ د شرک خبره یا کار اوکړی نو په شریعت کښے معاف دے۔ په دے کافر کیږی نه۔ حکمه چه زړه ځے د ایمان نه وړک دے۔

(۸) د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په یو لښکر باندے ابو موسیٰ رضی الله عنه سردار مقرر کړو۔ او د دریاب په سفر ځے روان کړو۔ هغوئ هم په دغه حالت کښے په تیاره شپه کښے هم د کشتئ بادبان پرانستے پریښے وو۔ کشتئ روانه ده۔ ناڅاپه د

پاس نه چا آواز اوکړو - کشتئ والو اودریږئ - زهٔ تاسو ته د الله تعالیٰ یو حکم اوروم چه هغه په خپل خان باندے لازم کړے دے - ابو موسیٰ رضی الله عنه ورته اووے مونږ ته ضرور خبر راکړه - هغه اووے الله تعالیٰ په خپل ذات د خبره لازمه کړیده چه څوک په ګرمئ کښے روژه کښے روژه اونیسی د الله دیدار خان ته ورے اوساتی الله تعالیٰ به ئے د قیامت په ورځ (په سخته تنده کښے) سیراب کړی۔

ف: داهم دصبر یو مثال دے۔

(۹) عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی یقرأ القرآن ویتعتع فیه وهو علیه شاق له اجران ۱۲ (م ص ۱۸۴)

دحضرت عائشه رضی الله عنها ابئ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ څوک چه قرآن لولی او پکښے ننبلی ویئل ورته ګران وی هغه دپاره دوه ثوابه دی۔

(بخاری و مسلم)

ف: داهم دصبر یو مثال دے - اوداحدیث په دریم روح عه کښے تیر شوے دے۔

(۱۰) عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم احب الاعمال الی الله ادومها وان اقل ۱۲

(بخاری ومسلم)

دحضرت عائشه رضی الله عنها ابئ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د تولو نه بهتر عمل د الله پاک په نزد هغه (عمل) دے چه همیشه وی اګرکه لږ وی۔

(بخاری ومسلم)

(۱۱) دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د دوزخ نه ګیر چاپیره نفسانی خواهشات دی۔ او دجنت نه ګیر چاپیره په نفس ګران څیزونه دی۔ (مسلم)

ف: کوم عبادتونه چه په نفس ګران وی او دکومو کنا هونونه چه پرهیز کیدل ګران دی۔ دا تول پکښے راغلو۔

(۱۲) عن ابی سعید رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال ما یصیب المسلم من نصب ولا

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه او ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ هیڅ یو مسلمان ته څه مصیبت یا څه مرض یا څه

وصب ولا هم ولا حزن ولا اذی ولا غم حتی الشوکة یشاکها الا کفر الله بها من خطایاه (م ص۱۳۴)

غم یا څه فکر نه رسی. تر دے کے ښښپه کښے ځے اغزے ماتے شی هم الله تعالی ځے په دے څیز ونو ګناهونه معاف کوی.

(۱۳) عن عائشة رض قالت اخبرنی رسول الله صلی الله علیه وسلم لیس من احد یقع الطاعون فیمکث فی بلده صابرًا محتسبا یعلم انه لا یصیبه الا ما کتب الله له الا کان له مثل اجر شهید ۱۲ (مشکوٰة ص۱۳۵)

د حضرت عائشه رض ابی نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یو سړے هم داسے نشته چه د طاعون وبا خوریدو په وخت په خپل کښے په صبر اود ثواب په نیت حصار وی په دے عقیده چه څه د الله ڈ طرفه مقرره وی هغه به را رسی مګر دے سړی ته د شهید برابر ثواب ورکولے شی. (بخاری)

(اګرچه په دے وبا کښے مړ نه شی - که مړ شو خو د ویرے او چتے درجے شهادت ڈ) مسلم

ف: لیکن کور بدلول یا بله محله ته تلل یا هم دوے بنار څنګل ته وتل د اکثرو عالمانو په نزد جائز دی - په دے شرط چه د بیمارانو او مړو حقونه ادا کوی. (یعنی په څنګل کښے دیره شی خو د بیمار تیمارداری او مړی جنازے ته څان رارسوی.)

(۱۴) عن انس رض قال سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول قال الله تعالیٰ اذا ابتلیت عبدی بحبیبتیه ثم منها الجنة یرید عینیه ۱۲ (م ص۱۳۵)

د حضرت انس رض نه روایت دے - چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه الله تعالیٰ فرمائی: زه چه خپل یو بنده د دوو خوږو څیزونو په مصیبت کښے گرفتار کړم (مراد ترے دوه سترګے دی) لکه چه هم دے راوی ځے خپله په دے حدیث کښے دغه تفسیر کړے دے. یعنی نظر ځے لاړ شی) بیا هغه (په دے مصیبت) صبر اوکړی. نو زه به دوے په بدله کښے جنت ورکړم. (بخاری)

(۱۵) د حضرت ابو هریره رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.

چه الله تعالیٰ فرمائی زما د مؤمن بنده دپاره چه دے په دنیا کښے اوسی اوزه ترے ددۀ دیوخوښ روح واخلم بیا دے وربانده د ثواب په نیت صبر اوکړی نو دا سے بنده ته زما سره د جنت نه سوا بله بدله نشته - (بخاری)

ف: هغه خوښ روح د اولاد وی که بنځے د خاوند وی. کۀ دوست یا مور پلار یا بل رشته دار.

(۱۶) عن ابی موسٰی الاشعری قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا مات ولد العبد قال الله تعالیٰ للملٰئکة قبضتم ولد عبدی فیقولون نعم فیقول قبضتم ثمرة فؤاده فیقولون نعم فیقول ماذا قال عبدی فیقولون حمدك واسترجع یستول الله ابنوا لعبدی بیتا فی الجنة وسموه بیت الحمد -

(مشکوٰة ص ۱۸۵)

د حضرت ابو موسٰی اشعری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کله چه دیو بنده د وړوکے مړ شی الله تعالیٰ فرشتو ته اوفرمائی تاسو زما د بنده د بچی نه روح واخستو هغوئی اووائی اوُ. بیا ورته اوفرمائی تاسو د هغۀ خوښه میوه واخسته. هغوئی عرض اوکړی اوُ زما دبه - بیا به ورته اوو فرمائی نو زما بنده څه اووے هغوئی به عرض اوکړی - ستا بنده ستا ثنا صفت اوکړو او وئے و ے اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ - الله تعالیٰ به اوفرمائی نو زما دے بنده دپاره جنت کښے یو کور جوړ کړئی - او د هغے نوم بیت الحمد کیږدئی - (احمد و ترمذی)

(۱۷) د حضرت ابو درداء رضی الله عنه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - درے کسان دی چه الله تعالیٰ ورسره مینه کوی اوچه هغوئی ته اوکوری نوخاندی - (څنګه چه د هغۀ شان سره لایقه ده) او د هغوئی په حالت خوشحالیږی (په هغه دریو کښے یو دا هم دے) چه د الله دپاره سره ورکولو ته تیار شی (د شریعت د شرائطو موافق) بیا هغه شهید شی اوکۀ الله تعالیٰ غلبه ورکړی د هغۀ حفاظت اوکړی - الله تعالیٰ (فرشتوته) فرمائی - زما دے بنده ته اوکورئی څنګه زما دپاره په روح ورکولو صابر شوے - (ترغیب از طبرانی)

ترے پورے د صبر بیان اوشو. اوس څۀ لږ غوندے د شکر بیان کوو - او دا شکر څنګه چه په خپله یو مستقل عبادت دے. د هغه شان د دے په ذریعه یو بل عبادت یعنی

صبر هم آسانیږی۔ (دا هم دوے یو خاصیت دے) عقلی طور هم او طبعی طور هم۔ عقلی خو دا سے هر کله بنده د الله تعالیٰ په نعمتونو سوچ کوی۔ او په دغه نعمتونو ئ خوشالیږی او عادت ئے (کوم چه د شکر سره لازم دے) پوخ ثبی نو د سختے په وخت کښے هم دا سوچ کوی چه کوم پاک ذات چه په ما دومره احسانونه کړی دی۔ دومره ویر نعمتونه ئے راکړی دی نو که ئ دغه د وړے شے لږ غوندے تکلیف راپیښ ثبی نو په دے کښے هم زمونږ فائده او ثواب دے۔ لکه پاس ذکر شو وحدیثونه چه معلومه شوه۔ چه مسلمان ته په معمولی تکلیف هم اجرونه ورکولے ثبی) نو په دے وجه ورته دا تکلیف برداشت کول آسان ثبی۔ اوځکه چه په دنیا کښے عامه قاعده ده چه د څوک له وړے تکلیف سره د انعام وعده هم وی۔

او طبعی طور په دے طریقه۔ چه نعمتونو باندے سوچ کولو باندے الله تعالیٰ سره مینه زیاتیږی۔ او دا چا سره چه دا مینه وی د دغه ئ له وړے سخته ورباندے بد نه ئ لګی۔ بلکه عاشق خو د معشوق ئ د وړے سختی مزه ورکوی۔ خوند پرے اخلی۔

څکښے د شکر متعلق یو څو آیتونه او حدیثونه لیکو:۔

(۱۸) فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ط (پ ۲ ع ۳)

الله تعالیٰ فرمائی: تاسو ما یاد کړئ زه به تاسو یاد کړم (په رحمت سره) او زما شکر کوئ۔ ناشکری مه کوئ۔ (بقره)

(۱۹) وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ ط (آل عمران)

الله تعالیٰ فرمائی: مونږ به شکر کوونکو ته ویر زر اجر ورکړو۔

(۲۰) لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ط (پ ۱۳ سورة ابراهيم)

الله تعالیٰ فرمائی که تاسو زما په نعمتونو شکر کوئ نو زه به ئ درته نور زیات کړم (په دنیا کښے هم یا صرف په آخرت کښے) او که تاسو ناشکری اوکړه (نو یاد لرئ) زما عذاب ویر سخت دے (په ناشکرئ کښے د عذاب احتمال دے) (ابراهيم)

(۲۱) د حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ څلور څیزونه دا سے دی۔ د اچه چاته ورکړے شو۔ هغه ئ ته د دنیا او آخرت ټولے نیکئ

درکړے شوے ۔ (۱) زړۀ شُکر کوونکے (۲) ژبه ذکر کوونکی (۳) بدن په مصیبت کښے صابره (۴) او ښځه چه په خپل ځان او د خاوند په مال کښے خیانت نه کوی۔ (بیهقی)

خلاصه هیڅ وخت دا سے نه ګڼی چه په بنده څه حالت نه وی یا د طبیعت موافق یا د طبیعت مخالف ۔ په اول حالت کښے د شکر حکم دے ۔ او په دویم کښے د صبر حکم دے ۔ نو صبر او شکر دا سے کارونه دی چه هر وخت د کولو دی ۔ اے مسلمانانو! دا مڼه هیر وئ بیا اوګورئ چه وخت موښنګه په مزه او په آرام تیریږی۔

دا ټول حدیثونه د مشکوٰة شریف دی ۔ کوم چه د نورو کتابونو دی ۔ لهذا سره نوم لیکلے شوے دے ۔

څلیرشته روح

خپل کارونه په مشوره کول

په اهمو کارونو کښے دیانتداری او خیرخواهئ سره د یو بل نه مشوره اخستل او په خپلو کښے همدردی ، محبت او اتفاق ساتل او په معاملاتو یعنی لین دین کښے او معاشرت یعنی یو بل سره تعلق ساتلو کښے د اخیال ساتل چه زما د لاسه چا ته نقصان او نه رسی ۔ یا زما په خبره څوک دهوکه نه ځی۔ دے نوم دے د معاملے صفائی ۔ او د اخیال ساتل چه زما په خبرو اترو او سلوک کولو چا ته ظاهری تکلیف یا باطنی تنګسیا (د زړۀ پریشانی) اونه ځی ۔ دے نوم دے حسن معاشرت (بنه استوګنه)

نو دا درے خبرے شوے: مشورہ[۱] ، اتفاق[۲] ، د معاملے صفائی او حُسنِ معاشرت۔ دا درے واړه څیزونه بیل بیل ځانته مستقل هم مطلوب دی او شریعت کښے دے حکم شوے دے ۔ لکه مخکښے راتلونکو آیتونو او حدیثونو نه به واضحه شی ۔ او دے درے

وارو یو بل سره خاص تعلق هم دے لکه په مشوره اعتبار هله کیږے شی. چه په زړونو کښے مینه او اتفاق وی. او محبت او اتفاق هله پیدا کیږی چه یو بل ته دچانه نقصان او ظاهری یا باطنی تکلیف نهٔ رسی. دغه شان د بل طرف نه هم واخله. چه بل د تکلیف نه پرے کولو خیال هله ساتلے شی چه خپلو کښے محبت همدردی او اتفاق وی.

او خپلو کښے همدردی او اتفاق پیدا کیږے شی چه غټ غټ کارونه خپلو کښے په صلاح مشوره سرته رسولے شی. نو دے خاص تعلق په وجه دا درے واړه خبرے په یوه حسابیږی. اوس مونږ په ترتیب سره د هرے یوے خبرے څان څان ته فائده بیان کوو:-

مشوره:- په دے کښے د دنیا هم فائده ده چه په کارونو کښے غلطئ کمے کیږی لکه:

(۱) د حضرت سهیل بن سعدؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. په اطمینان او تسلئ سره کار د الله تعالیٰ د طرفه دے. (ترمذی)

ف: او ظاهره ده چه مشوره کولو باندے جلد بازی ختمیږی. د احکم په هغه کارونو کښے دے چه د تاخیر کښائش پکښے وی. او دغه فائده هم ده. چه په شریعت کښے د مشورے فضیلت راغلے دے.

(۲) آیت: وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ۝ ۱۲ (آل عمران)

الله تعالیٰ فرمائی (اے پیغمبرؐه) اصحابو سره په خاصو خاصو کارونو کښے مشوره کوه. بیا (د مشورے نه پس) چه د یو کار پخه اراده اوکړے (د هغوئ د مشورے موافق وی که مخالف) نو د الله په اعتماد (هغه کار کوه) بیشکه الله تعالیٰ دا سے اعتماد کوونکو سره محبت کوی.

ف: د خاصو کارونه مطلب هغه کارونه دی. کومو کښے چه د وحی حکم نهٔ وی راغلے. او کار هم څهٔ معمولی نهٔ وی څهٔ غټ کار وی. حکه چه وحی راتلو نه پس خو بیا د مشورے څهٔ کښائش نشته. او په عام معمولی کارونو کښے څوک مشوره نهٔ کوی.

(۳) لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ (سورة نساء)

الله تعالیٰ فرمائی: د عامو خلقو په پټو خبرو کولو کښے څهٔ خیر (ثواب او برکت) نشته. البته که هغه کسان دا سے وی چه د څه خیر خیرات

یا د بنیګړے دکار یا خلقو سره صلاح مصلحت کولو ترغیب ورکوی. (او ددے ترغیب ترسره کولو اوځهٔ انتظام او تدبیر کولو دپاره مشورے کوی. نو البته دا د خیر و برکت خبره ده). (نساء)

ف: ددے نه دا هم معلومه شوه چه کله کله پته مشوره کولو کښے خیر وی.

(۴) وَ اَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰی بَیۡنَهُمۡ

الله تعالیٰ فرمائی: او ددے مؤمنانو هرکار (کوم چه د مشورے قابل وی) خپلو کښے په مشوره سره کیږی.

ف: په مشوره مصلحت کولو د مؤمنانو صفت کولو ددے دښهٔ والی څرګنده دلیل دے.

(۵) د حضرت انسؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (بدر ته په تلو کښے اصحابو سره) صلاح اوکړه. (مسلم)

(۶) د حضرت میمونه بن مهرانؒ نه روایت دے چه (په څهٔ واقعه کښے چه به حضرت ابوبکرؓ ته د قرآن او حدیث نه څهٔ حکم معلوم نهٔ شو) نو مشران او نیکان کسان به راجمع کړل د هغوئ نه به ئے صلاح واخسته او په اتفاق به ئے یو فیصله اوکړه. (حکمت بالغه از دارمی)

ف: په یو رائے اتفاق د عمل دپاره شرط نهٔ دے. (ځکه چه زکوٰة نهٔ ورکوونکو سره د جنګ په حکم کښے د اصحابوؓ د رائے اختلاف وو. او حضرت ابوبکرؓ د جنګ حکم ورکړو.

(۷) د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ به د مشورے قابل پوهه کسانونه صلاح اخسته مشران به ووکه ځلمی. (بخاری)

ف: د آخری درے حدیثونو نه معلومه شوه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ درے واړو په اهمو کارونو کښے د صلاح اخستلو عادت وو.

(۸) د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کله چه په تاسو کښے دُچانه یو مسلمان رورځهٔ صلاح اخستل غواړی نو هغهٔ ته صلاح ورکوئ. (ابن ماجه)

اوس د مشورے یو څو آداب ذکر کوو:

(۹) د کعب بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه د څهٔ غټ کار ارادہ اوکړه نو اکثر به ئے دُبل چانه په پرده کښے کولو. (بخاری)

ف: ددے نه معلومه شوه چه کوم کار څرګند ولو کښے نقصان وی نو څرګند ول ئے نه دی پکار۔

(۱۱) د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ مجلسونه په امانت سره دی۔ (یعنی په یو مجلس کښے چه څه کار متعلق خبرے اوشی۔ هغه بهر څرګند ول نه دی پکار)۔ (په دے کښے د مشورے مجلس هم راغلو) بے ډ درے مجلسونونه۔ (ابو داؤد)

ف: ډدے درے مجلسونو خلاصه داده چه کوم مجلس کښے د چا سړ یا مال یا عزت ته د نقصان رسولو خبره اوشی نو داخبره پټول جائز نه دی۔ او چه د یو فرد ډ نقصان جائز نه دی۔ نو په کومه خبره کښے چه د عامو مسلمانانو نقصان وی د هغے پټول خو به غټه ګناه وی۔

(۱۲) لکه چه د حضرت حاطب بن ابی بلتعه په بد نیتئ نه بلکه ډغلط فهمئ په وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه د راز خبره د مکے کافرو ته رسولے وه۔ په دے باندے د سورة ممتحنه په اولنو آیتونو کښے تنبیه شویده۔ (درمنثور)

بلکه د کومے معاملے تعلق چه عامو مسلمانانو سره وی۔ د هغے په څرګند ولو کښے که په ظاهره څه نقصان نه بنکاری بیا هم د هغے څرګند ول (بے د هغے کسانو نه د چا په لاس کښے چه د شریعت او عقل موافق د هغے کار معامله وی) نورو خلقو ته ئے څرګند ول ښه نه دی۔ کیدے شی چه په څرګند ولو کښے ئے نقصان وی۔ خو ددے په خیال کښے نه راځی۔

(۱۲) وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ

الله تعالیٰ فرمائی: اوچه د خلقو ته څه (نوی) خبره اورسی۔ هغه خبره د امن وی که د ویرے نو دوئ ئے زر خوره کړی (په دے کښے داسے اخبارونه او داسے جلسے هم راغلے چه اکثر خو هغه خبرے غلطے وی او کله ئے خورول ډ مصلحت خلاف وی) او که ډخپله خورولو په ځائے داسے خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د هغے مشرانو اصحابوؓ کوم چه په داسے کارونو پوهیږی په راځے پریښے وے۔ (او خپله ئے پکښے دخل نه کولے) نو هغوئ په خبره پیژندلے وه او

تحقیق به ئے په کښے کړے وو۔ (بیاچه څنګه ورته دے پوهه کسانو ویلے وے هغه شان کار به ئے کړے وو)۔ (سورة نساء)

ف: دے آیت نه معلومه شوه چه اکثر اخبارونه د حدود و نه بهر وی۔ البته کوم اخبارونه چه په حدودو کښے دننه وی د هغے مفید کیدل د دے حدیث نه معلومیږی۔

(۱۳) د ابن ابی هالهؓ نه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خپلو اصحابوؓ د حالاتو نه څان خبرولو او د خاصو خاصو کسانو نه به ئے (د عامو خلقو) د حالاتو تپوس کولو۔ (شمائل ترمذی)

(۲) اتفاق:۔

(۱۴) وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا۔

الله تعالیٰ فرمائی، او مضبوطه ټینګه کړئ د الله رسۍ (یعنی دین) ټول په یو اتفاق او خپلو کښے بے اتفاقه کیږئ مه۔ (آل عمران)

(۱۵) وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ (الانفال)

الله تعالیٰ فرمائی: او پیدا ئے کړو د (مسلمانانو) په زړونو کښے اتفاق۔

ف: د احسان په موقعه ذکر کولو نه معلومه شوه چه اتفاق غټه نعمت دے۔

(۱۶) وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَ تَذْهَبَ رِيْحُكُمْ

الله تعالیٰ فرمائی: او په ټولو کارونو کښے د الله پاک او د هغهٗ د رسولؐ د نابعداری خیال ساتئ (چه کار د رنه د شریعت خلاف او نهٗ شی) او په خپلو کښے جنګ مه کوئ۔ ګنی (د بے اتفاقئ په وجه به) بے همته شئ۔ (طاقت به مو منتشر شی او په یو بل به مو اعتبار پاتے نهٗ شی او یوازے سره څهٗ کولے شی) او ستاسو عزت به ختم شی۔ ځکه چه دشمن چه خبر شی چه تاسو خپلو کښے بے اتفاقه یئ۔ نو د ربانده به زړهٗ ورشی او ستاسو رعب به پاتے نشی۔

ف: په دے کښے د بے اتفاقئ بد بیان شوی دی۔ او دا بنودلے شوی دی۔ چه اصل شے د الله پاک او د رسولؐ الله فرمانبرداری ده۔ یعنی د دین مضبوطیا۔

(۱۷) د حضرت ابو درداءؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل: آیا زهٗ تاسوته دا ونه ښایم چه (د څنه اثر و نو په اعتبار) د روژے، صدقے،

Scanned with CamScanner

(زکوٰۃ) او مانځه نه هم بهتر دے ۔ خلقو عرض اوکړو یا رسولَ اللّٰه ضرور ځے راته اوښایئ حضورؐ اوفرمایئل! په خپلو کښے تعلقات ښهٔ ساتل او په خپلو کښے خراب تعلقات دین خرابوونکے شے دے ۔ (ابو داؤد و ترمذی)

او په کومو خبرو چه خپلو کښے تعلقات ښهٔ کیږی او اتفاق مضبوطیږی. یعنی د یو بل دحقونو خیال ساتل ۔ او په کومو کارونو چه تعلقات خرابیږی اوبے اتفاقی راځی ۔ دهغے بیان په نهم روح کښے تیر شویدے۔

(۳) دمعاملے صفائی اوښهٔ استوګنه

څوک چه ددین څهٔ لږ ډیر خیال ساتی هغوئی د معاملو دصفایئ خیال هم ساتی اوددین کارځ ګڼړی ۔ کهٔ د ناپوهئ په وجه ترے څه غلطی اوشی دا بیله خبره ده ۔ ددے آسانی علاج دا دے چه زمارساله " صفائی معاملات " اودبهشتی زیور پنځمه حصه اوګورئ یاځ واورئ ۔ یاچه کومه خبره درپیښیږی د نږدے عالم نه تپوس کوئ چه دے کښے د شریعت څهٔ حکم دے ۔ اوکهٔ خپله موخیال نهٔ وی نو بل فریق دچاچه حق دے هغه ترِ تقاضا کولے شی ۔ او د غفلت نه ځ پیدا رولے شی ۔ خو دلته د دے متعلق دَ ذیات وضاحت ضرورت نهٔ ګڼړی اود روڼ خبرے یعنی حسن معاشرت متعلق ډیر دیندار خلق هم خیال نهٔ ساتی ۔ دا خالص د دنیا دَ انتظام یو کار ګڼړی چه دین سره ځهٔ تعلق نشته نوخیال ځ نهٔ ساتی ۔ ددے متعلق څه آیتونه اوحدیثونه لیکو (چه حسن معاشرت هم د شریعت حکم دے اودَ دین کار دے) ۔

(۱۸) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا (النور)

الله تعالیٰ فرمائی: اے ایمانداره! تاسو د خپلے استوګنے د کورونو (په کومو کښے چه د بل چا د اوسیدو احتمال نهٔ وی) نه علاوه نورو کورونو کښے (چه نور خلق پکښے اوسی ۔ سړی وی که زنانه اوخپلوان وی که پردی) مهٔ ننوځئ ۔ ترڅو چه مو ترے نه اجازت نهٔ وی اخستے (مخکښے فرمائی) اوکهٔ د اجازت اخستو په وخت درته اووئیلے شی چه واپس شئ نو واپس کیږئ ۔ (دغهٔ واپس کیدو حکم دَ بخاری او مسلم په حدیث کښے هم دے ۔ کله چه په درے ځله تپوس څوک دننوتو اجازت ورنکړی) ۔ (سورۃ نور)

Scanned with CamScanner

ف: دا د اجازت اخستو حکم، زنانه او مردانه ټولو کورونو کښے دے۔ او په دے کښے درے فائدے دی: (۱) چه کور والا په دا سے حالت کښے اونهٔ وینی چه هغه په هغه حالت کښے څوک لیدل نهٔ غواړی۔ (۲) دکور والا دا سے کار نه خبر نهٔ ځی چه هغه پرے څوک خبر ول نهٔ خوښوی۔ (۳) په ځنډه وخت کښے څوک دچا سره ملاقات باندے خوښ نهٔ وی۔ څهٔ کار کښے ځے حرج راځی۔ کهٔ آرام کښے ځے خلل راځی۔ اوکهٔ بل څهٔ وجه وی۔

(۱۹) يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا ۱۲

الله تعالیٰ فرمائی: اے ایماندارو چه تاسو ته اووئیلے شی (یعنی د مجلس مشر درته اووائی) چه مجلس کښے ځائے فراخه کړی۔ (چه نورو راتلونکو ته هم ځائے اوشی) نو تاسو ځائے فراخه کوئ (نورو خلقو ته ځائے ورکوئ) الله تعالیٰ به تاسو ته (په جنت کښے) فراخی درکړی او چه درته اووئیلے شی (چه د مجلس نه) پاځئ نو پاځئ (د تنهایئ د ضرورت دپاره مو پاځوی اوکهٔ بل ځائے کولو دپاره) (سورة مجادله)

(۲۰) د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماد وار په شپه اول بستره باندے پریوتو۔ دومره ساعت ځے انتظار اوکړو چه د هغوئ په خیال زهٔ اوده شوے وم۔ نو خپل غونډے ځے خپل څادر را واخستو۔ دو روځے پیزار په ښپو کړو دو غونډے ځے ور لرے کړو۔ بهر ته اووتو۔ بیا ځے خپل غونډے ور بند کړو۔ (او د مدینے مقبرے بقیع ته روان شو) خو (بیا په واپسئ ځے د دے غلی غونډے تلو وجه دا اوښئله) چه تهٔ راوینښه نهٔ شے او دا فکر وو را سره چه کهٔ راوینښه شوے نو یو اځے به پریشانه شے۔ (مسلم)

ف: په حدیث شریف کښے صفا ذکر دے چه حضور صلی الله علیه وسلم ټول کار دا سے غلے غلے حکمه کولو چه عائشه بی بی رضی الله عنها ته تکلیف اونهٔ رسی۔ د خوب نه وینښید و په وجه یا د یوانے والی نه د پریشانئ په وجه۔

(۲۱) د حضرت مقداد رضی الله عنه (په یو اوږد حدیث کښے) روایت دے۔ چه موږ ته درے کسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم میلمانهٔ وو۔ د هغوئ سره دیره وو۔ ماسخوتن ما څخه نه پس په راغلو اوده به شو۔ حضور صلی الله علیه وسلم به لږ روستو تشریف راوړو۔ د میلمنو

Scanned with CamScanner

د اودۀ او د وینې دواړه احتماله به وو۔ نو سلام به ئې واچولو خو داسې روچه څوک وینې وی چه وائې وری۔ اوکۀ څوک اودۀ وی چه راوینې نۀ شی ۔ (مسلم)

دحسن معاشرت مضمون مودلته مختصر غوندې اولیکلو د تفصیل دپاره رساله آداب المعاشرت او د بهشتی زیور لسمه حصه د اول نه دکسبونو تر بیانه اوکورئ۔ دا ټول حدیثونه د مشکوٰة دی۔ کوم چه د نورو کتابونو دی هغې سره نوم لیکلے شوے دے۔

پنځویشتم روح

قومی اِمتیاز

یعنی خپله جامه پیژار، خپله وضع، دخبرو اترو طریقه اوخپل سلوک دغیرمذهب قومونونه ساتل۔

د نورو قومونو طرز طریقه اوخویونه عادتونه بے ضرورته اختیارول شریعت منع کړیدی۔

په دے کښے څنه کارونه خو داسې دی چه کۀ د بل قوم خصوصیت نۀ وی هم هغه کارونه دګناه اومنع دی۔ لکه بیره ګلول یا ځیره وړه کول۔ یا داسې جنګ اغوستل چه زنګون ترے بښکاری ناجائز دی۔ اوګډے سره سره اسلامی وضع سپکه یا بده ګڼې نوخبره د ګناه نه کفر ته اورسی۔

او څنه کارونه داسې دی چه کۀ د بل قوم خصوصیت نۀ وے نو څۀ یدی پکښے نۀ وه۔ اوډ خصوصیت پیژندګلی دا دے۔ چه ددغه څیزونو په لیدو یو عام سړے اووائی چه دا خو فلانی قوم تهذیب دے۔ لکه کوټ پتلون اچول یا هیټ په سر ول۔ یا دهوتی (د هندوانو په شان لنګ) تړل۔ یا بنځو دپاره ګګړه اچول۔ بیا په دے کښے څنه څیزونه خو دهغې خلقو خالصه قومی وضع وی۔ لکه د (مغربی قومونو) کوټ پتلون۔ او څنه ئې هسے

یو عام عادت وی۔ لکه په مینز کرسټی او چاړه کانټه باندے خوراک ۔ دا ډیر کارونه خو دګناه دی۔ خُو کښے ګناه کمه او خُو کښے زیاته۔ لیکن کوم کارونه چه د هغوئی خالص قومی یا مذهبی وضع وی۔ هغه اختیارول کفر دے ۔ لکه په سینه صلیب اویزاند ول یا په سر چو ټکه پریښول یا غاړه کښے زنار اچول یا په تندی د سندور ټکئی ګلول۔ (قشقه)

او کوم څیزونه چه د غیر قومونو نهٔ قومی نشان دے نهٔ مذهبی۔ صرف د هغوئی ایجاد کړی د عام ضرورت څیزونه دی۔ لکه نوی سورلئی، ریل، موټر، لارئی، جهاز وغیره یا لکه ګهړئی، ټیلیفون، ټیلګراف وغیره ۔ یا لکه نوی وسط او نوی ورزشونه چه د هغه بدل مونږ سره نشته ۔ د دے څیزونو استعمال جائز دے۔ نهٔ د موسیقئی نوے سامان لکه ګراموفون، بایسکل یا هارمونیم وغیره۔

مګر د اجائز او ناجائز حکم په خپل عقل مهٔ کوئی۔ د عالمانو نه تپوس کوئی۔ او په مسلمانانو کښے هم کوم چه فاسقان او بدعتیان دی۔ بدعت د دین په رنګ کښے وی که د دنیا په رنګ کښے ۔ د هغوئی وضع اختیارول هم ګناه ده ۔ اګرچه د کافرو د وضع نه کمه وی۔

بلکه سړو ته د ښځو وضع او ښځو ته د سړو وضع جوړول هم ګناه ده۔ بیا په دے ټولو شکلونو کښے که ځے هغه وضع پوره جوړه کړی وه چه خالص د هغوئی په شان وو نو ډیره ګناه ده ۔ او که ځینګړے وه نو کمه ګناه ده۔

او د دے نه به په دے هم پوهه شوی یئی۔ چه دا مسئله څنګه شرعی ده ۔ دغه شان عقلی هم ده ۔ څنګه چه سړو دپاره د ښځو شکل جوړول عقل هم بدګنړی۔ سړه دے چه دواړه نیک مسلمانان وی۔ نو کوم ځائے چه د مسلمان او کافر یا نیک او فاسق فرق وی نو هلته به د کافر یا فاسق د وضع اختیارولو اجازت عقل څنګه ورکړی۔ اوس دے متعلق یو څو آیتونه او حدیثونه لیکو:

(۱) وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ۔ ۱۲ (سورة نساء)

الله تعالیٰ فرمائی: او شیطان اووے نهٔ به دوئی ته نور هم دا سے تعلیم ورکوم چه د الله تعالیٰ جوړ کړے شکل به وړانوی۔ (لکه ښیره کلول په بدن پوخ نقش کول)۔

(سورة نساء)

ف: څنه تبدیلی خوشکل ورانول اوحرام دی۔ (لکه پورته چه مثال ورکړے شوے دے) او څنه تبدیلی شکل سهول او واجب دی۔ (لکه نوکونه پریکول، سنت اختتال، د ترخ او نامهٔ لاندے ویښتهٔ لرے کول) اوځنه تبدیلی جائز دی لکه سړو دپاره سَر کلول یا مشین کول او د موټی نه زیاته ږیره پریکول۔ اودا فیصله په شریعت کوی۔ (چه کوم کار جائز دے او کوم ناجائز) نهٔ رواج۔ څکه چه رواج په هره زمانه بدلیږی۔

(۲) وَلَا تَرْكَنُوْا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ۔ ۱۲ (سورة هود)

الله تعالیٰ فرمائی: د ظالمانو (نافرمانو) غاړے ته مهٔ اوړئ۔ (په دوستئ یا عمل او حالت کښے یو شان کیدو په وجه) لهسے نه چه د دوزخ اور درباندے اولګی۔ (هود)

ف: دا یقینی خبره ده چه خپله وضع او طریقه پریښول او دبل طور طریقے غوره کول په خوشحالئ سره هله کیږی چه زړهٔ لهغ غاړے ته واوړی۔ او نافرمانو غاړے ته اوړیدو باندے د دوزخ وعید راغلے دے نه ثابته شوه۔ چه داسے طور طریقے اختیارول ګناه ده۔

(۳) د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په ما باندے دوه کپړے په کسم (زیړ رنګ) کښے رنګ شوے اولیدے نو راته ئے اوفرمائیل دا د کافرو جامے دی۔ دا مهٔ اغوندہ۔ (مسلم)

ف: داسے رنګ جامه سړو دپاره حرامه ده۔ خو رسول پاک صلی الله علیه وسلم ئے وجه دا اوښیلے چه دا د کفارو رنګ دے۔ نو دا وجه چه کوم ځائے موټے شی دغه به ئے حکم وی۔ (نو د کفارو سره مشابهت په هره خبره کښے چه وی ناجائز دے)

(۴) د حضرت رکانه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ د توپئ ته دے پټکے زمونږ او د مشرکانو تر مینځه فرق دے۔

ف: (مشرکانو به په سر توره پټکے وهلو نومسلمانانو ته دا حکم اوشو۔ چه تاسو د توپئ دپاسه پټکے وهئ چه د مشرکانو سره د مشابهت نه بچ شی) (مرقات)

(۵) د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه د کوم قوم وضع (شکل شباهت) اختیار کړی۔ هغه د هغے قوم نه شمیرلے شی۔ (احمد و ابوداؤد)

ف: که د کافرانو او فاسقانو وضع ئے اختیار کړه۔ نو په ګناه کښے به ورسره شریک وی۔

(۶) دحضرت ابو ریحانہؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ دلسو څیزونو نه منع کړی یو. (په هغو کښے یو دا هم ده) چه یو سړے دخپلو جامو په لمنو ریښم اوخیژوی لکه د عجمیانو. (ابو داؤد و نسائی)

ف: دوے وجه هم هغه ده چه د بل قوم سره مشابهت راځی کوم چه عذاب کښے تیره شوه.

(۷) دحضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - د الله تعالیٰ لعنت دے په هغه سړی چه دښځو شکل شباهت جوړوی او لعنت دے په هغه ښځه چه دسړو شکل شباهت جوړوی. (بخاری شریف)

(۸) دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلے دے په هغه سړی چه د ښځو په شان جامے اغوندی. (ابو داؤد)

(۹) د ابن ابی ملیکهؓ نه روایت دے چه حضرت عائشهؓ ابئی ته اوو ویلے شو چه یوه ښځه دسړو په شان پیزار په ښپو کوی - لهذا اوفرمائیل - رسول الله صلی الله علیه وسلم په نارینه ښځو لعنت ویلے دے.

ف: نن سبا ښځو کښے دا مرض عام دے بلکه ځنے خو دا نکریزانو په شان پیزار په ښپو کوی. نو دے کښے دوه گناه دی. یو خو مردانه وضع گناه - او بله کافرانو سره دمشابهت.

(۱۰) دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی - الله تعالیٰ د په لعنت کړی ویښتو کښے ویښتهٔ گډولو والا او ورباندے گډوونکی - (دوے غرض دهوکه ده چه لیدونکو ته ویښتهٔ اوږدهٔ ښکاره شی) او الله تعالیٰ د په لعنت کړی په بدن پوخ نقش جوړوونکی - (بخاری ومسلم)

ف: پوخ نقش، خالونه وغیره دپاره بدن په سټنو اوگډوی بیا ورکښے راځهٔ یا نیل پک کړی چه ورپاسه څرمن راشی نو دا رنگ بیا په ویښتو نهٔ حُی پوخ وی.

(۱۱) د حجاج بن حسانؓ نه روایت دے چه مونږ دحضرت انسؓ په خدمت کښے حاضر شو. (حجاج هغه وخت کښے وړوکے وو) دائی چه ماته زماخور مغیره ویلی چه ته وړوکے وے اوستا په سرد ویښتو دوه جوړے وے - حضرت انسؓ ورته په نظر لاس اووهلو. دبرکت دعائے اوکړه او وے فرمائیل چه دا ویښتهٔ لرے کړئ - دا د یهودیانو په شان دی - (ابو داؤد)

(۱۲) حضرت عامرؓ بن سعدؓ د خپل پلار نه روایت کوی چه نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم فرمایلی دی. د خپلو کورونو مخ صفا ستر ه ساتئ - د یهودیانو په شان مهٔ کیږئ - (یهودیان به کنده اوسیدل)

ف: چه دکورنه بهر سیدان د یهودو په شان ساتل ناجائز دی. نو د خپل بدن جامه به د یهودو په شان ساتل څنګه جائز شی.

(۱۳) د حضرت عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی اللہ علیه وسلم فرمایلی دی. چه (ناپوهه) باندې یخیان د مابنام د مانځه په نوم کښے په تاسو غالب نشی - باندې یخیانو مابنام ته عشآ وے (تاسو ورته عشاء مهٔ وایئ مغرب وایئ) اوداسه ئے هم فرمایلی چه (ناپوهه) باندې یخیان د ماسخوتن مانځه په نوم کښے په تاسو غالب نشی - ځکه چه کتاب الله عشا دے (اوهغوئ ورته عتمه وے) ځکه چه عتمه (تیاره) کښے به د اوښو نه پئ لوشل شو - (مسلم)

ف: دے نه معلومه شوه چه خبرو اترو کښے هم د مخ خلقو سره مشابهت نهٔ دے پکار - ځوک چه د دین نه ناواقفه وی. (او د غیر قومونو محاورے او اصطلاحات هم په خپلو خبرو کښے راوستل نهٔ دی پکار.

(۱۴) د حضرت علیؓ نه روایت دے چه د رسول الله صلی اللہ علیه وسلم په لاس کښے عربی لیندره وه. هغوئ یو سړے اولیدو چه په لاس کښے ئے فارسی (ایرانی) لیندره وه - حضورؐ ورته اوفرمایل برا اوغورځوه. او دا واخله (عربی لیندے ته ئے اشاره اوکړه) یا بله د دے په شان. (ابن ماجه)

ف: د ایرانئ (غیر ملکی) لیندے په مقابله کښے (وطنی) عربی لیندره وه - نو د غیر ملکی لیندے د استعمال نه ئے هغه منع کړو. معلومه شوه چه د استعمال څیزونو کښے هم غیر قومونو سره مشابهت نهٔ دے پکار. لکه د پیتلو (زیرو) لونبی چه د یو غیر قوم خصوصیت دے. (نو مسلمانانو ته د زیرو جوړ لونبی استعمالول نهٔ دی پکار - مترجم)

(۱۵) د حضرت حذیفهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی اللہ علیه وسلم فرمایلی دی. — قرآن پاک د عربو په لهجه او آواز وایئ (یعنی صحیح اوبے تکلفه) اوخپل ځان د

دواړو اهلِ کتابو دَ لهجې نه ویره کړئ۔ (بیهقی و رزین)

ف: دے نه معلومه شوه چه په لهجه کښے دَ غیر قومونو او غیر شرعی خلقو د مشابهت نه ځان ساتل پکار دی۔

(۱۷) د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاصؓ نه روایت دے چه هغهٔ دَ ابوجهل لور اُمِّ سعید اولیده۔ چه لیندهٔ شو اوبدے ته اچولے دسړو په شان روانه وه۔ عبدالله تپوس اوکړو چه داځوک ده۔ ما ورته اووے چه دا ام سعید دَ ابوجهل لور ده۔ هغهٔ اوفرمائیل چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی چه فرمائیل ئے۔ دا سے خلق زمونږ نه جدا دی۔ کوم سړے چه د بنځو مشابهت کوی اوکومه بنځه چه دسړو مشابهت کوی۔ (ترغیب از احمد و طبرانی)

(۱۸) د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ څوک چه د مونږ په شان مونځ کوی او زمونږ قبلے ته مخ کوی او زمونږ حلاله خوری هغه مسلمان دے۔ د هغهٔ دپاره دَ الله او د الله دَ رسولؐ ذمه واری ده۔ نو تاسو د الله په ذمه واری کښے خیانت مهٔ کوئ۔ (یعنی د هغهٔ اسلامی حقونه مهٔ ضائع کوئ) (بخاری)

ف: دے نه معلومه شوه چه د خوراک کوم څیزونه چه مسلمانانو سره خاص تعلق لری۔ د هغے خوړل هم د مانځه په شان د اسلام علامت دے۔ نو څوک چه د غواغوښه خوړل بے د څهٔ خاص عذره پریږدی۔ دا بنهٔ کار نهٔ دے۔ او دُوے تائید دوے آیت دَ شانِ نزول نه هم کیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی:۔

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِی السِّلْمِ كَآفَّةً	اے ایمانداړو ننوځئ په اسلام کښے پوره پوره (غرض داچه په هر کار کښے پوره پوره اسلامی طریقه باندے چلیدل پکار دی۔ دَ دین په کارونو کښے هم۔ او دَ دنیا په کارونو کښے هم۔

(۱۸) د حضرت عبدالله بن عمرؓ نه (په یو اوبد حدیث کښے) روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه زما امت به په درے اویا ډلو کښے تقسیمیږی۔ دا ټولے به دوزخ ته ځی۔ بے دیوے ډلے نه۔ خلقو عرض اوکړو۔ هغه یوه ډله کومه یوه ده۔ چه دَ دوزخ نه به بچ وی۔ حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل

څوک چه زما او زما د اصحابو ؓ په طریقه چلیږی۔ (ترمذی)

ف: د طریقې نه مراد هغه واجب طریقه ده د کوم په خلاف چه د دوزخ وعید دے۔ او حضور ؐ په دے طریقه د څه شی تخصیص نه دے کړے۔ نو په دې کښے د دین ټولے خبرے هم راغلے او د دنیا هم۔

البته په یو کار کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو ؓ طریقه او د هغے واجب کیدل د هغوئ د قول نه معلومیږی۔ او کله د هغوئ د فعل (کار) نه کله په عبارت النص یعنی صفا الفاظو او کله په اشارت النص چه صرف د عالمانو په اجتهاد (کوشش) سره معلومیدے شی۔ او عامو خلقو ته د عالمانو تابعداری ضروری ده۔ یعنے د دے نه دین نه څه شی محفوظ کیدے۔

خاتمه کلام

دکومو اعمالو فهرست چه دیباچه کښه ورکړے شوے دے۔ زهٔ چه څومره سوچ کوم هغه ټول اجمالاً یا تفصیلاً په دے پښتو ویشت بابونو کښه راغلو۔ نو په دا کتاب ختموم۔

البته که دچا په فکر کښه بل څهٔ ضروری عمل دا سے راغلو چه دے کښه نهٔ راځی یا څهٔ حصه ئے نور تفصیل غواړی۔ نو هغه ورسره د ضمیمے په طور لګیدے شی۔

شُکرِ انعام

(۱۹) د حضرت عبداللہ بن عمرؓ نہ روایت دے۔ چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلی دی۔ زما د طرفہ (امت تہ) رسوئ اګرچہ یو آیت وی۔ (بخاری شریف)

(۲۰) د حضرت ابو درداءؓ نہ روایت دے۔ چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلی دی۔ څوک چہ د دین پہ احکامو کښے څلویښت حدیثونہ محفوظ کړی زما امت تہ ئے اورسوی نو اللہ تعالیٰ بہ ھغہ (د حشر پہ ورځ) فقھاؤ کښے پورتہ کړی۔ او زہ بہ ئے د قیامت پہ ورځ سفارشی او ګڼم۔

لہ بَلِّغُوْا عَنِّیْ وَلَوْ اٰیَۃً ط ۱۲

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ

په دے کتاب کښے د لس۱۰ اتیا نه زیات آیتونه او غیر مکرّر درے سوه۳۰۰ خلویښت حدیثونه تبلیغ اوشو څوک چه دا کتاب چاپ کړی او تقسیم ئے کړی دا ثواب به هغهٔ ته هم اورسی۔

(دا حدیثونه ټول د مشکوٰة شریف دی۔ بے ډیو څو نه چه هغے سره توم لیکلے شوے دے)

تَمَّتْ بِالْخَیْرِ

کتابت: ارشاد خان
پښتو اکیډیمی پیښور یونیورسټی

Scanned with CamScanner